# پښتني ښځې
# او
# دَ قام خدمت

سید وقار علي شاه کاکاخېل

خورونکي
باچاخان ریسرچ سنټر
باچاخان مرکز پېښور
۲۰۱۲ء

شروع کوم په نامه د خدائے چې بخښونکے او مهربان دے


## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم: | پښتنې ښځې او د قام خدمت |
| ليکونکے: | سيد وقار علي شاه کاکاخېل |
| اهتمام: | پروفېسر ډاکټر فضل الرحيم مروت |
| د چاپ کال | ۲۰۱۲ء |
| د چاپ ځائے: | ګل زمان پرېس- پېښور |
| کمپوز او ټائټل: | عبدالله وردک |
| بيعه: | ۲۰۰ روپۍ |
| د چاپ شمېر: | (۱۰۰۰) يو زر |

خوروونکي او چاپوونکي

باچاخان ريسرچ سنټر، باچاخان مرکز پېښور


# تړون

دَ

س ب ب (سيده بشريٰ بېګم زيارت کاکا صاحب)

الف جان خټکې (د احمدي بانډې)

او

دَ نورو هغو پښتنو ليکوالو

په نوم

چې دَ باچاخان او دَ خدائي خدمتګارانو

په وينا يې دَ پښتنو خدمت

دَ قلم په ذريعه کړے دے.

# فهرست


۱. پښتنې او قامي خدمت (اسفنديار ولي خان)........................ ۷

۲. يو څو خبرې ............................................. ۱۰

۳. پښتنې ښځې او د قام خدمت ................................ ۷۲

۴. د جينکو تعليم او د هغې اهميت .......................... ۹۸

۵. د ازادۍ په تحريک کښې د مېرمنو برخه ..................... ۱۲۴

۶. کۀ تنګيالي ځلمي په شا شو فخر افغانه ..................... ۱۵۷

۷. د دنيا بدلېدونکي حالات او پښتنې .......................... ۱۹۲

۸. د هندوستان وېش د پښتنو مېرمنو په نظر کښې .. .... ۲۳۰

# پښتني او قامي خدمت

د پښتون قام په تاریخ کښې باچاخان یو داسې قامي مشر په حېث پېژندے شي چې د هغهٔ منونکي او پېروي کوونکي د پښتونخوا په هره سیمه او هره قبیله کښې موجود دي. د باچاخان او د هغوي د ملګرو د شروع کړې نهضت اثرات دېر همه ګیر او ژور وو چې د ژوند یو اړخ ترې هم بچ نهٔ دے پاتې شوے. ازادې مدرسې جوړول وو او کهٔ "انجمن اصلاح الافاغنه"، "خدائي خدمتګار تحریک" ؤ کهٔ وروستو د هندوستان او بیا د پاکستان د نورو سیاسي ګوندونو سره تړون او اتحاد ؤ او کهٔ په ځانګړې توګه د پښتون قام خدمت ؤ. د باچاخان د شروع کړې ملي پاڅون د ژوند په هره څانګه کښې د پښتون د بېدارۍ، ازادۍ او ترقۍ دپاره لاړښودنه موجوده وه.

باچاخان په خپله ځان سیاسي کارکن نهٔ ګڼلو بلکې ځان یې مصلح او د قام خادم ګڼلو او دا یې ارمان او د ژوند مقصدؤ چې پښتانهٔ د تعلیم، اقتصاد، سیاسیت، تهذیب، تمدن او فن او ثقافت په مېدان کښې د سیالو قامونو سره سیال شي. دغه تحریک کهٔ د تعلیم په مېدان کښې د وړاندې تلو دپاره ازادې

مدرسې جوړول وو او که د اقتصادي حالت ښهٔ کولو دپاره د تجارت او زراعت په هلو ځلو کښې شريکېدل وو، په معاشرتي ژوند کښې د غلطو رسمونو مخنيوے کول وو او که د فن، ادب او ثقافت په مېدان کښې پښتني معاشره ځلول او مترقي کول وو. د باچاخان شروع کړې تحريک ونډه پکښې د بل هر سياسي او سماجي ګوند او ډلې نه ډېره زياته وه. د باچاخان د فکر نه د ژوند او معاشرې هرې طبقې خپله رڼا اخستې وه.

د نورو ډېرو اقداماتو او هلو ځلو سره سره باچاخان د صحافت په مېدان کښې هم د قام په وړاندې بوتلو دپاره د "پښتون" په نوم يوه مجله په پښتو کښې شروع کړه چې پښتانهٔ د خپلو فني، جمالياتي، معاشرتي او نورې دنيا د الاتو او سرګرميو نه خبر هم شي او عمل ته هم چمتو شي. "پښتون" کښې د ادبي تخليقاتو سره سره سياسي مضمونونه، تجزيې او معلوماتي ليکونه چاپ کېدل. د نظم او نثر دواړو صنفونو په ذريعه پکښې اظهار او ترجماني کېدله. دغه شان د سړو سره د ښځو د ذهني، معاشرتي او نفسياتي روزنې دپاره دغه تحريک واضحه مقصد او پروګرام لرو.

د ښاغلي ډاکټر سيد وقار علي شاه کاکاخېل په "پښتون" رساله کښې د زنانو د کردار او زيار په حقله شوے دا تحقيقي کار چې اوس کتابي صورت کښې چاپ ته تيار دے، د ډېر اهميت وړ دے چې زمونږ زنانه د دې نه خبر شي چې باچاخان د زنانو د تربيت او تخليقي او جمالياتي صلاحيتونو د روزنې کوم شعور د نن نه څهٔ کم يوه پېړۍ وړاندې لرلو نن يې هم ډېر پښتانهٔ



مشران نهٔ لري.

د ښاغلي وقار علي شاه دا زيار ډېر د ستاينې وړ دے چې د تاريخ يو اهم باب يې مرتب کړے دے او د نن زمانې د پښتنې لور، خور او مور دپاره په قامي مبارزه کښې د برخې اخستو دپاره يې يوه تازيانه تياره کړې ده. زهٔ د هغهٔ دې زيار او کړان ته هر کلے وايم او ډېر ډاډه يم چې پښتون قام نن د کومو مسئلو او ستونزو سره مخ دے د هغې په حل کښې به بريالے او سرخ رو شي او په دغه مبارزه کښې د ښاغلي سيد وقار علي شاه دا "خدائي خدمتګار تحريک" د Ph.D مقاله او دا نوے کتاب به خپل اهميت او افاديت په هر وخت کښې لري. زما دعا ده چې الله تعالي د هغهٔ د قلم برکت او د زړهٔ زور نور هم زيات کړي او د پښتون قام د سباوون روښانه کولو دپاره يې پکار راولي.

مينه او مننه

اسفنديار ولي خان

۷ مارچ ۲۰۱۱ء

شروع کوم په نامه د الله چې رحمان دے او رحیم دے

# یو څو خبرې

په پښتنو کښې سړے د هر څۀ واکمن ګڼلے شي او ښځو ته په هیڅ توګه د برابرۍ په نظر نۀ شي کتے. د ښځې حیثیت د سړي نه په هر څۀ کم ثابتولو کوشش کېږي. دې ته دا اجازت نشته چې په څۀ معامله کښې د خپله رایه ازادنه طور سره استعمال کړي. په کور کښې د نارینۀ نه لاندې ګڼلے کېږي، په کوم کور چې لور پیدا شي نو په هغې کور باندې د غم تیارې خورې شي. ډېر کم خلق به دا یقین کوي چې د پیدا کېدو سره چې کوم سلوک د دې سره کېږي هغه هم ټول عمر جاري وي. د نارینه اولاد دپاره خو د ښۀ نه ښۀ سکول کتلے کېږي ولې د ډېرو خوارانو په قسمت کښې تعلیم نشته. په بیا بیا دا ورته مغزو کښې اچولې کېږي چې د ښځې ښایست په کور دے، په تعلیم به څۀ وکړي.

په پښتني ټولنه کښې داسې قسم متلونه د پېړو راسې موجود دي چې "د ښځې دپاره خو یا کور دې او یا ګور".

لېکن څوک ډېره توره وکړي نو د جینکو دپاره د مذهبي تعلیم انتظام وکړي او په هغې کښې یې هم خپل مطاب وي، ځکه



دا به ورسره هم ضرور په خولۀ وائي چې د هلکانو څۀ اعتبار د مرګ نه پس به راپسې لونه خوئندې خو لاس وچتوي. یعنې په دې کښې هم خپله ګټه لټوي او د دې خوارانو په ګټه او تاوان د هیڅ چا کار نشته.

پښتانۀ د خپلې تورې او مېړانې په سبب په نړۍ کښې لکه د نمر څرګند دي. دوي هم لکه د نورو قبائلي ټولنو په خپل تاریخ ډېر فخر او ویاړنه کوي، ولې د بده مرغه د دوي متعلق لیکلي شوي آثار ډېر کم دي. د نورو ډېرو بې شمېره وجوهاتو سره سره یکښې یو ډېر لوئے سبب یې د قلم په ځائے اول توره او بیا ټوپک په لاس کښې اخستل دي.

د مودو راسې د پښتنو په مغزو کښې دا اچولي شوي دي چې د ستاسو پېژندګلو د ستاسو د تورې او مېړانې په سبب ده. هسې هم د پښتنو وطن د هندوستان په لاره کښې پروت دے او د سوونو زرګونو کالو راسې چا هم چې په هندوستان یرغل کړے دے هغوي په دې خاوره تېر شوي دي. په داسې حالاتو کښې دوي قلم د لاس نه وغورزولو او لکه چې وړاندې ووئیلے شو اول توره او بیا یې ټوپک ترلاسه کړو. کۀ چرې په ژور نظر وکتے شي نو د اسلام د راتګ نه پس دلته په هر اسلامي پوځ کښې پښتانۀ په ډېر ګڼ شمېر کښې لیدلے کېږي. هغوي ته په بیا بیا دا په مغزو کښې اچولي شوي دي چې د اسلام رڼا به د ستاسو په ذریعه د هندوستان د کفر په تیارو کښې خورېږي. د مذهب خدمت په هر چا فرض وګڼلے شو او داسې پښتنو قلم د لاسه وغورزولو او توره یې ترلاسه کړه. په دې حالاتو کښې د نارینۀ نه

تعليم لاړو نو زنانه ؤ ته پکښې لا چا پاملرنه کوله. کۀ څوک د علم شوق لرونکې ښکاري نو هغه هم د کور د چار دېوالۍ دننه. د ګوتو په شمېر څو زنانه ليکوالې او عالمانې په پښتنو کښې ليدلې کېږي. دا د قلم مېرمنې د نوموړو قامي مشرانو لونړه او خوئندې وې او عامو پښتنو کښې داسې هېڅ څوک نۀ لېدلې کېږي.

هندوستان ته د پېرنګي په راتګ د نور وطن حالات خو بدل شو، ولې په پښتونخوا کښې خلقو د پېرنګي نه کرکه کوله او په هېڅ طور دې ته رضا نۀ وو چې پخپلو بچو د پېرنګي ژبه او د هغۀ د ژوند طور طريقې زده کړي. دوي خپل بچي د سرکار جوړ کړي شوي سکولونه چې هسې هم يې تعداد ډېر کم ؤ نۀ استول او د دې وجې نه په تعليمي طور سره دا علاقه د هندوستان د نورو علاقو نه ډېره وروستو پاتې شوه لکه چې ووئيلې شو د سړو تعليم ته د چا خيال نۀ ؤ نو د ښځو په تعليم لا چا توجو ورکوله.

ما چې کله د خپلې (Ph.D) ډاکټرۍ د مقالې دپاره چې مې د اکسفورډ يونيورسټۍ نه په باچاخان، خدائي خدمتګارانو او د پښتونخوا په سياست کار کولو دپاره د "پښتون" په غور سره مطالعه شروع کړه نو حق حېران پاتې شو، چې دا مې وليدل چې د ژوند د ډېرو نورو اهمو موضوعاتو سره سره باچاخان او د هغۀ ملګرو د پښتنو ښځو د بېدارۍ په موضوع څومره لوئې کار کړے. څومره زيات ليکل يې کړي دي او خپل پېغامونه يې څنګه په ښۀ طريقه د پښتونخوا ګټ ګټ ته رسولي دي. ولې د بده مرغه تر اوسه پورې ډېر خلق د دې کړاوونو نه نۀ دي خبر



شوي. يو لويه وجه يې خو د "پښتون" عدم موجودګي ده، زما زړۀ کښې وه چې کله هم الله تعالي راته موقعه په لاس راکړه نو دا به ضرور يو ځائے کوم او خلقو ته به يې وړاندې کوم چې وګورئ چې باچاخان او د هغۀ ملګرو په هغه وخت کښې هم د دې لوئے مقصد دپاره څومره هلې ځلې کړې دي، څومره لوړ خيالات يې لرل. دوي عملي خلق وو. په دې لړ کښې چې يې دوي څومره کړاوونه کړي دي نتيجه يې په لويه کاميابۍ ختلې ده.

دا زما خوش قسمتي وه چې دوه ليکوالې چې "پښتون" کښې ډېر زيات ليکل کړي دي دواړه مې پېدا کړې، يو د خو زمونږ د کلي زيارت کاکاصاحب سيده بشرئ بېګم چې د س ب ب په نوم يې شهرت لرلو وه او بله د احمدي بانډې الف جان خټکه وه. س ب ب سره مې خپله ملاقات نۀ دے شوے. سوالنامه مې ورته استولې وه او هغې راته ښه تفصيلي ځوابونه راکړي دي.

په نومبر کال ۱۹۹۴ء کښې زۀ احمدي بانډې له د الف جان خټکې په تلاش کښې لاړم، هلته د هغې ورور سره مو ملاقات وشو، هغۀ ووئيل چې الف جان خټکه په کلي کښې نشته او د ورارۀ کره کوهاټ ته تللې ده. زما ورسره ملاقات ونۀ شو خو د دې نه خبر شوم چې الله تعالي دې ورته نور هم صحت او عمر ورکړي، ژوندۍ ده، ډېر کلونه پس زما خوږ ملګري ډاکټر فضل الرحيم مروت په وېنا د هغې انټرويو هم وشوه او د صوبائي حکومت له خوا يې ډېر درناوے وشو.

څو کاله اګاهو د قدرمند غزن خان په خوارو د باچاخان مرکز

نه يو ځل بيا "پښتون" جاري شو. د خوشحالۍ خبره دا ده چې د پښتنو نوموړي ليکوال او شاعر رحمت شاه سائل هم د "پښتون" ذمه واري په سر واخسته، د دوي په وينا ما "پښتون" ته ليکل شروع کړل. د ځينې نورو مضامينو سره سره (په "پښتون" کښې د مېرمنو برخه) د سر خط لاندې مې هم څو مضامين چاپ کړل. دا د ډېرو خلقو خوښ شول ځکه چې ډېر خلق لا تر اوسه د هغې کړاوونو او سرپرستۍ نه نه وو خبر کوم چې باچاخان او د هغې ملګرو د مېرمنو په بېدارۍ کښې کړي وو. د دې ضرورت مو هم محسوس کړو چې دا دې په کتابي شکل کښې يو ځائے شي چې خلق ترېنه په صحيح توګه استفاده کولے شي. د دې لوئې مقصد هم دا دے چې نورو خلقو ته عمومي او پښتنو ته په خصوصي توګه دا پته ولګي چې باچاخان او د هغې ملګرو د پښتنو ښځو د تعليم او تربيت څومره خيال ساتلو او خپل پوره پوره وس يې کړے دے چې نور پښتانهٔ هم په دې خبردار کړي چې هلک او جينۍ کښې فرق کول نهٔ دي پکار، ځکه چې دا دواړه هم د دوي اولاد دے، دوي زېږولي دي او دوي به يې پالنه کوي. د هلک نه جينۍ په هيڅ طور سره کمه نهٔ ده، د دوي په تعليم او تربيت ځکه هم خاص پاملرنه کول پکار ده چې د دوي په ذمه د پښتنو د راتلونکو نسلونو د روزنې ذمه واري هم په سر ده. کهٔ چرې دوي خپله تعليم يافته وي نو بچي به يې هم تعليم يافته وي او پخپلو ذمه وارو به خبرداري وي او کهٔ نهٔ دوي چرې جاهلانې او بې تعليمه وي نو د پښتنو راروان نسلونو به د تباهۍ او د بربادۍ لوېې کندې ته وغورزېږي. د دې په ذريعه بله دا غلط فهمي لرې



کول هم غواړم چې ګني پښتانهٔ ښځو ته د ځان نه کمه درجه ورکوي او دوي انسانانې نهٔ ګني لکه چې وړاندې ليکلي شوي دي باچاخان او خدائي خدمتګاران عملي خلق وو، دوي خپلې لونړه خوئندې د تعليم په رڼا روښانه کړې او دا هم د دې لوېې جذبې برکت دے چې نن په پښتنو مېرمنو کښې د علم او پوهې هيڅ کمے نشته او د ژوند په هر مېدان کښې دوي د خپلو نارينو سره يوشان يو ځائے ګامونه پورته کوي.

لکه چې ووئيلي شو چې باچاخان او د هغې ملګرو د ښځو په هکله چې څهٔ خيالات لرل هغه به يې ډېر په باقاعدګۍ سره په "پښتون" کښې چاپ کول. دا وئيل به بې ځايه نهٔ وي چې د ښځو په باره کښې د "پښتون" په هره ګڼه کښې څهٔ نا څهٔ ليکلي شوي دي. د نور څهٔ د ليکلو نه اګاهو د "پښتون" لړه غونډې پېژند ګلو ضروري ګڼم.

باچاخان چې څهٔ وخت د سياسي قېدي په حېث بنديوان ؤ نو هغهٔ به هر وخت دا فکر کولو چې د پښتنو د کم علمۍ او جهالت څهٔ سبب کېدے شي. د ډېر غور او فکر نه پس هغه په دې نتيجه ورسېدو چې په دنيا کښې هيڅ قوم هم بغېر د خپلې ژبې نه ترقي نهٔ شي کولے او په هغوي کښې علوم او فنون پېدا کېدے نهٔ شي. هغهٔ هم په جېل کښې دا کلکه اراده وکړه چې ضرور به يوه رساله د پښتون قام د پوهولو دپاره د دنيا د حالاتو نه د خبرولو دپاره او د خپلې ژبې سره د مينه لرلو دپاره جاري کوي. د جېل نه په بهر راوتو باچاخان په دې لړ کښې کار شروع کړو او اخر د ډېرې خوارۍ نه پس په کال ۱۹۲۸ء کښې د "پښتون" په نوم يوه

رساله راویستو کښې کامیاب شو.

د "پښتون" په نوم وړومبۍ رساله د مۍ کال ۱۹۲۸ء په میاشت کښې راووته. د رسالې په اغراض و مقاصد کښې دا هم بیان شوي دي چې اول مقصد یې دا دے چې موقعه په موقعه د پښتنو د حقوقو ساتنه وکړي او خپل پوره پوره کوشش وکړي چې په زړورتیا او په اوچت اواز پښتانهٔ د راتلونکو خطرو اونقصانونو نه اګاهو خبر کړي. ځکه چې "ځان ساتنه په هر چا فرض دي، پښتانهٔ هم کهٔ دلې دي او کهٔ په افغانستان کښې یو قوم لګیا دي جوړیږي. دوي ته هم هر یو حق حاصل دے چې د خپل خان پوره پوره ساتنه وکړي. په دې حقله کښې د نورو خبرو نه یوه دا خبره هم ده چې د دوي دې په خپله ژبه کښې قومي اخبارات جاري شوے چې وخت په وخت سره په کښې خپل خیالات ظاهروي. د دې دپاره "پښتون" اخبار جاري شو. امید دے چې سیاسي، تعلیمي وغېره وغېره مېدان کښې به د نور چا نه وروستو نهٔ وي او د خپل کار ایستلو دپاره به هغه لار اختیاروي چې روغه او مطلب ایستونکې وي." ("پښتون" مۍ کال ۱۹۲۸ء – ۷ مخ).

دا رساله وړومبے د میاشتنۍ په طور د راولپنډۍ نه شائع کېده. وروستو بیا د امرتسر نه چاپ کېده او په اخر کښې بیا د پېښور نه چاپ کېده. په وړومبي دور کښې د رسالې په اولنیو پاڼو د باچاخان نوم (عبدالغفار خان) د چلونکي په حېث او محمد اکبر خادم د مرستیال په طور لیکلے ؤ. په کال ۱۹۳۱ء کښې چې خادم صېب د باچاخان سره د اختلافاتو په سبب د خدایي



خدمتګارۍ نه استعفې ورکړه نو د هغه نه پس د رسالې کار عبدالخالق خلیق ته ور په غاړه کړلے شو. خلیق صېب ډېره په کامیابۍ رساله د اپرېل کال ۱۹۴۷ء پورې وچلوله او بیا د خپل کار د زیاتوالي په سبب یې دا ذمه واري ناظم سرفراز خان ته وروسپارله چا چې تر اګست کال ۱۹۴۷ء پورې رساله سمباله کړې وه، د اګست کال ۱۹۴۷ء نه پس رساله بنده شوه.

"پښتون" د حالاتو په سبب څو څو ځله بنده کړې شوې ده او بیا شروع شوې ده.

وړومبي ځل د میاشتنۍ په حېث د مۍ کال ۱۹۲۸ء نه واخله تر اپرېل کال ۱۹۳۰ء پورې خوره شوه. په اپرېل کال ۱۹۳۰ء کښې د قصه خوانۍ بازار د خونړۍ پېښې نه پس په خدایي خدمتګار تحریک هم پابندي ولګېده او باچاخان هم د خپلو ملګرو سره د جېل په تورو تمبو دننه کړے شو. په "پښتون" هم پابندي ولګېده، دا پابندي د اپرېل کال ۱۹۳۱ء پورې جاري وه. کله چې باچاخان د ګاندي، ارون معاهدې لاندې پرېښودلے شو نو د مۍ کال ۱۹۳۱ء نه "پښتون" هم بیا را وتل شروع کړل. څو میاشتې وچلېده. په دسمبر کال ۱۹۳۱ء کښې پېرنګي سرکار یو ځل بیا په باچاخان او په تحریک باندې ګوزار وکړو نو په "پښتون" هم پابندي ولګېده.

د "پښتون" دریم دور د کانګریس په وزارت کښې شروع کېږي. دا ځل به میاشت کښې درې رسالې راوتې. دا دور د اپرېل کال ۱۹۳۸ء نه واخله تر دسمبر کال ۱۹۴۰ء پورې ؤ. په دسمبر کال ۱۹۴۰ء کښې پرې حکومت پابندي ولګوله. د "پښتون"

ځلورم دور د مې کال ۱۹۴۵ء نه واخله تر اګست کال ۱۹۴۷ء پورې دے. دې دوران کښې به "پښتون" په میاشت کښې ځلور ځله راوته. د پاکستان د جوړېدو نه مخکښې دا د "پښتون" اخري دور ؤ.

"پښتون" ټولې تقریباً دوه سوه او شل رسالې چاپ شوې دي. دې کښې څۀ رسالې خو حکومت د خوړېدو نه مخکښې اوچتې کړې دي چې د خلقو لاس ته ورنۀ شي. پولیس او سي آیي ډي ته دا حکم ؤ چې دوي دې "پښتون" په هر حالت تباه کوي. دا بله د بدقسمتۍ خبره ده چې کله به هم پولیس د خدائي خدمتګارانو د کورونو او دفترونو تلاشي اخسته نو وړومبے به یې د "پښتون" لټون کولو. په نور هندوستان کښې به پولیس او سي آیي ډي د خلقو د کورونو او دفترونو خو داسې قسم ته مواد به راغونډ کړو او بیا به یې چرته د حکومت په ګودامونو کښې وغورزول. د هندوستان د وېش نه پس په هندوستان کښې ډېر داسې مواد اوس په لائبرېرو کښې موندلے کېږي، کوم چې هغه وخت خلاف قانون کړے شوي وو. خو دلته پولیس او سي آیي ډي زیکاره کښې "پښتون" نشته ځکه چې وړاندې ووئیلې شو پولیس ته دا حکم ؤ چې فوراً دې "پښتون" تباه کوي. نو هغوي د حکومت په حکم پوره پوره عمل کړے دے او پخپل وس یې چرته "پښتون" نۀ دے پرېښودے. ولې داسې په "پښتون" مئین خلق هم موجود وو چې هغوي د دې رسالې حفاظت د ځان نه زیات کړے دے. ځکه خو نن په څۀ نا څۀ صورت کښې ټولې نۀ خو ډېرې رسالې محفوظې دي. ما په کوم کړاؤ دا رسالې جمع کړې دي، هغه یوه



ځان ته لوئې اوږد داستان دے او که ژوند وي چرته به یې په بله مناسبه موقع بیان کړم.

لکه چې وړاندې ووئیلې شو دا مضمونونه اول په رساله کښې چاپ کړے شو، هغې کښې ورته بېل بېل سر خط نۀ دے ورکړے شوے ټول مضامین (په "پښتون" کښې د مېرمنو برخه) د سرخط لاندې شائع شوي دي. خو اوس د لوستونکو د اسانتیا دپاره مې دا کتاب په شپږو سرخطونو کښې وېشلے دے.

وړومبے سر خط "پښتني ښځې او د قام خدمت" دے، په دې کښې په پښتنو کښې د ښځو د مقام په باره کښې تفصیلات ورکړے شوي دي، په پښتني ټولنه کښې د ښځو ژوند په اجتماعي ډول سره څۀ ډېر خوندناک نۀ دے. د هغې بنیادي وجه هم دا ده چې په پښتنو کښې سړے د هر څۀ واکمن ګڼلے کېږي او ښځو ته د دوېمې درجې حېثیت ورکړے شوے دے. د جینکو زېږنه ښه نۀ شي ګڼلے، د جینۍ د پېدا ایښت اواز د کور په خاوند د تندر ګوزار لګي. د هغه په کور لکه چې د غم زېړے وشي. د نر فرزند په پېدا کېدو خو به دے په جامو کښې نۀ ځائېږي او د لور مبارکي خو لا لویه خبره ده. د پېدا کېدو خبر چا ته ورکول هم شرم ګڼي. د دې د تعلیم او تربیت هم څۀ خاص خیال نۀ شي ساتلے. په ځینې ځایونو کښې نن هم د ښځو ژوند ډېر سخت دے. د هغوي په ذمه د کور ډېر کارونه اچولي شوي دي چې پکښې د نورو ډېرو کارونو سره سره د لرې ځایونو نه د اوبو د راوړو سره سره د غرۀ نه خاشاک راوړل او په پټو کښې د نارینۀ سره اوږه په اوږه کار کول هم شامل دي. ښځې خوارې د وادۀ نه اول د مور او پلار

په کور هم سخت ژوند تېروي او په واده خو لکه چې په هغوي دا خرخه کړے شي. د خاوند ملکيت ګڼلے شي او په بيا بيا ورته دا خبره زوتولے شي چې د ښځې دپاره يا کور دے او يا ګور.

لکه چې ووئيلے شو د باچاخان او د هغې د ملګرو په وړاندې يو ډېر لوئے مقصد دا هم ؤ چې ښځې ته دې په ټولنه کښې د عزت مقام ورکړے شي. دوي دا هم غوښتل چې په دوي کښې د تعليم شوق پېدا کړي چې هغه د تعليم په ذريعه په معاشره کښې خپل مقام وپېژني او د نړۍ د ترقي يافته قومونو په شان په خپله پښتني معاشره کښې خپل کردار په صحيح توګه ادا کړي. د "پښتون" په وړومبي اشاعت کښې د دې په هکله مضمونونه ليدلي کېږي. هغه وخت پښتنو مېرمنو په خپل نوم اخستل ډېر بد ګڼل. ځکه خو اکثر د ليکوالې د نوم په ځائے صرف "يوه خور" ورکړلي شوي دي. د "ميا ګړې يوه خور" د قوم نه ګيله کوي چې "مونږ غريبانانې په ژوندوني د مړو په حساب يو. کۀ د دېوال نه اخوا ته دنيا ورانه شي هم ترې نه مونږه نۀ خبرېږو". دا خور بغېر د څۀ وېرې نه په جاړ وائي چې دا د پښتنو په خپلو خوېندو مېندو ډېر لوئے ظلم دے چې بې تعليمه يې ساتلې دي. کۀ چرې يوه نيمه پکښې لږ ډېر په ليک لوست پوهېږي نو د بدې مرغې په پښتو کښې هېڅ يو اخبار يا رساله نشته او دوي په نورو ژبو لوستل نۀ شي کولے، نو هم داسې محرومه پاتې شي. دا خور چې کله د دې نه خبرېږي چې اوس به د پښتنو هم لکه د نورو قامونو غوندې پخپله ژبه کښې اخبار وي نو ډېر د خوشحالۍ اظهار وکړي چې اوس به دوي هم د دنيا د حالاتو نه وخت په



وخت خبرېږي.

دا خور د خپلو مشرانو نه خواست کوي چې مونږ درنه کالي، بنارسۍ او سوچه پنې نۀ غواړو صرف دا غوښتنه درنه کوو چې مونږ ته دې د پښتو دا اخبار جاري کړے شي. د دې خور د سياسي فهم او پوهې کۀ څومره ستائينه هم وکړے شي کمه ده ځکه چې دا وائي چې تعليم دې په خپله ژبه شي چې خلق ترېنه په صحيح توګه استفاده وکړے شي. هم په دې ګڼه کښې د ميا ګړې يوه بله خور دا وائي چې کۀ چرې تاسو خپل اولاد په هر څۀ پوره او د ترقۍ په لور روان ليدل غواړئ نو ميانډو ته تعليم ورکړئ ځکه چې هم د مور د اثر لاندې بچي لوئېږي، کۀ چرې مور پخپله پوهه او تعليم يافته وي نو يقيناً چې هغه به د اولاد صحيح تربيت وکړے شي.

د يوې بلې خور خط د اکتوبر په ګڼه کښې چاپ شوے دے. دا خور وائي چې په افغانستان کښې خو مليانو په دې خبره غوبل راکوز کړو او په امير امان الله خان يې د کفر فتوې ورکړې چې د هغۀ ښځه ملکه ثريا ولې ستر نۀ کوي، ولې دوي ته هغه خوارې کښې پښتنې نۀ ښکارې چې سرتور سر د خپلې ګېډې دپاره او د اولاد د پالنې دپاره په پردېو کوڅو کښې خدمتونه کوي، اخر د دې خوارانو خيال ساتل د چا ذمه داري ده؟

د سرډېرو (مردان) د مجيده بېګم مضمون "زمونږ د ښځو حال" په دوه ګڼو کښې پرله پسې چاپ دے. اول د ښځو په بې وسۍ ژړا چوي چې ولې سړي ورته په سپک نظر ګوري. د دې سره سره د ښځو نه هم غوښتنه کوي چې تاسو ته هم فن او هنر زده

کول پکار دي. ځکه چې ګېر چاپېر کۀ وګورئ نو نور قامونو کښې د هغوي زنانه د تعليم په کالي پوره دي او د ژوند په هره پوړۍ کښې د خپلو نارينو سره څنګ په څنګ روانې دي او پښتنو ښځو خپل ټول هڅې عبث تېرې کړو. نۀ خو د خپلې فائدې شو او نۀ ترې نه بل څوک فائده اخستے شي. لېکواله غواړي چې د دې حالاتو مخنيوے وشي او پښتنې مېرمنې دې د ځان اصلاح وکړي نو يقيناً چې اوس هم لا څۀ تللي نۀ دي او وخت شته چې د دوي په ښه طريقه اصلاح وشي.

د مجيده بېګم په نوم چاپ کېدو ډېرو زنانو اعتراض وکړو او ورپورې يې خنداګانې وکړې. مجيده بېګم په دې "پښتون" ته خواست وکړو چې ائنده دپاره د هغې نوم د صرف "م ب" ليکي. باچاخان په ډېره مدلله او خوندناکه طريقه دې ته ووئيل چې تۀ ولې دومره فکرمنده يې. دنيا کښې هېڅوک داسې نشته چې د خندا نه خلاص وي. هغۀ ورته ووئيل چې د ښځو نومونه اخستل هېڅ بده خبره نۀ ده او کۀ چرې دا بده خبره وے نو بيا به ولې په احاديثو او د جمعې په خطبه کښې د رسول الله صلي الله عليه وسلم د لونړو او پاکو بيبيانو نومونه د خلقو په وړاندې اخستې شو او کۀ چرې دا خبره په رښتيا بده وے نو مذهب به منع کړې وو.

ميا جعفر شاه د باچاخان په نزدو ملګرو کښې ؤ. هغه د تحريک په دوران کښې ډېرې هلې ځلې تېرې کړې وې او ډېرې قربانۍ يې ورکړې دي چې پکښې ډېر جائداد نه محرومه کېدل هم شامل دي. هغه د "ښځې او د قام خدمت" د سرخط لاندې يو



اوږد مضمون چاپ کړو، هغۀ ووئيل چې د قام د مغزو نه دا غلط خيال ايستل پکار دي چې ګني ښځې صرف د "نفسياتي خواهشاتو دپاره پېدا شوې وي او د هغوي تعليم او تربيت ضروري نۀ دے" ليکي چې ښځه صرف د دې دپاره نۀ ده بلکې د هغوي په ذمه د قوم د خدمت ډېرې غټې ذمه دارۍ پرتې دي. ځکه چې "کۀ ښځۀ بزدله وي اولاد يې هم بزدل وي، کۀ ښځه د قوم په لاره کښې د قربانېدو د راز پخپله واقف نۀ وي نو هغه هېچرې خپل اولاد د قوم او د ملک په لاره کښې قربان کېدلو دپاره تيارولے نۀ شي" ميا صيب وړاندې ليکي چې نن ورځې ولې مونږ دا شرم ګڼو چې پخپلو لونړو خوېندو تعليم وکړو او پکار خو دا ده چې دا غلطه پښتو پرېږدو او د خدائے او د رسول (ص) په ښودلې شوې لار روان شو او کوم حقوق چې اسلام ښځو ته ورکړي دي د هغې نه دې دوي محرومه کوو نۀ. پکار خو دا ده چې مونږ داسې ښځې پېدا کړو چې سبا راباندې پېټے نۀ وي او د امن او جنګ دواړو حالاتو کښې زمونږ د ترقۍ باعث وي. ځکه چې "زمونږ بد رسمونه د کور بدخرځي د اولاد صحت او تربيت هر څۀ د ښځو په لاس کښې دي، د هر شي ذمه داره ښځه ده او د اولاد دپاره اولنۍ مدرسه د مور غېږه ده نو کۀ دې غېږې مېرمن ښه نۀ وي نو هر څۀ به خراب شي او قوم به نور هم تباه شي"

باچاخان په دې مضمون خپله رايې داسې ښکاره کړه چې قوم ته پکار دۀ چې د ميا جعفر شاه په مضمون ښۀ غور او فکر وکړي ځکه چې د بد قسمتۍ نه د ډېرو خلقو دا خيال دے چې ګني ښځې زمونږ د غلامۍ دپاره پېدا شوې دي. لېکن دا خبره خو د

سره بالکل غلطه ده، هغه دا هم زیاته کړه چې "لکه چې زمونږ د قوم په ډېرو معاملو باندې د ایراني او هندو تهذیب اثر دے، هم دغه شان دا خیال په مونږ کښې د هندوانو (سره) د یو ځائے اوسېدلو په سبب پېدا شوے دے، ګني په اسلام کښې دا بالکل نشته دے. تاسو قرآن کتے شئ چې د ښځې او سړي په سزا او جزا کښې هیڅ فرق نۀ دے کړے، بلکې قرآن وائي "چې تاسو د هغوي لباس يئ او هغوي ستاسو" او حقیقت هم دا دې چې خدائے د دې دنیا د نظام چلولو دپاره ښځې او سړي پېدا کړه لکه څنګه چې د ښځې سړي ته ضرورت دے هم دغه شان د سړي ښځې ته. دا په دنیا کښې دوه ملګري دي". باچاخان پښتنو مشرانو ته دا خواست وکړو چې دوي دې، دې طرفته خاص پاملرنه وکړي.

کله چې ښځې په دې پوهه شوې چې د دوي څوک ملاتړ پېدا شو نو بیا دوي هم راوړاندې شوې او دا تجویز یې پېش کړو چې د پښتنو ښځو دې هم یو انجمن (ټولے) د هندوستان د ښځو په شان جوړ کړے شي چې دوي پکښې د هر قسم ادبي، علمي، اخلاقي او قامي بحثونه بغېر د څۀ وېرې او ترهې کولے شي او کوم حقوق چې دوي ته خپل مذهب ورکړي دي د هغې په ښۀ شان غوښتنه کولے شي. "یوه خور" چې نوم یې نۀ دے ورکړے د خپلو مشرانو نه تپوس کوي چې "زۀ حېران یم چې مونږ کوم یو داسې سخت جرم کړے دے چې د هغې نه خلاصېدل ګران کار دے. کۀ دا وائي چې بي بي حوا ابي، شېطان غلولې ده نو شېطان خو نر دے، نۀ زنانه او کۀ وايي چې د ښځو مکر په قران کښې ثابت دے نو داسې د فرعون او نمرود ذکر هم دے نو څۀ ټول سړي يو



شان شو؟ نا، په سړو کښې هم ښۀ بد شته او په زنانو کښې هم".

"د ښځو یوه غمخواره (سیده ادینه)" هم دا رنګ ګیلې کوي او وائي چې پخوانو کافرانو چې به خپلې لوڼې د پېدا کېدو سره ژوندۍ ښخولې او په ننني پښتنو کښې هیڅ فرق نشته. د هغې په خیال خو هغوي لا ښۀ وو څکه چې د سختو او د تکلیفونو او د ذلت د عمر نه به دوي خلاص وو اوس ورباندې دا ټول تېرېږي، دا ورته څۀ ډېره عجیبه خبره ښکاري چې سړي خو د عالمان شي او ښځې د جاهلې وي. سړي خو د لوئے لوئے ډاکټران شي او ښځې دې بغېر د سپېرکو او زنګونه بل څۀ نۀ پېژني. سړي خو دې لوئے لوئے لیډران شي او د قام خدمتونه دې کوي او ښځو له دې د کور د چار دېوالۍ نه بهر د تلو اجازت نۀ وي. سړي خو دې انسانیت او شرافت زده کړي او ښځې دې د پخوانۍ زمانې په هغه جهالت کښې پرتې وي، دا قدرمنده مېرمنه دا هم وائي چې چې ګورئ پام کوئ د دې جهالت نقصان صرف ښځو ته نۀ رسي، بلکې سړو ته هم رسي څکه چې په اصلیت کښې سړے او ښځه د یوه ګاډي دوه پایې دي کۀ یوه برخه شله یا ماته شي نو ګاډے نۀ شي تللے. دوي خو د بدن دوه حصې دي کۀ یوه برخه شله یا ګوزنے وي نو د جسم زور نیم وي بلکې ټول بدن بېکاره وي. لیکې چې "چونکې د پښتنو ښځې جاهلې وي نو د دې جهالت اثر اکثر د هغوي په نسل وي. د جهالت په وجه په مونږ کښې هر قسم توهمات شته دي، د تیارې نه به مونږ او زمونږ اولاد یرېږي، بو به زمونږ د بال بچ خوړلو ته هر وخت ناست وي او پېریان به زمونږ په خوېندو لوڼو راځي، کۀ وړوکے هلک جینۍ ناجوړه شي نو مور یې زر د

سپېرکو تلے ورکړي، کهٔ شرے پرې را وخېژي نو دومره ګرم ګرم
ښېزونه ورکړي چې بې نېټې د هغې خلاصے وکړي، کهٔ چرې باد
پرې راشي نو د بادو بابا په هر کلي کښې يوه يا دوه موجود وي.
ګني پهٔ کړه مار[1] غر کښې د بادو سورے ګټ د سلګونو کالو
راسې شته، اوډو سترے کېږي نهٔ.

ليکواله په دې هم پوهه ده چې د دې ټولو تباهو څهٔ سبب
دے؟ ليکې چې صرف او صرف وجه يې جهالت او بې علمي ده،
هېڅرې يو قوم تر هغې پورې ترقي نهٔ شي کولے تر څو پورې چې
د هغې قوم ښځو کښې تعليم نهٔ وي. ښځې چې د سړو سره څنګ
په څنګ اوږه په اوږه ودرېږي او دواړه د ترقۍ په لاره ګامزن شي
نو هله د ترقۍ څهٔ اميد کېدے شي.

د کتاب دوېم سر خط "د جينکو تعليم او د هغې اهميت"
دے. ليکواله په ډېر ښهٔ شان پخپلو ليکونو کښې د جينکو د
تعليم د اهميت ذکر کړے او د پښتنو نه يې دا غوښتنه کړې ده
چې دوي دې هم دې ته خاص اهميت ورکړي ځکه چې بغېر د دې
نه په هېڅ صورت په ټولنهٔ کښې ترقي نهٔ شي کېدے. دوي دا هم
په ګوته کړي دي چې ماشوم ورکوټوالے د مور په غېږه کښې
تېروي. په ماشوم د مور اثر ډېر زيات وي، ځکه چې پلاران خو
کثر د کارونو په سلسله کښې باهر وي او د ماشوم ژوند د مور
ه ګېر چاپېر تېرېږي. مور د هغې په خيالاتو او عاداتو ډېر زيات
ثر غورزوي. دا تر مور پورې اړه لري چې هغه د خپلو بچو تربيت

[1] کړه مار غر: د يوسفزو په علاقه کښې مشهور غر دے.



او روزنه او پالنه په کومه توګه کوي. بچو ته د ښو عادتونو او
اعمالو چل ښائي او کهٔ چرې ترې نه لاس وينځل غواړي نو بيا
هغو ته د عبثو او فضولو کارونو کولو مکمل اجازت وي. يوه
ليکواله دا تپوس هم کول غواړي چې "کهٔ چرې دا عمر بچے د
جاهلې مور په غېږ کښې تېر کړي نو د دهٔ عادات به څهٔ رنګ وي؟
هغه مور چې هغه پخپله د سرېتوب د فرائضو نه بې خبره وي
خپل اولاد ته به دا لار څنګه وښائي او دا وجه ده چې زمونږ ملک
د غلامۍ په زنځيرونو کښې تړلے دے او د هر چا حاجتمند دے".

ليکواله دا هم وائي چې د ترقي يافته ملکونو ښځې ټولې
تعليم يافته وي. د خپلو ماشومانو د تعليم او تربيت خاص خيال
ساتي او د خپلو نارينو سره د ملک او د قام په ترقۍ کښې اوږه
په اوږه کار کوي. د دې ملکونو موازنه بيا د خپل خوار وطن سره
کوي او ليکې چې اول خو دلته په ښه کارونو ځان څوک پوهول نهٔ
غواړي. د هر ښهٔ کار مخالفت به کوي، اوس کهٔ د موډو پس چرته
د ښځو د تعليم مرستيال پېدا شونو په قسم قسم طريقو د هغهٔ
مخنيوے کوي او هر قسم غندنه يې کوي.

باچاخان په دې قسم ته مضمونونو باندې خپله بې شانه
خوشحالي ښکاره کړې ده، ليکې چې د لوئے خدائے تعالي ډېر
زيات شکر دے چې په پښتنو کښې او په خاص توګه په ښځو
کښې د ملک او د قوم د ترقۍ او د خپلو حقوقو د حاصلولو
جذبه پېدا شوه. هغه ورسره دا لوظ کوي چې هغه په دې لړ کښې
هر قسم امداد ته تيار دے. ورسره يې دا هم زياته کړه چې "خو دا
ياد ولرئ چې چرې څوک د بل په پښو ودرېدلي نهٔ دي او نهٔ شي،

هر څۀ چې کوئ نو تاسو به يې کوئ"

د اديني (صوابی) نه د "ښځو يوه غمخواره "سيده"" په خپل مضمون "د مور غېږه اوله مدرسه ده" کښې د جديد تعليم حاصلولو په اهميت زور ورکوي او ورسره د مغربي طرز تعليم غندنه کوي او وائي چې دا خو د فائدې په ځائے نقصان رسوي. ځکه چې کۀ په اروپا کښې د هلک او جينۍ ترمينځ څۀ فرق نۀ شي ساتلے نو هلته خو ممکن دے ځکه چې هغه تهذيب او تمدن د ايشياء نه فرق لري. ولې دلته د جينۍ تعليم په مختلف طريقه پکار دے، ځکه چې د کور ټول کارونه د دې په ذمه دي. د پلار او د ورور تابعداري يې په ختمه کښې اېښلې ده. د وادۀ نه پس د خاوند تابعداري خپل فرض ګڼي نو دا فرق په هېڅ توګه نۀ شي لرې کېدے. د مغربي تعليم اثر په موجوده نسل ښکاره کوي اووايي چې کوم هلکان چې په کالجونو وغېره کښې داسې طرز تعليم حاصلوي نو هغوي بيا خپل کار پخپله کولو باندې شرمېږي. سختۍ ته خو د سره هډو د ټينګې نۀ دي. د جينکو په شان جامې اغوندي او د جينکو په شان سرونه پرېږدي چې ډولي او فېشني ښکاري. دوي ته د خپل قام اولس خدمت کول شرم ښکاري او په پردۍ غلامۍ ورته ځان ښۀ ښکاري او دا د ځان دپاره د عزت ور بولي.

دا درنه ليکواله هم نۀ غواړي چې ماشومانو ته دې صرف مشرقي تعليم ورکړے شي او په جوماتونو کښې د تعليم دپاره واستولے شي، چرته چې هغوي به بيا د دنياوي ژوند نه جدا په يوه بله لار روان کړے شي. ليکي چې "مذهب اګر چې د هر څۀ اول



دے ولې مذهب سره دنياوي کار هم د ضرورياتو نه څۀ بلکې لازم دے. يوانسان تر هغې پورې پوره اومکمل انسان نۀ شي کېدے تر کومې پورې چې هغه په دنيا کښې د څۀ کسب هنر او مذهب نه خبردار نۀ شي". ښاغلې ليکواله دا هم وائي چې "يو داسې تعليم چې هغه صرف مذهب ښائي زمونږ دپاره موزون نۀ دے، مونږ له يو داسې تعليم حاصلول پکار دي چې هغه مونږه هم د دين نه خبروي او هم د دنيا نه".

دا ليکواله (سيده) د قام د مشرانو نه خواست کوي چې هغوي د خپلو لوڼو او د خوېندو دپاره "هم ځائے په ځائے زنانه سکولونه جوړکړي چې په هغې کښې ښځې استاذانې وي او هغې کښې د مذهب اسلام د تعليم دپاره سره سره د دنياوي کاروبار او د کور انتظام تعليم ورکولے شي". د ګرانې ليکوالې د تعليم سره شوق او مينه دومره زياته ده چې د مسئلې په ګوته کولو سره سره د دې حل هم په ډېره ښه طريقه راوباسي. ليکي چې: "دا ضروري نۀ ده چې دا کار دې د اوله په لويه پيمانه شروع شي، نه دا دومره هم کافي دے چې په کلي کښې دې يوه يا دوه ښځې په معمولي تنخوا مقرر شي اود هغې کلي جينکۍ دې ورله ټولې د تعليم دپاره جمع کېږي. زۀ اميد کوم چې په هر کلي کښې به داسې ښځې هم پېداش ي چې بغېر تنخوا نه به دا ذمه په خپل سر واخلي". هغه پخپل کلي خپل ځان د دې خدمت دپاره راوړاندې کوي خو د دې سره سره نورو خوېندو ته هم خواست کوي، دوي دې ورسره دا کار په منظمه طريقه زر تر زره شروع کړي، چې دوي د کاميابۍ په لور ګامونه واخلي، خو ورسره د

دې نه هم خبر ده چې "دا تول کار تر هغې پورې يو منظم صورت نه شي اختيارولے تر کومې پورې چې زمونږ قوم کښې دا احساس نه وي پېدا شوے او ترکومې پورې چې زمونږ د قام مشران دې کار ته ملا ونه تړي".

باچاخان په دې د خپلې رايې اظهار په تفصيل سره وکړو، لکه چې وړاندې ليکلي شوي دي هغهٔ غوښتل چې د تعليم اهميت دې په گوته کړي، خو د دې سره سره هغهٔ تعليم په خپله ژبه کښې ورکولو باندې هم ډېر زور اچولے ؤ، ځکه چې په دې ښه خبر ؤ چې بغېر د خپلې ژبې نه ماشوم په پردۍ ژبه کښې زده کړه دومره زر نه شي کولے. باچاخان دا هم وئيل چې صرف دا نهٔ چې تعليم په خپله ژبه شي بلکې نصابِ تعليم ته هم خاص پاملرنه پکار ده. هغه وئيل "تر کومې پورې چې د تعليم او د بچو د تربيت انتظام د دې قوم په خپل لاس کښې نه وي دا ناممکنه ده چې د قوم بچي او د هغوي ملک به ترقي وکړي". باچاخان دا هم په ښکاره ووئيل چې زهٔ به د قوم په خدمت کښې دا عرض ضرور وکړم چې زمونږ د هلکانو د تعليم نه زيات ضروري زمونږ د لوڼو تعليم دے، ولې چې د بچي د تربيت اوله مدرسه د مور غېږه ده او زما خور [اليکوالې ته اشاره ده] چې هر قسمه مالي او ځاني خدمت په ما باندې اچوي، د خپل طاقت موافق وعده ورسره کوم او د قوم مشرانو ته اپيل کوم چې د دې عاجزانو په حالت هم څهٔ رحم او توجه پکار ده. دوي له دې موجوده پستۍ نه ويستل پکار دي، ولې چې د دوي پستي زمونږ پستي ده".

دَ کتاب په دريمه برخه کښې چې سرخط يې "د آزادۍ په



تحريک کښې د مېرمنو برخه" دې د پښتنو ښځو د وطن د ازادۍ په لړ کښې چې کوم کړاوونه کړي وو او يا يې کول غوښتل په هغې رڼا اچولې شوې ده. اوس په پښتنو ښځو کې ورو ورو سياسي شعور او بېداري پېدا کېده، هغوي ته د دې احساس وشو چې دوي د هندوستان او شاوخوا نورو هېوادونو د ښځو نه په دې لړ کښې ډېرې وروستو دي. دوي کښې د تعليم کمے ؤ او د دوي څهٔ انجمن يا جرگه هم ځان له نهٔ وه. اوس هغوي ځان په اجتماعي ډول منظم کېدل غوښتل. هرکله چې دوي د غفلت د خوبه راويښې شوې نو اوس يې په بار بار د خپلو مشرانو په خدمت کښې دا خواستونه شروع کړل چې دوي دې د تعليم په خوږو پوهه کړلې شي او دوي ته د هغه مقام ورکړے شي کوم چې دوی دپاره رسول الله صلي الله عليه وسلم غوره گڼلے دے او کوم چې دوي ته اسلام ورکړے دے.

دَ هنگو په تعليمي جلسه کښې باچاخان تعليم په خپله ژبه په ورکولو باندې ډېر زور واچولو، هغه دا هم ووئيل چې پښتنو ته داسې تعليم پکار دے چې د نوي علومو سره سره پکښې د قوميت او حُريت درس هم ورکوي او دا هر څهٔ هله ممکن کېدے شي چې دا تعليم په پښتو شي او د قام خپل لاس کښې راشي. باچاخان وئيل چې په "ابتدائي زمانه کښې د يو هلک دپاره دا څومره مشکله او گرانه خبره ده چې هغه په پردۍ ژبه کښې خپل خيالات ظاهر کړي. د خيالاتو په ازادۍ باندې ظاهرولو دپاره ډېره ضروري ده چې په کومه ژبه کښې هغه خبرې کوي، په هغې ژبه باندې د هغې پوره عبور وي". باچاخان په دې هم ښه پوهېدو

چې تر څو پورې چې پښتانهٔ خپله ژبه خپله نه کړي نو دا کشالې به هم داسې روانې وي، ځکه چې تعلیم یافته پښتانهٔ یو تر بله خطونه په اردو یا انګرېزۍ کښې لیکي، علمائے کرام هم د خپلو خیالاتو اظهار په فارسۍ او عربۍ کوي نو بیا د عام پښتون نه ولې دا ګیله پکار ده چې دے ولې خپله ژبه پښتو نه خپلوي.

په دې موقعه باچاخان د ښځو د تعلیم ضرورت په بیا بیا په ګوته کړو او وې وئیل چې "زهٔ تاسو ته د تجربې نه دا وایم چې پښتو ژبې له په رواج ورکولو سره زمونږ ښځې هم په صحیح معنو کښې تعلیمیافته شي، داسې ډېر کم کورونه دي چې د هغوي بیبیانو له به پښتو نه ورځي، مګر چونکې په پښتو ژبه کښې د لیلي مجنون، فرهاد شیرینۍ، د نوروز غزلونه او د یو څو جنګنامو نه سېوا بل څهٔ عملي کتاب نشته دے، د دې دپاره زمونږ خوېندې لونړه د خپل پښتو د تعلیم نه څهٔ فایده نهٔ شي اخستې". د خپلې خبرې د تائید دپاره باچاخان د رسول الله صلي الله علیه وسلم د دې حدیث مبارک حواله ورکړه چې "د علم حاصلول په هر مسلمان سړي او په هرې مسلمانې ښځې باندې فرض دے". هغهٔ په دې موقعه دا هم ووئیل چې "ښځه د هر سړي نیم ځان دے، کهٔ چرې د سړي نیم ځان مړ او بېکاره وي نو دا ناممکنه ده چې د هغه باقي ځان د څهٔ ترقي هم وکړي، ښځه او سړے د یوې ګاډي دوه پایې دي، کهٔ چرې دواړه پایې یو شان جوړې نه شي نو د ګاډي په چلیدو کښې به څومره هرج وي، بلکې د هغوي تربیت د سړو نه زیات ضروري او اهم دے. ولې چې د دنیا هر یو بچے خپله ابتدایي زمانه د مور په پرورش (غېږ) کښې



تېروي. هم دغه زمانه ده چې دے پکښې ښهٔ او بد عادتونه زده کوي او همدغه د بچي دپاره د اثر قبلولو زمانه ده.

پس کهٔ چرې مور یې نا تعلیمیافته، بې علمه او ناتربیت یافته وي نو هغه به د خپل بچي پرورش او تربیت څهٔ رنګ وکړي. زما په خیال په دې کښې هیڅ شک نشته او نه به په دې کښې څهٔ مبالغه وي کهٔ زهٔ دا ووایم چې زمونږ د اخلاقو د تباهۍ او بربادۍ، زمونږ د محکومیت او غلامۍ ډېره لویه وجه دا ده چې زمونږ بیبیانې بې تعلیمه دي او د دوي د ناپوهۍ په سبب زمونږ د وړو ابتدایي پرورش او تربیت ډېر ناقص وي، زما په خیال په دې وجه د سړي د تعلیم نه د ښځو تعلیم ډېر ضروري دے. مګر دا مسئله هم داسې ده چې تر څو پورې قوم په خپله دې خبرې ته متوجه نهٔ شي او د ښځو د تعلیم دپاره سکولونه او مدرسې پرانهٔ نیزي تر هغې پورې به هیڅوک بل د هغوي دپاره دا کار ونهٔ کړي".

په اګست کال ۱۹۳۱ء کښې باچاخان ته په لامده خوړ (لوند خوړ) مردان کښې د بائیزو زنانؤ یوه سپاسنامه پېش کړه. په دې سپاسنامه کښې دې درنو مېرمنو د باچاخان او د هغهٔ د ملګرو ډېره زیاته مننه او ستائینه کړې ده، چې دوي د پښتنو ښځو د پر مختګ او د تعلیم خبرې کوي، د دوي د دې تحریک په سبب اودهٔ قام راویښ شوے دے او دوي د خپلو زنانؤ په باره کښې هم احساس وکړو. باچاخان د دې جواب ډېر په ښهٔ انداز کښې وکړو. په دې موقعه هغهٔ دوي ته ووئیل چې کله به هغه د هندوستان او نورو وطنونو ښځې د خپلو نارینؤ سره څنګ په

ځنګ د ازادۍ په تحريک کښې ليدلې نو هغه به ورته ډېر زيات پسخېدو او لوئے خدائے ته به يې دا دعاګانې کولې. چې خدايه داسې وخت به هم چرته راشي چې د پښتنو دا ښځې به هم داسې بېدارې شي او د وطن د ازادۍ په جنګ کښې به داسې برخه واخلي. هغه په دې موقعه دا هم ووئيل چې "اے زما خوېندو مېندو! زهٔ چې ستاسو په مظلوم حال باندې نظر وکړم نو ماله تاسو په دې بې کسۍ باندې ډېر رحم راځي او زهٔ ستاسو په دې بې واکه ژوند باندې ډېر زيات خفه کېږم. ځکه چې الله تعالي خو ستاسو زمونږ سره سمه حصه مقرر کړې ده او په خپل نزد يې ستاسو او زمونږ د نارينؤ هېڅ فرق نۀ دے ساتلے او د "اشرف المخلوقات" په ممتاز لقب کښې زمونږ او ستاسو حېثيت يو دے او کهٔ چرې زمونږ د يو بل نه څۀ زياتے کېدے شي نو هغه په خويونو او ښۀ عمل سره کېدے شي د تاريخ نه د ځينو پخوانو زنانؤ حالات کۀ وکتے شي نو داسې داسې عالمانې، تقواداري او شاعرانې زنانه په دنيا موجودې وې چې د هرې يوې نه په زرګونو نارينه قربان شه. دا خو زمونږ د قوم يوه زبردسته غلطي ده چې مونږ تاسو زنانؤ ته يوه ډېره ذليله درجه ورکړې ده. کۀ نه نور نو زمونږ د نارينؤ او ستاسو په درجه کښې هېڅ فرق نشته. اوس هم کۀ چرې تاسو نور غفلت پرېږدئ نو اميد دے چې ستاسو دا د ذلت عمر په عزت بدل شي. نو د دې دپاره تاسو له پکار دي چې پاڅئ او کلي په کلي وګرځئ. خپلې ناخبره او مظلومې خوېندې رابېدارې کړئ او شوک چې په تاسو کښې پوهېږي نو هغوي دې د دوي خدمت ته ملا و تړي."



باچاخان ورسره دا لوظ هم وکړو چې "اے زما خوېندو! کۀ چرې مونږ کټه وکړه او دا خپل وطن مو خپل کړو نو مونږ تاسو سره دا کلکه وعده کوو چې تاسو ته به خپل حقوق درکړے شي. ولې چې تاسو زمونږ تن وجود يئ، مونږ تاسو نه او تاسو زمونږ نه جدا نۀ يئ" او دا چې:

"ستاسو او زمونږ نفع نقصان يو دے. ستاسو ذلت زمونږ ذلت دے او ستاسو ترقي زمونږ ترقي ديه. د دې دپاره تاسو دعا کوئ چې خدائے پاک مونږ له کاميابي راکړي او مونږ تاسو له خپل حقوق درکړو او په دې تاسو ښې پوهه شئ چې تاسو به د پنګې خاوندانې شئ او ستاسو دا بده ورځ به ډېره زر ښه شي، مګر دا پکښې شرط دے چې تاسو زمونږ سره سمې د وطن د ازادولو دپاره ملا وتړئ."

باچاخان دا هم زياته کړه چې "دا ياد لرئ! چې د ازادۍ د دروازې کنجي ستاسو زنانؤ په لاس کښې ده، کۀ تاسو په اخلاص او په صدق سره نيت وکړئ نو نن وطن ازادېږي او هغه به داسې وي چې خپل ورونه او بچي په شا وټېوئ او مېدان د عمل ته يې رواندې کړئ، خرڅونه کم کړئ او خپل نارينه په دې مجبوره کړئ چې د قام د خدمت دپاره تيار شي."

د باچاخان ګرفتارۍ او په "پښتون" بنديز دا سلسله په نيمايي کښې پرېښوده، د صوبې په تاريخ کښې دې شپږ اوو کالو کښې ډېر څۀ وشول. مناسب بيان به يې په خپل ځائے کېږي. نوي اصلاحات راغلل، د هغې لاندې ووټونه وشول، چې په نتيجه کښې يې دصوبائي کانګريس وزارت جوړ شو او په کښې

خدائي خدمتګار هم شامل شو. د باچاخان نه پابندۍ اوچتې کړے شوې او هغه تقریباً شپږ کاله پس پښتونخوا ته راغلو. د راتلو سره اولني کارونو کښې د "پښتون" بیا اجرا وه. باچاخان خپل مقصد چرته هم دلاسه غورزولو ته تیار نه ؤ، هم هغه شان پښتنو مېرمنو ته یې خواستونه شروع کړل چې راوړاندې شئ او د قلم په ذریعه د خپل خوار اولس او قام خدمت وکړئ.

دَ اکتوبر ۱۹۳۸ء په "پښتون" کښې باچاخان د پښتنو مېرمنو نه ډېره غټه ګیله ښکاره کړې ده، چې دوي خپل خیال ولې نۀ ساتي. په ځان کښې بدلون ته ولې غاړه نۀ ږدي، هغۀ دا خبره ښکاره کړه چې "تر کومه وخته پورې چې د یو قوم ښځې رابېدارې شوې نه وي، هغه قوم بېدار شوے نۀ دے. چې تر کومه وخته پورې دیو قوم ښځې اوچتې شوې نۀ وي، هغه قوم اوچت شوے نۀ دے. کومه وخته پورې چې د یو قوم ښځو ملا تړلې نۀ وي، هغه قوم ازاد شوے نۀ دے".

باچاخان دا هم زیاته کړه چې "د قوم هېڅ رسم و رواج تمدن او معاشرت تر هغې وخته پورې ترقي کړې نۀ ده. چې تر کومه وخته پورې د هغې قوم ښځو هغه محسوس کړې نۀ ده او د هغې د اصلاح دپاره یې ملا تړلې نۀ ده. زۀ په دې باندې نور زیاتي لیکل نۀ غواړم. لیکن خپل پښتون قام ته دومره عرض کوم اے وروڼو! کۀ چرې تاسو خپل قام قام کول غواړئ او د هغوي اصلاح کول غواړئ نو خپلو ښځو ته توجه وکړئ. هغوي ښځې کړئ او د هغوي اصلاح وکړئ".

د باچاخان په دې ګیله لکه چې پښتنې ښځې رابېدارې



شوې، هغوي په ګڼ شمېر کښې خپل مضمونونه په "پښتون" کښې د چاپ کېدو دپاره رااستول شروع کړل. د زیارت کاکا صاحب سیده بشرې بېګم چې په (س ب ب) پېژندلې کېږي په جار ووئیل چې "د پښتون قام تباه حالت او د ښځو بې خبرۍ ته چې ګورم نو د اوښکو په ځائے وینې څڅوم، مګر افسوس څۀ کولے شم؟ دې کښې شک نشته چې پښتانۀ تر اوسه پورې د خوېندو اولونو اصلاح او اوچتولو ته تیار نۀ دي، باوجود د دې چې دا ورته په ښه شان معلوم شوې ده چې هغه قوم هیچرې د ترقۍ په معراج نه شي ختے، چې د کوم قوم ښځې بې تعلیمه او غافله وي. مګر په پښتنو کښې د ښځو بېداري شرم ګڼلے شي".

او

"کاش! د قوم همدردانو توجه څۀ لږ شان زمونږ. د مظلومې طبقې په طرف راوګرځېدے او زمونږ د اصلاح او د تباه حال د درستۍ دپاره یې کوشش وکړے. زمونږ قلم نه او زمونږ د لاسو پښو نه ناجائزې پابندۍ پورته شوے، چې مونږ هم دنیا ته د اصلي مسلمانۍ او د پښتو د غېرت ثبوت ورکړلے". س ب ب دا هم ووئیل چې "د قوم د تنزل وجه د ښځو غفلت دے. کۀ د خپلې ترقۍ او د قوم د بېدارۍ خواهش لرئ نو د ښځو د بېدارۍ اسباب ولټوئ چې قوم ټول رابېدار شي". د شعر په ژبه س ب ب د پښتنو نه تپوس کوي چې د قیامت په ورځ به خدائے پاک ته څۀ خواب ورکوئ چې ولې د خپل لور او زوي کښې فرق کولو. زوي خو د جایدادونو خاوند پرېږدئ او لور د هر څۀ نه محرومه ساتئ، په زوي خو ښه ښه تعلیمونه کوئ او لور دکور په

چارد یوالۍ کښې بندیوانه ساتئ. ورته چې بیا بیا د جهالت پېغورونه کوئ نو دا خو لږ ووایه چې دا ذمه داري د چا ده؟ د انصاف خبره خو دا ده چې د زنانه طبقه مظلومه ساتل شوې ده. ښاغلي لیکواله دا هم وائي چې کۀ خپل آینده نسلونه ښۀ کول غواړئ نو د ښځو د تعلیم فکر وکړئ، ځکه چې بغېر د تعلیم نه کامیابي موندل ګرانه ده. س ب ب د ترکو د مېرمنو مثال ورکوي او خپلو پښتنو ته وایي چې د هغوي غوندې مونږ له هم د تعلیم انتظام وکړئ نو بیا ګورئ چې مونږ هم په هېڅ صورت د ترکو د ښځو نه وروستو نۀ یو.

س ب ب یوازې نۀ وه، نورجهان بېګم هم دا ژړا کوي چې دوي ته په کور کښې د ننه هم لیکل لوستل منع دي، نو بیا ترې نه هسې فضول طمې ولې ساتئ. د هندوستان ښځې هم د پښتنو زنانۀ نه په هر چند ښې دي، چې د قوم او د وطن خدمت د خپلو نارینۀ سره څنګ په څنګ کولے شي. په پښتنو مېرمنو چې قسماقسم پابندۍ لګېدلې دي،نو دوي به څنګه بیا د خپل قام او ملک خدمت وکړلے شي.

د یوې خور فریاد کښې نګینه[۲] بغېر د څۀ ویرې ترهې نه صفا وائي چې زمونږ دښمن پردے ځوک نۀ دے بلکې پښتون دے. ځکه چې ځان له خو څو قسمه حقونه غواړي. ازادي غواړي او مونږ یې هم هغه شان د جهالت په تورو تیارو کښې

---

[۲] - یاد دې وي چې د نګینه په نمه لیکل به مشهور خدائي خدمتګار محترم فضل رحیم ساقي صاحب په دې غرض کول چې د زنانو رغبت دې لوري ته پیدا شي چې به پښتو کښې لیکل لوستل شروع کړي



ساتلي یو. کۀ د چا د ښځو په همدردۍ کښې یو څو ګامونه پورته کول هم غوښتل نو ملایان ورته تیار ناست دي او د فتوو په توپو یې زر کافر کړي. د امان الله خان مثال ورکوي چې د هغۀ ټولو کښې غټ جرم صرف د ښځو سره همدردي لرل وو، هغې دوي د تعلیم په ګالیو اراسته کول غوښتل نو وګورئ څۀ وشو. ځینې مفاد پرستو ملایانو وغېره د پردو په لمسه پرې د کفر فتوې جارې کړې او هغه یې په دې مجبور کړو چې خپل خوږ وطن او خلق پرېږدي، ځناورو ته هم داسې سخت قانون څوک نۀ جوړوي کوم چې پښتنو خپلو میاندو خوېندو ته غوره ګڼلے دے. ځان له خو د ازادۍ سره قسم قسم حقوق غواړي او د خپلو ښځو ژوند یې خراب کړے دے.

س ب ب په ډېره مدلله طریقه د دې خلقو غندنه کوي چې څوک دا وایي چې پښتنې ښځې د شریعت په ضد کارونه کول غواړي، هغه دوي ته وایي چې نن ورځې دا کومه پرده او ستر چې د پښتنو ښځو په لاسو پښو کښې د زنځیرونو غوندې پروت دے ولې دا په ایران، مصر، عراق او ترکیه کښې د ښځو دپاره نشته. ځواب یې خیله ورکوي چې ځکه چې دې قومونو ترقي وکړه او ورځ په ورځ د خپلې کامیابۍ د منزل په لور تېز ګامونه اخلي. ولې د بدقسمتۍ نه دلته پښتانۀ د غلامۍ په زنځیرونو کښې کلک تړلي شوي دي او خدائے خبر چې دا زولنې به یې تر کومه پورې په پښو کې پرتې وي. س ب ب د هغه ملایانو غندنه کوي چا چې په مصطفی کمال اتاترک باندې د دهریه سرب فتوې لګولې دي اووائي چې داسې فتوې مونږ هم قبلولو ته تیر

بیا څهٔ طمع کول هیڅ عبث دي. ورسره ورسره دا بیا هم روان ؤ چې د نورو قامونو زنانه خو د ملک او د ترقۍ په لار ګامزنې دي ولې دلته هیڅ شے نهٔ شي لیدے. کهٔ څهٔ لږ ډېر د لوستلو شوق په چا کښې لیدلے کېږي، هم نو هغوي د فایدې رسولو کتابونو په ځائے د ناول او افسانې سره زیات شوق لري. د دې غټه وجه هم د ځینې لیکوالو مطابق د پښتنو کم علمي او غلامي ده. دوي د پښتنو د زوال او بدې ورځې دا غټ سبب هم کم علمي او جهالت ګڼلو. دوي به په بیا بیا دا وینا کوله چې په ښځو داسې پابندۍ لګول خو نهٔ په مذهب کښې روا دي او نهٔ په قران کښې لیکلې شوې دي نو بیا دوي ولې د خپلو پښتنو مشرانو دلاسه پهٔ اور کښې ولاړې دي او د جهل دا عمر تېرولو باندې مجبوره دي.

دَ صوبائي کانګریس د مشرانو په بلنه د هندوستان نه مختلف وفدونه پښتونخوا ته رابلل شروع شول. د نور وطن غوندې دلته هم ډېر زور په دې اچولو چې د خپل وطن جوړشوي څیزونه استعمالوي. دوي دلته دا هم غوښتنه وکړه چې د خپل وطن څیزونه استعمالوئ نو د دې ګټه به په وطن کښې پاتې کېږئ، دوي په څرخه کولو باندې ډېر زور اچولو ،ځکه چې دا یې غوښتل چې خلق د خپله جوړه شوي خامتا اغوندي او د بهرنې رخت بایېکاټ دې وکړي. نګینې خور هم د وطن په جوړه شوې خامتا اچولو زور ورکړو او وئیل یې چې په دې طریقه به د وطن کسب ګر په ګېډه موړ شي.

س ب ب دَ خپلو خیالاتو اظهار هم په بار بار د "پښتون" په ذریعه د قام نورو خوېندو ته په ښه شان رسولے دې، هغې په دې

يو خو صرف او صرف تعليمي اصطلاحات مو پکار دي.

د باچاخان خواستونه په ځائے شو، ځکه چې د "پښتون" په را روانو ګڼو کښې د ښځو مضمونونه په ډېر ګڼ شمېر کښې ليدلې کېږي. د نظم او د نثر دواړو په مېدان کښې زنانه د نارينؤ سره ځنګ په ځنګ ليدے شوې.

ځلورم سرخط د س ب ب ليکلې شوې مصرعې "کۀ ننګيالې زلمي په شا شو - فخر افغانه جينکۍ به دې ګټينه" نه ورکړے شوے دے. په دې ورځو کښې د ترکو مشهور قام پرستې ليکوالې خالده اديب خانم ليکلے شوے مضمون "متحده قوميت او فخر افغان" قسط واره ترجمه ميا سيد رسول رسا به کوله اوچاپ ته به يې راواستوله. غوره به دا وي چې دا مضمون په خپل ځائے پوره په تفصيل سره وکتے شي. دا ليکوالې په کال ۱۹۳۴ء کښې هندوستان ته راغلې وه او د نورو ځايونو سره سره پېښور کښې يې هم څو ورځې د عبدالرحمان شهيد (د يحيی خان او يونس جان مشر ورور ؤ) په ياد کښې د هغوي سره تېرې کړې وې. دې خپل کتاب "INSIDE INDIA" "د هندوستان دننه" چې په کال ۱۹۳۷ء کښې چاپ شوے ؤ، په باچاخان او خدائي خدمتګارۍ ډېر ښۀ مضمون ليکلے ؤ. په پښتنو او پېښور يې ځان ته ليکل کړي وو. نو خبره مې د ښځو رااستولې شوي مضمونو کوله چې اوس په ډېر ګڼ شمېر کښې په "پښتون" کښې چاپ کېدل. هم هغه زړه ژړا يې کوله چې پښتانۀ ولې په خپلو لوڼو خوېندو تعليم په ښۀ رنګ نۀ کوي او تر څو پورې چې دوي د دې طرف ته خاص توجه نۀ وي ورکړې نو تر هغې پورې د دوي نه

د دوي په مقابله کښې مونږ هره يوه خور په غوز سره خپل حالت ته وګورو نو زمونږ او د ځناورو د ژوند به هډو فرق معلوم نهٔ شي. په دنيا کښې انسان صرف د خوړلو او څښلو دپاره نهٔ دے پيدا. بلکې د هغهٔ د پيدايښت نه اصلي مقصد څهٔ بل څيز دے.

خوړو خوېندو! آخر فکر وکړئ چې مونږ خو څهٔ ځناورې نهٔ يو. بلکې اشرف المخلوقات يو. پس ځان کښې په اصلي معنې د اشرف المخلوقات جوهر پيدا کول پکار دي. د دې زوړ نظام بدلول ډېر ضروري دے د زمانې سره سم رفتار په هر چا لازم دے، مونږ ته سړي د حقارت په سترګو څهٔ چې د ډنګرو نه هم په کم نظر سره ګوري. نو ګرم نهٔ دي ولې چې زمونږ خوي خصلت او غفلت د ډنګرو نه هم زيات خراب دے هم زمونږ د دې غفلت په سبب غيور قوم د پښتون دنورو قومونو شاته ولاړ دے. اخر دا تباه حال به زمونږ تر کومې پورې وي؟ په خپل حال لږ فکر وکړئ، زمونږ ژوند خو د دوزخ د اوسېدونکو نه هم خراب دے او د ځان سره مونږ د سړو هستي هم تباه کړې. هغه د فارسي متل دے چې "شامت اعمال ما صورت نادر ګرفت" دا ټول زمونږ د خپل عمل شامت دے، چې په قسماقسم رنګونو کښې زمونږ په نظر راځي د کور د ځلورو دېوالونو په جېلخانه کښې ژوند. د جهالت په تورې تيارې کښې عمر. د جائزو حقوقو پايمالول، د دلې جذبانو ضبط کول. په قسماقسم مصيبتونو کښې مبتلا کېدل. دا ټول زمونږ د خپل غفلت سزا ده.

س ب ب د خپل مضمون په پائے کښې پښتنو مېرمنو ته خواست کوي چې "خدايے دپاره دې خوب نه پاځئ! د دې تباه

تپوس کولو هيڅ باک نۀ محسوسولو چې د خپلو خوېندو نه دا تپوس وکړي چې د دنيا نور خلق خو بدل شو ولې دا پښتانۀ اخر ولې نۀ بدلېږي. هغه د دوي يه زړه لار تلل د دې يو غټ سبب ګڼي. ښځې د جهالت په تورو تيارو کښې ساتل د هغې بل سبب ګڼي. ليکي چې:

"د غېر مذهبو ښځې خو پرېږده چې خپلې هم مذهبې ښځې زمونږ نن څومره پورته وختې او بېدارې شوې، د ترکو ښځې په پوځ کښې بهرتي شوې، رېل ګاډي چلوي، جهازونو . کارخانو کښې کار کوي، ډاکټري کوي، کونسلونو کښې کښېناستې، د استاذۍ کار کوي، غرض دا چې هيڅ يو کار داسې نشته چې د هغې د کولونه د ترکو ښځې عاجزانې دي. دغسې مصر هم دے. د عراق ښځې هم خپل ټول فرائض په خپله انجام ته رسوي. د فلسطين حالت ته چې وکتنې شي نو په موجوده جنګ ازادۍ کښې ښځې د سرو نه کمې حصه نه اخلي.

"د غېر ملکونو ښځې پرېږده. زمونږ سره څنګ په څنګ اوسېدونکو زمونږ هموطنو خوېندو د هندوستان ته کتل پکار دي، چې د تعليم په لحاظ سره زمونږ د ځينو سړو نه زياتې دي. کارونه هر قسم کولے شي. لوئې لوئې جلسې په هر ښار کښې د ښځو کېږي او په ډېرې ازادۍ سره خپل حقوق د سړو نه غواړي. ډاکټري کوي. استاذۍ کولے شي. د کپړو په کارخانو کښې کارونه کوي. په کونسلونو کښې ناستې دي، د اخبارونو رسالو چلونکې دي. مونږ د دې ټولو ښځو بېدارې او ترقي وينو. بيا هم مونږ داسې غافلې يو حې هډو دا هيڅ مونږ ته معلوم هم نۀ دي

کوونکي خوب شپه خو زمونږ ډېره اوږده شوه، خدائے دې نۀ کړي.زمونږ دا غفلت چرې د آينده نسلونو دپاره د بربادۍ باعث ونۀ گرځي، هغه څۀ چې وشو هغه خو وشو، مگر اوس خو پورته شئ! او د آينده نسلونو د بهترۍ اسباب ولټوئ.

"خادمه صاحبه" دې قوم ته سوال کوي چې د غېرو خدمتونه نور مۀ کوئ، د غلامۍ زنځيرونه وشلوئ چې د ستا قام هم د نورو ژوندو قامونو سره سيال شي. پښتنو ته وائي چې دا تر اوسه پورې کومې د تربوروليۍ جگړې او تربگنۍ چې دې وکړې، دا ډېرې وې، بس دے اوس نورو خپلو ورونو او عزيزانو سره دا جگړې پرېږده. ځکه چې دې کښې ستاسو سراسر تاوان دے. د غفلت د لويه خوبه راويښ شه اے پښتونه! او ځان د ژوندي قامونو په ځنگ کښې ودروه.

س ب ب هم خپله د ازادۍ جذبه په ښه طريقه ښکاره کوي او وايي چې پښتنې مېرمنې اوس هر قسم قربانۍ ورکولو ته تيارې دي او وايي چې زمونږ په وينو دې دا وطن اباد شي. دا هم وايي چې لږ د ترقۍ يافته قامونو خو تپوس وکړئ چې هغوي کومه لاره خپله کړې ده چې ځان يې د دنيا د ژوندو قامونو په صف کښې ودرولو. دوي ته خواست کول پکار دي چې هغه لار د پښتنو ته هم وښايي چې د غفلت له اوږدۀ خوبه راويښ شي او ځان د نورو قامونو سره په سيالۍ برابر کړي. د يو قام ترقي هله ممکن کېدے شي، چې د هغۀ قام نر او ښځې دواړه د غفلت د خوب نه رابېدارې شي.

ځينې پښتنو ليکوالو هم د "پښتون" په ذريعه د س ب ب نه



ډېره زياته مننه وکړله، چې د هغې د کړاوونو او کوششونو په سبب دوي اوس د غفلت د اوږدۀ خوب نه راويښې شوې دي. دوي د س ب ب تسلي کوي چې دوي به ضرور کوشش کوي چې د جهالت د تورو تيارو نه راووځي، هر هغه کار به په ډېرې خوشحالۍ سره کوي. چې د دوي قام د دنيا د نورو ترقي يافته قامونو سره سيال شي. دوي س ب ب سره دا لوظ هم کوي چې دوي به د خپلو بچو تربيت په ښه شان کوي او د وطن د ازادولو ډلې سره به پوره پوره مرسته کوي، چې دا خپل ښکلے وطن زر ترزره د غلامۍ د پنجې نه راازاد کړي.

لکه چې داسې خطونو او ستائنې د س ب ب قامي جذبه نوره هم زياته کړه، ځکه چې نور شعرونه يې هم "پښتون" کښې د شايع کېدو دپاره راواستول.

س ب ب پښتنو ته وائي چې د ازادۍ جرس خو وټنگېدو اوس دوي ته د مير کاروان په اشاره روانېدل پکار دي، ځکه چې څوک د غفلت په خوب اوده دي، هغوي به ډېر زر په سېلاب کښې لاهو شي، صرف ويښ او ژوندي قامونه د سېلاب په وړاندې د ځان د بچ کولو ښه سامان کولے شي. دا هم زياتوي چې د نورو قامونو ښځې اوس بېدارې شوې دي، صرف د پښتنو ښځې لا د غفلت په خوب اودې دي. نو دا وخت دے چې اوس دوي هم د خوب نه رابېدارې شي او د منزل په لور گامونه اخستل شروع کړي.

ښاغلي ليکواله پښتنو ته سوال او زارۍ کوي چې د ځان نه د بې همتۍ دا شړۍ وغورزوي ځکه چې په خواؤ شاؤ کښې

درسره نور قامونه راوېښ شوي دي او تاسو لا هغه شان اوده
پراته يئ. د قامونو ازادي په خوبونو نه شي ګټلے. د دې دپاره به
د عمل مېدان ته راووځې. په ځان به د راحت ژوند او د ارام
خوبونه حراموې نو هيله به په خپل مقصد ترلاسه کولے شې. که د
غارې نه په ربښتيا د غلامۍ دا طوق لرې کول غواړئ نو دا زاړه
رسمونه او رواجونه پرېږدئ او د نوې زمانې سره به زغل کوئ، نو
هيله به د ژوندو قامونو په شمېر کښې راځئ. ورسره ورسره ورته
دا نصيحت هم کوي چې په قامي جدوجهد کښې يو ځائے شئ او
په خپلو کښې دښمنۍ او تربګنۍ پرېږدئ، ورته وايي چې د ځان
نه د چندنو لرګے جوړ کړئ چې څومره سولېږي خوشبوئي يې
سېوا کېږي، بغېر د څه وېرې نه په جار وائي:

که ننګيالي زلمي په شا شو
فخر افغانه جېنکۍ به دې ګټينه

خو د دې سره سره په دې باندې د خفګان اظهار کوي چې
ولې دوي ته د بهر وتو اجازت نشته، چې لکه د ترکو غونډې د
خپل وطن خدمت په ښه شان وکړي. د ترکو ستائينه کوي چې ټول
زامن يې بېدار دي، خو ورسره دا هم وائي چې ولې به بېدار نه
وي ميانډې چې يې تعليم يافته او بېدارې دي. د دې نه هم
خبرداره ده چې دترکو خلاف دا پروپاګنډا روانه ده چې دوي د
اسلام پابنده نه دي. د دې په مقابل کښې پښتنو هر څه خپل
مذهب ته وربخښلي دي. وائي چې د ترکو دا صفت بس دے چې
دوي په خپل قام او وطن مئين دي او خپل ځانونه او مالونه يې د
خپل قام دپاره قربان کړل.



د "پښتون" د ادارې د طرف نه هم هر قسم کوششونه کېدل
چې په ښځو کښې سياسي شعور او د تعليم سره مينه پېدا شي.
"پښتنې زنانه او د قوم خدمت" کښې يوه ليکونکې په دې د لوئے
خفګان اظهار وکړو چې: "د نورو قومونو زنانه اسمان ته والوتې
او زمونږ زنانه لا خبرې هم نه دي. چې دنيا څو ډانګه ده. دا خو
يو منلې شوې خبره ده چې تر څو د يو ملک زنانه راويښې شوې
نه وي او د نارينو سره سمې اوږه په اوږه د عمل مېدان ته راوتې
نه وي، نو د هغې ملک سياسي حالت هيڅرې ښه کېدے نه شي".
ليکوال وائي چې په دې خبره کښې هيڅ شک نشته چې زمونږ
جاهلانه ذهنيت د دې غټ سبب دے چې مونږ خپلو زنانو ته
سپک ګورو او دوي هډو د بني ادمو په شمېر کښې نه راولو.
وائي چې: "مونږ دا ګڼلې ده چې زنانه بني آدم نه دي. بلکې دا يو
قسم حيوانات دي چې د دوي د ساتلو ځائے صرف د کور پنجره
ده دنيا او د دنيا ټولو څيزونو صرف د نارينو حق دے. د قدرت د
لويو لويو منظرونو لکه د دنيا د سربفلک غرونو. ناپيدا کنار
دريابونو، د سر سبزو شينکو چمنونو او د لوړو اوچتو ونو او
ځنګلونو د ليدو حق صرف د نارينو دے". وړاندې ليکي چې:
"زنانو ته د دې څيزونو کتل عصمت فروشي ده. ګناه عظيمه
ده. بې حيايي او بې ستري ده. نارينه جلسې کولے شي، تقريرونه
کولے شي. جلوسونه ويستے شي، مضمونونه ليکلے شي. نظمونه
ونيلے شي، دا نه بلکې جواري کولے شي. چرسونه بنګونه څکلے
شي، مرزې او چرګان جنګولے شي، د برې امام مبلې ته تللے شي.
مګر زنانه دي چې د کور نه بهر قدم کېښودے نه شي. په اوچت

اواز خبرې کولے نهٔ شي، مضمون شائع کولے نهٔ شي.

دا تپوس کوي چې "اوس کتل پکار دي چې آیا دا د مذهب حکم دے؟ دا انصاف دے؟ دا انسانیت دے؟ نو کهٔ په دې درېو کښې یوه خبره هم نهٔ وي، دا ګمراهي به اخر تر څو پورې وي؟" د مضمون په پائے کښې لکه چې د زړهٔ په وینو دا څو ټکي هم لیکي چې: "دا یو دردناک داستان دے چې په دې څو پاڼو کښې ختمېدے نهٔ شي. مګر د دې نه هېڅوک انکار نهٔ شي کولے چې زمونږ د قومي ذلت په سببونو کښې یو غټ سبب دا هم دې. کاش! چې روشن ضمیرو ازاد خیالو پښتنو په دې طرف توجه وکړے او د دې مهلک رسم د اصطلاح په طرف یې څهٔ عملي قدم اوچت کړے."

"د دنیا بدلېدونکي حالات او پښتنې" د کتاب پینځم سرخط دے. دا تقریباً د دویمې جهاني جګړې وخت او ورپسې فوراً د هندوستان د مستقبل په باره کښې ځینې معاملاتو سره تعلق لري. یو خوا کهٔ پښتنو مېړمنو سره دا فکر ؤ چې تر کومې پورې به د جهالت په تورو تیارو کښې پرتې یو. لکه چې وړاندې هم وئیلي شوي دي، دوي چې به ګېرچاپېر وکتل نو ځان ته به یې ارمان راغلو. بهر وطنونو کښې ښځې د سړو سره څنګ په څنګ په هر مېدان کښې یو شان کار کولو. دلته زړې پښتو دا خلق داسې ټینګ کړي وو چې د ښځې په دې لور ګامونه پورته کول ورنه د مرګ نه کمه خبره نهٔ ښکارېده. د خوند خبره خو دا وه چې ځان له یې هر قسم اصلاحات غوښتل او د ښځو حالت بدلولو ته په هېڅ حال تیار نهٔ وو. ځکه خو د ښځو خوارانو له طرفه په بیا



بیا دې لورې ته پاملرنه وشوه چې د هر څهٔ نو خو مونږ محرومه ساتلې یو، میراث کښې هم برخه نهٔ راکوئ، د ښارو په شان مو خرڅوئ، دکور ټول د ټبرداري کارونه زمونږ په سر دي، هره روا ناروا راباندې کوئ، ولې چرته چې زمونږ د ښېګړې څهٔ خبره وي، نو هغه مو په شا کړې ده. سترګې مو پټې کړې دي او ځان مو د هر څهٔ ناجانه کړے دے، خو په دې حال به اخر تر کومې پورې ځان له هم دوکه ورکوئ او مونږ به هم د هر څهٔ نه محرومه ساتئ. د س ب ب غوندې درنو لیکوالو دې څیز ته ډېر خیال ؤ چې څه شکر دے څوک خو داسې راپېدا شو، چې د ښځو ملاتړ کوي. پکار خو دا دي چې د دې بنده مونږ ډېرې زیاتې شکرګزارې شو او هر قسم مرسته یې وکړو. ځکه چې په پښتنو کښې خو داسې خوږ زړې خو څوک نهٔ وو پېدا شوے چې د ښځو به غم دې داسې غم خور وي. دا دعا کوي چې الله تعالي دې داسې نور هم څوک درانهٔ پښتانهٔ یو څو پېدا کړي چې د دې سړي مرستیال وي، نو بیا هغه ورځ لرې نهٔ ښکاري چې د ټولو پښتنو حالت به بدل وي. پښتنو ته پکار دي چې د دې سړي ملګرتیا دې په ښه طریقه وکړي او د هیڅ قسم دود دستور خیال دې نهٔ ساتي. وائي چې:

"دَ رسم و رواج پابندي خو مدام د قومونو د تنزل اسباب ګرځي، کهٔ چرې اوس څوک د دې ناجایز پخواني دستور دلرې کولو په طرف په اتفاق سره توجه وکړي نو امید دے چې ډېر زر به د قوم حال بدل شي. څومره بدامني چې په ملک کښې پېدا کېږي، نو ټولې هم د دغه رواج دٔ لاس نه دي. کاش! کهٔ چرې ازاد خیال ورونو یوه لحظه په دې مسئله غور وکړے او د دې ملک

رنځ د لرې کولو دپاره يې څۀ نسخه تياره کړے، تر څو پورې چې زمونږ سره د سړو اواز يو نۀ شي نومونږ هيڅرې د کاميابۍ اميدنۀ شو کولے. ولې چې غلاماني يو."

لکه چې ووئيلې شو په دې ورځو کښې دوېمه جهاني جګړه په زور و شور سره لګيا وه، د ډېرو قامونو قسمتونه بدلېدل، څوک د غلامۍ نه خلاصېدل او څوک په غلامۍ کښې ورننوتل. په هندوستان کښې هم قام پرست د پېرنګي سره په ډغره ورغلي وو، په پښتونخوا کښې هم لکه د نور وطن د ازادۍ جدوجهد هم هغه شان لګيا ؤ. په دې ورځو کښې د ښځو له خوا د ليکل شوي مضمونونو شمېر کم ؤ، د دې غټه وجه د جنګ د شروع اولې څو مياشتې خو الغاؤ تلغاؤ ؤ او بيا د دسمبر ۱۹۴۰ء نه په "پښتون" پابندي ولګېده نو څکه دا ډېر نۀ ښکاري. د س ب ب لوبه "مونږ جينکۍ مېدان ته ځو نه" بې شان زياته خوښۀ کړې شوې وه.

څکه چې په دې لوبه کښې ښاغلي ليکوالې دا څرګند وئيلې دي چې د قام خدمت او قامي جدوجهد په نر او ښځه دواړو يو رنګ فرض دے. الله تعالې پښتنو ښځو ته موقعه په لاس ورکړه چې د خپلو ورنو او پلارانو سره څنګ په څنګ د پېرنګي په ضد د وطن د ازادۍ دپاره ودرېږي. وائي چې اوس وخت راغلے دے او عملي جدوجهد راپه غاړه شوے دے. د کالي جامو د مينې په ځائے اوس د ښځو ډول او سينګار د وطن مينه دے. پښتنو ته پکار ده چې په خپلو کښې اتفاق پېدا کړي، د يو بل نه حسد يو بل سره بغض او کينه او تربګني پرېږدي، څکه چې د دې هر څۀ وخت تېر شوے دے. اوس صرف او صرف په وطن ننګ کول دي.



د غېر غماز په لمسه باندې غوړونه نۀ دي اينبودل پکار. وائي:

سر د وطن په ناموس دار کړه
دغه رښتونې زندګي ده
زړۀ د بېدل خلقو دلداد کړه
دغه رښتونې زندګي ده
راځي چې شاته کړو دژوند خوش غمونه
مونږ جينکۍ مېدان ته ځونه

د دې خونړي جنګ تباهي او بربادي هر خوا ليدلې کېده، د نړۍ د نورو خلقو غوندې پښتانۀ هم د دې د اثر نه بچ نۀ وو. س ب ب د دې خونړي جنګ تباه کارياني او بربادۍ په ګوته کولو نه پس ډېره په خوندوره طريقه دخپلو خوېندو نه تپوس وکړو چې د څۀ نه خبرې هم يئ چې دنيا څو ډانګه ده او بهر څۀ کېږي. ټوله نړۍ په يوه غوبل لګيا ده او دلته خلق ترې نه ناخبره پراتۀ دي. کۀ خبرېږي نو صرف د دې نه چې قيمتي ټوکي نور هم ګران شول او دا د انګرېزي ټوکي ګرانېدل زمونږ دپاره يوه لويه صدمه ده. هيله چې خبر شو نو تپوس مو وکړو چې دا ولې دومره ګراني راغله، اخر د دې وجوهات څۀ دي، نو راته ووئيلې شو چې د جنګ دلاسه د کپړې ګراني هم راغلې ده. ګرانه ليکواله په دې ويرېږي چې هسې نه دلته خلق خبر هم نۀ وي او د جنګ دا ټول بوج چرته په بدنصيبه هندوستان ونه غورزولے شي. ليکي چې: "دا رښتيا ده جنګ قومونه پورته کوي او جنګ قومونه پرېباسي، پورته کوي هغه خلق چې چا ورته د کلونو راسې تياري کړې دي او د

اصلاح کور يې لا پخوا جوړ کړے دے. زمونږ په شان محکوم او نا اتفاق قوم خو په دې ناپاياوه سېلاب د سر و مال له سره لاهو کېږي او د بدقسمته هندوستان قرباني تول عمر د بل دپاره وي. ليکوالي ته دا هم ښکاري چې د ډېر زر هندوستان د قام پرستو ډله کانګرس او پېرنګے په ډغره ورتلونکي دي. خپلو درنو خوېندو ته نصيحت کوي چې کۀ چرې داسې وشو نو دا خَل مونږ ته هم پکار ده چې د سړو سره سم د قوم او وطن خدمت ته ملا وتړو او دنن نه ديارلس سوه کاله اګاهو د هغه وخت د مسلمانانو بيبيانو چې په کومه طريقو د خپلو نارينؤ امداد کړے دے، په خپلو قربانو هغه وخت خلقو ته بيا را په ياد کړو. ليکي چې: "د ځاني قربانۍ ضرورت به مونږ ته هله پېښ راځي چې خدانخواسته سړي تول په دغه لاره کښې قربان شي مګر د خيال د يو کولو او د مالي امداد ضرورت خو په هر دم او په هر ساعت پېښېږي. مونږ ته پکار ده چې د قوم او وطن نه هيڅ يو څيز عزيز نۀ کړو، چې د سړو قربانۍ لکه د مخکښې غوندې بيا سيند ته ګوزار نۀ شي". دا نصيحت هم کوي چې:

"د دولت محبت څۀ شے دے؟ او د غلامۍ ژوندون څۀ دے؟ سراسر د ذلت او د لعنت زندګي ده، کۀ لږ په غور سره مونږ تاريخ وګورو نو معلوم به کړو چې د ازادو سړو او د هغو ښځو چې د ملک او د قوم د محبت په لاره کښې قرباني کړې دي نو نومونه يې څومره عزت سره ليکلي شوي دي او د تاريخ پاڼې پرې څۀ رنګ ښې ښکاري، د هغې نه پس څومره خلق لاړ دي مګر نۀ د چا په ياد کښې دي نۀ يې څوک نوم نښان پېژني. بلکې د مرګ سره



سم فنا شوي دي".

په دې ورځو کښې د ماسټر عبدالکريم په يوه مضمون حکومت ته غصه ورغله، د ډېر مودې راسې يې "پښتون" ته اوبۀ خړولې، بهانه ورته په لاس ورغله او په دسمبر ۱۹۴۰ء کښې يې په "پښتون" ګوزار وکړو. تر پينځو کالو پورې "پښتون" پسې خلق لېواله وو. خو حکومت تړينه د پابندۍ اوچتولو هيڅ اراده نۀ ښکاره کوله. اخر د پينځو کالو نه پس د ۱۵ اګست کال ۱۹۴۵ء "پښتون" د خلقو په نظر راغلو. په ورومبۍ ګڼه کښې باچاخان لکه د پخوا پښتنو مېرمنو ته خواست وکړو چې دوي د "پښتون" ته د چاپ دپاره خپل مضمونونه رالېږي، ځکه چې په دې شان دوي د خپل قلم په ذريعه قومي خدمت کښې څۀ برخه اخستے شي. هغۀ ووئيل چې:

"زۀ به خپلو پښتنو خوېندو ته دا هم عرض وکړم چې تاسو لږ د دنيا د قومونو د حالاتو نه خان خبر کړئ چې زنانه د نارينؤ سره اوږه په اوږه د قوم د ترقۍ کوشش کوي او د هيڅ يو قوم ترقي تر هغې نۀ شي کېدے تر څو چې د هغې قوم نر ښځې يو شان د ملک د ابادۍ او ترقۍ دپاره کوشش ونۀ کړي، نو کوم کار چې مونږ شل کاله پس شروع کوو نو ولې نن په هغې عمل شروع نۀ کړو. د نورو قافله اګر چې زمونږ نه ډېره مخکښې لاړه خو کۀ نن مونږ راپاڅوو او ورپسې د تلو کوشش وکړو نو نوز خو به وروستو پاتې نۀ شو او کۀ هم دغسې مونږ اوده يو او زمونږ زنانه غافلې او بې خبره وي نو هيڅ اميد نشته چې مونږ به د دنيا د قومونو سره د سيالۍ قابل شو".

دَ اکتوبر کال ۱۹۴۵ء نه پښتنو مېرمنو خپل مضامین او نظمونه په ګڼ شمېر کښې په "پښتون" کښې د چاپ دپاره رالېږل شروع کړل. هغه (باچاخان) د "یوه خور" په "نظم" باندې د نظم نه وړاندې خپل خیالات ورکړي دي او په مهذب معاشره کښې د ښځې او سړي په اهمیت باندې يې د خپلو خیالاتو اظهار کړے دے. په بیا بیا دا وایي چې ښځه او سړے د یو تولي یورنګ خلق دي. دواړه د ژوند د ګاډي پایې دي او یوه بل ته يې ضرورت دے. دواړوته په یو شان علم حاصلول پکار دے. زنانه د یو قوم نیم تن وجود دے او چرې هم په نیم وجود څوک پائېدلي نهٔ دي.

باچاخان دا هم وویېل چې: "زما د ژوند مقصد دا دے چې زنانهٔ ته دې خپل حقونه پوره پوره ورکړے شي. لېکن د دې خور په خدمت کښې دا عرض دے چې د دې دنیا نه خپله برخه په خپله مړانه اخستے شي. مسلمانانو زنانهٔ هله خپل مکمل حقوق د عرب غوندې سنګدل قوم نه واخستل چې د بدر او د اُحد په جنګونو کښې څنګ په څنګ د خپلو وروڼو او زامنو سره ودرېدې او د ملک وطن او مذهب لکه څهٔ رنګ چې د پښتنو تنګیالو نه د خپلې څوانۍ صدقه غواړي، دغسې د خپلو خوېندو او لوڼو نه هم دا توقع لري. چې په دهٔ به غېرت وکړي. د عمل وخت په سر راغلے دے، هر څوک لګیا دي د درمند نه د خپلو اعمالو د نتیجې پنډونه تړي. مونږ لګیا یو د ټول قام خدمت کوو خو خدائے تعالي هم د هغه چا امداد نهٔ کوي، څوک چې په خپله د خپل ځان امداد ونهٔ کړي."



دلته مناسب به داوي چې د نظم څهٔ برخه ورنهٔ کړم، څکه چې دا دومره په موثر انداز کښې لیکلے شوے دے، چې ښهٔ به دا وي چې لوستونکي يې په خپل ځائے پوره ولولي. د نظم د لیکوالې ټول مقصد هم دا دې چې په ښهٔ شان هغه ټولې ګیلې راښکاره کړي چې د پښتنو زنانهٔ په زړونو کښې د سوونو کالو راسې پرتې وې. په بیا بیا دا تپوس کوي چې په دې خپل اولاد کښې دا فرق څنګه کولے شي، چې د لور په کور پېدا شي نو په تا د غم تورې وربځې را خورې شي او د زوي په پېدا کېدو په جامو کښې دخوشحالۍ نه ځائېږي نهٔ. دا خو دواړه ستا اولاد دے نو بیا پکښې څنګه دا فرق کوې، تر کومه پورې به زنانه د خپلو پښو پایزار ګڼې، په دې باندې هم ګرانه لیکواله ځان لکه چې پوهول غواړي چې:

تهٔ بنیاد د ازادۍ ږدې په مونږ نورې پابندۍ ږدې
په دې چارې کښې خطا يې وایه وایه دا په څهٔ؟

قام مارغهٔ وشمېره وروره دوه وزره ورلره بویه
یو يې مات په یو يې بیایې وایه وایه دا په څهٔ؟

د رڅړو (چارسده) یوې خور د "زما یوه آرزو" د سرخط لاندې خپل مضمون د چاپ دپاره "پښتون" ته راولېږلو، دا مضمون د یکم نومبر کال ۱۹۴۵ء "پښتون" کښې هم د دغه سرخط لاندې چاپ شو. دا خور د خپلو درنو مشرانو نه ډېره زیاته ګیله منده ښکاري او وائي چې:

"زمونږ غريبانانې پښتنې خويندې خو په ژوندونې د مړو په حساب دي، کۀ چرې د دېوال نه هغه خوا دنيا ورانه هم شي، مونږ ترې نه نۀ خبرېږو. دا د پښتنو په خپلو لونړو خويندو ډېر لوئے ظلم دے چې اول خو دوي هغوي ته تعليم نۀ ورکوي او کۀ چرې يوه نيمه پکښې د تور تکي نه خبره شي نو هغه هم بيا د هغې نه څۀ فايده نۀ شي اخستے. ځکه چې نۀ هغه تعليميافته جينکۍ په کورونو کښې اخبار لوستے شي. نۀ اخبار ته مضمون ورکولے شي او نۀ څۀ ملازمت کولے شي. ولې چې پښتانۀ په دې ټولو خبرو بد ګڼي او دغه وجه ده چې پښتنې خويندې د قوم هيڅ خدمت نۀ شي کولے". دا خور په جار وائي چې:

"مونږ تاسو نه کالي، بنارسۍ او د سوچې تيلې پنړې نۀ غواړو، خو د تعليم حاصلولو اجازت غواړو. زۀ د پښتون قوم په خدمت کښې دا عرض په ډېر ادب سره کوم چې کۀ تاسو خپل اولاد لائق او قابل غواړئ نو جينکو ته تعليم ورکړئ، دکوم زوي مور چې بې تعليمه او نالائقه وي، نو د هغې اولاد هم نالائق وي".

روشن غني خان "د ژوند ګاډي" کښې وائي چې د ښځې فرض صرف دا نۀ دے چې بس بچي دې پيدا کړي، بلکې دا هم دے چې د هغوي د صحت او د ښو اخلاقو پالنه په ښه طريقه وکړي. دا ليکي چې ښځه او سړے د انسانيت په درجه کښې يو شان دي، مګر په برخه کښې يو برابر نۀ دي. يو د بل مددګار دي او بغېر د يو بل د امداد نه ژوند نۀ شي تېرولے. روشن غني دا هم وائي چې "ښځې له نۀ دي پکار چې په هر څۀ کښې د سړو پېښې کوي، ښځه په خپلو کارونو او فرائضو خوږه او درنه ښکاري،



ولې دا هم ضروري نۀ ده چې ښځه دې خالصه د سړي وينځه وي، ترڅو چې ښځو کښې خودداري او فرض شناسي نۀ وي او د انسانيت په درجه کښې خپل صحيح ځائے ونۀ پېژني، انساني نسل ترقي نۀ شي کولے او خپل منزل ته نۀ شي رسېدے. اوس ښځو له پکار دي چې په دې مطلبي او خودغرضه زمانه کښې خپلو بچو ته د ايثار محبت او قربانۍ تعليم ورکړي چې په ځائے د جنګ او جدل د مينې محبت او وروروليۍ سبق دنيا ته وښائي".

د احمدي بانډې اوسېدونکې الف جان ختکې يو اوږد خط د فرورۍ کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې چاپ شو. په دې خط باندې باچاخان هم خپله رايې ښکاره کړه. باچاخان پرې د خپلې خوشحالۍ اظهار وکړو او وې وئيل چې پښتنو پېغلو ته اوس د خپلې محرومۍ او د "ذليل ژوند" احساس وشو، هغه دتعليم يافته پېغلو نه دا طمعه ښکاره کړې ده، چې دوي د خپلو بې تعليمه خويندو ته علم او پوهه ورکولو دپاره راوړاندې شي، ځکه چې پښتانۀ مشران د دوي په حالت غور کولو ته تيار نۀ دي. کۀ پښتنې پېغلې په کاميابۍ سره منزل ته رسېدل غواړي نو ورته په دې طرف خپل ګامونه اخستل پکار دي.

الف جان ختکه په خپل خط کښې اول خو د باچاخان او د هغۀ دملګرو ډېره زياته مننه کوي، چې دوي په خپل ځان د آرام ژوند حرام کړې دے او د پښتون قام د ښېګړې دپاره ورځ او شپه کړاوونه کوي. هغه د خوشحالۍ نه په جامو کښې نۀ ځائېږي چې ګله خبر شي چې دا ځل به زنانه هم لکه د نارينۀ د ووټ حق استعمالولے شي او د حکومت به جوړولو کښې به څۀ نا څۀ برخه

اخستے شي، خو ورسره دا هم وائي، چې: "دا حق خو تاسو مونږ له راکړو، مګر د دې حق په استعمال باندې تر اوسه پورې زمونږ زلمي هم نۀ دي پوهه، نو مونږ د کوهي چيندخې به څۀ پوهه شو. د دې دپاره د ډېر عقل او فکر ضرورت دے او عقل په علم سره پيدا کېږي او زمونږ خو د علم دا حال دې چې په دې کلي کښې په مشکل سره څلور پينځۀ جينکۍ "پښتون" لوستلے شي". باچاخان ته وائي: "خوږه فخر افغانه! مونږ آورو چې نن ورځې د هندوستان جينکۍ په دې تحريک کښې د زلمو سره سمه حصه اخلي او ستاسو به هم زمونږ نه دا طمعه وي، مګر دا طمعه مو بې ځايه ده، ځکه چې د هندوستان جينکۍ په تعليم کښې مونږ نه ډېرې وړاندې دي او پښتون زمونږ د تعليم لا هيڅ انتظا نۀ دے کړے. اول خو په کليو کښې سکولونه نشته او کۀ چرته خال خال وي هم نو زمونږ مشران د جينکو تعليم غېر ضروري بلکې نقصان بولي. دا وجه ده چې سرکار هم زمونږ د تعليم څۀ تسلي بخش انتظام نۀ کوي".

دَ دې نه پس لکه چې د احمدي باندې دې درنې مېرمنې د پښتنو پېغلو د نمائندګۍ کولو صحيح اراده وکړه او دا حق يې ډېر په ښه طريقه اداکړو. ډېر وخت يې د نظم نه کار اخستے دے او خپل اواز په صحيح طريقه پښتنو پېغلو ته د رسولو کوشش کړے دے. دا پښتنو مېرمنو ته خپل يوه نظم "پښتنې جلۍ ته خطاب" کښې وائي چې باچاخان درته د غلامۍ نه د کرکې کولو سبق وښودلو او تۀ لا اوس هم اوده يې. د غفلت په اوږد خوب د پاڅېدو فکر نۀ کوې. يکار خو دا ده چې اوس دا د غاړې



زنځيرونه مونږ وشلوو او بيا ځان ته په دنيا کښې د عزت مقام پيدا کړو، کۀ داسې ونۀ کړې نو ترقيامته پورې به د جهل په تورتم تيارو کښې پرته يې. يوه بل ځائے دا درنه پښتنه "د خور ارمان او ګتهٔ" کښې خپلو پښتنو ته دا خواست کوي، چې پاڅئ د عمل وخت راغلے دے، د قوم د ازادۍ دپاره عملي جدوجهد وکړئ او د پلار نيکۀ هغه زوړ عزت چې د ډېرو مودو راسې پېرنګي د خپلو پښو لاندې پايمال کړے دے. دوباره وګټئ. وائي چې تر څو مو پېرنګے د دې وطن نه نۀ وي ويستلے تر هغې ازادي ګټل ناممکنه ده. ليکي چې:

قامونه وينې تويوي د خپل ليډر په خولو
وکړه پښتو. ماتې پښتۍ د باچاخان وګټه

تۀ يې پښتون او پښتانۀ په پښتو ښه ښکارېږې
تينګه پښتو کړه د زړو پښتنو شان وګټه

او يو بل ځائے کښې داسې وائي:

ازادي په سوال منت مونږ ملے نۀ شي
چې ښکاره نۀ کړې د خپلو متو زور

"د قومي ترقۍ" په نوم يې هم څو شعرونه چاپ کړل. الف جان خټکه پښتنو ته وائي چې په دې دور کښې نور قومونه لګيا دي، پرمختګ کوي خو پښتانۀ لا هغه شان اودۀ پراتۀ دي. پښتنو ته خبردارے ورکوي چې کۀ چرې په نړۍ کښې ځان ته د عزت مقام اخستل غواړئ نو راوړاندې شئ، د عملي جدوجهد تا بيا زر

وکړئ څکه چې:

پرېوتي قام له ترقي بويه د برق په رفتار
د هر سحر په مقابل کښې خپل ماښام پورته کړه

بيا په دنيا کښې د قامونو انجمن جوړېږي
دې انجمن کښې د ګمنام پښتانۀ نام پورته کړه

ذ يو څو کسو ترقي تۀ ترقي مۀ ګڼۀ
کۀ ترقي غواړې د قامنو خاص و عام پورته کړه

بې له نظام ترقي د قام ممکنه نۀ ده
قام منظم کړه او معيار د خپل نظام پورته کړه

دَ کتاب اخري سر خط "د هندوستان ويش د پښتنو مېرمنو په نظر کښې" دے. دې ورځو کښې لکه چې ووئيلې شو دنيا کښې ډېرې لويې تبديلۍ روانې وې. د دې تبدليو اثرات په هندوستان پرېوتل هم لازمي خبره و. د انګلستان وزيراعظم کليمنټ ايټلي اعلان وکړو چې پېرنګے د هندوستان د کشالې په ښه رنګ حل غواړي. دې په دې موقع دا هم اعلان وکړو چې دوه درې وزيران به ډېر زر هندوستان ته استولے کېږي او هغوي به د هندوستان لويو سياسي ډلو سره خبرې اترې کوي او د دې په رڼا کښې به د هندوستان د کشالې يو ډېر ښۀ عملي حل راويستلے کېږي.

يو خوا د نړيوال بدلون خبرې روانې وې او بل خوا په پښتنو



کښې د هغه زړو رواجونو چې دوي يې د نورو قامونو نه وروستو ساتلي وو د لرې کولو کوششونه روان وو. په دې لړ کښې د ځينې پښتنو مشرانو له خوا عملي ګامونه پورته کړے شو. د قيمت شاه له خوا دا اعلان په "پښتون" کښې شائع شو چې چا د اوسني رايجې پردې خلاف چې د پښتنو په ضد ده، ښۀ مضمون وليکلو نو هغوي ته به پينځۀ ويشت روپۍ انعام ورکړے کېږي. ليکي چې:

"دې کښې هيڅ شک نشته چې د قام ټوله ترقي د ازادۍ سره وابسته ده، خو دا هم ضروري ده چې قام دې خپل هر قدم چې د سياسي ترقۍ دپاره وړاندې ږدي، نو ورسره دې خپل رسم و رواج د اوسېدو طريقه هم بدلوي. د اسلام نه اول جينکۍ د پېدا کېدو سره ژوندۍ په قبر کښې ښخولې شوې، خو بيا داسې وخت هم راغے چې په هر جنګ کښې به زنانۀ يوه اهمه حصه اخستله. د دنيا دې عظيم جنګ کښې د هر ملک زنانۀ خپل قام او ملک دپاره داسې قربانۍ کړې دي چې هغه به د دنيا په تاريخ کښې يادېږي. قومي تنزل سره په قوم کښې داسې رسم و رواجونه پېدا شي چې دهغوينه د عمل جذبه فنا شي او هغوي خپل ټول زور په بې هوده رسم و رواج او بې حاجته پابندو باندې صرف کړي".

"موجوده پرده نۀ اسلامي ده او نۀ د پښتنو ده او ثبوت يې دا دے چې د اسلام د ابتداء نه تر اوسه هيچرته د دې قسم پرده نۀ وه شوې او په پښتنو کښې نن هم نشته. د دې پردې ختمول نن يوه ډېره ضروري خبره ده او د قام زنانۀ ته د عمل په مېدان کښې د سړو سره برابره حصه اخستل پکار دي. زۀ منم چې زمونږ به ډېر

مخالفت وشي خو دا عرض کوم چې د هر يو مصلح خلاف همېشه د دې قسم خبرې شوې دي. نن د ترکو په ملک، عراق، ايران، افغانستان، شام، فلسطين، يمن، حجاز، ملايا، چين او روس کښې مسلمانان په دې خبره پوهه شوي دي او هغوي په هر کار کښې خپلو زنانو ته حصه ورکړېده. نتيجه يې دا ده چې د هغوي زلمي په مېدان کښې تګ ته تيار دي او نور کارونه يې زنانه کوي". د دې انعام حقداره الف جان ختکه وګڼلې شوه. دهغې دا انعامي نظم د جولائي کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې چاپ شو. د نظم نه وړاندې پرې باچاخان خپله رايې داسې ښکاره کړې ده:

"د پردې متعلق زۀ دومره قدر وئيل مناسب ګڼم چې کومه پرده دمسلمان دپاره شريعت اسلام قرر کړې ده، هغه تمامو مسلمانانو دپاره ډېره ضروري ده او تمام مسلمانان دې د هغې پابند اوسي. مګر کومه پرده چې زمونږ په ملک کښې نن رائجه ده، دا اسلامي پرده هر ګز نۀ ده. داسې پرده دقوم د ترقۍ په لارکې يو لوئے بنديز دے او په زنانو باندې يو لوئے ظلم دے، د دې نتيجه دا ده چې عامې پښتنې زنانه جاهله، بې هنره او بې علمه پاتې شوے".

خو باچاخان ورسره د دې خبرې وضاحت وکړو چې "خدائے دې نۀ کړي، زۀ هغه بې پردګۍ نه خوښوم کوم چې په يورپ کښې نن ورځ رائجه ده، دغه بې ستري زما په خيال پوره بې حيايي ده، مګر هغه ناجائزه پرده چې د قام د تباهۍ باعث کېږي، هغه ختمول ضروري ګڼم".

الف جان خپل خوندور انداز کښې د خپلو مشرانو نه دا



تپوس کوي:

ځان دې ازاد زۀ د حصار کړم په کور کښې ولې؟
هاړ پشکال کښې سوزوې مې په سور اور کښې ولې

مړه خو لا نۀ يم تا ژوندوۍ ښخه کړم ګور کښې ولې؟
ګور خو لا ښۀ وي، ودروې مې په تنور کښې ولې؟

او دا هم وائي چې:

ښځې هم زړونه لري زړوکې خواهشات لري
سر کښې ماغزۀ لري، ماغزو کښې احساسات لري

کانې خو نۀ دي هم دا ستا په شان جذبات لري
ښه خيالات لري بلکې له تانه زيات لري

دا بې ګناه مرغۍ د بند کړې په پنجرې کښې ولې؟
وايه کړې ښځې دې ژوندۍ په اديرو کښې ولې؟

يو دې تعليم نه کړې محرومې د ړندو په مثال
بل دې بندې کړې په کورونو کښې د غلو په مثال

دَ الف جان په ډاډګېرنه نورې پښتنې هم دې مېدان ته راووتې او خپل مضمونونه چې اوس پکښې سياسي رنګ هم راغلے ؤ، "پښتون" ته د چاپ کېدو دپاره رالېږل شروع کړو. "د يوې محمدزۍ خور نظم او خط" د اګست کال ۱۹۴۲ء په ګڼه کښې چاپ شو. دې خور د غلامۍ نه د کرکې اظهار کړے دے او

پښتنو زلمو ته یې خواست کړے دے چې د باچاخان ملاتړ شي او ازادي راترلاسه کړئ. په دې باندې باچاخان ډېر د خوشحالۍ اظهار کړے دے او لیکي چې راته ښکاري جوړ د الف جان خټکې جرات دا دے اثر وکړو. دا دے نورو پښتنو خوېندو هم د خپل ملک سره ودرېدې د ترقۍ سره مینه را پېدا شوې ده او قامي خدمت ته یې ملا تړلې ده. باچاخان ووئیل چې "هر هغه قوم ترقي کړې ده او کولے شي. چې د هغۀ د سړو په شان سم په زنانۀ کښې بېداري او د ملک د خدمت جذبه پېدا شي". باچاخان د هغه خلقو غندنه کوي، څوک چې هېڅ هېڅ بې هېڅه په دوي اعتراضونه کوي او قوم ته په "پښتون" کښې چاپ شوي، مضمونونه په غلط انداز کښې وړاندې کوي. باچاخان لیکي چې:

"زۀ افسوس کوم چې زما بعضې ورونه د پښتنو خوېندو څۀ مضمون یا خیالات چې په "پښتون" کښې ویني نو دیده دانسته هغه قوم ته په یو ډېر غلط رنګ کښې مخکښې کوي او د قوم په زړونو کښې غلط فهمي پیدا کوي. د یورپ د ښځو او د هغوي د ازادۍ مثال ورکوي. حالانکې یورپ یورپ دے او ایشیاء ایشیاء ده. د یورپ تهذیب و تمدن رسم ورواج جلا دے او د ایشیاء ځان له خپل بېل تهذیب و تمدن. رسم و رواج دے. مونږ دا غواړو چې زمونږ زنانه دې په خپل تهذیب او تمدن کښې چې ورله اسلام مقرر کړے دے، ترقي وکړي.

دغې ورونو ته دومره هم نۀ ده معلومه چې سړے او ښځه د دنیا د ابادۍ دوه قدرتي ملګري او د ژوند د ګاډي دوه پایې دي. یوازې د سړو په بېدارۍ قوم ترقي کولے نۀ شي. ترڅو چې هغوي



سره زنانه اوږه په اوږه لاړې نۀ شي".

الف جان دسمبر کال ۱۹۴۷ء په ګڼه کښې د "امن د عالم" د سر خط لاندې دا ووئیل چې عجیبۀ خبره خو دا ده چې دا لوئے استعماري ملکونه وائي چې مونږ د دنیا امن غواړو، خو دا امن دوي د اېټم بم په ذریعه جوړول غواړي. وایي چې لا د تېر جهاني جنګ کښې تباه شوي قامونه لا ځائے ته نۀ دي رارسېدلي او بیا د جنګ سامان جوړېږي، خو ورسره دا هم ورته ښکاري چې:

دا ځل ډغره به د روس او امریکې وي سره
بحر ظلمات کښې پرې پوهېږم چې تورتم جوړوي

زمونږ نایک به دا ځل ناست اوسي د خېبر په غونډۍ
دا د ده کار دے چې د بل په کور ماتم جوړوي

او

د پېرنګیانو معماران ستړي ستومانه دي ډېر
ځان له ارم جوړوي مونږ له جهنم جوړوي

د الف جان خوېندې جونګړو کښې څوک نه پرېږدي
مارګرېټ روز د پاره قصر بکنګهم جوړوي

الف جان د ستمبر په ګڼه کښې د مسلم لیګ ډېر غندنه کوي او هغوي په کلکته کښې د خونړي هندو مسلم فساداتو ذمه دار بولي، هغې سره دا فکر دے چې اوس به په نور وطن کښې هم د مذهب په نوم خونړي فسادونه شروع شي او د دې مخ نیوے به ډېر ګران وي.

په پښتنو مېرمنو کښې اوس سیاسي شعور دومره رابېدار شوے ؤ چې هغوي اوس د هندوستان په سیاست هم خپله رایې ښکاره کولې شوه. دوي اوس هغه زړې پښتنې نهٔ وې چې د کور په چاردېوالۍ یعني په څلورو دېوالونو کښې به یې ژوند کولو، چرته چې به دوي ته لیکل او لوستل هم منع وو. د باچاخان او دهغه ملګرو کړاوونه په ځائے شو. پښتنو پېغلو هم د نارینؤ سره څنګ په څنګ خپل حقونه غوښتل شروع کړل. دوي د پښتونخوا سره سره د ګېر چاپېر وطن نه اوس هم خبرې ښکارېدې او په هندوستان کښې چې کوم اړے ګړے روان ؤ، په هغې یې ژور نظر ؤ.

دَ اکتوبر کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې الف جان ختکې د "پېرنګي بیا وغلول" د سر خط لاندې شعرونو کښې د وزارتي مشن په کارکردګي خپل اعتراض ښکاره کړو، هغهٔ ته ښکارېدل چې د وزارتي مشن غړو د هندوستان د سیاسي ګوندونو مشران وغلول او کومې طمعې چې ترې نه دوي ساتلې وے، هغې کښې هېڅ ورته په لاس ورنغلل. د راتلونکي وخت په باره کښې خیالي خوبونه او تش لوظونه ورته ورکړے شو، ځکه خو په دې وئیلو مجبوره شو چې:

نادان هندوستانیان پېرنګي بیا وغلول
ما تو قه وه ګڼلې دهٔ رښتیا وغلول

درې کسه مداریان له ولایت نه وو راغلي
هندو، سکھ، مسلمان یې د انډیا وغلول



خلاف یې د مذهب په نوم پېدا کړو هندوستان کښې
نن دېر و حرم دواړه کلیسا وغلول

دا دوه به سره خپل وے کهٔ درېم په مېنځ کښې نهٔ وے
په پټو مشورو کښې یې بیا بیا وغلول

یورپ او امریکې سترګو ته واچولې خاورې
کم عقل ساده خپل یې د ایشیاء وغلول

راعي او رعایا کښې یې نفرت سره پېدا کړو
راجګان یې د کشمیر او پټودیا وغلول

د کور دننه ځائے یې یو فریق ته هم ورنهٔ کړو
کانګرس او مسلم لیګ یې په بېدیا وغلول

سکړک د هندوستان یې ورته درې څلور ټکړې کړو
بې صبره ماشومان پرې د زړې نیا وغلول

کیکونه توس پیسترې یې ولایت دپاره کېښود
غریب د هندوستان یې په دلیا وغلول

لکه چې ووئیلے شو، د هندوستان په باره کښې نوې نوې فیصلې کېدې. پښتانهٔ هم د دې وطن خلق وو، د دوي د مستقبل په باره کښې فیصله وشوه او دوي پاکستان سره شامل کړے شو.

دلته به دا وئیل بې ځایه نهٔ وي، چې د باچاخان او د هغهٔ ملګرو د نورو خدائي خدمتګارانو کړاوونو نتیجه په پښتنې

ټولني کښې د مېرمنو دپاره د عزت ځائے په ورکولو کښې وخته. نن د نړۍ د نورو قامونو په شان پښتنې مېرمنې د ژوند په هر مقام د خپلو نارینؤ سره اوږه په اوږه د قام د ښېګړې او د پرمختګ دپاره ګامونه اخلي.

_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_

لکه چې دستور دے په سریزه کښې د هغو کسانو مننه هم کېږي، چا چې په دې کتاب لیکلو کښې څۀ نا څۀ کومک او مرسته د لیکوال سره کړې وي. د ټولو نه وړاندې به زۀ د خدائے بخښلي په ما باندې ډېر ګران او ډېر درونـد مشر اجمل خټک صېب ډېره زیاته مننه کوم، چې هر وخت به هغه زما ډاډګېرنه کوله، چې زۀ دې په خدائي خدمتګار تحریک او باچاخان لیکل کوم. خدائے پاک دې د خاورو سره وبخښي. نن په مونږ کښې نشته خو د هغۀ خبرې او خواږه یادونه ټول عمر زما دپاره لاربښود دے.

دَ خپل یوه بل درونـد قدر منـد مشر ښاغلي افراسیاب خټک به هم ډېره زیاته مننه کوم چې زما په کار کتو ډېر خوشحالېږي، هر وخت چې ما ترې نه کوم تپوس کړے دے، د خپلو ډېرو زیاتو مصروفیتونو نه یې وخت ویستے دے او زما رهنمائي او لاربښوونه یې په ډېره ښه اندازه کړې ده. د دوي سره سره به دَ ځینې کشرانو ذکر هم کول وغواړم چې ځوک راباندې ډېر ګران دي او هر وخت رانه دا غوښتنه کوي چې زۀ دې په تحریک باندې لیکل کوم. په دوي کښې د باچاخان مرکز د ملاتیر غزن خان، ځلان مومند (چې مو پرې د قلندر صېب مینه ماتېږي) او احسان



الله شامل دي. د دوي سره سره د رحمت شاه سائل صېب ډېره زیاته مننه کوم چې راته به سترګې په لار ؤ چې کله به "پښتون" کښې زما مضمون شایع کېدو دپاره ورځي.

دَ خپلو خوږو ملګرو چې د ورونو غوندې راته خواږه دي، ډاکټر فضل الرحیم مروت، ډاکټر کریم خان او ایمل خان خټک ډېر زیات شکر ګوزار یم چې راسره هر وخت مرستیا او کومک کوي او زما لیکلو ته ډېر زیات خوشحالېږي. د نن نه ډېرش کاله آګاهو په پېښور پوهنتون کښې به اکثر کریم خان، فضل الرحیم او ما دا خبرې کولې چې چرته داسې وخت به هم راشي، چې د باچاخان ازاد سکولونه به جاري شي او د پښتنو بچي به هم پکښې د نورو ماشومانو غوندې سبقونه وئیلے شي. د باچاخان مرکز د انتظامیې لاندې چې نن کومو ځېرنو ته ګورم او د باچاخان ایجوکېشن فاؤنډېشن لاندې کوم سکولونه چې چالو شوي دي، یقیناً په ښه طریقه د باچاخان د لاربښودنې لاندې د پښتون قام او د پښتنو بچو خدمت کوي، خو د بده مرغه د ډېرو کلونو راسې د پښتونخوا پۀ خاوره چې د مذهب په نوم کومه خونړۍ لوبه شروع ده او د ګرذې پښتونخوا امن یې تباه کړے دے، د هغې د وجې خلق صحیح خبر نۀ دي. دا دعا ورته کوو چې الله تعالي دې راباندې خپل خاص فضل او رحم وکړي چې په دې خاوره بیا د امن فرشته وګرځي او په دې وطن کښې د بیا امن ترانې اورېدے کېږي نو یقیناً چې په ډېره ښه طریقۀ به د باچاخان او د خدائي خدمتګارو پېغام او د دوي د قربانو داستانونه خلقو ته په صحیح توګه وړاندې کړے شي، چې خلق ترې نه استفاده

هم وکړے شي او راتلونکي نسلونه د خپل اصلي تاريخ نه هم خبر شي.

زۀ د خپلو ماماګانو تاجدار شاه او ډاکټر شاه جهان شاه او د خپل کشر ورور عارف علي شاه هم ډېر شکر ګوزاريم چې وخت په وخت يې راسره د کتابونو په ليکلو کښې ډېرې مرستې کړې دي.

_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_x_

د دې کتاب د مسودې پروف ريډنګ په وخت کښې مې دا مضمونه د خپلې ژوند ملګرې نازيه شاه ته اورول، په دې دوران کښې به کله نا کله زما درې واړه لوڼه پشمينه، ځلانده او روشانه هم ناستې وې، هغوي ته د دې د اورولو غټ مقصد دا ؤ چې دوي خبرې شي چې باچاخان او د هغۀ ملګرو د جينکو د تعليم او دوي ته په ټولې کښې د عزت ځائے ورکولو د پاره څومره کړاوونه او خوارۍ کړې دي. زما اتۀ کلن زوے ځلان شاه به کله ناکله سخت خفه شو، چې باچاخان خو هر څۀ د جينکو د پاره ليکلي دي، دا مونږ يې ولې بالکل پرېښي يو. هغه به مې پوهولو چې پښتني معاشره کښې سړے د هر څۀ واکمن ګڼلے کېږي، هلکانو د ښه تعليم او تربيت انتظام خو د اول نه وشي او جينکۍ غريبانې به پخوا چا په هيڅ شمېر کښې نۀ اچولې او هسې هم هلکان او سړي خو د باچاخان سره په تحريک کښې شامل وو او د وطن د ازادۍ په لار کښې يې قربانۍ ورکولې، نو د دې د پاره بيا به ولې باچاخان هغوي بېل ستائيل. هو د باچاخان زوي غني خان چې د پښتنو ډېر لوئے شاعر ؤ، هغه د 'ماشومانو ترانه' هم د ستاسو



غونډې ماشومانو ته ليکلې ده چې وائي:

خوږ دے ماته ملک زما
خوږ تر ګُل جهان

زۀ به څم په جنګ د قام
زۀ چې شمه ځوان

نو په دې اورېدو به ځلان شاه ډېر خوشحال شو، چې زمونږ د پاره هم دا دے څۀ شته، نو په باچاخان او تحريک به يې ځان په ښه طريقه پوهول شروع کړل. لکه چې مې وړاندې ووئيل د دې کتاب او داسې نورو کتابونو ليکلو غټ مقصد هم دا دے چې دا اوسني پښتنانۀ زلمي او پښتنې پېغلې او راروان نسلونه هم په دې ښۀ شان خبر شي چې باچاخان او د هغۀ ملګرو د خدائي خدمتګارۍ په چوکاټ کښې د دوي د پاره څومره خوارۍ او قربانۍ ورکړې دي. هم د هغه په برکت نن په پښتنو کښې د تعليم سره سره سياسي پوهه او شعور هم راغلے دے او دوي د نړۍ د نورو ژوندو قامونو سره سيال دي.

ډاکټر سيد وقار علي شاه (کاکاخېل)
هائيډل برګ يونيورسټي-جرمني
۳۱ جنوري کال ۲۰۱۱ء.

# پښتني ښځې او د قام خدمت

پښتانهٔ د ښځو په حقله ځان ته يو خاص شهرت لري، په پښتني ټولنه کښې د ښځې حيثيت، د هغې خويونه او عادتونه، هغه ځايونه چې کوم دا ليدے شي او د کوم چا سره ليدے شي دا هر څهٔ د مودو مودو راسې په ګوته کړے شوي دي، هېڅوک نهٔ شي کولے چې د دې په ضد وچلېږي او کهٔ چرې چا د دې په ضد څهٔ کړي هم دي، نو نتيجه ئې ډېره خرابه را وځي چې کله نا کله خو د هغې ښځې په مرګ را ووځي چې چا د پښتونولۍ په ضد څهٔ کړي وي.

دا هم د پښتونولۍ يوه برخه ده چې نارينه چرته هم پردو زنانو ته نېغ نهٔ ګوري، نهٔ به ورسره د خبرو کولو عبث کوشش کوي، کله چې دهٔ ته پردۍ زنانه په لار کښې ورشي نو دے به ارومرو سترګې ټيټوي او يوې خوا ته کېږي به چې دا زنانه په آرام سره په لاره تېره شي.

په پښتني ټولنه کښې سړے د هر څهٔ واکمن ګڼلے کېږي او ښځې ته دويمه درجه حاصله ده، ولې د دې سره سره د خوند خبره دا ده ، چې د خاوند د ښځې په حيث خو دا دويمه درجه لري، ولې چې کله مور شي نو بيا د ډېر احترام وړ ګڼلے کېږي او خپل اثر په خپل اولاد اچوي، کله چې دا نيا شي نو بيا خو د نورو معاشرو بلکل خلاف دا ډېره زياته د عزت مېرمنه ګڼلے کېږي او د ابې په



حېث د دې رائې ته ډېر لوړ اهميت ورکړلے کېږي.

د ښځو په باره کښې په پښتنو کښې د مودو راسې داسې خبرې مشهورې دي چې:

د ښځې دپاره يا کور دے او يا ګور

او

د ښځې د هر وېښته د لاندې سل مکرونه دي

کله چې په يوه کور کښې لور پيدا شي د هغې په کور د غم تيارهٔ راشي، د لور پېدا ايښت ښهٔ نهٔ ګڼلے کېږي او نر فرزند ته پښتانهٔ په جامو کښې نهٔ ځاېږي، دا لور په کور کښې هم د زامنو نه لاندې ګڼلے کېږي، چې کله پېغله شي نو د وادهٔ په وخت د خاوند جائداد شي او د خاوند د مرګ نه پس د هغې د وارثانو وراثت شي.

د پښتنو ښځو ژوند او په خاصه توګه د کليوالو ښځو ژوند ډېر سخت دے، د هغې په غاړه د کور او د بهر سل کارونه اچولے شوي دي، هغه به د کوهي نه اوبهٔ ډکوي (چرته چې کوهان نشته هغلته به د څښلو اوبهٔ د بهر نه راوړي، ځينې علاقو کښې نن سبا هم دا خوارانې په ميلونو مزلونه د څښلو د اوبو دپاره کوي)، دا به څاروي سمبالوي، شوملې به جوړوي، پخلے به کوي او چرته چرته خو د غر نه خشاک هم د سولو دپاره راوړي او په پټو کښې د خپلو خاوندانو سره هم کار کوي، د دې سره سره دې ته خاص يو د لوړوالي مقام هم ورکړے شوے دے، د پښتنو په دشمنو او تربګنو کښې په ښځو څوک لاس نهٔ اوچتوي، دا د پښتو نه خلاف ګڼلے کېږي. په ښځه ډز کول ډېر د بې غېرتۍ کار ګڼلے

کېږي، په جنګونو کښې پښتنه ښځه په سنګرونو کښې د خپل نارينوو سره څنګ په څنګ ولاړه وي، ورته کارتوس هم راوړي او د اوبو او خوراک څښاک غم هم د دې په ذمه وي.

د دې دومره پابندو سره سره د مودو راسې پښتنو مېرمنو پښتو ادب ته ډېر څۀ وربخښلي دي، پښتنه ښځه په ډېره وياړنه د خپل څښتن نرتوب ستايي، داسې ډېرې ټپې شته چې پکښې پښتنې پېغلې داسې ستاينې کوي:

سورے سورے په ګولو راشې
د بې ننګۍ اواز دې رامۀ شه مئينه

سورے سورے په ګولو راشې
په تار د زلفو به کفن درته ګنډمه

په وينو رنګ تُوره دې راوړه
راشه په سرو شونډو به زۀ درپاکه کړمه

په تاريخ کښې داسې ځينې واقعات هم شته چې پښتانۀ د مېدان نه تېښتې کولو ته نزدې وو او د خپلو مېرمنو په غېرت اچولو جنګ ته راستون شو او بائيللے جنګ ئې وګټو.(۱)

په داسې موقع دا پښتنه پېغله په جار وائي:

په سپين مېدان کښې ډرسره يم
زۀ پښتنه د تورو نۀ تښتم مئينه



ډلته به داسې پښتنو مېرمنو ذکر کول هم بې ځايه نۀ وي، چا چې خپل کلام او ديوانونه په څۀ نا څۀ شکل کښې پرېښودي دي، په دوي کښې د خوشحال بابا لور حافظه حليمه خټکه، د ميرويس هوتک مور نازو، د هغې لور زينب، د الله داد ماموزي لور بي بي نېکبخته او د ملا دين محمد کاکړ لور زرغونه بي بي شاملې دي.

په تعليمي لحاظ سره پښتنې د خپلې سيمې د نورو قومونو د مېرمنو نه ډېرې وروستو وې، غالباً د هغې يوه غټه وجه دا هم ده چې پښتانۀ په مجموعي حېث سره د تاريخ په هر دور کښې د استعمار په ضد ودرېدلي دي، دوي خپل زيات وخت او قوت تورې او ټوپک ته وقف کړے ؤ او د قلم او د کتاب نه لرې وو، ځينې خلک دا هم وائي چې په دې کښې د ملايانو هم ډېر لوئے لاس ؤ، ځکه چې د اولنۍ ورځې نه دوي د پښتنو په مازغو کښې دا خبره کښېنولې وه، چې دوي به د اسلام په خدمت کښې تُوره په لاس د هر چا وړاندې وي او کۀ چرې دې طرفته وکتے شي نو پښتانۀ تقريباً د هر هغې بادشاه چې په هندوستان ئې حمله کړې ده، د هغې په فوځونو کښې به دوي د هر چا نه وړاندې د دين په خدمت کښې روان وو. د نارينوو تعليم نۀ ؤ، د مېرمنو طرفته چا توجه ورکوله، هم دا وجه ده چې د پښتنو کورونو کښې مېرمنو کښې څۀ لږ ډېر تعليم کړے دے نو هغه هم د نيشت برابر دے، لکه چې وليکلے شو پښتونخوا هسې هم تعليم طور سره د نورو صوبو. علاقو نه ډېره وروستو پاتې وه او په تېره تېره خو د ښځو تعليمي حالت ډېر د رحم قابل ؤ. د شلمې پېړۍ په آغاز

کښې دلته نارينه په زرو کښې اته پنځوس تعليم يافته وو او
زنانه په زرو کښې صرف شپږ تعليم يافته وې، په دې کښې هم د
غير مسلمو اکثريت ؤ، پښتنو کورونو کښې زنانه به څۀ لږې
ډېرې ، فارسي پوهېدې، د دې سره سره قرآن شريف به هم په
کورونو کښې لوستے شو، "گلستان" او "بوستان" هم څۀ په نيمه
فارسي او په نيمه پښتو کښې مونډلے کېدو، ولې په منظمه
توگه دا جرأت چا نۀ شو کولے چې د مېرمنو د تعليم نوم دې
واخلي او نۀ دې ته څوک تيار وو چې دې اړخ ته د پاملرنه وکړي.

د انگرېزي تعليم نه کرکه د پښتنو لکه چې په ختمه کښې
اخلي شوي وو، غالباً چې د دې يوه غټه وجه دا هم وه چې فيرنگے
د هندوستان نورو علاقو ته په جدا حېث راغلے ؤ او پښتونخوا
ته په جدا حېث راننوتے ؤ. د مثال په توگه به بنگال او پنجاب
واخلو، بنگال ته دوي د سوداگرو په حېث راننوتي وو، څکه خو
د خلکو سره د دوي لښن دېن جدا ؤ، خلکو د پېرنگي ژبه،
بودوباش او نورې ډېرې طريقې هم ډېرې زر خپلې کړې، داسې
پنجاب باندې د پېرنگي نه مخکښې د سيکانو حکومت ؤ، د
سيکانو په باچايي کښې په مسلمانانو ډېر ظلمونه کېدل، دوي
زړونه د سيکانو نه تور وو، کله چې فيرنگے د سُتلج د سيند له
خوا را ښکاره شو، نو د پنجاب خلکو دوي ته د سيکانو په ضد
تود هرکلے ووئيلو، دوي د هغه ځائے د مسلمانانو دپاره مسيحا
ثابت شول، څکه چې د سيکانو د زور او زياتو نه ئې مسلمانان
خلاص کړل، ولې دلته په پښتونخوا کښې هم دا فيرنگے
استعمار پخپل اصلي څېره کښې را ښکاره شو، دوي د اباسين



نه پورې د حکمرانانو په حېث ورداخل شول، هم دا وجه وه چې د
رومبي ورځې نه پښتنو په خپله خاوره د پېرنگي قدم نۀ دے
زغملے او دوي هر څۀ ته ئې د شک په نظر کتل چې په هغې
کښې انگريزي طرز تعليم هم شامل ؤ. هسې هم پېرنگيان په دې
پوهېدل چې پښتنائۀ مونږ داسې په آسانه نۀ مني نو څکه خو ئې
هغه اصلاحات چې د هندوستان نورو صوبو ته پخوا ورکړي وو،
پښتنو ته په ورکولو په هېڅ طور سره تيار نۀ وو، لکه چې ووئيلے
شو چې پښتنو هم د انگرېزي تعليم سره هېڅ مينه نۀ وه او
حکومت هم دلته د دې ځائے د خلکو په ښېگړه کښې هېڅ قسم
دلچسپي نۀ لرله نو دا علاقه او د دې ځائے خلک تعليمي طور
سره ډېر وروستو پاتې شول. په ټوله صوبه کښې په کال ۱۹۰۲-
۱۹۰۱ کښې صرف اتۀ سرکاري زنانه پرائمري سکولونه وو، چې
د طالب علمانو شمېر پکښې د پينځو سوو نه هم کم ؤ، په ډېره
اسماعيل خان کښې د آرياکهنيا په نوم د جينکو دپاره يو مډل
سکول جوړ کړے شو، لږه موده پس په پېښور کښې يو مشن
هائي سکول د جينکو دپاره شروع شو او د دې سره سره په ايبټ
اباد کښې د گوبند گرلز هائي سکول په نامه هم يو سکول جاري
شو. د صوبې خلکو دې طرفته ډېره لږه پاملرنه نۀ ورکوله، دوي
خپلې خويندې لونړه نۀ خو په دې سکولونو کښې تعليم دپاره
لېږلې او نۀ ئې دا مناسب گڼل چې دوي دې د سبق دپاره چرته بل
ښار ته واستولے شي.

د خدائي خدمتگار د تحريک د شروع کولو په وخت دا خبره
هم د غور وړ وگڼلې شوه، چې څنگه په کوم طور سره د پښتنو

مېرمنو اصلاح وکړلے شي او دوي کښې د تعليم شوق واچولے شي، د دې سره سره باچا خان او د هغې ملګرو په دې هم ډېر غور او فکر وکړلو، چې په څۀ طريقه به پښتنو ته دا ووئيلے شي، چې دوي د خپلو بچو او په خوېندو د موجوده زمانې تعليم وکړي او د کور د څلورو دېوالونو په شا ئې په ژوند تېرولو نۀ مجبوروي، خو غټ مقصد هم دا ؤ چې په څۀ طريقه د پښتنو مېرمنو ته جديد تعليم ورکړلے شي، د تعليم ترقۍ سره به خپله بيا پښتنې معاشره په ښه ډول ترقي وکړي، دا هم دوي ته ښکاره وه چې د هندوستان په نورو علاقو کښې زنانه د نارينه سره سم د ترقۍ او پرمختګ په لار روان دي، دوي دا خپل فرض وګڼلو چې په څۀ طريقه دې خپلې خوېندې او لوڼه هم د نورو قومونو د ترقۍ په راز پوهه کړي، هم په دې لړ کښې چې کوم مضامين په "پښتون" کښې چاپ شوي دي او هغې د زنانوؤ په ترقۍ کښې څومره لوېه برخه اخستې ده هغه به هم په ګوته کړلے کېږي.

د "پښتون" په ورومبي اشاعت کښې د نورو ګڼو موضوعاتو سره سره د ښځو په بد حالت او په پسماندګۍ هم ليکونه شوي دي، دا څيزونه په ګوته کول مناسب او غوره ګڼم چې هغه وخت به پښتنو مېرمنو خپل نومونه اخستل بد ګڼل، د دې دپاره د "قوم نه دوه سوالونه" نومي باندې د ليکوالې نوم صرف د "ميا ګرهۍ يوه خور" ليکلے دے، هغه اول د پښتنو جينکو ډېر دردناک حالت بيانوي او ليکي چې:

"مونږ غريبانانې په ژوندنې د مړونې په حساب يو، کۀ د دېوال نه اخوا ته دنيا ورانه شي هم ترېنه مونږه نۀ خبرېږو، دا د



پښتنو په خپلو لوڼو لوئے ظلم دے چې اول خو دوي لوڼو ته تعليم نۀ ورکوي بيا کۀ چرې يوه نيمه پکښې د تور تکي نه خبره شي نو هم د دنيا د حال د قام د حال د ملک او د اسلام د حال نه نۀ خبرېږي، ځکه چې مونږه پس د قرآن شريف نه د پښتو يو څو کتابونه وئيلي دي، نو بغير د پښتونه بله ژبه مونږ له نۀ راځي او په پښتو کښې هېڅ اخبار يا رساله نشته". (۲)

کله چې خبرېږي چې باچاخان د اتمانزو نه يو اخبار په پښتو ژبه را وباسي نو ډېره خوشحالېږي او وائي چې اوس به "مونږ هم د دنيا له حاله نه څۀ نا څۀ خبرېږو". (۳)

دا خور وراندې بيا د خپلو پښتنو مشرانو نه دا دوه سوالونه کوي چې ګورئ مونږ درنه کالي، بنارسۍ او سوچه پنې نۀ غواړو خو مونږ ته د پښتو دا اخبار جاري کړئ، دويم خواست ئې دا دے چې تعليم د په پښتو ژبه ورکولے کېږي، چې ډېر خلک ترېنه استفاده کولے شي.

هم په دې ګڼه کښې د ميا ګرهۍ يوه بله خور چې د نوم وروکي تکي ئې "ز-ب" ليکلي شوي دي دا په جار وائي چې کۀ چرې تاسو خپل اولاد لايق او هوښيار ليدل غواړئ نو مېندو له جديد تعليم ورکړئ ځکه چې کۀ "سل خويه ئې نور شي خو يو به ئې د مور شي". (۴)

د باچاخان او د ملګرو په ملاتړ پښتنو مېرمنو مضمونونه ليکل شروع کړل او د چاپ دپاره ئې "پښتون" ته راواستل. د جولايي کال ۱۹۲۸ء په ګڼه کښې يو مضمون "صفا پښتو پکار ده" د "يوې خورکۍ د سوات" له اړخه چاپ شو، په دې کښې دا

خورکۍ د "پښتون" د راوتو ستائينه کوي او وائي چې اول به په نورو ژبو خصوصاً په اردو ژبه کښې اخبارات موندلے کېدل، د پښتنو زنانوو کۀ به هر څومره ډېر هم زړۀ غوښتل ولې په اردو نه پوهېدلې او د دې وجې نه به د هيڅ نه خبرې نۀ وې، په پښتو ژبه اوس د يوه اخبار د جاري کېدو سره د پښتنو مياندو خوېندو دا ارمان پوره شو، چې اوس به هغوي هم په خپله ژبه لوستل کوي او د دنيا د حالاتو نه به خبرېږي.(۵)

هم په دې ګڼه کښې د "چارسدې يوه خور" د ښځو سره يو دوه خبرې کول غواړي، دا خور وائي چې د تعليم د حاصلولو سره سره نورې هم ډېرې خبرې داسې دي چې کۀ خويندې او مياندې پرې عمل اوکړي نو د هغوي ژوندون پرې سمېدے شي، دا خور خپلو نورو مېندو خويندو ته د صفايۍ سبق ورکوي او ورسره ورسره ورته دا نصيحت هم کول غواړي چې د خپل خاوند، خواښې او د کور او محلت خلکو سره د ښۀ سلوک ساتي او خاص کر خپل خاوند سره په نرمۍ، تابعدارۍ او حيا او عزت کښې خبرې کوئ ځکه چې کۀ:

"خاوند ډېر ناکاره او بد خويه وي خو د ښځې په چپ والي او نرمۍ او تابعدارۍ باندې سمېږي"(۶)

د اکتوبر کال ۱۹۲۸ء په ګڼه کښې د "يوې خور خط" چې د ليکوالې نوم "يوه خور" ورکړے شوے دے، په نوم باندې يو مضمون نما خط چاپ شوے دے چې، پکښې "يوه خور" د هغې ملايانو نه ګيله کوي، چاچې په دې خبره لکه چې يو اور را کوز کړے دے، چې د غازي امان الله خان ښځې ثريا ولې ستر مات



کړے دے، دا خور وائي چې د "ملکې ذکر خو تول کوي ولې هغې خوارې کښې پښتنې کومې چې سر تور سر د خپلې ګېډې دپاره په پردو کوځو کښې خدمتونه کوي د هغوي د ستر خيال ساتل د چا ذمه واري ده؟"

د مجيده بېګم چې د سرخ ډهيرۍ مردان او سېدونکې زنانه ده يو مضمون "زمونږ د ښځو حال" د نومبر کال ۱۹۲۸ء په ګڼه کښې چاپ شو، دا مېرمنه د ښځو په بېوسۍ ړنا غورځوي او د سړو نه ګيله منده ده، چې تاسو ولې مونږ ته سپک ګورئ، مونږ هم لکه د ستاسو د الله تعالي پيدا اينست يو، بيا د ښځو نه هم دا غوښتنه کوي چې تاسو ته هم څۀ هنر او فن زده کول پکار دي د ماشومانو مثال ورکوي او وائي چې وګورئ هلک وروستو خبرې زده کوي او جينۍ وړاندې، دا ثابتول غواړي چې عقل او پوهه خو په ښځو کښې هم شته خو ولې پکار ئې نۀ راولي، نو بيا صرف او صرف خپلو نارينو باندې دا الزام لګول چې دوي مونږ هيڅ ته نۀ پرېږدي يقيناً چې زياتے دے، وائي چې پکاره ده چې زنانه د ځان ته هم فکر وکړي ځکه د دې قسم د پس ماندګۍ مونږ خپله ذمه دارې يو.(۸)

د دې مضمون نوره برخه په دسمبر کال ۱۹۲۸ کښې چاپ شوه، ليکواله ليکي چې کۀ چرې د دوي نارينه د دې څيز خيال وساتي او دوي ته په ښه توګه جديد تعليم ورکړي، نو دا به دوي له هم ښۀ، او کورونو دپاره به ئې هم ډېر سودمند ؤ او په کورونو کښې به ئې برکت ؤ، اولاد بۀ ئې نېک او د خدائے د لارې نه به خبر ؤ، ليکي چې "اے خويندو خپل ځانونه وپېژنئ او چاپېره

نظر وکړئ، چې نور قومونه په څهٔ کښې دي او مونږ په څهٔ کښې یو، څهٔ رنګ د خپل قوم او مذهب او ملک د بهبودۍ دپاره خواري او کوششونه کوي، مونږ خو خپل عمر عبث تېر کړو، نهٔ د خپلې څهٔ فایدې شو او نهٔ د بل نه مو څهٔ زده کړه وکړه او نهٔ مو د څهٔ نیت دے، نهٔ د دین شو او نهٔ د دنیا. دین خو رانه داسې لاړ، چې د یوې کوړې لاس مو نه رسي کهٔ اوس هم فکر وکړئ، نو څهٔ تلې نهٔ دي". (۹)

د مجیده بېګم دې لوړ همت چې نوم ئې لیکل شروع کړو پخپل مضمون باندې ځینې ښځو اعتراضونه وکړل او دا یې دې ته ډېره زر مجبوره کړه چې یو خط "پښتون" ته را ولېږي او دا غوښتنه دې ترېنه وکړي، چې بیا په "پښتون" کښې زما د نوم په ځائے "م ب" لیکه، ولې چې ښځې په ما پورې خاندي"، د دې په ځواب کښې ورته چلونکي [باچا خان] ولیکل چې "په دنیا کښې داسې څوک شته چې د خندا نه خلاص وي، مونږ له کتل پکار دي چې اسلام کښې د دې باره کښې څهٔ حکم دے، مونږ ګورو چې په احادیثو او د جمعې په خطبه کښې د رسول صلي الله علیه وسلم د بیبیانو او د لوڼو نومونه خو د خلکو په مخکښې اخستے شي، نو کهٔ دا د خندا کار وي نو اسلام کښې به منع وو". (۱۰)

"ښځې او د قام خدمت" د سر خط لاندې د میا جعفر شاه یو مضمون هم د جنوري کال ۱۹۲۹ په ګڼه کښې شایع شوے دے. په دې مضمون کښې لیکوال دا څرګندوي، چې د هغه د دې مضمون لیکلو غټ مقصد هم دا دے چې "زهٔ د قوم د مغزو نه دا غلط خیال لرې کړم چې ښځې صرف د نفساني خواهشاتو دپاره



پیدا شوې دي او د هغوي تعلیم او تربیت ضروري نهٔ دے او بې د هغه خانګي ضروریاتو نه چې کوم په موجوده وخت کښې رایج دي نور هیڅ قسم ذمه واري د هغوي په ذمه نشته، د دې نه به تاسو ته دا ظاهره شي چې ښځه د خواهشاتو نفساني د پوره کولو دپاره نهٔ ده، بلکې د هغې په ذمه د قوم د خدمت ضرورت د "جنګ" او "امن" په دواړو وختو کښې ډېر تېر دے، کهٔ ښځه بزدله وي اولاد ئې هم بزدل وي، کهٔ ښځه د قوم په لاره کښې د قربانېدو د راز نه پخپله واقفه نهٔ وي، نو هغه هېچرې خپل اولاد د قوم او د ملک په لاره کښې قربان کېدلو دپاره تیارولے نهٔ شي". (۱۱)

میا صاحب مخکښې لیکي چې:

"مونږ نن دا د پښتنو ننګ ګڼو چې خپلو خویندو، لوڼو ته تعلیم ورکړو، لېکن زهٔ د خپل قوم نه دا تپوس کوم چې کهٔ فیرنګۍ، انګېندې نورې هم زیاتې شي او ضرور ده چې زیاتېږي به، ځکه چې کهٔ هلک تعلیم وکړي او د یورپ د ازادې فضا کښې هوا وخوري د هغه نه دا توقع هېچرې نهٔ شي کېدے چې هغه دې د یوې بې تعلیمه پوواړې ښځې سره وادهٔ وکړي. واقعه دا ده چې کهٔ په یو جغ غوائے او خر واچولے شي، نو ممکن نهٔ ده چې هغوي کار وکړے شي، نو په داسې صورت کښې زهٔ حېران یم چې کهٔ دا شرمونه راته په کور پاتې شو نو مونږ به ورسره څهٔ چل کوو او اخر د دې به څهٔ نتیجه وي، زمونږ دپاره دا لازمه ده چې مونږ یا په هلکانو تعلیم بند کړو یا چې ئې په دواړو وکړو چې سره برابر شي.

بله دا خبره ده چې زمونږ موجوده کوم حالت چې دے زهٔ دا

وینم کۀ یو جنګ چې کوم ضروري راتلونکے دے، شروع شي هغه
وخت به مونږ څۀ چل کوو، خپل ځان به وباسو کۀ دا پېټي به پشا
کوو، په کار دا ده چې دا غلطه پښتو پرېږدو او د خدائے او د
رسول په لاره روان شو او کوم حقوق او تربیت چې رسول صلي
الله علیه وسلم ښځو ته ورکړے ؤ، مونږه ئې هم ورکړو او د هغې
تباهي نه ځان وساتو چې کومه راتلونکې ده، زمونږ دپاره د دې
خبرې ضرورت دے، چې داسې ښځې پیدا کړو، چې سبا را
باندې پېښې نۀ وي او د امن په زمانه کښې هم زمونږ د ترقۍ
باعث وي، زمونږ (بد رسمونه، د کور بد خرڅي، د اولاد صحت
او تربیت) هر څۀ د ښځو په لاس کښې دي، د هر شي ذمه داره
ښځه ده او د اولاد دپاره اولنۍ مدرسه د مور غېږه ده، نو کۀ د
دې غېږې مېرمن ښه نۀ وي نو هر څۀ به خراب شي او قوم به نور
هم تباه شي".(۱۲)

د چلونکي[باچاخان] د طرفنه هم په دې مضمون د خپلې
رائې اظهار کړلے شوے دے، لیکي چې:

"د مینا صیب مضمون باندې قوم له په کار دي چې غور
وکړي، زمونږ بدقسمتي دا ده چې د اکثرو خلکو دا خیال دے،
چې ښځې زمونږ د غلامۍ دپاره پیدا شوې دي، لیکن دا خبره
بلکل غلطه ده، لکه څنګه چې زمونږ د قوم په ډېرو معاملو باندې
د ایراني او هندو تهذیب اثر دے هم دغه شان دا خیال په مونږ
کښې د هندوانو سره د یو ځائے اوسېدلو په سبب پیدا شوے
دے، کنې په اسلام کښې دا بالکل نشته دے، تاسو قرآن کتے
شئ، چې د ښځې او سړي په سزا او جزا کښې هېڅ فرق نۀ دے



کړے شوے، بلکې قرآن وائي "چې تاسو د هغوئي لباس یئ او
هغوي ستاسو" او حقیقت هم دا دے چې خدائے د دې دنیا د نظام
د چلولو دپاره ښځې او سړي پیدا کړي، لکه څنګه چې د ښځې
سړي ته ضرورت دے، هم دغه شان د سړي ښځې ته، دا په دنیا
کښې دوه ملګري دي، لکه څنګه چې تاسو یو کلي ته دوه ښځې
یا دوه سړي ځئ او په لاره کښې ملګري شئ د سود سودا
ضرورت پېښ شي یوه لاړه شي سود سودا راوړي بله ورته اوبۀ
کوزه او کټوې تیاره کړي، نو په دې کښې د لوئے او وړوکي
کومه خبره ده، هم دغه شان په ښځه او سړي کښې څۀ د لوئے والي
او وړوکوالي فرق نشته، مونږ ته دغه فرق قرآن کښې ذکر دے او
هغه دا دے، چې "څوک نېک او با اخلاقه وي او ښۀ کارونه کوي
کۀ سړے وي او کۀ ښځه هغه به لوئے وي"، مونږ کښې پیدا ایښې
لوئے والے وړوکوالے نشته دے، بلکې زمونږ اسلام مونږه ته وائي
چې تاسو کښې به لوئے هغه وي چې نېک وي او ښه کارونه کوي
او کۀ دا تاسو ګورئ چې ښځه د کور کار کوي او سړے د بهر، نو
دا خو تقسیم عمل دے، چې دواړو ملګرو په مېنځ کښې کړے
دے، چې ته د کور کار کوه او زۀ به د بهر.

اوس خو به دا ثابته شوې وي، چې دا دوه د دنیا ملګري
دي، نو اوس کۀ چرې دوه ملګري په لار روان وي، یو پکښې
جاهل وي او بل عالم، هغه ورته د ملګرتیا حقونه ښایي هغه ئې
نه مني، بلکې ورته ټوقې ښکاري هغه ورته وائي چې مسافري
ده، د یو بل د خوشحالي او د آرام خیال ساتل په کار دي، لیکن
هغه ورپورې خاندي، رسمونه او رواجونه چې هغه په دین کښې

منع دي او د دوي دين او دنيا ته پرې نقصان رسي ترې منع کوي، هغه وائي چې پخواني خلک نۀ پوهېدل اوس تاسو سبقونه ووې نو پوهه شوئ وغېره وغېره، نو د دې ملګرتيا به څۀ حال وي، آيا زۀ دا پوښتنه کولے شم چې په دې ملګرتيا به څوک خوشحاله وي، د دې دپاره مشرانو له په کار دي چې دې طرف ته توجه وکړي او څۀ لار ورله را وباسي".(۱۳)

کله چې ښځې په دې پوهه شوې چې د دوي هم څوک ملاتړ پيدا شو او دا ملاتړئې پخپل پښتون قوم کښې دے، نو دوي هم لږ نور هم د جرأت اظهار وکړو. "يوې خور" د "پښتنو خويندو په خذمت کښې" يو اوږد خط د چاپ دپاره راواستولو، دا خط د اپرېل کال ۱۹۲۹ء په ګڼه کښې شايع شو، هغه په دې ډېره زياته خوشحالي ښکاره کړه چې شکر دے، چې پښتنو کښې هم څوک د ښځو ملاتړ پيدا شو او اوس کۀ دوي څۀ کار د قوم د خدمت دپاره او د خلکو د ښېګړې دپاره کوي نو دوي يواځې نۀ دي، دې خور دا تجويز پيش کړو چې د پښتنو د ښځو د هم يو انجمن/ ټولے د هندوستان او د پنجاب د ښځو په شان جوړ کړلے شي، چې دوي پکښې د هر قسم ادبي، علمي، اخلاقي او قامي بحثونه بغېر د څۀ وېرې او ترهې کولے شي، کوم حقوق چې دوي ته اسلام ورکړي دي د هغې په ښۀ شان سره غوښتنه کولے شي او هر څوک خپله رائې بغير د څۀ ويرې او ترهې بيانولے شي، ليکي چې:

"ډېر ډېر ځله ما د بې علمو ښځو دُ خولونه داسې ښې ښې خبرې اورېدلې دي چې غوږونه مې ورته ونيول او ارمان او افسوس او ژړامې په دې خپل قسمت او بدبختۍ وکړه او ومې وې چې يا خدايه! چې د يوې بې علمه ښځې داسې ښې خبرې او ښۀ خيالات وي نو کۀ مونږه څۀ علم کړے وے نو داسې بې لاسو بې پښو به نۀ وو او نۀ به زمونږ ژوند داسې د بې عزتۍ ؤ، خو کۀ رښتيا وايم نو په دې کښې زمونږ خپل هيڅ نقصان نشته، کۀ نقصان دے نو د نارينوؤ دے، ولې کۀ مونږ ښځې چرته د خپلو حقوقو او د تعليم نوم واخلو نو نارينه داسې خبرې وکړي چې زمونږ بيا دپاره ژبې ګونګۍ شي او مونږ ته بغېر د ناقص العقل نه بل څۀ نۀ وائي.

زۀ حېرانه يم چې مونږ کوم يو داسې سخت جرم کړے دے، چې د هغې نه خلاصېدل ګران دي، کۀ دا وائي چې بي بي حوا ابۍ شيطان غلولې ده، نو شيطان خو نر دے نۀ چې زنانه او کۀ وائي چې د ښځو مکر په قرآن کښې ثابت دے، نو داسې د فرعون او نمرود ذکر هم دے، نو څۀ ټول سړي يو شان شو؟ تا په سړو کښې هم ښۀ بد شته او په زنانو کښې هم، خو دغه ناقصه د دغې نېکو ميندې دي او دغه ناقصه هر وخت د دغې نېکو په ښه راځي او هم په دوي باندې د دوي کورونه اباد دي او په هره سختۍ کښې د دوي ملګري وي..."(۱۴)

هم د اپرېل کال ۱۹۲۹ء په ګڼه کښې "د يوې خور فرياد" د سر خط لاندې يو بل مضمون چاپ شوے دے، د ليکوالې نوم "يوه درمنده خور" ليکلے شوے دے، دا "خوږ" هم د خپلو مشرانو نه ګيله منده ده چې ولې ئې دوي په جهالت کښې لوئې کړې دي. وائي چې "آخر مې فکر وکړو چې څه هر څۀ چې يو کۀ په څۀ پوهېږو او کۀ نۀ، دا زمونږ خپل قصور نۀ دے، دا خو د مهربانانو

پلارانو د تربيت نتيجه ده، چار دې زمونږ ښۀ وي چې لا دومره خاورې ايرې مو زده کړې دي.

وائي چې "د پښتون" کتونکو! زما عرض او فرياد دا دے، چې دا مسلمانان خو د پخوانو کفارو نه ډير بد تر دي، هغوي به لونړه فوراً مړې کړې ځانونه بۀ ئې د شرم نه او لونړه به ئې د دنيا د ډيرو غمونو نه بې غمه کړې، بېشکه چې ظالمان وو رحم پکښې نۀ ؤ، خو ولې معلومېږي چې غېرت او پښتو پکښې ډيره وه.

کاشکې! مونږ سره هم هغه شان سلوک کېدے خو داسې د عذاب او د ذلت په مرګ به مو نۀ وژلو، د مسلمانانو د ذلت بل هيڅ وجه نشته خو د مظلومانو ښځو آهونه دي ګوره خومره ظلم دے، نۀ په مونږ تعليم کېږي او نۀ د مور او پلار په مال کښې څۀ قدر حصه را کېدے شي".

دا هم وائي چې: "دواړه شيزه نۀ غواړو، خير دے خو انصاف دارو يوه کښې خو مو برخه وکړئ کۀ نۀ، کۀ مال خوږ دے نو تش تعليم هم مونږ له ډېر دے او کۀ تعليم کښې شرم دے نو مال کښې حصه راکول خو شرم نۀ دے".(۱۵)

"زمونږ د ښځو حال" مضمون د "ښځو يوه غمخواره[سيده] اديبه" د فرورې کال ۱۹۲۹ء په "پښتون" کښې چاپ کړو، د دې قدرمندې پښتنې ليک هم ښځو ته تعليم ورکولو په باره کښې دے، د احاديثو په رڼا کښې دا ثابتوي چې علم په دواړو فريقو يو شان راغلے دے.

ليکي چې "هر يو کار چې سړي کولے شي ښځې ئې هم کولے شي[؟] ځکه چې ښځه او سړے په قواء دماغي کښې برابر دي، نو



بيا څۀ وجه ده چې سړي خو دې عالمان شي او ښځې دې جاهلې وي، سړي خو دې لوئے لوئے ډاکټران شي او ښځې دې بغير د زنګو سپړکو نه بل څۀ ونۀ پېژني، سړي خو دې لوئے لوئے ليډران شي او د قام خدمتونه دې کوي او ښځو له دې د کور د چار ديوالۍ نه بهر ته د تلو اجازت هم نۀ وي، سړي خو دې انسانيت او شرافت زده کړي او ښځې دې د پخوانۍ زمانې په هغه جهالت کښې پرتې وي، واه دا خو ښۀ او عجيبه انصاف دے".

"جينکو له نۀ علم شته، نۀ قدر، نۀ د مور پلا په مال کښې حصه شته، بلکې په مونږه پيسې اخستے شي او نۀ د کور نۀ چې (هغه بالکل په مثال د قبر وي) د وتو اجازت..... په هغوي او مونږ کښې فرق صرف دا دے چې په هغه زمانه کښې به ئې زر تر زره ښځې کړې، نو د سختو او د تکليفونو او د ذلت د عمر تېرولو نه به خلاصې شوې، اوس مونږه باندې دا ټول تېرېږي ورته په غټو غټو ګورو خو څۀ نۀ شو کولے نۀ ځان وژلے شو او نۀ پخپل عمر خوشحاله يو، خدائے دې د داسې ذلت د عمر نه د ټولو قومونو ښځې وساتي لکه چې د پښتنو ښځې ئې تېروي".

دا خور خبردارے ورکوي چې "ياد ولرئ چې د ښځو د جهالت نقصان صرف ښځو ته نۀ رسي بلکې سړو ته هم رسي، په اصليت کښې سړے او ښځه د يوه ګاډي دوه پايې دي، کۀ يوه پايه خرابه شي يا ماته شي نو ګاډے نشي تلے يا د يو جسم دوه حصې دي، کۀ يوه حصه شله يا ګوزڼې وي، نو د جسم زور نيم وي، بلکې ټول جسم بېکاره وي، تاسو له کتل په کار دي چې د کوم قوم جينکۍ چې تعليم يافته وي هغوي څنګه بچي د خپل

قام او ملک د خدمت دپاره پیدا کوي، چې هغوي د خپل قام او ملک د خدمت په لاره کښې هر قسم قربانۍ ته تیار وي او که چرې زهٔ غلط وایم نو تاسو راته وښایئ چې ولې زمونږ بچي خپل قوم او ملک په بیه خرڅوي او قام او ملک نهٔ پېژني او د دوي د لاسه زمونږ قام او ملک برباد ېږي.

لېکن د هغې تعلیم یافته ښځو بچي د دې برخلاف قومي خدمت خپل فرض ګڼي، خپل مال او ځان د قوم په خدمت کښې قربانوي او خپل قام د دوي د کوششونو په وجه آبادوي، د دې وجه بغېر د جهالت او تربیت نه بل هېڅ نهٔ شي کېدے.

چونکې د پښتنو ښځې جاهلې وي نو د دې جهالت اثر اکثر هغوي په نسل وي، د جهالت په وجه په مونږ کښې هر قسم توهمات شته دے، د تیارې نه مونږ او زمونږ اولاد یرېږي، بُو به مونږ د بال بچ خوړو ته هر وخت ناست وي او پېریان به زمونږ په خویندو لونو راځي.

کهٔ وړوکے هلک جېنۍ ناجوړه شي نو مور ئې زر د سپیرکو ملے ورکړي، کهٔ شرے پرې باندې را وخېژي نو دومره ګرم ګرم څیزونه ورکړي چې بې نېتې د هغهٔ خلاصے وکړي، کهٔ چرې باد رې راشي نو د بادو بابا په هر کلي کښې یو نیا دوه موجود وي، ني نو په کړه مار غر کښې د بادو سورے ګټې د سلګونو کالو سې شته اوې سترې کېږي نهٔ.

د دې ټولو تباهو څهٔ وجه ده، صرف جهالت او بې علمي، بچرې یو قوم تر هغې پورې ترقي نشي کولے تر څو پورې چې د غې قوم ښځو کښې تعلیم نهٔ وي، ښځې چې د سړو سره څنګ په



څنګ اوږه په اوږه ودرېږي او دواړه د ترقۍ په لاره ګامزن شي نو هله د ترقۍ څهٔ امید کېدے شي".(۱۲)

په دې مضمون د "پښتون" چلونکي د خپل رائې اظهار داسې کړے دے:

"زما د. ادینه دې خور سره بالکل اتفاق دے، خو د غرضو سړو ښځو له د تعلیم او ترقۍ موقع نهٔ ده ورکړې، بلکې چې کومه درجه اسلام دوي لره ورکړې ده یو خان، یو ملا، یو میا، یو سید، یو بزرګ د خپل ګرېبان کښې وګوري چې هغه پخپل کور کښې خپلو لونو، خویندو، میندو او ښځو له ورکړې ده".(۱۷)

هم د فروري کال ۱۹۲۹ء په ګڼه کښې یو بل مضمون د "زیات خرڅ" په سر خط چاپ شو چې پکښې د "بوې صادقې خور د پلو ډهېرۍ" په فضول خرڅۍ باندې ډېر مدلل مضمون لیکلے دے، لیکي چې:

"اے د قوم خویندو! څومره چې زهٔ خیال ... م نو د قوم د بربادۍ او تباهۍ سبب راته دا معلومېږي چې زمونږ قوم په جهل رسم و رواج او په بې ځایه خرڅ کښې مبتلا دے، کهٔ چیرې لږه موده دا حال نور پاتې شي، نو امید دے چې دا باقي جایداد به هم د هندوانو په لاس ورشي او زمونږ نوم به داسې ورک شي چې هېڅ نخښه نخښانه به مو پاتې نهٔ شي. اول فضول خرڅي د پېزار ده کهٔ مونږ د وطن د کورني چمیار ښې پڼې په پښو کولے نو زمونږ د خاوندانو په مال کښې به څومره بچت ؤ، لیکن دې ته نهٔ ګورو او د پېښور د موچیانو جوړه او ولایتي بوټان په شپاړس او په شل روپۍ اخلو، دویم ناروا خرڅ زمونږ د قیمتي جامو دے او

چې د هغې فایده د غیر قوم په کور کښې ننوځي او زیان سراسر زمونږ قام او ملک ته رسي، د غیر قوم د شرم نه ډکې نرۍ نرۍ جامې په ډیرو پیسو اخلو چې نۀ پرې تن پټیږي او نۀ شرعي ستر عورت راځي، مګر د خپل ملک او دا د خپل لاس جوړې جامې نۀ اغوندو، چې هم مال و دولت بچ کیږي او هم حیا راځي". (۱۸)

هم دا خور مخکښې بیا لیکي چې په فضولو خرڅونو باندې خپل خاوندان بې پردې کول نۀ دي په کار، ځکه چې د خاوند نه مو چې پرده لرې شي، نو دا خو خپل ځان بې پردې کول دي، خپلو پښتنو خویندو ته وائي چې درېم ناروا خرڅ په فضولو کالو جوړولو راځي، نو هسې د یوه بل سره په سیالۍ کښې راشو او د خاوندانو پیسې بې ځایه خرڅ کوو، په پائے کښې وائي چې:

"زما په ډیره عاجزۍ سره دا سوال دے چې زما ټولې خویندې دې دا غلط او بې فایدې او د ذلت باعث خرڅونه پریږدي او خپل کورونه دې په ځائے د نقصان د فایدې ډک کړي او دا د عبثو خبرو او کارونو سیالي دې پریږدي او د قام او ملک د ترقۍ په کارونو کښې د یو بل نه وړاندې کیدو سیالي وکړي نو دا به ډیره ښه وي.

اے خویندو! په دنیا کښې بغیر د پښتنو نه چې څومره قومونه اباد دي نۀ د پښتون په شان بېخوده بې علمه بې هنره بې کسبه او د خپل قام او ملک په تباه کولو کښې هر وخت لګیا او نا قلاره دي، بلکې د هغوي ځان او مال او اولاد او ژوندون شپه او ورځ د قام او ملک د ترقۍ دپاره وي، د دې وجه ټوله ازادي او تعلیم دوه څیزونه دي، پس مونږ ټولو مسلمانانو او خاص کر



پښتنو له په کار دي، چې د دې ټولو عبثو کارونو نه لاس واخلو او خپل بال بچ نارینه زنانه له تعلیم ورکړو او داسې تعلیم ورکړو چې د قوم او ملک د خدمت دپاره خپل ځان و مال هر وخت تیار ساتي". (۱۹)

امینه خاتون چې د ډیلي د طبیه کالج نه سند یافته طبیبه ده هغه هم یو خط "پښتون" کښې د چاپ کیدو دپاره راواستولو دې درنې پښتنې خپل نوم او د کلي علاقې نوم ورکړے دے او لیکي چې "امینه خاتون سکنه تورډهیر ډاکخانې عمرزائي" په دې ډیره زیاته خوشحاله شوه چې پښتنو دپاره هم یوه رساله هم په پښتو کښې جاري شوه، وائي چې "اوس د پښتنو اوده بخت ویښ شو او دوي پخپله غلطۍ پوهه شول او د خپل وروک کړي عزت د حاصلولو دپاره په علمي دنیا کښې په ترقۍ کولو مشغول شو". (۲۰)

امینه خاتون خپلو پښتنو وروڼو، خویندو ته دا خواست کوي، چې دوي دې د "پښتون" سره عملي امداد اوکړي او بیا دا هم لیکي چې "زۀ هم د دې کار خبر نه مستثنې نۀ یم، في الحال دا قدرې عملي مدد کولے شم چې هر مریض چې د "پښتون" په دفتر کښې یوه روپۍ داخله کړه او د دفتر نه ئې زما مطب ته د داخلې رسید راوړو نو زۀ به د هغه مریض نه فیس نۀ اخلم او علاج به ئې هم مفت کوم". (۲۱)

په دې خط باندې هم د باچاخان د طرفنه د رائې اظهار کړلے شوے دے، باچاخان لیکي چې "مونږ د امینه خاتون د دې نېکې جذبې او د قومي محبت او همدردۍ قدر کوو او امید کوو چې

هغه به د زدکړې او د فایدې ذکرمضامین د موجوده ناپوهه او بې علمه خوېندو، لوڼو د پوهولو دپاره او هغوي د دې موجوده تيارو او تباهو نه ويستو باندې آگاه کولو دپاره "پښتون" ته د چاپ کولو دپاره رالېږي.

باچا خان په دې لړ کښې نور هم ليکل وکړل، د هغه کوشش هم دا وُ چې په هره طريقه چې وي د پښتنو ښځو دا کم علمي او جهالت دې لرې کړي، هغه په ځو ځو واره دا خبره ښکاره کړه چې تر څو پورې د يوه قوم ښځې بيدارې شوې نهٔ دي هغه قوم اوچت شوے نهٔ دے او د ترقۍ په لاره تګ نهٔ شي کولے کوم وخت پورې چې د يوه قوم ښځې د خپل نارينو سره څنګ په څنګ د ازادۍ په جدوجهد کښې برخه وا نهٔ خلي هغه قوم آزاد شوے نهٔ دے، هغه د يوه مور غېږه د ماشوم دپاره د تربيت اولنۍ پوړۍ ګڼله، ځکه چې د بچو ټول تربيت د مور په لاس کښې وي، که پلار ډېر هوښيار هم وي ولې په بچو ئې ډومره اثر نهٔ وي لکه څومره چې د مور وي ځکه خو باچاخان ليکي چې:

"د قوم هېڅ رسم و رواج تمدن او معاشرت تر هغې وخت پورې ترقي کړې نهٔ ده، چې تر کومه وخته پورې د هغه قوم ښځو هغه محسوس کړې نهٔ ده او د هغه د اصلاح دپاره ئې ملا تړلې نهٔ ده".(۲۲)

"د مور غېږه اوله مدرسه ده" د م-ج- سرخ ډهېرئ مضمون دے چې د مې کال ۱۹۲۹ء په ګڼه کښې شايع شو، ښاغلي ليکواله وائي چې آخر دا څهٔ چل وشو چې پخوانو ماشومانو ته خو به ميندو ښې ښې خبرې ښودلې او د دين او د مذهب نه به ئې



خبردار ساتل او اوس ئې دې هر څهٔ ته شا شوه، وائي چې:

"اوس داسې زمانه ده چې څلور واړه طرف ته مسلمانان د غېر قوم تقليد کول فخر ګڼي او واړهٔ چې دنيا ته په راتلو سره ګوري نو نه د دين پرواه شته او نهٔ د اسلام عزت او نهٔ د شرع پابندي او غوړونه ئې د د وړوکوالي نه د لوئې، بې اتفاقي بغض و حسد خبرې اوري او ژبه ئې د اول نه په بدو ردو ښکنځلو او ترخو خبرو عادت شي، دا اورېده څهٔ کوي چې پخپله ورته مېندې د بدو ښودنه کوي، دۀ کهٔ فلانے په لرګي ووهه، فلانې ته ښکنځل وکړه وئ‍ی تهٔ فلانکي ووهلې، ورشه ته هم ترې بدله واخله، مطلب دا دے چې د وړوکوالي نه هغه په بده وېنا او په بد کار اموخته کړي، نو چې څهٔ رنګ هغه لوئېږي هم هغه شان د هغه دا بد خويونه ترقي کوي، دې حده پورې چې بيا پلار مور، ورور، خور خپل قام خپل ملک او خپل مذهب هېڅ نهٔ پېژني او دې ټولو کښې د هر يو په خرڅولو کښې هېڅ وخت د څهٔ قسم ډيل نهٔ کوي او نهٔ ورته په دې کارکولو څهٔ شرم ورځي، ځکه چې هم دا هغه زده کړې وي.

اے وروڼو! تاسو د خدائے دپاره او د رسول الله په خاطر د خپلو خوړو بوټو (اولاد) د ساتنې او ښې خصمانې دپاره خپلو ښځو ته تعليم ورکړئ، چې سبا ستاسو اولاد د دې موجوده بې عزتۍ د ژوند تېرولو په ځائے د عزت او د اوچتو ستركو ژوند تېره وي او د قام د خدمت چل ورته وښئ...

اے وروڼو! فکر وکړئ چې تر کومې پورې ښځې ستاسو په ملاتړ کښې وڼهٔ دربېږي، نو ستاسو قامي ملکي او مذهبي [ګټه]

ناممکنه ده او څو پورې چې ښځو تعلیم نهٔ وي کړے تر هغې
پورې به ستاسو اولاد د مذهب نه بې خبره او لا پرواه وي او هم
دغسې به وي، بلکې چې په دوي رحم وکړئ او په بنیادمو کښې
ئې شمار کړئ او دې تیارو نه ئې را وباسئ"(۲۳).

**حواله جات او ماخذونه:**

۱: په کال ۱۸۸۰ کښې د فیرنګیانو او پښتنو په مینځ کښې د میوند په لویه ډاګه کښې یو خونړے جنګ ونښتو، د میوند ډاګه د قندهار سره نزدو ده، لږ ساعت پس داسې ښکارېده چې پښتانهٔ میدان پرېږدي، یوې پېغلې ملالۍ د دې وینا سره میدان ته را ودانګل او د میوند بائیللے جنګ پښتنو وګټو:

کهٔ په میوند کښې شهید نهٔ شوې
خېله لالیه بې ننګۍ له دې ساتینه

۲- پښتون مۍ کال ۱۹۲۸ ص:۲۲
۳- پښتون مۍ کال ۱۹۲۸ ص: ۲۲
۴- پښتون مۍ کال ۱۹۲۸ ص:۲۳
۵- پښتون جولائي کال ۱۹۲۸ ص: ۲۳
۶- پښتون جولائي کال ۱۹۲۸ ص: ۱۱
۷- پښتون اکتوبر کال ۱۹۲۸ ص: ۱۲
۸- پښتون نومبر کال ۱۹۲۸ ص: ۳۵
۹- پښتون دسمبر کال ۱۹۲۸ ص:۱۴
۱۰- پښتون جنوري کال ۱۹۲۹ ص: ۴۱-۴۵
۱۱- پښتون جنوري کال ۱۹۲۹ ص: ۱۵



۱۲- پښتون جنوري کال ۱۹۲۹ ص: ۱۸-۱۹
۱۳- پښتون جنوري کال ۱۹۲۹ ص:۱۹-۲۰
۱۴- پښتون اپریل کال ۱۹۲۹ ص: ۲۷-۲۸
۱۵- پښتون اپریل کال ۱۹۲۹ ص: ۳۱-۳۵
۱۶- پښتون فروري کال ۱۹۲۹ ص:۱۲-۱۴
۱۷- پښتون فروري کال ۱۹۲۹ ص: ۱۵
۱۸- پښتون فروري کال ۱۹۲۹ ص:۱۶
۱۹- پښتون فروري کال ۱۹۲۹ ص:۱۷-۱۸
۲۰- پښتون فروري کال ۱۹۲۹ ص: ۳۴
۲۱- پښتون فروري کال ۱۹۲۹ ص: ۳۴
۲۲- پښتون اکتوبر کال ۱۹۳۸ ص:۵-۶
۲۳- پښتون مۍ کال ۱۹۲۹ ص: ۴۲-۴۵

# د جينکو تعليم او د هغې اهميت

د جون کال ۱۹۲۹ء په "پښتون" کښې د سيد غلام حيدرشاه، چې د موضع احمداباد "ښادي کلي" اوسيدونکے ؤ، مضمون د "ښځو تعليم" د سر خط لاندې شايع شو، د ښځو د قربانو ذکر په ډېره خوندوره طريقه کوي او ليکي چې:

"د ښځو د قربانۍ تجربه خو به تاسو اکثرو صاحبانو کړې وي، تاسو به ليدلي وي، چې کۀ چرې کور کښې څوک سړے ناجوړه شي، نو دا خوارانې هغه ورځې ورځې تورې شپې د ناروغه سرته ناستې تېروي، خوب او خوراک څښاک په ځان حرام کړي او د ناروغه ترخې ترخې خبرې په خوشحالۍ سره زغمي، پلار، رونړه، زامن او نوسو پورې په خوارۀ خوب ويدۀ وي، مګر په ښځو يعنې د ناجوړه په مور، ښځه، خوېندو، لونړو باندې خوب او خوراک څښاک هله حلال شي، چې ناجوړه د صحت غسل وکړي او د دوي د خوشحالۍ څۀ حد پاتې نۀ شي ولې؟ زما ورونړو! تعليم به د ښځو د دې جذبې ايثار د زياتې باعث نۀ وي چې هغه بنيادم د حيوانيت نه وباسي او د سړيتوب عرش برين ته به ئې ورسوي.

د دې نه علاوه يو کم عقل سړے به هم دا احساس لري، چې د دۀ نه پس د دۀ د کور او د جايداد مالکان دا وارۀ وارۀ بچي دي، چې هغه نن د څېړې نۀ دي او په غېږ کښې معصوم او بې خبره لوبې کوي، خدائے دې نۀ کۀ، کۀ چرې دا جاهلان اوختل نو ټول اميدونه به خاورو کښې يو ځائے شي، ماهرينو د علم النفس وئيلي دي، چې وارۀ بچي هر څۀ چې په وړومبو پينځو کالو کښې زده کړي، هغه ترېنه هېچرې نۀ هيرېږي او دا پينځۀ کاله بچے د خپلې خوږې مور په غېږ کښې تېروي، پلار خو په څۀ کار باندې ټوله ورځ بهر تېره کړي او چې د شپې کور ته راشي، نو بچي اکثر ويدۀ وي، مطلب دا چې د زوے په طبيعت باندې د پلار د خيالاتو او عاداتو هېڅ اثر نۀ کېږي، بلکې د مور په خيالاتو او عاداتو باندې متاثره کېږي، دا اوس د مور کار دے، کۀ بچے د ښو عادتونو په زده کړه مجبوروي او خيالات ئې نېکو کارونو ته اړوي، يا هغۀ ته د فضولياتو او ناکاره کارونو کولو اجازت ورکوي، کۀ هغۀ ته د ادب خبرې ښايي او کۀ هغه په کنځلو اموخته کوي، کۀ هغه زړور کوي او کۀ هغه بې زړۀ کوي، دا ټول د مور په تعليم پورې منحصر دي، کۀ چرې دا عمر بچے د جاهلې مور په غېږ کښې تېر کړي، نو د دۀ عادات به څۀ رنګ وي، هغه مور چې هغه په خپله د سړيتوب د فرايضو نه بې خبره وي، خپل اولاد ته به دا لار څنګه وښايي او دا وجه ده، چې زمونږ ملک د غلامۍ په زنځيرونو کښې تړلے دے او د هر چا حاجتمند دے".(۱)

ښاغلے ليکوال وړاندې زياتوي چې د ترقي يافته ملکونو ښځې ټولې تعليم يافته وي، د خپلو ماشومانو د تعليم او تربيت خاص خيال ساتي او د خپلو سړو سره د ملک او قام په ترقۍ کښې اوږه په اوږه کار کوي، بيا د دې ملکونو موازنه د خپلو

خلکو او وطن سره کوي او ليکي چې دلته اول خو خلک په دې ځيزونو ځان پوهول نۀ غواړي، د هر قسم ښې خبرې مخالفت کوي، چرته په کالونو کښې څوک د ښځو د تعليم او د دوي د پرمختګ مرستيال پيدا شي، نو په قسم قسم طريقو د هغۀ غندنه کوي. د اسلامي تاريخ نه څۀ مثالونه هم ورکوي او ليکي چې د دې قسم ته د زنانو تقليد په کار دے.

د جون کال ۱۹۲۹ء په "پښتون" کښې د باچاخان يو مضمون د "ښځو انجمن يا جرګه" په نوم شايع شو، هغه ليکي چې د اپرېل کال ۱۹۲۹ء په ګڼه کښې په "پښتون" کښې د يوې خور مضمون چاپ شو، چې هغې په کښې د قوم د نورو خويندو لونړو ته د يو "زنانه انجمن" د جوړولو دپاره اپيل کړے دے او وايي چې بغير د پښتنو د ښځو نه د هر قوم د ښځو انجمنونه او د قام او د ملک په بهبودۍ او د ترقۍ دپاره په جمع جرګه سره کارکولو اهليت شته. باچاخان پرې د الله تعالي شکر ګذار دے او ليکي چې "د الله پاک بار بار شکر دے، چې زمونږ غونډې بدقسمته قوم او بيا د پښتون قوم په ښځو کښې هم د قام او ملک د ترقۍ او د خپلو حقوقو د اهل کېدو او د هغې د حاصلولو دپاره د کوشش او په غونډه باندې د کار کولو احساس پيدا شو. زۀ د دې خور د دې نېکې جذبې او ښۀ خيال ډېره شکريه ادا کوم او د دې په دې نېک کار کښې ميدان عمل ته د راوتو ډېر تايد کوم او ورسره خپله رايه هم شامله وم، په خپل ځان د دې هر قسم امداد ته تيار يم، د قوم د نورو خويندو او لونړو نه ډېر زيات اميد دے، چې د دې خور په دې نېک کار کښې به د هر قسم قربانو ته تيارې شي،



ولې چې د قام او د ملک ترقي او تنزل هم د ښځو په قابليت او لياقت پورې موقوفه دے".

باچاخان دا هم زياتوي چې:

"اې خويندو لونړو! حقيقت خو دا دے چې اسلام ښځو او سړو له يو شان حقونه ورکړي دي، ليکن د ښځو د ناپوهۍ بې کسۍ او مظلومۍ نه سړو ناجايزه فايدې اخستې دي، تاسو له به د خپلو حقونو اخستو دپاره پخپله کوششونه په کار وي او کۀ تاسو کښې څوک د دې خدمت دپاره تيارې وي، نو زۀ د هغوي هر قسم خدمت کولو ته تيار يم، خو دا ياد ولرئ، چې چرې څوک د بل په پښو ودرېدلي نۀ دي او نۀ شي، هر څۀ چې کوئ نو تاسو به ئې کوئ، په دنيا کښې داسې هيڅ کار نشته کۀ چرې انسان کوشش وکړي او هغه به ونۀ شي، همت او جرأت او ملا تړ په کار دے".(۲)

د جولايي کال ۱۹۲۹ء په ګڼه کښې د ښځو يو غمخواره سيده "ادينه" مضمون "د مور غېږ اوله مدرسه ده" چې ورومبے قسط ئې د فرورۍ په "پښتون" کښې شايع شوے ؤ، چاپ شو، په دې مضمون کښې ليکوالې په ښځو کښې د تعليم په ضرورت زور ورکړے دے، خو د مغربي طرز تعليم ډېره زياته غندنه کوي او وايي چې دا خو د فايدې په ځائے نقصان رسوي، ځکه چې په دې تعليم کښې د هلک او د جينۍ هيڅ فرق نۀ دے ساتلے شوے، ليکي چې:

"ممکنه ده چې دا تعليم د انګرېزانو د لونړو خويندو دپاره مفيد وي، ولې چې هلک او جينۍ کښې ډېر لوئ فرق وي، ځنکې

د کور کاروبار په خپل لاس نهٔ کوي، وړوکے هلک، جينۍ ئې دايې ته حواله کړي وي او د هغهٔ د تربيت دپاره ئې استاذ ساتلے وي، دغه جينکۍ اکثر د مذهب هم پابندې نهٔ وي او په هر يو کار کښې ځان د سړو برابر ګڼي، نو کهٔ چرې د دوي تعليم يو برابر وي، نو هم څهٔ باک نشته، ولې د افغاني جينۍ زندګي بالکل بل شان وي، هغه د کور ټول کار په خپلو لاسو کوي، د وړوکي هلک جينۍ د تربيت د دې په غاړه وي او د خپل خاوند فرمان برداري په دې باندې فرض عين وي نو دوي له په دې کارونو کښې تعليم ورکول په کار دے، دوي ته د کور حساب کتاب او د کاروبار انتظام د وړو تربيت د خاوند تابعداري او د مذهب د خبرو نه خبرول په کار دي"(۳)

د مغربي طرز تعليم خامۍ په ګوته کوي چې:

"کهٔ موږ خيال وکړو نو په مغربي طرز تعليم کښې دا صفتونه او خوبۍ هر ګز نشته دي، موږ ته خپل ورونه چې هغوي نن او سبا په موجوده کالجونو کښې مغربي تعليم حاصل کړے دے، ښهٔ معلوم دي، په خپل کار کولو باندې شرميږي، سختۍ ته خو اډو ټينګ نهٔ وي او زيات نه زيات کوشش ئې دا وي چې د جينکو په شان جامې واغوندي او د جينکو په شان سرونه پرېږدي، په يو بل ځان ډولي او فيشني ښکاره کوي، د خپل قام خدمت ورته شرم او پردۍ غلامي ورته عزت ښکاري، هم دا مغربي تعليم چې کومو جينکو حاصل کړے دے، هغوي د دوي نه زياتې خرابې وي، هغوي په دې تعليم سره زيات خرڅ کول د کوړ د کاروبار نه توبه وېستل او د غېر قوم ښځو سره سيالي کول



او د خاوند نافرماني زده کړي، داسې تعليم به څوک څهٔ کړي"(۴)

"سيده" دا هم نهٔ غواړي چې دوي ته دې صرف مشرقي تعليم ورکړے شي ځکه چې "په جماعتونو کښې چې ځائې په ځائے مشرقي تعليم ښودلے شي، بالکل نامکمل ناقص او صرف په مذهبي خيال دے، مذهب اګر چې د هر څهٔ نه اول دے، ولې مذهب سره دنياوي کار هم د ضروريا تو نه څهٔ بلکې لازم دے، يو انسان تر هغې پورې پوره او مکمل انسان نهٔ شي کېدے، تر کومې پورې چې هغه په دنيا کښې د څهٔ کسب هنر او مذهب نه خبردار نهٔ شي، ځکه چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم "اسوه حسنه" زموږ په مخ کښې ده، هغوي به هم د فاتح په صف کښې د ټولو نه وړاندې ؤ، همدغسې به د جنګ په صف کښې د ټولو نه وړومبي صف کښې روان ؤ، کهٔ ټوله شپه به ئې عبادت کولو نو د ورځې به ئې دنياوي کاروبار هم کولو، غرض دا چې ديني او دنيوي دواړه کارونه به ئې کول.

"په دې وجوهاتو يو داسې تعليم چې هغه صرف مذهب ښايي زموږ دپاره موزون نهٔ دے، موږ له يو داسې تعليم حاصلول په کار دي، چې هغه موږه هم د دين نه خبروي او هم د دنيا نه"(۵)

ليکواله په جار پوښتنه کوي چې:

"آيا زموږ د خويندو دا شکايت د خپل قام د مشرانو د وړاندې په ځائے نهٔ دے، چې دوي تر اوسه پورې زموږ دپاره هېڅ نهٔ دي کړي، په خپلو زامنو دوي په زرګونو روپۍ په سکولونو، کالجونو او ولايت ته په لېږلو لګوي او دا يې په خيال کښې هم نهٔ راځي، چې جينکۍ هم زموږ اولاد دے او د خداوند

پاک مخلوق دے، دوي له تعليم ورکول هم زمونږ فرض دي.

"آيا دا واوېلا د خپلو مېندو او پلارانو په خدمت کښې ښه او په ځائے نۀ ده، چې دوي خپلو زامنو له هره يوه قصبه کښې هر يو ښار کښې بلکې په هر يو کلي کښې سکولونه او درسګاهونه جوړ کړي دي او زمونږ عاجزانو غريبانو، بې خولو، بې زبانو او مظلومانو د زده کړې دپاره هيڅ انتظام نشته دے.

"آيا دا کوم انصاف دے؟ چې هلکان خو دې تعليم هم وکړي او د ټول جايداد مالکان دې هم شي او زمونږ دپاره دې هغه تعليم قدر هم نۀ وي". (۲)

دا خور د خپلو مشرانو نه دا خواست کوي چې:

"اوس مونږ ټولې خوېندې خپل قام ته د ډېر په عاجزئ سره درخواست کوؤ، چې هغوي دې زمونږ دپاره هم ځائے په ځائے زنانه سکولونه جوړ کړي، چې په هغې کښې ښځې استاذانې وي او هغې کښې د مذهب اسلام د تعليم سره سره د دنياوي کاروبار او د کور انتظام تعليم ورکولے شي.

"دا ضروري نۀ ده چې دا کار دې د اول نه په لويه پيمانه شروع شي، نۀ دا دومره هم کافي ده، چې په کلي کښې دې يوه يا دوه ښځې په معمولي تنخواه مقررې شي او د هغې کلي جينکۍ دې ورله ټولې د تعليم دپاره جمع کېږي، زۀ اميد کوم چې په هر کلي کښې به داسې ښځې هم پيدا شي، چې بغير تنخواه به دا ذمه په خپل سر واخلي، په خپل کلي کښې زۀ خپل ناچيزه خدمت پېش کوؤم او د نورو خوېندو نه هم دا تمنا او ارزو لرم، چې په دې کار کښې ډېر زر او په تونديء کار شروع کړي، ولې دا ټول کار تر



هغې پورې يو منظم صورت نۀ شي اختيارولے، تر کومې پورې چې زمونږ قوم کښې دا احساس نۀ وي پيدا شوے او تر کومې پورې چې زمونږ د قام مشران دې کار ته ملا ونۀ تړي". (۷)

باچاخان په دې مضمون خپله رايه داسې ورکړه:

"زۀ د دې خپلې خور په خدمت کښې صرف دومره عرض کوؤم، چې دا زمونږ په ملک کښې کوم تعليم نن ورځې کۀ په جماعتونو کښې دے او کۀ مدرسو کښې دے، د اسلام د ترقۍ او د قام يا د ملک د بهبودۍ معاون او مددګار نۀ شي کېدے، ولې چې د دې غرض دا نۀ دے او نۀ په دې مطلب باندې د قام هلکانو ته ورکېدے شي.

د جماعت د تعليم نوم خو مذهبي تعليم دے، ليکن کۀ چرې په غور سره وکتلے شي، نو د اصلي مذهب پوتے هم په کښې نشته دے، د طالب علم ټول عمر په صرف، نحو او منطق کښې تېر شي او هغه اصل مذهب چې قران او احاديث دي د هغې تعليم ونۀ کړي او نۀ يو جماعت کښې د دې څۀ قدرې انتظام شته، صرف د امامت په خيال ورکېدے شي او د حاصلونکي ئې هم دا خيال وي او هم د دې خيال خلک پيدا کوي، هم دغه شان چې دا کومې سرکاري يا قومي مدرسې ګورئ او کوم تعليم چې په دې کښې ورکېدے شي، د دې مطلب دا نۀ دے چې مونږ کښې دې سرېتوب پيدا شي، يا دې مونږ په اصلي معنو کښې تعليم يافته شو. بلکې د دې مطلب د سرکار د حکومت مشين له قسم قسم پرزې پيدا کول دي او په دې کښې د حکومت د خلکو ارام دے او د هغې په اسانتيا چلول دي.

کهٔ چرې تاسو غور وکړئ، نو هم د دې خيال خلک د دې نه وزيږ په دنيا کښې هيڅ قوم بغير د خپلې ژبې نه ترقي نهٔ ده کړې او نهٔ کولے شي، کهٔ چرې مونږ لږ غور وکړو او تعصب د زړهٔ نه وباسو نو يو پښتون هلک ته منيه، خلاصه او کنز چې په عربۍ کښې ښودلے شي، نو به ئې زر زده کړي او کهٔ په پښتو کښې؟ د دې نه علاوه د عربۍ په هغې به ښهٔ پوهه شي او کهٔ د پښتو؟ هم دغه شان کهٔ حساب جغرافيه او تواريخ هغه په انګرېزۍ اردو کښې زر ښهٔ او په لږ وخت کښې زده کولے شي، يا په پښتو کښې؟ بله خبره دا ده چې تر کومې پورې د تعليم او د بچو د تربيت انتظام د قوم په خپل لاس کښې نهٔ وي دا ناممکنه ده چې د قوم بچي او د هغوي ملک به ترقي وکړي.

اوس کهٔ چرې زمونږ دا خيال وي چې زمونږ بچو له دې اصلي تعليم ورکړے شي، نو مونږ له په کار دي، چې خپلو بچو له په خپله ژبه کښې د مدرسو جوړولو انتظام وکړو، په هغې مدرسو کښې دې زمونږ د خپل قوم استاذان وي او کم از کم هغه استاذان چې هغوي دا کار خپل فرض ګڼي، هم دغه شان د هغې مدرسو ټول اختيارات دې زمونږ د قوم د خلکو په لاس وي، ليکن د دې دپاره اول ضرورت به د روپو وي، اوس مونږ له په کار دي، چې وګورو زمونږ قوم د دې دپاره د کومې پورې تيار دے، په موجوده زمانه کښې خو زمونږ د دولتمندو نه د قومي کار دپاره روپۍ غوښتل "د زاڼو نه کټوري غوښتل دي" کهٔ کوشش اوشي نو شايد کهٔ څهٔ کاميابي وشي".(۸)

باچاخان دا هم ښکاره ووئيل چې:



"ليکن زهٔ د قوم په خدمت کښې به دا عرض ضرور وکړم، چې زمونږ د هلکانو نه زيات ضروري زمونږ د لوڼو تعليم دے، ولې چې د بچي تربيت اوله مدرسه د مور غېږ ده او زما خور چې هر قسمه مالي او جاني خدمت په ما باندې اچوي د خپل طاقت موافق وعده ورسره کوم او د قوم مشرانو ته اپيل کوم چې د دې عاجزانو په حالت هم څهٔ رحم او توجه په کار ده، دوي له د دې موجوده پستۍ نه وېستل په کار دي، ولې چې د دوي پستي زمونږ پستي ده".(۹)

لکه چې د بره ليکلي شوي مضمون نه ښکاره ده باچاخان په جار خپل قام ته دا دوهٔ خبرې په ګوته کړې، يوه دا چې تعليم دې په خپله مورنۍ ژبه کښې ورکړے شي، ځکه چې په ماشوم د مورنۍ ژبې اثر ډېر کېږي، بله ژبه په دومره وړوکوالي کښې زده کول ګران کار دے، په کار دا ده چې دهٔ ته ابتدايي تعليم په خپله مورنۍ ژبه پښتو کښې ورکړلے شي، دے چې لږ لوئے شي نو نورې ژبې به خپله وخت سره سره او د ضرورت مطابق زده کړي (کهٔ چرې دې خبرې ته وکتے شي، نو باچاخان خو په جولايي کال ۱۹۲۹ء کښې دا خبره کوي، خو مونږ پښتانهٔ بدقسمته په دې يو، چې نن ورځ يعنې د دې خبرې د شپږ اويا کاله پس هم دې مسئلې ته ورمخامخ يو او د ماشومانو دپاره ابتدايي تعليم په خپله مورنۍ ژبه پښتو کښې غواړو، په دې څهٔ دپاسه اووهٔ پېړو کښې دنيا ډېر زيات پرمختګ وکړو، خو د بده مرغه پښتانهٔ نن هم د دې پېښې سره ورمخامخ دي او د پښتنو ماشومانو ته د مورنۍ ژبې په ځائے تعليم په اردو او انګرېزۍ ژبو کښې ورکولے

کېږي.- وقار)

دوېمه خبره باچاخان د جينکو د تعليم کوي، په دې باندې خو هر څوک اتفاق کوي، چې د بچي د تربيت اوله مدرسه د هغهٔ د مور غېږه ده، کهٔ چرې يوه مور تعليم يافته او د نوې زمانې په حالاتو خبرداره وي، نو يقيناً چې هغه به خپلو بچو ته د نوې زمانې د جديد علومو خبرداري په ښهٔ شان ورکوي، خپل پوره وس او کوشش به کوي چې د هر قسم بدعملو او بداخلاقو نه خپل اولاد بچ وساتي او کهٔ چرې دا مور خپله بې تعليمه او جاهله وي، نو هغه به خپل اولاد ته څهٔ تربيت ورکړي، ټوله ورځ به ورته د بل خلاف غوږونه ډکوي او د خپلو بچو د راتلونکي ژوند هيڅ خيال او احساس به نهٔ لري، خو د دې سره ډېر پښتانهٔ نن هم په خپلو لوڼو سبق\وئيل شرم ګڼي او په دې باندې ډېر زيات فخر او وياړ کوي، چې زما لوڼه د کور په څلورو دېوالونو کښې لوېږي او هيڅ قسم انګريزي "جديد" تعليم نهٔ کوي، دوي دا خپل فرض ګڼي چې لوڼه د هر قسم تعليم او تربيت نه محرومه وساتي او خپل زامن د هر څهٔ واکمن وګڼي، يقيناً چې نن داسې هم ډېر درانهٔ او قدرمند پښتانهٔ شته چې په خپلو زامنو او لوڼو کښې هيڅ قسم فرق نهٔ ساتي او کوم اعلي تعليم چې زامنو ته ورکوي، هم هغه خپلو لوڼو ته هم ورکول فرض ګڼي، ځکه چې دواړه د دوي اولاد وي او الله تعالي په داسې قسم فرقونو خفه کېږي.

هم د جولايي کال ۱۹۲۹ء په "پښتون" کښې د فضل حق شيدا له خوا يو "اعلان" چاپ شو، چې هغه هم د ښځو د تعليم په باره کښې ؤ، دا اعلان لاندې درج دے:



اعلان:

"د قام تعليميافته ميندو، خويندو کښې چې چا د "ښځو په تعليم" مضمون وليکهٔ نو د چا مضمون چې اول نمبر وي هغې ته به يوه د سپينو زرو تمغه په انعام کښې ورکړے شي. مضمون دې کم از کم څلورلوئې پاڼې وي، خط دې خوشخطه او ژبه دې سوچه اسانه او ساده وي، مضامين دې د جولايي اخر اخر ته په لاندينی پته خاکسار ته را ولېږي.

(فضل حق شيدا محمود ابادي، معرفت عبدلروف جماعت پنجم هايي سکول چارسده).(۱۰)

د اکتوبر کال ۱۹۲۹ء په "پښتون" کښې د يوې خور چې خپل نوم ئې "ق" د پېښور ليکلے دے، مضمون "د ښځو انجمن لا جرګه" چاپ شو، ښاغلې ليکوالې د باچاخان ډېره مننه کړې ده، چې هغه خپل طرف نه هر قسم امداد د ښځو انجمن جوړولو کښې ورکولو ته تيار دے، نو دا مېرمنه ليکي، چې اوس وخت راغلے دے او پښتنو ښځو ته په کار دي، چې څومره زر کېدے شي دومره زر دې "زنانه انجمن" جوړ کړي، بيا دې داسې قسم جرګې فايدې په ګوته کوي چې د دې په ذريعه دوي خپل حقونه په ښهٔ شان غوښتے شي، دا مثلونه ورکوي چې څنګه په نور هندوستان کښې داسې قسم ته انجمنونه او جرګې شته دي، هندوستان خو پرېږده چې پنجاب کښې هم د ښځو خپل انجمن شته او په ډېره ښهٔ توګه د دوي د حقوقو تحفظ کوي او دوي ته په ديني او دنياوي دواړه قسم ته فايدې په لاس راشي، ليکي چې:

"اوس خو د الله تعالي بار بار شکر دے، زمونږ په پښتنو

ښځو کښې هم ځنې ځنې تعلیمافته شته دي او ډېر زیات امید دے چې هغوي به د انجمن په خورولو کښې خوامخوا کوشش وکړي، خو افسوس دے چې ځینې خلک جلسو ته تلل شرم ګڼي، خو اې زما خویندو مېندو د څهٔ نه شرم کوئ او دې کښې تاسو خیال وکړئ کومه خبره د شرم ده، شرم خو بدکار کښې په کار وي، نېک او د فایدې کار هم چرې د شرم شوے دے، خو ارمان ارمان دے! زمونږ ناپوهه او جاهل قوم لا چرته پوهېږي، ملک ترېنه لاړ، ازادي ترې نه لاړه، خپل غمخور بادشاه "امان الله خان" ترې نه لاړ، خو هغوي په داسې خوب او د بې پرواهۍ په خوب کښې ویدهٔ دي، چې د وېښېدو طمعه ترېنه اوړو نشته دے، د دوي نه دا دومره څېزونه لاړهٔ او په تېره تېره ترېنه خپل خوږ او زمونږ د غرېبو ښځو خېرخواه بادشاه لاړهٔ او دوي په ځان هېڅ قدري پوهٔ نهٔ شو، نو دوي نه به لا نور څوک څهٔ امید ولري، دوي خو به هم دغه شان د جهل او ناپوهۍ په کنده کښې پراتهٔ وي.

اې قومه! وېښ شئ بېدار شئ، سترګې وغړوئ، وګورئ چې نور قومونه کوموکومو کمالونو ته ورسېدل او تهٔ کوم ځائے ته تورو تیارو کښې بې کاره بې کسبه نهر نهور په تن برېنډ پاتې شوې". (۱۱)

باچاخان په دې باندې هم د خپلې رایې اظهار داسې وکړو:

"امید دے چې د دې خور دې نېک تجویز سره به د قام نورې خویندې لوڼه هم اتفاق وکړي، په دې کار خیر کښې به ئې دستګیري وکړي او خپلې خپلې رایې به د انجمن یاد جرګې قاڼېمولو متعلق د "پښتون" دفتر ته راولېږي". (۱۲)



د نومبر کال ۱۹۲۹ء په ګڼه کښې د "یوه صادقه خور" مضمون چاپ شوے دے، چې سر خط ئې "د یوې خور د پښتنو په حالت ژړا" دے، د لیکوالې خپل نوم نهٔ دے لیکلے شوے، لکه څهٔ رنګه چې سر خط دے هم داسې ئې د پښتنو په حالت ژړا کړې ده، چې دوي د خپلو ځانونو نه "د خوشامندو ټټوان" جوړ کړي دي او دا خوشامندي ټولې د خپل بل پښتون ورور د تباهۍ او بربادۍ دپاره کوي، د غېر قوم په بدو ردو او سپکو خبرو هېڅ نهٔ خفه کېږي او د پښتنو د سپکاوي دپاره به ټول عمر ځان تیار ساتي، وایې چې "زما په خیال باندې د خپل ورور عزیز خبرې زغمل د غېر قوم د کرسۍ د جرګې او د لاس ورکولو نه به ډېر ښه وي او په ځائے د بل د خوشامندو د خپل ورور عزیز خوشامندې وکړو او په ځائے د غلامۍ د خپل ملک د ازادۍ کوشش وکړو". (۱۳)

وړاندې لیکي چې:

"تاسو خپل سرونه په ګرېوانونو کښې ښکته کړئ او ښهٔ فکر او خیال وکړئ هر قوم چې الله پاک پیدا کړے دے، نو د خپلو ځانونو د قام ملک د ترقۍ او بهبودئ د کوشش کولو دپاره ئې پیدا کړے دے او هر قوم په دنیا کښې هم دا کوشش کوي، چې مونږ دې په دنیا کښې د سرو په قطار شو او زمونږ قوم هم په دنیا کښې عزت مند او ازاد وي.

خو یو پښتون دے چې دهٔ سره د خپل قوم او ملک د هېڅ قسم خیال نشته دے او د ذاتي ترقۍ په جذبه کښې بې غمه ناست دے، نو دا ولې، زمونږ دا خپل دین قام او ملک خوښ نهٔ

دے او کۀ نۀ د نورو قومونو نه مونږه په ځان او په مال باندې ډېر مئين يو" او "ګورئ! په مونږ نوم د پښتنون پورې دے او ځان ته پښتانۀ وايو، نو پښتون هغه دے چې په خپل قام وطن او مذهب باندې غيرت وکړي، ځان او مال ترې نه قربان کړي او دا څۀ پښتو نۀ ده چې يو په ټبر کښې مشر يا د پيسو خاوند شي، نو مونږ پښتانۀ په ځائے د دې چې ځان کښې لياقت او همت پيدا کړو او مونږ هم د مشرۍ او د پېسو خاوندان شو، د هغه په سپينو جامو داغونه ږدو او دا مو زړۀ وي چې دے خوار او ذليل شوے، بلکې د هغۀ د ذليل کولو کوشش کوؤ او دا مو اډو په زړۀ کښې نۀ تېرېږي چې د هغه خپل ورور په شان د ترقۍ کولو کوشش وکړو، د هغۀ په شان اسوده حال شو.

نو اې پښتنو! کۀ تاسو خدائے او رسول منئ او ورځ د قيامت حقه ګڼئ او دا مو يقين دے، چې مونږ الله پاک پيدا کړي يو او هغه به مو فنا کوي او بيا به په ورځ د قيامت هغه سره مخامخ کېږو او حساب کتاب په رښتيا منئ نو حسد او کينه بدنيتي او دښمني پرېږدئ او زړونه صاف کړئ او د نورو ملکونو د خلکو په شان د قام او ملک د بهبودۍ او ترقۍ دپاره کوشش وکړئ.

او کۀ خدائے رسول او ورځ د قيامت نۀ منئ نو د هر چا خپل اختيار دے، چې څۀ رنګ ئې خوښه وي، نو هغه شان دې کوي، زمونږ په ملک کښې هغه سړے چې کوم ډېر مقدمه باز، چالاک، مکرژن او دروغ ژن وي او خلک په چلول خوري نو هغۀ ته ډېر هوښيار او لايق وايي، چې په دروغه په قران خوړلو وچ نۀ خوري او د ناحقو ګواهۍ ټول عمر په قچرو کښې کوي نو هغه د ټول ټبر



مشر وي او ټول د هغۀ نه په دې کارونو کښې مشورې اخلي او هغۀ ته مشروټ خان ويلے شي او کوم سړے چې د غلا، غولتۍ د ناحقو خونونه کوي، نو په دې قوم کښې هغه د سر سړے وي، ځکه چې د ورور مسلمان وژلو ته بهادر وي او خپل ذاتي دښمن چې د دۀ د قام ملک او د دۀ د مذهب بلکې د مسلمانانو د دنيا د مخ نه بالکل ورکوي او ورک ئې کړو او شپه او ورځ ورپسې دے، ته ئې اډو ايمان نشته". (۱۴)

دا "صادقه خور" وړاندې هغه فارمولا ورکوي، چې د دې په خيال د قوم سره د رشتيونې مينه لرونکي دپاره په کار ده، ليکي چې

"زۀ خو په دې خپل ناقص عقل هغه سړي ته هوښيار وايم چې د خپل قوم، ملک او مذهب غمخور وي، د خپل قام د دښمن دښمن وي او د خپل ملک د خېرخواه دوست وي، لکه څنګه چې زمونږ پخوانو مسلمانانو کړي دي، دروغ او ټګي کول د خپل ورور سره څۀ هوښيارتيا نۀ ده، اوس د الله پاک او د رسول په خاطر دا د بې اتفاقۍ بدنيتۍ کارونه پرې جنبې پرېږدئ، د خپل ملک او قوم د ازادۍ او ترقۍ طرف ته ملا وتړئ، کۀ څۀ کوئ دا مو وخت دے، چې وخت درباندې تېر شي، نو بيا به ګوتې مروړئ او هېڅ به په ګوتو درنۀ شي". (۱۵)

تر دې وخته پورې کۀ وکتے شي، نو دا مضمونونه زيات اصلاحي دي، تر دې وخته پورې د پښتنو په سيمه هغه شان سياست لا نۀ ؤ راننوتے کوم چې په نور هندوستان کښې ليدلے کېدے شو، خو هم دې ورځو کښې ځينې داسې پېښې په دې

علاقه وشوې، چې هغې د پښتنو سوچ او فکر بدل کړو، د کابل په تخت د نهو میاشتو راسې يوه شوکمار چې خپل نوم ئې خو حبيب الله ؤ، خو د ماشکي زوئے ؤ، نو د بچه سقاؤ په نوم ئې شهرت موندلے ؤ او نسلاً تاجک ؤ، هغه ناست ؤ، د بچه سقاؤ په وخت کښې هلته پښتانهٔ ښهٔ ژوبل کړلي شوي ؤ، ډېر په کښې ووژلي شو او ډېرې درنې کورنۍ نهر نهور بربنډ لغړ در په در خاورې په سر ګرځېدل. امان الله خان د پښتنو ائيډيل باچا په دې وخت کښې په اټلي کښې پوخ ميشته شوے ؤ، د فرانس نه نادرخان سپه سالار راغلو هندوستان ته او بيا دلته د پښتنو په مرسته ئې يو لښکر تيار کړو او په افغانستان ورننوتو، د باچاخان او د انجمن اصلاح الافاغنه له خوا د نادر خان پوره پوره مرسته وکړلے شوه او هغه ته صرف اخلاقي مرسته نهٔ بلکې ډېرې روپۍ چې د انجمن غړو چنده جمع کړې وه، هغه هم ورکړلې شوې، چې د سقاؤ د زوئے د کابل د تخت نه د لرې کولو دپاره په کار راولي، نادرخان په کرمه ايجنسۍ کښې ؤ، چې د انجمن غړي ورغلل او هغه پېسې چې شل زره روپۍ نغدې وې هغه ئې نادرخان ته حواله کړې، د دې تفصيلاتو دپاره وګورئ د عبدالاکبر خان اکبر ليکلے شوے مضمون "افغانستان" چې د اکتوبر کال ۱۹۲۹ء په "پښتون" کښې شايع شوے دے، دا سې قسم ته اپيلونه په "پښتون" کښې شايع کېدل چې:

"نن ورځ په هر پښتون دا فرض دي چې هغه خپل تخت د غير قوم او د يو ډاکو (بچه سقاؤ) د پنجې نه د خلاصولو کوشش وکړي او سپه سالار نادرخان (چې چا د دې کار دپاره خپل ځان وقف کړے دے او په سمت جنوبي کښې مصروف پيکار دے) ته د امداد دپاره ځانونه ورسوي".

او

"اې پښتنو! ستاسو فرض دي چې په خپل ټوپک په خپل کارتوس او په خپل خرڅ باندې د افغانستان امداد وکړئ".(۱۲)

لږه موده پس د پښتنو په امداد نادرخان د سقاؤ زوئے نه د کابل تخت واخستو او هغه ئې سره د خپلو ځېنې ملګرو چرماري کړو، کله چې د فتح کابل خبر دلته راورسېدو نو د انجمن ملګرو فوراً په اتمانزو کښې د يوې لوئې جلسې اهتمام وکړو، "پښتون" خبر راکوي چې:

"په ديارلسم اکتوبر ۱۹۲۹ء د دولسو بجو نه اول ټولې ټولې سره د غربېنونو، نشانونو، ببرغونو، ډول سرنا په ګډېدو د کلو کلو خلک د ازاد هايي سکول په فټبال ګراؤنډ کښې جمع کېدل شروع شو، څهٔ بيان ئې وکړو لوئے هم ګډېده ورکوټي هم چغې وهلې، اتڼونه اچولے شو، لوبې وېلے شوې، ډزې کېدې".(۱۷) او نور هم په ډېر قسم ئې د خوشحالۍ اظهار کولو، چې کابل فتح شو، په دې موقعه د انجمن ځېنې غړو تقريرونه هم وکړل او پښتانهٔ ئې په دې خبره په ډېره ښه طريقه پوهه کړل چې څنګه دښمنانو د پښتنو باچايي ګډه وډه کړه او دا ئې هم ووئيل چې هغه ورځ لرې نهٔ ده، چې دا پښتانهٔ به هم دا رنګ ازاد شي، کهٔ چرې دوي اتفاق وکړو او د خپل ملک د ازادۍ دپاره ئې ملا وتړله.

باچاخان هم په دې موقعه د خپلو خيالاتو نه راغونډ خلک

خبر کړل، هغه ووئیل چې:

"اې زما پښتنو رورو! ان چې مونږ ټول دومره خوشحالي کوؤ او په دې فخر کوؤ چې پښتنو خپل عزت واپس وګټۀ دا د هغې سرفروشو باعزته ټولي د همت نتیجه ده چې هغه کار چې مونږ ته لکه د غر لوئې او ګران معلومېدۀ نن یوه اسانه ټوقه او تماشه ښکاري، کۀ چرې مونږ د سرحد پښتانۀ هم لږ غوندې د خپلو ذاتي جګړو نه لاس واخلو او هغه د "ویرې بۀ" د زړۀ نه وباسو لږ ځان کښې د ایمانداری جذبه پیدا کړو، نو دا خبره لرې نه ده چې د سرحد پښتانۀ هم یوه ورځ خپل ځان د غلامۍ د ښېرو نه ازاد ویني، ولې زمونږ د بدقسمتۍ نه د سرحد مسلمانانو خصوصاً او د هندوستان عموماً دا حال دے، چې مونږ د خپل بې همته غفلت او ناپوهتیا په وجه نور همسایه قومونه د ازادۍ د لارې نه لرې ساتو".(۱۸)

باچاخان دا هم زیاته کړه، چې په نور وطن کښې خو د ازادۍ جنګ روان دے او پښتانۀ په خپلو کورنو جګړو کښې داسې بوخت دي، چې هډو په هېڅ ئې کار نشته.

"په کار ده چې مونږ هم د هندوستان د ازادۍ په جنګ کښې شریک شو او په اتفاق سره دا شرم د انسانیت چې یو غېر قوم دے د بل په څټ خواه مخواه سور وي په راه راست (نېغه لار) راولو او مونږ هم په دې فخر او لوئي وکړو چې مونږ هم د ازادو قومونو په صف کښې د ودرېدو لایق یو".(۱۹)

لکه څنګه چې ښکاره ده، د باچاخان په تقریرونو کښې د اصلاحي خبرو سره سره اوس د سیاست خبرې هم ور داخلې



شوې، هم دې دوران کښې "خدایي خدمتګار" انجمن هم جوړ شو، هم د نومبر کال ۱۹۲۹ء په "پښتون" کښې د دې انجمن د جوړېدو خبر هم دے او ورسره ئې څښې نور تفصیلات هم ورکړي دي.

"د خدایي خدمتګار زلمو ته اپیل" د سر خط لاندې د حجاب ګل د طرفنه دا اپیل شایع شو:

"زما پښتنو رورو! د دنیا د قومونو به څۀ ذکر کوؤ، د هندوستان همسایه قومونه زمونږ نه په هر تحریک او کار کښې مخکښې دي، تاسو نۀ ګورئ چې د هغوي هر یو کار په یو نظام سره انجام ته رسېږي په تعلیم کښې، په جذبه کښې د قوم او وطن په خدمت کښې مونږ د دوي نه ډېر ورستو یو، مونږ کښې د خپل ملک او قوم د ازادۍ جذبه اډو شته دے نۀ. حالانکې دا زمونږ یوه لویه دعوه ده چې مسلمان ازاد پیدا شوے دے او ازادي د هغه په رګ و رېښه کښې موجوده ده، بیا وجه څۀ وه چې زمونږ حالت ورځ په ورځ بدتر کېږي، نور قومونه د ازادۍ په میدان کښې په تندۍ سره روان دي او مونږ لاهغسې ناست یو. اے ورورو! د دې وجه صرف یوه کېدے شي، (د مالي جاني قربانۍ کمے).

د خدائے او د رسول په خاطر د غفلت د خوبه را وېښ شئ. پاڅئ په خپلو پښو ودرېږئ، دا کورنۍ جګړې، پرې جنبې پرېږدئ، د قربانۍ نه کار واخلئ کۀ نۀ وي تاسو به ټولو قومونو ته شرمنده یئ او په اوچتو سترګو به ورته نۀ شئ کتے، د ټولې دنیا د خندا به شئ. ورورو د دې ټولو کمو د پوره کولو او د

پښتنو د ترقۍ دپاره د اتمانزو د زلمو یو انجمن جوړ شوے دے، د هغې نوم "خدايي خدمتګار" دے، د دې انجمن کار به د پښتنو د کورنۍ جګړې ورکول، د ناجوړو کونډو یتمیانو خدمت او د پښتنو د جایزو حقوقو حفاظت وي، د دې انجمن د زلمو ټولو پښتنو ته اپیل دے، چې په دې انجمن کښې داخل شي او د پښتنو د ترقۍ او اتفاق دپاره تپه په تپه بلکې کلي په کلي انجمنونه او کمېټۍ جوړې کړئ". (۲۰)

باچاخان او د هغې ملګرو د انجمن دپاره کلي په کلي ګرځېدل شروع کړل، د دې سره سره په "پښتون" کښې ئې هم لیکل شروع کړل او په ښه طریقه ئې د خدايي خدمتګارۍ پېژندګلو وکړه.

د "پښتنو جرګه" د سرخط لاندې یو مضمون ئې د دسمبر په ګڼه کښې شایع کړو، باچاخان ووئیل چې:

"تاسو ته به معلومه وي چې په دنیا کښې به داسې یو قوم هم نه وي چې د هغوي د تبادله خیالات او د خپل ملک د بهبودۍ او ترقۍ دپاره څۀ انجمن (جرګه) نۀ وي، صرف مونږه بدقسمته پښتانۀ یو، چې زمونږ داسې هېڅ څۀ ذریعه نشته دے، چې دا د یو بابا اولاد پر را غونډ شو او کۀ چرې څۀ کوؤ نۀ، نو چې کم از کم یو بل خو وپېژنو او په دې خپل حالت زار باندې خو وژاړو او حال دا دے چې مونږ ته د خدائے پاک د طرف نه هم دا حکم دے چې "تاسو کښې دې یو جماعت وي چې خلک د بدو کارونو نه منع کوي او نېکې لارې باندې ئې روانوي".

لیکن افسوس! په مونږ کښې د قوم او د ملک دپاره



هېڅوک غمخور پیدا نۀ شۀ، نو تاسو خیال کولے شئ، چې د کومې رمې شپون نۀ وي د هغې به څۀ حال وي، هغه به شرمخان نۀ ماتوي، هغه به سپي نۀ خوري هغه به په کندو کښې نۀ پرېوزي". (۲۱)

او

"اے قومه! په دنیا کښې هېچرې یو قوم د بل قوم د سرپټوب پیدا کولو کوشش نۀ دے کړے او نۀ کوي، دا خیال د زړۀ نه وباسئ، هر څۀ چې کوئ په خپله به ئې کوئ، د خدائے دپاره پاڅئ او کلي په کلي تپه په تپه جرګې قایمې کړے، غریب قوم بالکل تیار دے، قرباني وکړئ، ذاتیات پرېږدئ، خپل ذاتي مفاد د قوم په مفادو قربان کړئ، څۀ نه څۀ خو وکړئ، نو بیا وګورئ چې ستاسو حقوق شته او کۀ نۀ". (۲۲)

د انجمن د قایمولو په ضرورت باندې د جرګې سېکټرې صیب میا احمد شاه بېرسټر رڼا واچوله او دا ئې ښکاره کړله چې:

"کۀ د کانګرس کمېټۍ دي یا د خلافت کمېټۍ، دا ټولې د هندوستان په تحریک جوړې شوې دي، اګر کۀ دا کمېټۍ قایمې شوې او د دې کمېټو په ذریعې سره د دې صوبې خلکو هندوان دي کۀ مسلمانان یا سکهان د هندوستان د خلکو سره ئې په قومي کارونو کښې یو شان د مال او د ځان قرباني کړې دي. کۀ چرې د هندوستان مشرانو وئیلي دي چې تاسو ټولنه وکړئ نو ورله په زرګونو روپۍ تلې دي او کۀ چرې وئیلے شوي دي، چې تاسو جېل خانو ته لاړ شئ، نو جېل خانو ته تلي دي او کۀ چرې عدم تعاون راغلے دے. نو په سرحدي صوبه کښې د هر چا نه

علاوه هغهٔ د کانګریس د رضاکارانو د منظم انتظام نه ډېر زیات متاثر شو او په خاص کر د کانګریس د رضاکارو ښځو د پرېډ او د هغوي د نظم او ضبط ستاینه ئې تر ډېر مودې پورې کوله. د کانګریس مشر مهاتماګاندهي د پیرنګي حکومت په ضد د تحریک سول نافرماني د چلولو اعلان وکړو، حکومت ته ئې په جار ووئیل چې په ۱۱ مارچ به د هغهٔ د اشرم ملګري د هغهٔ سره روانېږي او د مالګې قانون به ماتوي.

د کانګریس ډلې دا فیصله وکړه، چې د دې نه پس د دوي مقصد د هندوستان د پاره مکمله ازادي ده او څو مره چې زر کېدے شي فیرنګیان به دې خپل وطن نه وباسي، دوي دا هم تجویز پاس کړو چې د هندوستان خلک په دې پوهول په کار دي، چې داسې ظالم او بد نیته حکومت له د مالیې ټېکسونه ورنهٔ کړے شي. د پښتنو قام پرسته مشرانو هم دا صلاح وکړه. چې په دې خبرو کښې خو مونږ هم د کانګریس سره څکه شامل یو، چې مونږ هم نن ورځې د هندوستان یو جز یو او مونږ له هم فیرنګیان څهٔ نهٔ راکوي، بلکې راکول خو پرېږده مونږ خو ئې تباه او برباد کړو او کوم ظلمونه چې په مونږ دي، هغه هندوستان خو پرېږده د هلاکو خان په وخت کښې به هم په چا نهٔ وو. نو مونږ له هم په کار دي. کهٔ چرې د حقوقو او د حکومت (بادشاهی) ځان حقدار ګڼو نو چې څهٔ نه څهٔ کار وکړو. (۲۴)

په دې لړ کښې د سرنو خلکو سترګې د صوبې د زلمو جرګې او د ازاد هایي سکوزن اتمانزو د کالیزې جلسې ته وې، کوم چې په ۱۹ او ۲۰ اپریل به اتمانزو کښې ټاکلے شوې وه (۲۵)

زيات عدم تعاون کړے شوے دے، ليکن چې د فايدې وخت راغلے دے، نو هندوستان ځان لره فايده اخستې ده او زمونږ دپاره ئې هيڅ څۀ کوشش نۀ دے کړے، هندوستان ته اصلاحات (په حکومتي او ملکي کارونو کښې لږ ډېر اختيارات حاصلول) ورکړے شو او مونږ په ځائے پاتې شو، زمونږ ټولې قرباني اوبو يوړې، اوس بيا د نورو اصلاحاتو (Dominion Status) ورکولو باندې د غور کولو دپاره د هندوستان لوئے لاټ (Viceroy) اعلان کړے دے. مونږ بيا په کښې ورک يو، دا خو د فايدې په وخت کښې زمونږ حال دے، نۀ حکومت څۀ غور کوي او نۀ د هندوستان مشران، کار رانه اخلي او نور هيڅ زمونږ په حق کښې څۀ نۀ کوي او د تکليفونو خو دا حال دے، چې پرون زمونږ په ګاونډ (افغانستان) کښې اور ولګېدۀ او زمونږ ګاونډيان ورونه پښتانۀ تباه کېدل او زمونږ د سرحد خلکو د ورورولۍ او همدردۍ په وجه سره در په منډې وهلې نو مونږ له د هندوستان نه چا يوه پېسه هم راونۀ لېږله، حالانکې زمونږ نه ئې په زرګونو روپۍ وړلې دي".(۲۳)

لکه چې بره هم وليکلي شو، د پښتنو په سيمه هم سياست رانوتو باچاخان په جلسو او تقريرونو کښې هم سياسي رنګ راپيدا شو. هم دې ورځو کښې د هندوستان لوئې قامي ډلې انډين نېشنل کانګريس په لاهور کښې د راوي سيند په غاړه په ۳۰-۳۱ دسمبر کال ۱۹۲۹ء د هندوستان دپاره د مکملې ازادۍ د غوښتنې نعره راپورته کړه. باچاخان سره د خپلو نزدو ملګرو په دې جلسه کښې شرکت دپاره لاهور ته تللے ؤ، د نور هر څېز نه

دا ښکاري چې په دې ورځو کښې سیاست په نورو څیزونو بري وکړلو ځکه چې لکه چې بره ووئیلے شو اکثر مضامین یا خو په افغانستان وو او په خدایي خدمتګارو او د هندوستان پر سیاست چاپ شوي دي او په دې کښې د مېرمنو هېڅ برخه نۀ ښکاري.

ماخذونه:

۱- پښتون جون کال ۱۹۲۹ ص ص: ۲۲-۲۸
۲- پښتون جون کال ۱۹۲۹ ص: ۳۴
۳- پښتون جولايي کال ۱۹۲۹ ص ص: ۱۹-۲۰
۴- پښتون جولايي کال ۱۹۲۹ ص: ۲۱
۵- پښتون جولايي کال ۱۹۲۹ ص ص: ۲۱-۲۲
۶- پښتون جولايي کال ۱۹۲۹ ص: ۲۲
۷- پښتون جولايي کال ۱۹۲۹ ص: ۲۳
۸- پښتون جولايي کال ۱۹۲۹ ص ص: ۲۳-۲۵
۹- پښتون جولايي کال ۱۹۲۹ ص: ۲۵
۱۰- پښتون جولايي کال ۱۹۲۹ ص: ۵۱
۱۱- پښتون اکتوبر کال ۱۹۲۹ ص ص: ۲۴-۲۵
۱۲- پښتون اکتوبر کال ۱۹۲۹ ص: ۲۵
۱۳- پښتون نومبر کال ۱۹۲۹ ص: ۴۶
۱۴- پښتون نومبر کال ۱۹۲۹ ص ص: ۴۸-۵۰
۱۵- پښتون نومبر کال ۱۹۲۹ ص: ۵۰
۱۶- پښتون اکتوبر کال ۱۹۲۹ ص: ۴۹



۱۷- پښتون نومبر کال ۱۹۲۹ ص: ۴۱
۱۸- پښتون نومبر کال ۱۹۲۹ ص ص: ۴۳-۴۴
۱۹- پښتون نومبر کال ۱۹۲۹ ص: ۴۵
۲۰- پښتون نومبر کال ۱۹۲۹ ص: ۳۸
۲۱- پښتون دسمبر کال ۱۹۲۹ ص: ۳۳
۲۲- پښتون دسمبر کال ۱۹۲۹ ص: ۳۴
۲۳- پښتون جنوري کال ۱۹۳۰ ص: ۲۷
۲۴- پښتون فروري کال ۱۹۳۰ ص ص: ۱۲-۱۳
۲۵- پښتون اپرېل کال ۱۹۳۰ ص: ۴۷

# د ازادۍ په تحریک کښې د مېرمنو برخه

لکۀ چې وړاندې لیکلے شوي دي چې په ۱۹ او په ۲۰ اپرېل کال ۱۹۳۰ء په اتمانزو کښې د ازاد هایي سکول کالیزه جلسه ټاکلے شوې وه. په دې جلسه کښې په ډېر ګڼ شمېر کښې قام پرستو شرکت کړے ؤ. د دې کال یوه خاص خبره داوه چې ډېر ګڼ شمیر کښې پکښې خدائي خدمتګار په سرو وردو کښې راغلي وو او د هرې تپې ځان له جدا کېمپ ؤ. د شپې یوه لویه مشاعره وشوه چې طرحه ئې "جنګ د ازادۍ ته تل زلمي وتلي دي" وه. په سبا د خدایي خدمتګارو یو شاندار پرېډ هم وشو. باچاخان ورته په یوه اوچت ځائے ولاړ ؤ او د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائیدو. دا د باچاخان د یوه لوئے عمر ارمان ؤ چې نن پوره شوے ؤ.

په دې موقع د ښار نه راغلي د کانګریس رضاکارو باچاخان او د هغه ملګرو ته خواست وکړو چې د حکومت په ضد چې دوي کوم سول نافرماني په ۲۳ اپرېل کال ۱۹۳۰ء کوي. په هغې کښې د دوي ملاتړ وکړي. خدائي خدمتګارو ته خواست وکړے شو چې د ښار د کانګریس په سول نافرمانۍ کښې پوره پوره برخه واخلئ.

۲۳اپرېل کال ۱۹۳۰ء د پښتنو په تاریخ کښې نۀ



هېرېدونکې ورځ ده. په دې ورځ د پېښور په قصه خوانۍ بازار کښې فیرنګي د خپل قوت ډېره لویه مظاهره په ډېره بې دردۍ سره وکړه. په قامي رضاکارو ګولۍ ووروليې شوې او تر غرمې درې بجې پورې بې ګناه خلک په ډېر لوئے شمېر کښې ووژلي شو. د سرکاري شمېر مطابق ځلوېښت کسان مړۀ او اتیا خواږۀ شا ژوبل وو؛ خو د مختلفو ذرایعو نه را غونډ شوي تفصیلات د مړو شمېر دوه سوه دېرش ښایي او ژوبل خو د پینځو سوو نه زیات وو. باچاخان او د هغې ملګري هم ونیولے شو او فیرنګي د خپل بربریت مظاهره د پېښور نه پس په اتمانزو، تکړ(مردان) او هاتي خېلو (بنو) کښې وکړه. صرف دا ځایونه نۀ؛ بلکې په ګرده پښتونخوا کښې ئې د خدایي خدمتګارو سره چې کوم سلوک وکړو؛ نو په هغې نن هم انسانیت د شرم نه سرښکته کوي. د نارینه ؤ وهل ټکول؛ خو پرېږده چې سترمنې بیبیانې هم بې عزته کړلے شوې، درانه ټبرونه د ډوډۍ محتاج کړلے شو، ولاړ فصلونو ورته ځۀ وسېزلے شو او ځۀ په مالونو وخوړلے شو. په غله کښې ئې ورته د خاورو تېلونه واچول چې څوک ئې په کار راننۀ ولي. دې زور زیاتي د خدایي خدمتګارو ملګري نور هم سېوا کړل. په ځائے د تحریک د ختمولو په زرګونو خدایي خدمتګار په تحریک کښې بهرتي شول.

فیرنګي باچاخان او د هغې ملګري د بالشویکو ایجنټان وګرځول او غوښتل ئې چې په دوي مضبوط ګوزار وکړي. په دې موقعه د قام ځینې خواخوږو باچاخان ته پټ سوال جواب واستولو چې د هندوستان د لویو سیاسي ډلو سره ځان وتړه ګني

نو فیرنگیان ډېر زر گوزار کولو ته تیار دي. باچاخان اول آل انډیا مسلم لیگ ته خواست وکړو چې د پښتنو ملاتړ شي؛ خو هغوي ورنه انکار وکړو او ورته ئې ووئیل چې زمونږ جدوجهد د هندو خلاف دے او انگرېزان زمونږ ملگري دي. بیا قام پرستو د کانگریس سره رابطه وکړه، لکه چې ووئیلے شو کانگریس هم د فیرنگي په ضد را ووتے ؤ. هغوي خو داسې موقعه د خدائے نه غوښتله فوراً ئې د خدائي خدمتگارو سره د کلک ملاتړ اعلان وکړو او د دې نه پس د هندوستان د تقسیم پورې دواړه اوږه په اوږه د ازادۍ تحریک کښې یو ځائے ؤ.

په مارچ ۱۹۳۱ء کښې د گاندهي ارون پیکټ (معاهدې) لاندې باچاخان او نور خدائي خدمتگار هم راخلاص کړلے شو. باچاخان صوبې ته واپس راغلو او د تنظیم په خوا ئې ډېره توجه ورکړه او د صوبې دورې ئې شروع کړې. په اپرېل کال ۱۹۳۰ء کښې د خدائي خدمتگارۍ د پابندۍ سره سره په "پښتون" هم پابندي لگېدلې وه. اوس بیا "پښتون" جاري کړلے شو.

د جون جولایي کال ۱۹۳۱ء په شریکه گڼه راووتله. په دې کښې د "یوې خور" چې نوم ئې نۀ دے ورکړے شو دا یو څو مصرعې چاپ شوې:

فخر افغان سنگ پارس دے
چې په کوم ملک کښې تشریف راوړي سره زر شینه
بندي سرحد په ټول ازاد شي
کۀ پښتون واوري د باچاخان تقریرونه



سرحد زمونږ د پښتنو دے
عبث پرې ځۀ له انگرېزان جگړې کوینه
ازادۍ دا خبر راکړو
د افغاني دروازه جوړه کړئ درځمه
د ازادۍ شمع بلېږي
زلمي پښان د پتنگانو پرې ورځینه
اتفاق دام علم لومه کړمه
د ازادۍ مارغان به ډېر پکښې گیر شینه
پښتنو ټول په اتفاق شئ
ټینگ په جهاد شئ چې وطن مو ازاد شینه
د قربانۍ باران پرې وکړئ
چې خدائے زرغون د ازادۍ کړي سره گلونه
د قربانۍ باران کۀ وشي
د ازادۍ چمن به وسېږي گلونه
جنگ د وطن په ازادۍ دے
زلمو راواغوندئ د کدر لباسونه (۱)

هم په دې گڼه کښې د هنگو په تعلیمي جلسه کښې د باچاخان د خطبه صدارت پاتې برخه ورکړے شوې ده. باچاخان هغه کمزورۍ په گوته کوي د کومو په سبب چې پښتون قام ورځ په ورځ وروستو کېږي.

هغه لیکي چې "زمونږ د صوبه سرحد د محکومیت او غلامۍ تقریباً څلورنیم شلې کاله وشو. په دې ټوله عرصه کښې د انګریزي تعلیم رواج هم د انګریزي استاذانو په ذریعه د صوبې په هره ضلع کښې شوے دے. امتحانونه باقاعده پاس کېدے شي. د یورپ د جامو په کامله وجه نقل شوے دے. هر طالب العلم نیکټایي، پتلون، لنډے کوټ، ښائسته ولایتي اعلي قسم بوټونه په ښهٔ فیشن اغوستل ازده کړي دي. مګر هغه Character یعنې اخلاق او ذهنیت چې په کوم باندې د یو قوم د ترقۍ انحصار دے هغوي کښې بالکل معدوم او مفقود دے. د دې وجه دا ده چې په کومه هوا په کومه فضا کښې چې د هغوي د روح پرورش کېږي هغه د زهرو نه ډکه ده. د هغوي ګرد و پیش د قسماقسم رکاوټونو او موانع نه ډک دے. ځائے په ځائے د هغوي د ذهني ترقۍ په لار کښې اغزي پراتهٔ دي. هېڅوک همدرد یارومددګار د هغوي نهٔ په کالجونو، نهٔ په سکولونو کښې شته دے چې د هغوي دپاره د اصلي تعلیم فضا پیدا کړي چې په کومه کښې د اخلاقو او د ذهنیت پرورش کېدے شي."[۲]

باچاخان دا هم ښکاره کړه چې دا سرکاري تعلیم د پښتنو د ضروریاتو دپاره هرګز کافي نهٔ دے. په کار خو دا دي چې دوي دې په دې تعلیم زور ورکړي چې پکښې ماشومانو ته د قومیت او د حریت درس ورکېدے شي. د دې علاج باچاخان داسې ګڼي چې "زمونږ تعلیم، زمونږ د قام پخپل لاس" کښې راشي. باچاخان دا مطالبه هم وکړه چې ابتدایي تعلیم دې په پښتو ژبه کړے شي. ځکه چې "په ابتدایي زمانه کښې د یو هلک دپاره د



ځومره مشکله او ګرانه خبره ده چې هغه په پردۍ ژبه کښې خپل خیالات ظاهر کړي. د خیالاتو په ازادۍ باندې ظاهرولو دپاره دا ډېره ضروري ده چې په کومه ژبه کښې هغه خبرې کوي په هغه ژبه باندې د هغې پوره عبور وي."[۳]

باچاخان دا هم ووئیل چې:

"په دې سلسله کښې زهٔ تاسو ته دا ډېر ضروري طور عرض کوم چې تر څو پورې پښتانهٔ ژبې له رواج ور نهٔ کړي تر هغې پورې به زمونږ په دې مطالبه هېڅوک غور نهٔ کېږدي.

مونږ پخپلو کښې هم یو تربله خطونه په اردو او په انګرېزۍ کښې لیکو. دا زمونږ د کم لیاقتۍ او د کم همتۍ لوئے دلیل دے. زمونږ علماء د خپلو خیالاتو اظهار په فارسۍ او په عربۍ کښې او موجوده تعلیمیافته په اردو او په انګرېزۍ کښې کوي."[۴]

باچاخان دلته د مېرمنو اهمیت هم په دې لړ کښې په ګوته کوي او وایي چې: "زهٔ تاسو ته د تجربې نه دا وایم چې پښتو ژبې له په رواج ورکولو سره به زمونږ ښځې هم په صحیح معنو کښې تعلیمیافته شي. داسې ډېر کم کورونه دي چې د هغوي بیبیانو له به پښتو نهٔ ورځي؛ مګر چون کهٔ په پښتو ژبه کښې دلیلي مجنون، فرهاد شیرینۍ، د نوروز غزلونه او د یو څو جنګنامو نه سېوا بل څهٔ علمي کتاب نشته دے. د دې دپاره زمونږ خوئیندې لونړه د خپل پښتو د تعلیم نه څهٔ فایده نهٔ شي اخستے."[۵]

باچاخان هم په دې تعلیمي کانفرنس کښې د ښځو په تعلیم هم ډېر زور واچولو. هغه په قسم قسم مثالونو ورکولو دا ثابتول غواړي چې څومره اهمیت چې د هلکانو د تعلیم دے، هم دومره

ضرورت د جینکو د تعلیم دے. باچاخان د رسول الله صلي الله علیه وسلم د دې حدیث مبارک نه د خپل تقریر دا برخه شروع کړه چې: "د علم حاصلول په هر مسلمان سړي او په هرې مسلمانې ښځې باندې فرض دے." هغه ښکاره کړه چې "ښځه د هر سړي نیم ځان دے، کۀ چرې د سړي نیم ځان مړ او بېکاره وي؛ نو دا نامکنه ده چې د هغې باقي ځان دې څۀ ترقي هم وکړي. ښځه او سړے د یوه ګاډي دوه پایې دي، کۀ چرې دواړه پایې یو شان جوړې نۀ شي؛ نو د ګاډي په چلېدو کښې به څومره حرج وي؛ بلکې د هغوي تربیت د سړو نه زیات ضروري او اهم دے. ولې چې د دنیا هر یو بچے خپله ابتدایي زمانه د مور په پرورش (غېږ) کښې تېروي. همدغه زمانه ده چې د دے پکښې ښۀ او بد عادتونه زده کوي او همدغه د بچي دپاره د اثرقبلولو زمانه ده.

"پس کۀ چرې مور ئې ناتعلیمیافته، بې علمه او ناتربیت یافته وي؛ نو هغه به د خپل بچي پرورش او تربیت څرنګ وکړي. زما په خیال په دې کښې هېڅ شک نشته او نۀ به په دې کښې څۀ مبالغه وي کۀ زۀ دا ووایم چې زمونږ د اخلاقو د تباهۍ او بربادۍ، زمونږ د محکومیت او غلامۍ ډېره لویه وجه دا ده چې زمونږ بیبیانې بې تعلیمه دي او د دوي د ناپوهۍ په سبب زمونږ د ورو ابتدایي پرورش او تربیت ډېر ناقص وي. زما په خیال په دې وجه د سړي د تعلیم نه د ښځو تعلیم ډېر ضروري دے؛ مګر دا مسئله هم داسې ده چې تر څو پورې قوم پخپله دې خبرې ته متوجه نه شي او د ښځو د تعلیم دپاره سکولونه او مدرسې پرا نۀ نیزي؛ تر هغې پورې به هېڅوک بل د هغوي دپاره دا کار ونۀ



کړي."(۶)

د اګست ۱۹۳۱ء په ګڼه کښې "د بایزو د زنانهٔ سپاسنامه په خدمت د جناب فخر افغان صاحب کښې" د مضمون د سر خط لاندې د لوند خوړ د جلسې په موقعه چې د هغه علاقې زنانهٔ کوم سپاسنامه د باچاخان په خدمت کښې وړاندې کړې وه. هغه او د هغې جواب د باچاخان له خوا شایع کړے دے. د ادارې د کشر چلونکي د طرفنه پرې د خپلو خیالاتو اظهار داسې کړے شوے دے.

"د بایزو د غیرت منو مېندو، خویندو دا دویم لایق د تحسین او د افرین قدم دے چې د قومیت په لاره کښې مخکښې ږدي. د پښتنو زنانهٔ د سپاسنامې ورکولو دا اول ځل دے چې هغه د لوند خوړ په جلسه کښې د دغې علاقې زنانهٔ د جناب فخر افغان صاحب په خدمت کښې پېش کړه. مونږ دې خوئیندو، مېندو ته په دې مبارک اقدام باندې تحسین او شاباسي پېش کوو او دعا کوو چې الله تعالي دې د سرحد ټولو زنانهٔ ته توفیق ورکړي چې د بایزو د دې خوئیندو مېندو په قدم باندې قدم کېږدي او د ملک او د قوم نوم روښانه کړي."(۷)

سپاسنامه

"زمونږ د ټولو خورلڼو (زنانهٔ) د غاړې (له طرفه) په خدمت د فخر افغان صاحب کښې پس له هر کلي او د سلام نه دا عرض دے چې:

یا فخر افغانه! مونږ ټولې په تا افرین وایو چې خدائے پاک ستا غوندې خېرخواه په قوم د پښتنو کښې زاوچت کړو. دا ټوله

د هغه مهرباني او ستا همت دے او ستا د تحریک د ترقۍ ستا په خدمت کښې مبارکي عرض کوو او خدائے پاک دې تاله ډېر زیات همت او طاقت درکړي. امین

خدایه ته کور زمونږه یو کړې
چې د دښمن رانه زر وخېژي لاسونه

هم تا دا بې خبره قوم راویښ کړو او زمونږ د خورلنو دې هم ډېره مرسته وکړه. مونږ ټولې زنانه ستا او ستا د ملګرو شکریه ادا کوو او دعا کوو چې خدائے دې تاسو له د دې تکلیفونو په دواړه جهانه خوږه مېوه درکړي. امین

د دې بې قیمته خبرو په منظورۍ امید دے چې زمونږ حوصله افزایي وکړئ او انشاءالله مونږ به ستاسو د نېکې مشورې تابع اوسو".

باچاخان ورته د سپاسنامې په جواب کښې ووې:

• "زما خوئینډو! زۀ ستاسو د مینې او د محبت ډکې سپاسنامې شکریه اداکوم او دا اوله موقعه ده چې زما زړۀ ته د یو خاص قسم خوشحالي محسوسېږي، ځکه چې زۀ به کله هندوستان ته لاړم او د هندوانو. پارسیانو زنانو قومي بیداري، اخلاص او جذبه به مې ولیده؛ نو زۀ به ورته په زړۀ کښې ډېر پسخېدم او وې به مې چې خدایه! داسې وخت به هم راشي چې زمونږ پښتنې زنانه به هم داسې بېدارې شي او د خپل ملک او قام د خدمت دپاره به ملا وتړي. د ډېرې مودې نه دا زما یو ارمان ؤ. دا زما یوه ارزو وه؛ نو الحمدلله زۀ نن د خدائے پاک ډېر



شکر ګوزار یم چې نن زۀ د هغې خپلې ارزو د پوره کېدو سامان په سترګو وینم. یا خدایه! ستا ډېر ډېر شکر دے چې زما په خوئینډو، مېندو کښې تا د وطن د خدمت جذبه پېدا کړه. یا الهي! دا هم ستا فضل او احسان دے چې زمونږ ناخبره او ناپوهه زنانه د ملت د خدمت دپاره خپل سرونه پېش کوي.

"اے زما خوئینډو مېندو! زۀ چې ستاسو په مظلوم حال باندې نظر وکړم؛ نو ما له ستاسو په دې بېکسۍ باندې ډېر رحم راځي او زۀ ستاسو په دې بې واکه ژوند باندې ډېر زیات خفه کېږم. ځکه چې الله تعالي خو ستاسو زمونږ سره سمه حصه مقرر کړې ده او پخپل نزد ئې ستاسو او زمونږ د نارینه ؤ هېڅ فرق نۀ دے ساتلے او د "اشرف المخلوقات" په ممتاز لقب کښې زمونږ او ستاسو حیثیت یو دے او کۀ چرې زمونږ د یو بل نه څۀ زیاتے کېدے شي؛ نو هغه په خویونو او ښۀ عمل سره کېدے شي.

د تاریخ نه د بعضې پخوانو زنانه ؤ حالات کۀ وکتے شي؛ نو داسې داسې عالمانې، تقوي دارې او شاعرانې زنانه په دنیا موجودې وې چې د هرې یوې نه په زرګونو نارینه قربان شه. دا خو زمونږ د قوم یوه زبردسته غلطي ده چې مونږ تاسو زنانه ؤ ته یوه ډېره ذلیله درجه درکړې ده. کۀ نۀ وي؛ نو زمونږ د نارینه ؤ او ستاسو په درجه کښې هېڅ فرق نشته.

اوس هم کۀ چرې تاسو نور غفلت پرېږدئ نو امېد دے چې ستاسو دا د ذلت عمر په عزت بدل شي؛ نو د دې دپاره تاسو له په کار دي چې پاځئ او کلي په کلي وګرځئ، خپلې ناخبره او مظلومې خوئینډې را بېدارې کړئ او څوک چې په تاسو کښې

پوهېږي؛ نو هغوي دې د دوي خدمت ته ملا وتړي." [۸]

باچاخان د اسلامي تاريخ نه ځينې مثالونه ورکړل او دې زنانه ؤ ته ئې په جار ووئيل چې کوم خدمت چې د اسلام په خورېدو کښې نارينه ؤ کړے دے زنانه ؤ هم په راستئ خدمت کړے دے. هغه دا هم ورته ښکاره کړه چې:

"اے زما خوئيندو! کۀ چرې مونږ ګټه وکړه او دا خپل وطن مو خپل کړو؛ نو مونږ تاسو سره دا کلکه وعده کوو چې تاسو ته به خپل حقوق درکړے شي. ولې چې تاسو زمونږ تن وجود يئ. مونږ ستاسو نه او تاسو زمونږ نه جدا نۀ يئ. الله تعالي خو په قران کښې ستاسو زمونږ سره سمه حصه مقرر کړې ده او ستاسو ئې په مونږ ډېر حقونه مقرر کړي دي؛ مګر تاسو چې نن داسې مظلومانې او بې اختياره يئ؛ نو دا ځکه چې مونږ د الله تعالي او د رسول صلي الله عليه وسلم احکامو ته شا کړې ده. نن مونږه رواجيان يو او په تاسو ظلمونه کوو؛ مګر بيا هم د خدائے احسان دے چې نن په مونږ کښې څۀ لږ ډېر احساس پيدا شوے دے او مونږ پوه شوي يو چې ستاسو او زمونږ نفع نقصان يو دے. ستاسو ذلت زمونږ ذلت دے او ستاسو ترقي زمونږ ترقي ده. د دې دپاره تاسو دعا کوئ چې خدائے پاک مونږ له کاميابي راکړي او مونږ تاسو له خپل حقوق درکړو او په دې تاسو ښه پوهه شئ چې تاسو به د پنګې خاوندانې شئ او ستاسو دا بده ورځ به ډېره زر ښه شي؛ مګر دا پکښې شرط دے چې تاسو زمونږ سره سمې د وطن د ازدولو دپاره ملا وتړئ.

"اې زما خوئيندو! اول نه اول فوراً د فيرنګيانو د وطن د



کارخانو زروکي اخستل پرېږدئ. د خپل وطن تيارې شوې کپړې اغوندئ. ځکه چې کۀ تاسو د فيرنګيانو د کارخانو کپړې اخلئ؛ نو ستاسو د وطن ګټه به د نورو ملکونو خلکو ته په لاس ورځي او مونږ به هم دغسې خوار اريان اوسو او کۀ چرې تاسو د خپل ملک جامې اغوستل شروع کړه؛ نو زمونږ دولت به زمونږ په وطن کښې پاتې شي او زمونږ د جولاګانو، تندأفانو، زميندارانو، کنډو رنډو حال به ښۀ شي. دا ياد لرئ؛ چې د ازادئ د دروازې کنجي ستاسو زنانه ؤ په لاس کښې ده. کۀ تاسو په اخلاص او په صدق سره نيت وکړئ؛ نو نن وطن ازادېږي او هغه به داسې وي چې خپل رونړه او بچي په شا وټپوئ او ميدان د عمل ته ئې وړاندې کړئ. خرڅونه کم کړئ او خپل نارينه پرې مجبوره کړئ چې د قام د خدمت دپاره تيار شي..." [۹]

هم په دې ګڼه کښې "د ساولډير د زنانه ؤ جلسه" د سر خط لاندې يو بل مضمون هم چاپ شوے دے چې د حميدالله له طرفه راستول شوے دے. په دې کښې د ۱۰ جولايي کال ۱۹۳۱ء د ساولډير د زنانه ؤ د جلسې تفصيلات ورکوي او وايي چې د جلسې صدره صاحبه ګل مرجانه چې د حافظ سيد محمود صاحب مرحوم بيبي ده. په جلسه کښې تقريرونه وشول او بيا دا تجويزونه پاس شو:

۱) مونږ په دې باندې اتفاق کوو چې د دې نه وروستو به د غېر ملکونو جامې (کپړې) نۀ استعمالوو: بلکې ټول به د خپل لاس خامتا اغوندو.

۲) مونږ د فخر افغان صاحب نه اجازت غواړو چې مونږه له

دا اجازت راکړي چې مونږه خان له جرګه جوړه کړو او خدائي خدمتګاراني بهرتي کړو. ولې کهٔ چرې د سرخپوشانو نه پوره نهٔ شوه؛ نو مونږ به باهر راوځو او کافي حصه به اخلو.

۳) مونږ ټولې دا وعده کوو چې کهٔ چرې د حکومت د طرف نه په مونږه زنانهٔ زور ظلم شروع شي؛ نو په ډېر صبر سره به ئې برداشت کوو.(۱۰)

باچاخان او د هغه ملګري د دسمبر په څلورويشتم تاريخ بيا ګرفتار کړلے شو او د هندوستان په مختلفو بندي خانو کښې واچولے شو. تقريباً شپږ کاله باچاخان خپلې صوبې ته حکومت راتلو ته نهٔ پرېښودو. د خوند خبره خو دا وه چې د کانګريس نور غړي د بنده خلاص وو؛ خو باچاخان او د هغه ځينې نزدې ملګري لا تر اوسه په مختلفو الزامونو بنديوان وو. په دې دوران کښې د حکومت له خوا د ګورنمنټ اف انډيا ايکټ کال ۱۹۳۵ء لاندې د انتخاباتو اعلان وشو. د هندوستان د نورو صوبو په شان دلته هم ووټونه وشو چې پکښې کانګريس او د هغو ملګرو وګټله. د باچاخان د مشر ورور ډاکټر خان صيب په مشرۍ کښې صوبايي کانګريس خپل وزارت جوړ کړو او د ډېرې مودې پس يو ځل بيا "پښتون" جاري شو. دا ځل "پښتون" د مياشتيني په ځائے لس ورځنے شو.

د ۲۱ مۍ کال ۱۹۳۸ء په "پښتون" کښې د عبدالاکبر خان اکبر يو څو شعرونه چاپ شو چې سر خط ئې "د يوې بې تعليمې ښځې خپل خاوند ته" ورکړلے شوے ؤ. د شعرونو بيان هم د ښځو د تعليم اهميت ؤ ليکي چې:



اې چې تورتم د جهالت کښې يمه ستا د لاسه
کوې په ما باندې بدګماني او هسې نيت لرې تهٔ

دا چې بچي هميش په سخا او په بېکار بلې تهٔ
کړې زوزان او بيا تر طمعه د نکهت لرې تهٔ

لږ په ګرېوان کښې کړه سر ښکته حال زمونږ وګوره
داسې روزګار، داسې سلوک، پښتو او شرافت لرې تهٔ

چې مودې عمر د څوپايو سخا غوبل کښې يمه
بيا رانه څهٔ طمعه د فهم و لياقت لرې تهٔ

دا د بچو ملزمه واړه به وي ستا په غاړه
څهٔ به جواب کړې کهٔ ايمان په خدائے، قيامت لرې تهٔ

لکه قصاب زما د سر و جان سودا کوې ته
بيا به څهٔ طمعه د وفا او د شفقت لرې تهٔ

ما خو کړو ځان او تن په تا باندې قربان صنمه
عجيبه شان د اشنايئ د پت مروت لرې تهٔ

چې تمام عمر ئې زمونږ په ترخ او غېږ کښې تېر شي
بيا څهٔ اميد ترې د "غازي"، "کمال"، "شوکت" لرې تهٔ

چې پاک اولاد غواړې پيدا کړه ورته پا کهٔ غېږه
دا کهٔ څهٔ خيال د ننګ ناموس او د دولت لرې تهٔ

کـالې زمـا کـړه علم وفـن، کـړه ائینـه مـو صـفا
کۀ شوق پـه زړۀ کښې د صفا زیب و زینت لرې تۀ

چې دې یاري کړم د لحد د تورو خاورو پورې
په ما تۀ څۀ ازباته وې او څۀ الفت لرې تۀ.“(۱۱)

د اکتوبر کال ۱۹۳۸ء د "پښتون" په اداریه کښې د باچاخان مضمون د "پښتنو ښځې" د سر خط لاندې چاپ شو. پخپل مضمون کښې باچاخان د پښتنو د ښځو نه ډېره لویه ګیله کړې وه چې دوی ولې "پښتون" کښې د چاپ کېدو دپاره خپل مضامین نۀ رالېږي. هغه ووئیل چې "هر کله چې "پښتون" جاري شو؛ نو زما خیال وُ چې اوس به د پښتنو په ښځو کښې داسې ډېرې پیدا شوې وي چې "پښتون" ته به د ښځو متعلق ښۀ ښۀ مضمونونه رالېږي. لیکن زۀ افسوس کوم چې په انتظار کښې زما صبر تمام شو. تاسو ته به یاد وي چې د "پښتون" په مخکینیو پرچو کښې به اکثر د ښځو د طرف نه ښکلي ښکلي مضمونونه شایع کېدل. لیکن افسوس دے چې دا ځل "پښتون" جاري شوے دے؛ نو تقریباً شپږ میاشتې وشوې. لیکن د ښځو د طرف نه صرف یو مضمون راغلے دے او هغه هم د بمبئی نه یوې ښځې رالېږلے وُ. ما هم څۀ نا څۀ کوشش کړے دے، ډېرو سړو ته مې وئیلي دي چې کوشش په کار دے چې په دې پرچه کښې د ښځو د طرف نه ضرور یو مضمون دوه شایع کېږي او بعضې دوستانو مې د دې پورې وئیلي دي چې تاسو د ښځو متعلق کله نا کله مضمون لیکئ. لیکن په دې معامله باندې نۀ د ښځو د طرف نه



مضمون راغلو او نۀ د سړو د طرف نه امداد وشو. معلومېږي چې پښتنانۀ تر اوسه پورې د خپلو خوئیندو، لوڼو د اصلاح او وچتولو ته تیار نۀ دي.

"لیکن زۀ به خپلو پښتنو ورونړو ته دا ووایم چې تاسو د دنیا تاریخ وګورئ چې تر کومه وخته پورې د یو قوم ښځې رابېدارې شوې نۀ وي هغه قوم بیدار شوے نۀ دے. تر کومه وخته پورې چې د یو قوم ښځې وچتې شوې نۀ وي هغه قوم وچت شوے نۀ دے، کوم وخته پورې چې د یو قوم ښځو ملا ترلې نۀ وي هغه قوم ازاد شوے نۀ دے. ښځه او نر د ګاډي دوه پایې دي او ګاډے چرې په یوه پایه تلے نۀ شي او تاسو په دې خبرې باندې هم لږ غور وکړئ چې د مور غېږه د بچو اوله مدرسه ده. د بچو ټول تربیت خو د هغوي په لاس کښې دے او هم د دې بچې نه قوم جوړېږي؛ نو چې څرنګ د یو قوم بچي وي؛ نو هم هغه رنګ به قوم وي. پلار کۀ ډېر هوښیار او لایق شي په بچو ئې دومره اثر نۀ وي لکه چې څومره د مور وي. د لایقې مور بچې اکثر لایق وي. د تعلیمیافته مور بچې اکثر تعلیم یافته وي.“(۱۲)

باچاخان دا هم زیاته کړه چې:

"د قوم هېڅ رسم و رواج، تمدن او معاشرت تر هغې وخته پورې ترقي کړې نۀ ده چې تر کومه وخته پورې د هغې قوم ښځو هم محسوس کړې نۀ ده او د هغې د اصلاح دپاره ئې ملا ترلې نۀ ده. زۀ په دې باندې نور زیاتي لیکل نۀ غواړم. لیکن خپل پښتون قام ته دومره عرض کوم چې اې ورونړو! کۀ چرې تاسو خپل قوم، قوم کول غواړئ او د هغوي اصلاح کول غواړئ؛ نو خپلو ښځو

ته توجه وکړئ، هغوي ښځې کړئ او د هغوي اصلاح وکړئ". (۱۳)

د باچاخان په اواز د پښتنو ښځې راپورته شوې. هغوي په ګڼ شمېر کښې په "پښتون" کښې خپل لیکل د چاپ دپاره راستول شروع کړل. د ۲۱ اکتوبر کال ۱۹۳۸ء په "پښتون" کښې د سیده بشري بېګم چې وروستو بیا په س ب ب مشهوره شوه. د هغې خط او ځینې شعرونه ئې د "د پښتنو ښځې او د یوې خور خط" د سر خط لاندې چاپ کړل. دې درنې پښتنې د ستائینې د ابتدایي ټکو (تورو) نه پس په جار ووئیل:

"زمونږ سرداره! د پښتون قام تباه حالت او د ښځو بې خبرۍ ته چې ګورم؛ نو د اوښکو په ځائے وینې څڅوم؛ مګر افسوس! څۀ کولے شم؟ دې کښې شک نشته چې پښتانۀ تر اوسه پورې د خوئیندو او لوڼو اصلاح او وچتولو ته تیار نۀ دي. باوجود د دې چې دا ورته په ښۀ شان سره معلومه شوېده چې هغه قوم هېچرې د ترقۍ په معراج نۀ شي ختے چې د کوم قوم ښځې ئې بې تعلیمه او غافله وي؛ مګر په پښتنو کښې د ښځو بېداري شرم ګڼلے شي.

"د قوم غمخواره! اول خو په پښتنو کښې بیداري او د قوم په غم غمژنې او په درد درد مندې ښځې شته نۀ او کۀ وي؛ نو هغوي سپوا د خپلو زړونو د وینو د خوراک نه بل هیڅ هم نۀ شي کولے.

"کاش! د قوم د همدردانو توجه څۀ لږ شان زمونږ د مظلومې طبقې په طرف راوګرځېدے او زمونږ د اصلاح او د تباه حال د درستۍ دپاره ئې کوشش وکړلے، زمونږ د قلم نه او زمونږ د لاسو پښو نه ناجایزې پابندۍ پورته شوې چې مونږ هم دنیا ته د اصلي



مسلمانۍ او د پښتو د غېرت ثبوت ورکړلے.

"اې غېورو پښتنو! د اسلام تاریخ وګورئ چې په هر جنګ کښې ښځو د سړو سره امداد کړے دے کۀ نۀ؟ اخر په کوم سبب تاسو زمونږ بیداري نقصان ګڼئ؟ کۀ لږ غور وکړئ؛ نو د قوم د تنزل وجه د ښځو غفلت دے. کۀ د خپلې ترقۍ او د قوم د بېدارۍ خواهش لرئ؛ نو د ښځو د بیدارۍ اسباب ولټوئ چې قوم ټول بیدار شي". (۱۴)

هم په دې ګڼه کښې بشري بېګم د جناب عبدالاکبر خان اکبر صاحب په نظم تضمین کړے دے لیکي چې:

څۀ به جواب کړې کۀ ایمان پۀ خدائے قیامت لرې تۀ
د لور او زوئے په مینځ کښې فرق د محبت لرې تۀ

زوے دې مالک شي د لکونو، لور محرومه پاتې
دا دې پښتو ده د پښتو رسم غېرت لرې تۀ

خرڅ په تعلیم د زوے دې وکړلو زرګونه روپۍ
د لور تعلیم کول په خیال سره ذلت لرې تۀ

د جهالت په حال کښې لویې لوڼه څۀ به وکړې
ورنه څۀ طمعه د وطن او قوم خدمت لرې تۀ

مونږ ته په بار بار چې پېغور د جهالت راکوئ
ذمه واري په کوم فریق د دې لعنت لرې تۀ

کۀ انصاف وکړئ د زنانهٔ طبقه ده مظلومه
صاحبه کله خیال زمونږه د شوکت لرې تهٔ

دې کښې شک نشته ښځې دې د هر وطن بیدارې
د خپله لاسه دا زمونږ خوب د غفلت لرې تهٔ

دا ائینده نسلونه ټول به وي همدغه شانې
کۀ د زنانهٔ بې علمي داسې صفت لرې تهٔ

کامیاب به نۀ شې تۀ یواځې د سړو په اصلاح
کۀ خیال د قوم د ترقۍ او د عزت لرې تهٔ

چې د بې علمۍ په جولۍ کښې وي لوئې شوے معصوم
وایم امید څهٔ د هغې د لیاقت لرې تهٔ

د زنانهٔ په تعلیم ترقي ترکو کړې
عمل یقین په وصیت د "مدحت" لرې تهٔ

مونږه یو واړه تابعدارې د پلارانو وروڼو
ووایه کوم بدل زمونږه د الفت لرې تهٔ

مونږ پښتنې لکه د ترکو په تعلیم ښائیسته کړئ
کۀ شوق زمونږه د اصلي زیب او زینت لرې تهٔ

مونږ په کالو او په جامو دې ښائیسته نۀ شو کله
کۀ مونږ د پاره اصلاحي زیور دولت لرې تهٔ



زمونږ د ښځو په تعلیم به ترقي کوي قوم
کۀ دې غریب قوم سره حب په صداقت لرې تهٔ

بس سوال مې دا دے خیال زمونږه د اصلاح وساتئ
قومي همدرده کۀ په مونږه شفقت لرې تهٔ (۱۵)

هم په دې ګڼه کښې یوې بلې خور نورجهان بېګم د "فریاد" د سر خط لاندې دا لاندینې شعرونه چاپ کړل:

مهٔ ژاړه دله دلته اوښکې تویول منع دي
د سرحد ښځو ته اخبار کتاب کتل منع دي

قومونه واړه کوي قدر د بېدارو ښځو
زمونږ د قوم د زنانهٔ ویښول منع دي

زمونږ حقوق ټول پایمال کېږي جهالت دلاسه
له اصلي حال د اسلام مونږ ته خبرول منع دي

د هندوستان ښځې خدمت کوي د قوم او وطن
مونږ ته په کور کښې د مضمون شعر لیکل منع دي

په زنځیرونو د ذلت به یو تړلي همېش
زمونږ په زور سره د دې زنځیر شلول منع دي

د تنزل په غار کښې مونږه به پرتې یو داسې
له دغې کندې مونږ ته سر پورته کول منع دي

ظالمانه سلوک به تل کېږي زمونږه سره
د انصاف لفظ په خوله مونږ ته اخستل منع دي

چې د خزان وېره باقي ده خوشحالي مه کوه
ګلابه تالره په ډ کۀ خوله خندل منع دي[۱۶]

د ۱ نومبر کال ۱۹۳۸ء په ګڼه کښې ماهر سلطان د "زنانه ؤ ته د تعلیم ضرورت" د سر خط لاندې یو مضمون چاپ کړے دے. د ماهرسلطان په مضمون باندې د چلونکي تبصره څۀ داسې رنګ ده چې دا مضمون د ازادسکول اتمانزو یوې ورومبی طالب علمې رالېږلے دے. د هغې د کم عمر او ناتجربه کارۍ په وجه د ډېر ښۀ عالمانه مضمون توقع ترېنه لرل نۀ دي په کار. ولې بیا هم هغې په دې مضمون کښې چې د کومو خیالاتو اظهار کړے دے د هغې قدر په کار دے.

دې لیکوالې ډېر په ښه توګه د اسلامي تاریخ د اولیني دور نه دا ثابته کړې ده چې زنانه ؤ د خپلو نارینه ؤ سره اوږه په اوږه د اسلام خدمت ښه په نره کړے دے او په غزاګانو کښې ئې هم ورسره ملاتړې کړې ده او رسول الله صلي الله علیه وسلم هم زنانه ؤ ته د علم د حاصلولو ترغیب وخت په وخت کړے دے؛ خو لیکي چې:

"مګر نن په مسلمانانو کښې زیات داسې خلک دي چې د مذهبي رنګ په شکل قوم ته دهوکه ورکوي. زۀ چې څومره په خپل کور کښې ناسته اخبارونه ګورم او د ځنې مسلمانانو غلطې پروپېګنډې وینمه چې هغوي د قوم د ازادۍ په لاره کښې کوهے



کنستونکي دي؛ نو ماله په دې ډېر افسوس راځي."[۱۷]

ماهر سلطان د یورپ د ترقۍ راز د هغوي د زنانه ؤ او د نارینه ؤ دواړو په یوه شان د علم حصول ګڼي او بیا لیکي چې وګورئ دواړه څنګه بیا د خپل وطن د خدمت په تکل یو شان لګیا دي او بیا د هغوي موازنه د خپلو زنانه ؤ سره کوي او لیکي چې:

"څومره چې زۀ د سرحد د زنانه ؤ په حال غور کوم؛ نو ماته ډېر خفګان راځي چې دوي ته مطلقاً د انسانیت نظر نۀ کېږي. نۀ د دوي د تعلیم طرف ته څۀ توجه شته. دوي ته صرف د ځاروُ نظر کېږدے شي."[۱۸]

لیکوالې بیا د تعلیم څۀ فوائد بیان کړي دي او هغه ئې ډېره په خوندنا کۀ طریقه د پښتنو د زنانه ؤ د تعلیم سره تړلي دي لیکي چې:

"(۱) کۀ چرې په محله کښې صرف یوه زنانه تعلیمیافته وي او هغې له څۀ اخبار یا رساله راځي؛ نو هغه به د خپل ګاونډ هغه نورې بې تعلیمه زنانه د دنیا د واقعاتو نه خبروي. (۲) کۀ چرې د چا واړۀ بچي وي او هغوي د غریبۍ په وجه استاذ نۀ شي نیولے او یا د غریبۍ او د دنیا د روزګار په وجه سره د مدرسې وخت نۀ شي پوره کولے لکه څۀ رنګه چې د کلو او بانډو د زمیندارو بچي وي چې هغوي غوا مېښې څروي او د تعلیم غونډې ښې قیمته شي نه محرومه پاتې کېږي؛ نو کۀ چرې د هغوي زنانه ؤ تعلیم کړے وے او دغې بچو ته ئې د فرصت په وخت کښې یوه ګېنټه تعلیم د قران شریف او د خط کتابت ورکولے؛ نو هېچرې به د

هغوي بچي بې تعليمه نۀ وے پاتې شوي او د حيوانت زندګي به ئې نۀ تېرولہ. (۳) دا بالکل د تجربې خبره ده چې بچي د مور او پلار اخلاق زده کوونکي وي، کۀ د هغوي اخلاق نېک دي؛ نو د بچو اخلاق ئې هم ښۀ شي او کۀ د هغوي اخلاق خراب وي؛ نو لازماً بچي ئې هم خراب شي؛ نو د دې وجې نه په ابتدايي عمر کښې د بچو په ښو اخلاقو پيدا کولو باندې غور کول په کار دي. ځکه چې د اولاد د بد اخلاقۍ داغ ځان له په بچو محدود نۀ دے؛ بلکې د ټولو نه ورومبے د والدينو په جامه باندې دغه بد نما داغ تاثير کوي. چونکې د بچو ابتدايي عمر تعلقات د مور سره وي؛ نو کۀ چرې هغه تعليم يافته وي او هغه خپلو بچو ته نېک اخلاق وښايي؛ نو ممکنه ده چې د هغوي اخلاق ښۀ شي او د ائينده عمر دپاره دا کومه بدامني چې د بداخلاقۍ نه پېدا شوې ده ورکه به شي. (۴) د يوې تعليميافته او د يوې بې تعليم زنانه د بچو پرورش کښې ځۀ ډېر فرق دے. بې تعليمه زنانه د بچو د صفايۍ او د هغوي د صحت چندان پروا نۀ کوي او نۀ هغو له خوراک ښناک په وخت مقرره وي ولې چې بې اعتدالي همېشه د مرض سبب ګرځي او د دې په مقابله کښې د يوې تعليميافته بې بې بچي ځنګه صفا ستهره او تندرست وي.[۱۹]

د ۱۱ نومبر کال ۱۹۳۸ء په "پښتون" کښې د نګينې له خوا د "يوې خور فرياد" د شعرونو په شکل کښې چاپ شو. هغه بغېر ځۀ د وېرې نه په ځرګنده وايي چې زمونږ دښمن نور ځوک نۀ بلکې هم پښتانۀ دي. ځکه چې ځان له خو قسم قسم حقونه او ازادي غواړي او مونږ ئې هم هغه شان د جهالت په تورو تېرو



کښې ساتلي يو. د تعليم نه ئې ډېرې لرې او محرومه ساتلي يو. هغه وايي چې لږ خو دې ته هم نظر ادا کړئ چې کۀ چا زمونږ په همدردۍ کښې ځۀ لږ ډېر وئيل غوښتل؛ نو هغه ئې بيا د فتوو په توپو کاپر کړے دے. مثال ئې د امان الله خان ورکوي چې د هغه ټولو کښې لوئے جرم د ښځو سره خواخوږي او همدردي وګرځېده او ځينې مفادپرستو ملايانو پرې د کفر فتوې جاري کړې وايي چې:

ځناور هم داسې نشته په دنيا کښې
چې جوړ شوے ورله داسې سخت قانون دے

چې پخپله ازادي غواړي پښتونه
خراب کړے دې زمونږ ولې ژوندون دے

چې سنګار ئې د تعليم د زېور نۀ وي
هغه ښځې نارينه ؤ له طاعون دے

کۀ له مونږ قومي خدمت پښتانۀ غواړي
تعليمي پهلو زمونږ ولې زبون دے[۲۰]

هم په دې ګنه کښې د س ب ب شعرونه هم "د زړۀ طوطي د کور قفس نه هواګير دے زما" د سرخط لاندې چاپ شوي دي. په دې شعرونو کښې ښاغلي ليکوالہ وايي چې کۀ ځوک دا وايي چې پښتنې د شريعت په ضد کارونه کول غواړي؛ نو دا بالکل غلطه خبره ده. په هېڅ حال هم به مونږ د شريعت نه خلاف هېڅ قدم

پورته نه کړو. هغه وايي چې:

ما په ايران، مصر، عراق، ترکو کښې وننه ليده
هغه پرده چې نن دلاسو پښو زنځير دے زما

او

چې په تباه حال د افغان مې نظر وکړو په غور
پښتونه ستا د تنزل اسباب تقصير دے زما

ما د قومونو د اقبال نه چې پوښتنه وکړه
وايي هغه چې تعليمي حاجت کثير دے زما

زۀ چې د خوئيندو پښتنو د تعليم بند ترمه
عمل پرې څۀ چې لوئے قصور دغه تدبير دے زما

د پښتون ښځې بېدارومه د قلم په اواز
قوم د افغان کښې بې شک دا جرم کبير دے زما

هم خيالې خوئيندې د افغان قوم کښې پيدا مې نۀشوې
ځکه د زړۀ په وينو هر مضمون تحرير دے زما"[۲۱]

س ب ب په جار باندې د هغه وخت ملايانو ته دا هم وايي چې کۀ هر څومره د ستاسو په مذهب باندې تاسو کمال اتاترک وغېره دهريه کڼې: خو دا درته صفا وايم چې د هغه د اصلاحاتو په سبب هغه په مونږ باندې دومره ډېر ګران دے چې کۀ په مونږ د کفر فتوې لګوئ؛ نو مونږ ورته تيار يو.



د ۱۱ ستمبر ۱۹۳۸ء د "پښتون" په ګڼه کښې د ښځو نمائندګي ډېره زياته ده. داسې ښکاري چې د باچاخان خواستونه او اپيلونه چې کوم هغه وخت په وخت دوي ته کول، هغه ځائے ونيو. ځکه چې نظم او نثر دواړه مېدانونو کښې ښځو د خپلو نارينه ؤ سره څنګ په څنګ زغل کړے دے.

"پښتنو خوئيندو ته" د سر خط لاندې د نورجهان بېګم څۀ شعرونه دي. ليکوالې پښتنو ښځو ته وئيلي دي چې د جهالت د تور تم نه ځان راوباسه او د هندوستان د نومورو تاريخي مېرمنو چې پکښې چاند بي بي، سلطانه، رضيه او نور جهان شاملې دي د هغوي د حالاتو نه ځان خبر کړه چې څنګه هغوي په خپله مېړانه او توررزنۍ د هندوستان په تاريخ کښې يو اهم حيثيت لري او هم ورته نصيحت کوي چې د ځان خيال په پخپله ساتئ. ځکه چې:

يو باغبان ستا د دې باغ خصمانه نۀ کړي
ته په خپله خوږ د دغې باغ ثمر کړه

جهالت او ناپوهي دې کور برباد کړو
ته په ځان کښې را پيدا علمي جوهر کړه

ته زره په خاورو پټه به تر څو ئې
په جهان کښې ځان ښکاره لکه د نمر کړه

خودغرضه خود مفلسه مه شه خورې
د قوم مينې کښې قربان خپل سيم وزر کړه

توکل کړه په الله مېدان له وځه
پیدا ځان کښې د همت بال او وزر کړه

د هر چا په مخ کښې ته ښکاربږي سپکه
همت وکړه ځان ګوهر د سمندر کړه(۲۲)

هم په دې ګڼه کښې د خالده ادیب خانم د 'Inside India' یعنې 'د هندوستان دننه' نومي کتاب ترجمه میا سید رسول رسا چاپ کړې ده. د هغه د مضمون سرخط 'یو قومیت او خان عبدالغفار خان' دے چې په اصل کښې دا د خالده ادیب خانم د کتاب د یو باب ترجمه ده.

ښاغلې لیکواله د خپل لیک ابتدا په هندوستان کښې د قومیتونو نه کوي. هغه لیکي چې اوس وخت راغلے دے چې د هندوستان اوسېدونکي خلک بلا تفریق د مذهب دې دا فیصله وکړي چې هغوي دا خپل وطن هندوستان په مختلفو قومیتونو کښې وېشل غواړي او که نهٔ د ملک په وحدانیت یقین لري. بیا لیکي چې د هندوستان ځینې قام پرست مسلمانان چې پکښې ډاکټر انصاري غوندې خلک هم شامل دي، دوي د خپل ملک دپاره د وحدانیت د خیال مرسته کوي. د دې مسلمانانو سره سره ځینې نور هم داسې خلک په دې وطن کښې موجود دي چې په هغوي کښې باچاخان هم شامل دے. د هغه او د هغه د تحریک په ډېره ښه توګه پېژندګلو کوي او لیکي چې:

'په صوبه سرحد کښې او په ازادو قبایلو کښې وخت بې وخته سیاسي، مذهبي تحریکونه مذهبي مشرانو ډېر وچت کړي



دي؛ خو د عبدالغفار خان د خدائي خدمتګارۍ تحریک چې په غلطۍ سره په سرخپوشۍ مشهور دے یو امتیازي سیاسي تحریک دے.

یو څو خاص خبرې چې د خدائي خدمتګارۍ تحریک کښې بیا موندلې شي لاندې درج کوم:

۱) د سرحد د نورو مذهبي سیاسي تحریکونو مقصد واضحه نه وي. هغه د الله په نوم د جهاد په شکل کښې د مذهبي پېشوا د مشرۍ لاندې شروع شي؛ خو د غازیانو په مزغو کښې د جهاد مفهوم او مقصد واضحه نه وي. نتیجه ئې دا وي چې جهاد وشي تحریک ختم شي او هېڅ خاص مقصد یا نصب العین حاصل نه شي؛ خو د خدایي خدمتګارۍ تحریک یو داسې مذهبي سیاسي تحریک دے چې مقصد ئې هر چاته معلوم دے او نصب العین ئې هر چاته ښکاره دے. یعنې د دې تحریک هر غازي د وطن مکمله ازادي حاصلول خپل فرض ګڼي او په دې جهاد کښې د خپل سر او مال د قربانۍ دپاره هر وخت تیار اوسي.

۲) د سرحد نور مذهبي سیاسي تحریکونه د یوه سړي په رسوخ په غېر منظمه طریقه لکه د طوفاني موج په شان اوچت شي او څهٔ موده پس پخپله ساړه شي. څهٔ بنیادي یا استعماري کار ونه کړي، برخلاف د دې نه د خدائي خدمتګارۍ تحریک په یوه منظم شکل کښې شروع شوے دے او د یو خاص نصب العین د حصول دپاره یو پرامن او منظم او کامیاب جنګ ئې کړے دے د دې تحریک کارفوري نه دے، تعمیري او بنیادي دے.

۳) د خدائي خدمتګارۍ تحریک مقصد هم مذهبي دے، هم

سياسي دے. په دې غرض هغوي د کانګريس د اصولو سره اتفاق کړے دے. کانګريس يو داسې ټولے دے چې د ټول هندوستان دپاره مکمله ازادي غواړي او ظاهره ده چې ددې مقصد د حصول دپاره د هندوستان د ټولو قومونو اتفاق په کار دے او کانګريس په هندوستان کښې هم دغه کار کول غواړي. په دې وجه خدائي خدمتګارانو هغوي سره اشتراک عمل کړے دے.

۴، د خدايي خدمتګارۍ نه وړاندې د سرحد مذهبي، سياسي تحريکونه صرف د سرحدي صوبې تر حدونو يا صرف د سرحد تر مسلمانانو پورې محدود وو. خدائي خدمتګارۍ په خپله لمن کښې يو لوئے او افضل مقصد ته ځائے ورکړے دے. په خدائي خدمتګارو کښې تنګ نظري نشته. هغوي د عالمګير اخوت قايل دي او د ټول هندوستان مجموعي نجات غواړي.

۵، د صورت حالاتو مطابق د خدايي خدمتګارۍ د تحريک امتيازي شان علاوه د نورو خبرو د عدم تشدد په طريقه د هندوستان د ازادۍ دپاره پر امن جنګ کول دي.[۲۳] مضمون پوره نه دے شايع شوے او د "تور بيا" د ليکلو سره نيمګړے پاتې دے.

هم په دې ګڼه کښې د نګينې خور له خوا "د ښځو مدرسې" د سر خط لاندې يو مضمون هم شايع شوے دے. ليکي چې د ښځو اهميت د سړو دپاره د يوې قيصې نه څرګندول غواړم. وايي چې په ازاده علاقه د مهمندو کښې يو ملک ؤ چې د هغه ښځه مړه شوه؛ نو يو ملګرے ئې د فاتحې دپاره راغلو. هغه چې وليدو؛ نو



ملک صيب ډېر زيات خفه ؤ. دې ملګري ورته په توقه کښې ووئيل چې ملک صيب ګنې چې ښځه دې ډېره خوښه وه چې دومره زيات ورپسې خفه ئې. ملک صيب ورته په جواب کښې ووې:

"زما روره! خفه کېږم به نا؟ يو مې ښځه مړه ده، يو مې وزير مړ دے، يو مې څوکيدار مړ دے، دهوبي، جرنده ګړهے، غوبه، شاخيل، سپاهي، نانبائي، ګلکار مې مړ دے. زما روره! که زهٔ خفه يم نو خفګان مې په ځائے دے. ځکه چې زما ښځې ماله دا ټول کارونه کول او چې هغه مړه شوه؛ نو دا ټول زما په ذمه شو."[۲۴]

ښاغلې ليکواله وايي چې وګورئ ددې قيصې نه عبرت واخلئ. ځکه چې "که ښځه تعليميافته" وي؛ نو د سړي د زندګۍ څومره طرفونه ښه کولے شي او که چرې بې تعليمه وي؛ نو ستاسو د زندګۍ څومره طرفونه به خراب کړي؛ خو رښتيا خبره خو داده چې تاسو زمونږ د تعليم انتظام ولې نه کوئ. ځکه چې ستاسو خو هم د تعليم سترګې رندې دي او په تاسو کښې ډېر کم خلک دي چې هغوي کښې د تعليم د ضرورت احساس شته او په دې پوهېږي چې بې تعليمه انسان په دنيا کښې هېڅ نه شي کولے ولې که تاسو تعليم ونه کړئ؛ خو قصور ستاسو دے ځکه چې د ستاسو د تعليم دپاره خو مدرسې شته؛ مګر خواره خواري زمونږه ده. ځکه چې زمونږ د تعليم دپاره هېڅ انتظام هم نشته څومره قابل افسوس خبره ده. زمونږ څومره لوئې لوئې کلي دي که يوه يوه دړۍ دانې په فصل کښې د کور په سر راغونډېږي: نو يه

هغې هم زمونږ مدرسې چلېدے شي؛ نو بيا وګورئ چې په مونږ کښې د تعليم د حاصلولو څومره شوق دے او مونږ تاسو سره په ټولو دنياوي کارونو کښې څومره امداد کولے شو؟

امید دے چې زما دې تجويز ته به زما پښتانۀ رونړه ډېر زر عملي جامه ورواغوندي او زمونږ نه به په تعليم حاصلولو کښې رواجي پابندۍ اوچتې کړي"[۲۵]

ددې نه پس هم د نګينې خور څۀ شعرونه د "پښتنو ښځو ته خطاب" په نوم هم په دې ګڼه کښې چاپ شوي دي ليکي چې:

کۀ مونږ ښه نه کړو په خپله خپل حالت
زندګي به تېروو د ذلالت

همېشه به مو ملګرې بده ورځ وي
په پنجره کښې به بندې يو ترقيامت

سړي هم منې زمونږه هره خبره
زندګي زمونږه ده د شراکت

ښه جامې د سروکالي ترې مدام غواړو
په فيشن زياتوو مونږ د ځان زينت

زما خوئيندو کۀ سره زر څوک په خربار کړي
هغه خر به انسان نه شي په دولت

چې جوهر د تعليم نه وي په انسان کښې
نه حيوان دے نه انسان دے سلامت



په سړي او ښځه يو شان علم فرض دے
هم پرې فرض دے يو شان قومي خدمت

هره ښځه دې خپل رور او پلار مجبور کړي
هم خاوند دې په ښه شان کړي ملامت

چې زمونږه د تعليم انتظام دې وکړي
او په مونږ کښې شي پيدا انسانيت

د سرحد نيمه دنيا به شي ودانه
په کوهي کښې ده پرته د جهالت

عاقبت به کړي پرده د مخ نه لرې
نګينه چې کړي د ښځو وکالت[۲۰]

لکه چې ووئيلے شو چې د باچاخان خواستونو ځانې ونيولو او پښتنو ښځو په ډېر لوئے شمېر کښې "پښتون" ته خپل مضمونونه د چاپ دپاره راستول شروع کړل.

## حواله جات:


۱. پښتون جون–جولايي کال ۱۹۳۱ ص: ۵۳
۲. پښتون جون- جولايي کال ۱۹۳۱ ص: ۵۴
۳. پښتون جون - جولايي کال ۱۹۳۱ ص: ۵۷-۵۸
۴. پښتون جون– جولايي کال ۱۹۳۱ ص: ۵۸

۵. پښتون جون – جولايي کال ۱۹۳۱ ص:۵۹
۶. پښتون جون – جولايي کال ۱۹۳۱ ص:۵۹-۶۰
۷. پښتون اګست کال ۱۹۳۱ ص:۱۷
۸. پښتون اګست کال ۱۹۳۱ ص: ۱۷-۲۰
۹. پښتون اګست کال ۱۹۳۱ ص:۲۱-۲۲
۱۰. پښتون اګست کال ۱۹۳۱ ص: ۳۲
۱۱. پښتون ۲۱ مې کال ۱۹۳۸ ص:۹
۱۲. پښتون ۱ اکتوبر کال ۱۹۳۸ ص: ۵-۶
۱۳. پښتون ۱ اکتوبر کال ۱۹۳۸ ص:۶
۱۴. پښتون ۲۱ اکتوبر کال ۱۹۳۸ ص:۱۳-۱۴
۱۵. پښتون ۲۱ اکتوبر کال ۱۹۳۸ ص:۱۵-۱۶
۱۶. پښتون ۲۱ اکتوبر کال ۱۹۳۸ ص:۱۶
۱۷. پښتون ۱ نومبر کال ۱۹۳۸ ص:۲۴-۲۵
۱۸. پښتون ۱ نومبر کال ۱۹۳۸ ص: ۲۵
۱۹. پښتون ۱ نومبر کال ۱۹۳۸ ص: ۲۵-۲۶
۲۰. پښتون ۱۱ نومبر کال ۱۹۳۸ ص:۴
۲۱. پښتون ۱۱ نومبر کال ۱۹۳۸ ص:۳۴
۲۲. پښتون ۱۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ ص:۷
۲۳. پښتون ۱۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ ص: ۲۰-۲۳
۲۴. پښتون ۱۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ ص:۲۴
۲۵. پښتون ۱۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ ص: ۲۴-۲۵
۲۶. پښتون ۱۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ ص: ۲۵




# کۀ ننګيالي ځلمي په شا شو
# فخر افغانه جينکۍ به دې ګټينه

د ۲۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ء په ګڼه کښې د خالده اديب خانم د مضمون "متحده قوميت او فخر افغان" دوئمه برخه چاپ شوه. ددې ترجمه ميا سيد رسول رسا هم کړې وه. په دې برخه کښې قدرمنې ليکوالۍ په دې باندې ډېر مدلل بحث کړے دے چې پښتنو څنګه د عدم تشدد دا فلسفه خپله کړه، ليکي:

"دا خبره هرچاته معلومه ده چې هندوان او د هندوستان مسلمانان هم د عدم تشدد په فلسفه ربښتينے اعتقاد لرلے شي او د هغې دپاره اسباب هم موجود دي. اخر د يو وسله وال حاکم قوم په مقابله کښې يو بې وسلې محکوم قوم د عدم تشدد د طريقې نه علاوه بل په کومه طريقه جنګ کولے شي؟ خو د سرحد د مسلمانانو صورت حالات نسبتاً جدا دي. هغوي څۀ لږه ډېره وسله لري، وسله پيدا کولے شي او وسله استعمالولے هم شي. ددې دپاړه کۀ هغوي خواهش لرلو؛ نو اګر چې کاميابي حاصلول ورله ګران وو؛ خو بيا هم هغوي ګورنمنټ دومره تنګولے شي چې د هندوستان دنورو خلکو دپاره ممکنه نه وه. د سرحد د پښتنو جغرافيايي او سياسي صورت حال داسې دے چې د سزا نه تر ځۀ حده پورې ځان بچ کولے شي. وطن ټول غرونه غرونه دے او ازاد قبائيل ډېر نزدې دي او خلک هم اکثر غېر تعليميافته او ساده

لوح دي او د مستقبل په نتايجو غور نه شي کولے. علاوه د دې نه د دې خلکو قومي روايات د جنګ معاون او مرستندوي دي. هغوي اکثر د خپلو جګړو فېصله د مېړني جنګ په ذريعه کوي. ولې سره ددې ټولو خبرو د حېرت مقام دے چې د سرحد پښتنو مسلمانانو د عدم تشدد په اصولو جنګ کول غوره وګڼل او د خپل طاقت صحيح اندازه ئې په وخت ولګوله او د تباهۍ نه ئې ځان بچ کړو او د قوم د پاره ئې د يو شاندار مستقبل بنياد کېښودلو. ددې ټولې کاميابۍ څڅره د فخر افغان عبدالغفار خان په سر ده. جواهر لال نهرو د عبدالغفار خان متعلق يو ځائے کښې وايي "دا ډېره د تعجب خبره ده چې دے لوئے پښتون د عدم تشدد فلسفه هم په عمل او هم په خيال کښې په داسې افضله طريقه قبوله کړه چې په مونږ کښې هم ډېرو داسې کار نه شو کولے او په دې فلسفه کښې د هغه د اعتقاد پيدا کېدلو وجه دا وه چې ددې فلسفې په برکت هغه خپل وطنوال ډېر زر او ډېر په اسانه طريقه متاثر کړل او قابو ئې وساتل. ګنې هر چاته معلومه ده چې مخالفو طاقتونو کوشش کولو چې پښتون په څۀ چل د تشدد د پاره اماده کړلے شي او په غېر پرامن طريقه دې د ازادۍ جنګ شروع شي او د چا په شان چرګه مې ناجوړه ده بهانه مې ورله جوړه ده، قصه شروع شي او ظالم طاقتونو ته دې پښتون د وژلو موقعه په لاس ورشي، ولې د خدايے په فضل داسې ونه شو او پښتون د عدم تشدد په جنګ کښې کامياب پاتې شو.

عبدالغفار خان په سرحدي صوبه کښې د حساب نه زيات هردلعزيز دے او دا هردلعزيزي هغه د قسم قسم مصيبتونو د



مقابلې باوجود ډېر په استقلال د سولې د جنګ په ذريعه حاصله کړې ده. څرنګه چې زمونږ ډلې ډلې سياستدانان په هندوستان کښې موجود دي، عبدالغفار خان د هغې ټولې نه نه دے، هغه يو صادق ليډر دے او په سياسياتو کښې د پولټيکل چالونو او ناجايزو دهوکو حامي نه دے". دا لوئے پښتون د وجود نه دنګ سړے دے چې څۀ ئې په خوله وي هغه ئې په زړه وي. درغلي ئې نه ده زده. د عمل بنده دے او په دې وجه د قولیانو د تشو خبرو نه ډېر نفرت کوي".(۱).

ښاغلې ليکوالې نوره داسې زياته کړه چې:

"د هغه تصوير ته چې زۀ ګورم؛ نو داسې معلومېږي چې يو د ښو صورت خو انسان سيرت بنيادم دے. د مخ څرمن ئې پربوتې ده؛ خو د سترګو نه ئې د ژوند د حقيقت او د ژوند د اهميت شغله اوځي. د هغه لوئے او مضبوط لاسونه د مضبوط جسم سره لکه د ماشوم بې خياله او پزان ښکاري. حقيقت هم دا دے چې په ايماندرۍ، صداقت او همت کښې هغه معصوم دے. يو داسې معصوم چې د ناممکن د لفظ نه نا اشنا دے. سره ددې د هندوستان د سياسي ازادۍ په باب کښې هغه هېچرې معصوم نه دے. په دې خبره کښې هغه سنجيده ترين انسان دے. لکه د نورو ډېرو هندوستانيانو په شان هغه د وطن سياسيات معصومانه لوبه نه ګڼي".(۲)

هم د ۲۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ء په ګڼه کښې د ممتاز بېګم شعرونه د "بې زېوره زۀ ښائيسته په ښکلي خوي زنانه يمه" د سر خط لاندې چاپ شول. ليکوالې دا ګيلې کړې دي چې د نورو

قومونو زنانه خو د ملک او د قوم د ترقۍ په لاره ګامزنې دي، ولې دلته د علم شوق داسې دے چې د عالمانه کتابونو په ځائے دناول او افسانې سره شوق زيات وينم. هم دا وجه ده چې د نورو قومونو ښځې ازادې دي، ولې دلته لا هم هغه شان د جهالت او د غلامۍ په تيرو کښې پرتې دي. وايي چې:

د قومونو دا کوشش دے چې پردې سره يو ځائے شي
زمونږه دوه خوئندې په کور کښې له يو بل پريشانه وينم

د قومونو ښځې وا ړه اوبه خور د ګلشن خپل کړي
ستا دا ښکلے باغ د ګلو خورې بې خصمانه وينم (۳)

د دې نه پس د يوې بلې خور رشيد جهان بېګم سرحدي شعرونه د "ژړا څۀ پکار نه ده" د سر خط لاندې چاپ شوي دي. وايي چې:

کۀ طالب د خپل مطلب ئې صرف وينا څۀ پکار نه ده
د عمل په رنګ رنګين شه چې دعا څۀ پکار نه ده

هيڅ فايده ئې نه ښکاريږي دا ساره اسويلي پريږده
سترګې اوچې کړه له اوښکو ستا ژړا څۀ پکار نه ده

سرګردان لکه مجنون شه د خپل قوم په محبت کښې
درد او غم د عاشقۍ کښې خوب خندا څۀ پکار نه ده

تن پتنګ رشيد ستې کړل د وطن په ښکلې شمع
د بلبل غوندې په عشق کښې پس غوغا څۀ پکار نه ده (۴)



د ۲۱ جنورۍ کال ۱۹۳۹ء په "پښتون" کښې د خالده اديب خانم د مضمون "متحده قوميت او فخر افغان" درېم ټوک شايع شو. ددې ترجمه ميا سيد رسول رسا کړې وه. په دې ټوک کښې ئې د باچاخان د ژوند د واقعاتو ذکر کړے دے او خصوصاً هغه د جېلخانې د ژوند مثالونه ئې ورکړي دي، ليکي چې:

"عبدالغفار خان د قيد دوه ابتدايي مرحلې يو داسې سکول ؤ چې هغه ئې د عدم تشدد په اصولو د جنګ کولو د پاره په ښه شان عادت کړو او هم دغه وجه ده چې هغه تر اوسه د جېل د تکليفونو او مصيبتونو د سکول شکر ګوزار دے. د هغه خيال دے چې د عدم تشدد په اصولو د صبر جنګ جاري ساتل د کمزورۍ او مظلوم قوم د نجات او د خلوص رښتونې لار ده. عبدالغفار خان په ۱۹۲۰ء کښې د جېل نه بري شو؛ خو فوراً د خلافت په تحريک کښې شامل شو او په ۱۹۲۱ء کښې هغه په خپل کلي اتمانزو کښې د ازاد قومي هائي سکول بنسټ کېښودلو او دا خواهش ئې ظاهر کړو او دا کوشش ئې شروع کړو چې په دې قسمه سکولونه دې په ټوله صوبه کښې پرانستلے شي."

"حقيقت خو دا دے چې د فخر افغان دا کوشش د سول نافرمانۍ يا د عدم تعاون پېروي نه وه؛ خو پښتون ته صحيح او د ژوندون تعليم ورکول، پښتون منظم کول. د پښتون اصلاح کول او په سمه لاره باندې روانول په پښتون کښې اتفاق او اتحاد پېدا کول او په دې چل د پښتون کور جوړول ټول داسې کارونه

زولنو په هتکړو او په بېړو کښې بند ؤ. د جېل په تورو او ګنده کوټو کښې به اوسېدو. مېچنې به ئې اوړولې او د بوسو ډوډۍ به ئې خوراک وه. په لړه موده کښې ئې پنځوس پونډه وزن کم شو او قسماقسم مرضونه ئې ملګري شول.' (۶)

خالده اديب وړاندې ليکي چې:

' د کانړو دېوالونه او د اوسپنو زنځيرونه ازاد روحونه کله بندي ساتلې شي، د پښتون قام دا لوئې ننګيالے ليډر ښکه چې د يو ازاد روح خاوند دے. لوئې خلک په هر کار کښې د روح لويي ښودلے شي. لوئے سړے په قېد کښې هم لوئے وي.

په حېثيت د يو قېدي عبدالغفار خان ډېر نېک او د نمونې قېدي ؤ. لکه د عامو اخلاقي قېديانو په شان هغه هيچرې د جېل د قواعدو او د ضابطې د ماتولو کوشش نه کولو، څۀ رنګ چې د جېل نه بهر د قوم کار ئې په ايماندارۍ سره کولو همدغه شان د جېل دننه ئې د جېل کار په ديانتدارۍ سره کولو. تر دې پورې چې څنې وخت چې د جېل حاکمانو به هغه ته په خپله رضا رعايتونه ورکول غوښتل؛ نو هغه به همېشه دداسې بې ځايه او بې قاعدې رعايتونو قبلولو نه انکاري ؤ. هغه به وې: 'د دې دا مطلب وي چې اخلاقي قېديانو ته به د قواعدو او د ضابطې د ماتولو لار راوځي او زما دپاره به دا نقصان وي چې د اصولو په متابعت کښې به رانه کمزوري ظاهره شي'.(۷)

هم په دې ګنه کښې د نورجهان بېګم ځينې شعرونه 'د يوې خور ژړا' د سر خط لاندې شايع شوي دي، ليکي چې:

وو چې انګرېزي حکومت ورته په بد نظر کتل شروع کړل.[۵]

ښاغلې ليکواله بيا هغه واقعات بيانوي چې کوم په دې دوران کښې راغلي دي چې په کښې د صوبې د چيف کمشنر د باچاخان پلار بهرام خان راوبللو او ورته ئې ووئيل چې خپل زوئے د ازاد سکولونو د جوړولو نه منع کړه. پلار چې کله زوئے ته دا خبره وکړه؛ نو باچاخان ورته ووئيل چې "ګوره بابا! کۀ تول پښتانۀ لمونځونه پرېږدي او په لمانځه کښې دلچسپي اخستل هم پرېږدي نو ته به ماته وايې چې لمونځ پرېږده، ځکه چې ټولو پښتنو پرېښودلو" بهرام خان ورته جواب ورکړو "هيچرې نه! زۀ به هيچرې تا د دينې کارونو کولو نه منع نه کړم". د عبدالغفار خان وار سم شو، والد صېب ته ئې ووې "بابا! خلکو ته ازاد او صحيح قومي تعليم ورکول يو ديني کار دے. دا يوه درنه ديني او قومي ذمه داري ده چې په ټولو مسلمانانو فرض ده، کۀ نور خلک دې کار خېر ته ملا نه تړي او خپل ديني او قومي فرض نه ادا کوي؛ نو ددې مطلب دا نه شي کېدے چې ګنې زۀ دې هم پرېږدم.

"د عبدالغفار خان صداقت بهرام خان راضي کړو، هغه د والد صېب رضا او دعا حاصله کړه او د ازاد قومي تعليم کار ئې جاري وساتلو او په دې جرم هغه مجرم وګڼلے شو او يو ځل بيا قيد ته ولېږل شو او د پښتون د مرګ د خوب نه را بيدارول او د ژوندون سبق ورکول د فيرنګيانو په نظر يو غټ جرم ؤ او ددې جرم په سبب هغوي فخر افغان ته د درېو کالو د سخت قېد سزا ورکړه. دا يو داسې ظالمانه قېد ؤ چې فخر افغان ئې د مصيبتونو او د تکليفونو د ژوند سره په ښه شان اشنا کړو. شپه او ورځ په

له قومي درده کهٔ زړګے همېش دلګير دے زما
وکړمه څهٔ د کور په جېل کښې تن اسير دے زما

د زنانو بېعلمي زمونږ د قوم صفت دے
ځکه چاپېر له لاسو پښو جهل زنځير دے زما

چې د پښتون د تنزل نه مې تپوس وکړلو
جواب ئې راکړو بې علمي همه تقصير دے زما

کهٔ په زړګي کښې مې بلېږي اور د مينې د قوم
فايده ترې څهٔ؟ هسې عبث زړګے زهير دے زما

د هر مرض علاج به اوشي په اسانه سره
ولې مرض د جهالت ته کوم اکسير دے زما

او

د حکومت مجرمان هم اخر د جېل نه خلاص شي
په ژوند مې نشته دے خلاصے چې څهٔ تقصير دے زما؟

ما په سرسترګو قبول کړي د اسلام حکمونه
واحد مې خدائے، قران رهبر، سراج منير دے زما

په پاک قران کښې پابندي په ښځو داسې نشته
دغه د لاس نه د ظالم جهل توقير دے زما(۸)



په دې ورځو کښې خدايي خدمتګاران هم په حکومت ورننوتي وو، د صوبايي کانګريس مشري ډاکټر خان صېب د وزيراعلي په شکل کښې کوله. د هندوستان نه به قسماقسم وفدونه راتلل او د صوبې دورې به ئې کولې. په دې ورځو کښې د کانګريس د مشرانو ډېر زور په څرخه کولو باندې ؤ. دوي غوښتل چې د هندوستان خلک دې د څرخې په ذريعه د بديشي مال بائيکاټ وکړي او ځان ته دې خپلې جامې وغېره تياروي. هم دې لړ کښې د پښتنو ښځو له خوا هم ددې مرسته وکړلے شوه. د ۱۱ فرورۍ کال ۱۹۳۹ء په ګنه کښې هم د نګينې خور شعرونه د "څرخه" د سر خط لاندې چاپ شول. دې خور خپلو خوئيندو ته خواست وکړو چې د خپل لاس جوړې شوې جامې دې اغوندي او د بهرني رخت دې بائيکاټ وکړي، وايي چې:

د وطن جولا به ګېډه باندې مور شي
د خامتا نه خپله پا کهٔ لمن وکړه

ترقي په خپلو مټو باندې کېږي
تف لعنت په رخت اسباب د دشمن وکړه

شاه زلمي به تويوي پرې خپلې وينې
ته څرخه باندې خدمت د وطن وکړه

د خامتا د اغوستو په بدله کښې
خورې! سپل د ازادۍ د ګلشن وکړه

ستا په يو ګوزار به ښنته ښنته پرېوزي
د څرخې د توپې دز په لندن وکړه

په سبا کښې عمر په تا تېر شو
کۀ خدمت د قام کوې پاڅه نه وکړه

توري خاورې د لحد به پرې ګلزار شي
نګينې له د خامتا کفن وکړه(۹)

هم په دې ګڼه کښې د س ب ب مضمون "د دنيا ښځې او مونږ" هم شائع شوے دے. ښاغلې ليکواله يوه خوا د جهالت او ناپوهۍ ذکر کوي؛ نو بل خوا پښتنو ښځو ته د لارې بل مثالونه هم ښايي چې کۀ چرې دوي هم خپل ځانونه د جهالت د تورو تيرو نه راويستل غواړي؛ نو ورته پکار دي چې د همت وزر وتړي او مېدان د عمل ته راووځي، وايي چې:

"زما د سرحد خوږو خوئيندو! تاسو ته معلومه ده چې د دنيا خلک نن ټول بدل شوي دي. کۀ ښځې دي او کۀ سړي بغېر زمونږ نه چې مونږ هم هغه شان په زړې لارې روان يو، بلکې زمونږ حالت د يوې ورځې نه بلې ته خراب وي. اخر زمونږ خو هم د نورو خلکو په شان لاس، پښې، سترګې، غوږونه او دماغونه شته؛ نو مونږ ولې د هغې نه څۀ کار نه اخلو؟

"د غېر مذهبونو ښځې خو پرېږده چې خپلې هم مذهبې ښځې زمونږ نن څومره پورته اوختې او بېدارې شوې. د ترکو ښځې په پوځ کښې بهرتي شوې، رېل ګاډي چلوي، د جهازونو



کارخانو کښې کار کوي، ډاکټري کوي، کونسلونو کښې کښېناستې، د استادۍ کار کوي، غرض دا چې هيڅ يو کار داسې نشته چې د هغې د کولو نه د ترکو ښځې عاجزانې وي. دغسې مصر هم دے، د عراق ښځې هم خپل ټول فرايض په خپله پاي ته رسوي. د فلسطين حالت ته چې وکتے شي؛ نو په موجوده جنګ ازادۍ کښې ښځې د سړو نه کمې حصه نه اخلي.

"د غېر ملکونو ښځې پرېږده، زمونږ سره څنګ په څنګ اوسېدونکو زمونږ هموطنو خوئيندو د هندوستان ته کتل پکار دي چې د تعليم په لحاظ سره زمونږ د بعضو سړو نه زياتې دي. کارونه هر قسم کولے شي، لوئې لوئې جلسې په هر ښار کښې د ښځو کېږي او په ډېرې ازادۍ سره خپل حقوق د سړو نه غواړي. ډاکټري، استادي کولے شي، د کپړو په کارخانو کښې کارونه کوي. په کونسلونو کښې ناستې دي، د اخبارونو رسالو چلونکے دي. مونږ ددې ټولو ښځو بېداري او ترقي وينو، بيا هم مونږ داسې غافلې يو چې هډو دا هېڅ مونږ ته معلوم هم نه دي. د دوي په مقابله کښې کۀ مونږ هره يوه خور په غور سره خپل حالت ته وګورو؛ نو زمونږ او د څناورو د ژوند به هډو څۀ فرق معلوم نه شي. په دنيا کښې انسان صرف د خوړلو او څښلو دپاره نه دے پېدا، بلکې د هغه د پيدايښت نه اصلي مقصد څۀ بل څيز دے؛ خوږو خوئيندو! اخر فکر وکړئ چې مونږ خو څۀ څناورې نه يو، بلکې اشرف المخلوقات يو. په ځان کښې په اصلي معنې د اشرف المخلوقات جوهر پېداکول په کار دي. ددې زوړ نظام بدلول ډېر ضروري دي. د زمانې سره سم رفتار په هر چا لازم

دے، کۀ مونږ ته سړي د حقارت په سترګو ګۀ چې د ډنګرو نه هم په کم نظر سره ګوري؛ نو ګرم نه دي. ولې چې زمونږ خوئے خصلت او غفلت د ډنګرو نه هم زيات خراب دے. هم زمونږ د دې غفلت په سبب غيور قوم د پښتون د نورو قومونو شاته ولاړ دے. اخر دا تباه حال به زمونږ تر کومې پورې وي؟ په خپل حال لږ فکر وکړئ، زمونږ ژوند خو د دوزخ د اوسېدونکو نه هم خراب دے او د ځان سره مونږ د سړو هستى هم تباه کړې. هغه د فارسي خوانو متل دے چې "شامت اعمال ما صورت نادر ګرفت" دا ټول زمونږ د خپل عمل شامت دے چې په قسماقسم رنګونو کښې زمونږ په نظر راځي. د کور د څلورو دېوالونو په جېلخانه کښې ژوند، د جهالت په تورو تيارو کښې عمر د جايزو حقوقو پايمالول، د دې جذباتو ضبط کول، په قسماقسم مصيبتونو کښې مبتلا کېدل دا ټول زمونږ د خپل غفلت سزا ده؛ خورو خوئيندو! خدائے دپاره د خوب نه پاڅئ! د دې تباه کونکي خوب شپه خو زمونږ ډېره اوږده شوه. خدائے دې نه کړي زمونږ دا غفلت چرې د ائنده نسلونو دپاره د بربادۍ باعث ونه ګرځي. هغه چې څۀ وشو هغه خو وشو، مګر اوس خو پورته شئ! او د ائنده نسلونو د بهترۍ اسباب ولټوئ. د نورو قومونو د ښځو په شان په کار دي چې مونږ هم په دنيا کښې د خپل اصلي ژوند يو يادګار قايم کړو".(۱۰)

د دې نه پس هم د س ب ب يو (نظم) چاپ شوے دے چې په کښې درنه ليکواله د وطن سره د مينې درس ورکوي او په جار وايي:



يم د قفس مرغۍ بندي د وتو لار مې نشته
فراق د ګل، بل تکليفونه د پنجرې تېروم

د ازادۍ په تمه تمه به ژوندون شي تمام
عمر د جېل نه د وتلو په اسرې تېروم

ته چې تر اوسه لا زما د تعليم خيال نه ساتې
زه به تر څو د جهالت تورې تيارې تېروم

زما په زړه کښې د اصلي ژوندون خيالات ګرځي تل
څه شو کۀ خلک وايي چې ژوندون په هديرې تېروم

خلک دې خوار شي وايي دا چې عاشق هيڅ نهويني
زه د نظر نه د زړه هر ساعت ذرې تېروم

حکم د کفر ملايان چې په عاشقو کوي
د زړه په سر ګوزار د دې تورې تېرې تېروم

زه يم عاشقه ناکاميابه د خوږ قوم او وطن
ځکه په بيا بيا په ډېر شوق دغه مصرې تېروم

چې تسله د عاشق زړه پرې ناکاميابه کوي
بس هغه زۀ يم په شعرونو وخت قدرې تېروم

د شپې تيارې پسې رڼا د سحر راشي مدام
خاونده! څو به د بېلتون د شپې دېرې تېروم

لاسونو پښو ته مې پرتې دې هتکړې د جهل
بې جرمه ولې د مجرم ژوندون هورې تېروم[۱۱]

هم په دې ګڼه کښې نور شعرونه د "محبت ښکاره کړه!" د سر خط لاندې هم ورکړي شوي دي؛ خو د ليکوالې نوم "خادمه صاحبه" ورکړے شوے دے. دا خادمه خور د قوم نه سوال کوي چې د غېرو خدمتونه نور مه کوه، د غلامۍ زنځير وشلوه چې پښتون هم د نورو ازادو قامونو سره د سيالۍ په شمېره کښې راشي. په دې باندې هم ډېر زور ورکوي چې دا تر اوسه د کوم د تربوروليۍ جګړې د خپلو ورورنو عزيزانو سره په نه څۀ خبره کړي دي، کۀ ته پرې يو ژور نظر واچوې؛ نو سراسر تاوان دې کړے دے. ورته خبردارے ورکوي چې اوس هم لا وخت شته دې د غفلت د خوب نه رابېداره شه او ځان د ژوندي قامونو په څنګ کښې ودروه. ددې سره سره د خپل لاس جوړې شوي د کپړو اغوندلو خواست ورته هم کوي، ځکه چې:

په تجارت د بديشي کپړو دې خوار کړو وطن
خپل وطني لباس دې بر کړه خپل صنعت ښکاره کړه

او

"پښتون" جاري لس ورځينے د قوم خدمت دپاره
ته څۀ امداد ورسره وکړه محبت ښکاره کړه[۱۲]

د ۲۱ مارچ کال ۱۹۳۹ء په "پښتون" کښې د س ب ب شعرونه د "خوب د غفلت نه دې بېدارې شي زنان د وطن" چاپ شوے دے. ليکي چې:



"يو ځل دې زار په معشوقه شي عاشقان د وطن
زمونږ په وينو دې تازه شي وچ بوستان د وطن

چې ترقي د قوم وطن د ځان زينت وګڼي
خوب د غفلت نه دې بېدارې شي زنان د وطن

نسلونه واړه ائنده به محبان وي د قوم
کۀ په بېدارو پئيو لوئے شي فرزندان د وطن

کۀ په زېور د قومي عشق مونږه سنګار جوړ کړو خپل
دا مې يقين دے نور به اونه شي تاوان د وطن

اخر تر څو د قوم له حال به بې خبر يو مونږه
راشئ چې وکړو لږ له غېرو نه پرسان د وطن

په کومه لار دے رسېدلے هر يو قوم تر مقصود
چې مونږ هم بوزو په هغې لارې کاروان د وطن

خوئندو د رب دپاره پاڅئ دادے وخت د همت
وګورئ څنګه دي قومونه محبان د وطن

مونږ ته اسلام د بېدارۍ سبق راکړے دے تل
ولې کړو هېر مونږه هغه ښکلے داستان د وطن

په روښنايۍ د ستورو هر ګمراه به لاره مومي
وربخې د جهل کۀ شي لرې له اسمان د وطن

د غافل قوم نوم او نښان په دنيا څۀ شي پاتې
تاريخ به هېر نه کړي هيچرې بېداران د وطن

چې د غفلت له خوابه بېدار ښځې سړي شي واره
هله به پوهه شو مونږ په خپل سود او نقصان د وطن" (۱۳)

هم په دې ګڼه کښې د مسز ايم-ايس- عنايت "رضيه" يو اوږد خط هم شايع شو چې سر خط ئې "د محترمې س ب ب صاحبې شکريه" ؤ. د س ب ب د يوولسم فرورۍ چاپ مضمون "د دنيا ښځې او مونږ" په څو څو ځله ويارنه او ستائينه کوي او وائي چې:

"خوږې محترمې! تا چې هر څۀ فرمائيلي دي، بالکل رښتيا دي. په دې کښې شک نشته چې زمونږ حالت د ځناورو نه هم بدتر دے او مونږ ته سړي ډېر په سپکه سترګه ګوري. دا صرف زمونږ د ناپوهو سرپرستو د ناپوهۍ وجه ده. کۀ چرې هغوي زمونږ پالنه داسې وکړي، لکه څنګه چې يو ترکي يا يو مصري د خپل اولاد تربيت کوي؛ نو هيچرې به مونږ په مقابله کښې د هغو ښځو نه وروستو نه وے. دا بالکل رښتيا ده چې نن زمانه کښې د غېرو قومونو ښځې د ترقۍ په لاره رواني دي او د غيور قوم پښتون ښځې د نورو قومونو د ښځو نه ډېرې په شا پاتې دي. ددې سبب زما په ناقص خيال ددې نه علاوه نور هېڅ نه معلومېږي چې مونږ خپل مذهب شاته غورځولے دے، قران شريف مو صرف د تبرک د پاره ساتلے دے. لوستل او عمل خو پرېږده چې لاس ورته هم نه ور وړو. نور هم ډېر مذهبي



کارونه دي چې مونږ ترې لاس اخستے دے. دغه قومونه کوم چې په ترقۍ دي د هغوي د ترقۍ راز زما په خيال صرف دا دے چې هغوي زمونږ مذهبي اصول اختيار کړي دي.

"د دې نه پس کۀ چرې مونږ غواړو چې زمونږ ائنده نسل د تاريکۍ د پردې نه اوځي او د زڼا مېدان کښې قدم کېږدي؛ نو مونږ ته پکار دي چې د خپلو ائنده نسلونو د تعليم و تربيت خيال وساتو...

"دعا کوه، ولې چې بغېر د دعا نه زمونږ بل څۀ کار نشته چې اوس زمونږ د قوم ښځې زر بېدارې شي. د خپل اولاد تربيت په ښه شان وکړي، خپل ملک او قوم ته ئې خيال شي او د وطن ازادونکو سره مرسته وکړي او ملک په خپر سره زر تر زره ازاد کړي." (۱۴)

د ۱۱ اپريل کال ۱۹۳۹ء په "پښتون" کښې د س ب ب شعرونه "داستان د زړۀ" د سر خط لاندې شايع شو، لکه د وړاندې په شان دا ځل هم ليکواله د پښتنو ښځو په بې وسۍ او په جهالت کښې وخت تېرېدو باندې د زړه له کومې د خفګان اظهار کوي او وايي:

يا تياره د جهالت ده په سرحد کښې
يا زما به وي رانده چشمان د زړه
هم خيالي د سرحدي خوئندو شوه ګرانه
ځکه تنګ کړلو په ما جهان د زړه
رنځوران د عاشقۍ هله رغېږي
چې ئې وکړي خپل صنم پرسان د زړه

چې د خوئندو په تباه حالت نظر کړم
بې اختيار له سترګو څي باران د زړه

د شعرونو زېب زينت مې زيات په دې شو
چې مې واخست له اثر تاوان د زړه (۱۵)

هم په دې ګڼه کښې د خالده اديب خانم د مضمون "متحده قوميت او فخر افغان صبب" ترجمه ميا سيد رسول رسا ورکړې ده. ليکي چې بقول د جواهر لال نهرو عدم تشدد د اوچت او اعلي نصب العين د حاصلېدو د پاره مصيبتونه برداشت کول، ميدان ته تش لاس وتل. د وسلې دار دشمن مقابله کښې تش لاس ودرېدل او مېدان نه پرېښودل، بېشکه چې د يو لوئې روح د خاوند کار دے او په اصلي معنو کښې زړه ورتوب دے. يو داسې زړه ورتوب چې د هغې د لوئې والي نه انکار کول لکه چې نمر په ګوته پټول دي. خالده اديب وايي چې:

"د هندوستان سياسي کارکنان کۀ مونږ د جواهر لال نهرو د خبرې په کسوټي وګورو؛ نو مونږ ته به په دروغجن او رښتوني کښې په ښه شان سره فرق معلوم شي. د ډېرو هندوستانيانو د ملک د ازادۍ په جنګ کښې په سينو ګولۍ او سنګينونه خوړلي دي او ډېرو د مشقت او د خوارۍ جېلونه تېر کړي دي؛ خو د ملک په عاشقانو کښې به ډېر داسې وو چې د بزدلۍ او کمزورۍ په وجه ئې د عدم تشدد په فلسفه عمل کړے ؤ؛ خو د سرحد ټول قومي کارکونکي او عبدالغفار خان په خاصه توګه شړه له داسې خلکو نه دي. په سرحد کښې د سول نافرمانۍ د



قابو کولو طريقه د نور هندوستان نه بالکل جدا وه. دلته هره ورځ قومي کارکنانو به مشين ګنونو د ګولو، د سنګينونو د تېرو څوکو او د فولاد خولې کوتکونو ګوزارونه خوړلو او زغملو سره کار ؤ. په داسې طريقه مرګ ته په خندا خوشحالۍ غاړه غړې ورتلل او مېدان نه پرېښودل بېشکه چې د بزدلۍ او کمزورو خلکو کار نۀ دے". (۱۶)

هم په دې ګڼه کښې د س ب ب شعرونه د "شابه شابه" د سرخط لاندې چاپ شوي دي، وائي:

دا قومي جرس غرېږي شابه شابه
ټول قومونه بېداريږي شابه شابه

په هر وخت خدمت د قوم وطن ضرور دے
چې دې څو له توانه کېږي شابه شابه

د غفلت سېلاب راواوړېدو بېدار شه
خان و مان دې لاهو کېږي شابه شابه

مونږ د پاره د عبرت دا ائينه ده
چې قومونه ازادېږي شابه شابه

د پښتون قومه سر پورته کړه له خوابه!
قافلې کل روانېږي شابه شابه

د سرحد خوئيندو سبق ورنه حاصل کړئ
د تاريخ ورق پرې کېږي شابه شابه

موجوده خوئيندې دې ترکو ته نظر کړي
چې د قوم نه قربانېږي شابه شابه

په کالو د نېک عمل تن ښائسته کړئ
دا باقي ښائست يادېږي شابه شابه

د قومونو ښځې واړه شوې بېدارې
يو زمونږ غفلت ښکارېږي شابه شابه

بنده سر او مال دې دواړه ور پېشکش کړه
کۀ د قوم خدمت پرې کېږي شابه شابه (۱۷)

د ۲۱ جولايي کال ۱۹۳۹ء په "پښتون" کښې يو مضمون "د واده په وخت د جاپاني مېندو خپلو لوڼو ته دولس نصيحتونه" په نوم چاپ شو. د ليکوال نوم خو نشته خو د ترجمه کوونکي نوم ئې ورکړے دے. ددې مضمون ترجمه ډاکټر بهايي جان صېب د افغان ډسپنسري پېښور نه کړې ده. نصيحتونه دا دي:

(۱) د نکاح نه پس به ته يواځې ما مور نه ګڼې، بلکې ستا خواښې هم ستا مور ده. لکه خپله ټوله سخرګنۍ به زما په شان ګڼې او په هېڅ حال کښې به هغوي خفه کوې نه.

(۲) د نکاح نه پس چې ته د چا محکومۍ کښې راغلې، ته به د هغه تابعداري خپل فرض ګڼې.

(۳) کوشش کوه چې خواښې سخر ته ستا نه د ګيلې موقعه په لاس را نه شي.

(۴) د کور د خلکو سره هېڅ قسم بغض عداوت مه ساته. ددې نه به ستا ژوند خراب شي.

(۵) کۀ چرې ستا خاوند په څۀ خبره تاته سختې خبرې



وکړي؛ نو ته ورسره اېرې مه وهه، په نرمو نرمو ښو ښو خبرو د هغه د غصې کمولو کوشش وکړه.

(۶) د خپلو ګاونډيانو سره ښه سلوک ساته، هيڅرې د مکر او د دروغو نه کار مه اخله.

(۷) وختې سحر پاڅه او د ناوخته ماسخوتن پورې بېداره اوسه او تر څو چې د ځوانۍ ورځې تېرې شوې نه وي چرته په لويو لويو جمعو کښې مه شريکېږه.

(۸) د کور انتظام ښه په فکر سره کوه او کم خرڅي خپل عادت وګرځوه.

(۹) د چا نجومي ترويتي او تعويذ ليکونکي نه څۀ مرسته مه غواړه او مه خپل حال هغه ته وايه.

(۱۰) په دروندوالي خوږوالي سره ګوزاره کوه او کوشش کوه چې د هر چا په نظر کښې ستا عزت پېدا شي.

(۱۱) ساده ارزان بيه جامې اغونده؛ خو د صفايۍ ډېر خيال ساته، ګرانې او رېښمنې جامې مه استعمالوه.

(۱۲) د پلار نيکه او خاندان په معتبرۍ لوئي مه کوه او مه په فخر سره د هغوي ذکر کوه. خاوند کۀ دې غريب وي کۀ امير خو ته ئې عزت کوه.(۱۸)

هم په دې ورځو کښې د تعليم په لړ کښې ځينې اهمې خبرې روانې وې. قومي حکومتونه په دې نتيجه رسيدلي وو چې د فيرنګي نظام تعليم خو د هندوستان د خلکو د غلام ساتلو دپاره دے. په مختلفو خايونو کښې څۀ تجربې وکړے شوې او اخر د واردها سکيم په نوم يوه منصوبه وړاندې کړے شوه او قامي

حکومتونو پرې د عمل کولو کوشش شروع کړو. د نور هندوستان سره سره د پښتنو ښځې هم په دې پوهېدې چې د قامي ترقۍ او د غلامۍ ختمولو دپاره په دې عمل ضرور کول پکار دي. دوي ورته ډېر اوږد انتظار نه شو کولے. نګینې خور د 'واردها سکیم' د سر خط لاندې د خپلو خیالاتو اظهار د ۲۱ جولایي کال ۱۹۳۹ء په ګڼه کښې داسې وکړو:

خدایه ځنګه مبارک ښکلې اقدام دے
چې تنظیم ئې د تعلیم د خاص و عام دے

د هلک جینۍ تعلیم به لازمي شي
واردها سکیم، کۀ د حیات د اوبو جام دے

ښځې هم بني ادمو کښې حساب شوې
له حدیثه موافق دا پروګرام دے

یو شان فرض په سړي ښځه دے علم
دا حدیث د پاک رسول خیر الانام دے

په مېدان د ترقۍ کښې پا کۀ خدایه
مجاهد غازي پښتون ولې ګمنام دے

په سي پي کښې په دې سکیم عمل شروع شو
هندوستان کښې ورته تېږے هر یو قام دے

سرحدي اسمبلي ولې ده غافله
نه پوهېږم چې په کوم طرف ئې پام دے



د نکاح د فسخ بل په سیند لاهو شو
واردها سکیم تعلیم د ښځو لوئے انعام دے

هر پښتون ته نګینه سرتوره ژاړي
نوشته د زړه په وینو ئې پیغام دے (۱۹)

د ۱ اکتوبر کال ۱۹۳۹ء په 'پښتون' کښې د س ب ب شعرونه 'د قومونو سره سم کۀ رفتار غواړې' د سر خط لاندې شایع شوے دے. ښاغلې لیکواله پښتون قام ته په بیا بیا دا وایي چې ځان نه د بې هتمۍ دا شړۍ لرې او غورځوئ، ځکه چې د ستاسو په څنګ کښې نور قومونه راویښ شوي دي او د علم پرمختګ د لاسه زغل کوي او ته لا هغه شان د غفلت په اوږد خوب پروت ئې. د قومونو ازادۍ خو تش په خوبونو نه ګټل کېږي. دې دپاره به د عمل مېدان ته ښه په نره راوځې او په ځان به راحت او خوب حراموې؛ نو هله به خپل مقصد ترلاسه کولو کښې کامیابي مومې. کۀ د غاړې نه په رښتیا د غلامې دا طوق لرې کول غواړې؛ نو دا زاړه رسمونه او رواجونه به پرېږدې او د نوې زمانې سره به زغل کوې؛ نو هله به د ژوندیو قومونو په شمېر کښې راځې. د ائنده نسلونو د پالنې هم ذمه واري په تا ده؛ نو پام کوه چې ګورې دوي چرته بې همته او بزدله لوئے نه کړې. لکه د ترکیانو راته د لوړ همتۍ سبق د مور په غېږه کښې ورکول پکار دي چې د خپل وطن د ازادۍ دپاره مبارزه په ښه طریقه کولے شي (۲۰)

خاونـــده مـــا د بـــاغ مـــالي کـــړې
چې په دیدن د ګل بلبل خوشحالومه

خاونـــده مـــا بـــاد د بهـــار کـــړې
چې په خزان مړاوې غنچې تازه کومه

خاونـــده مـــا هغـــه باغبـــان کـــړې
چې هر ګلاب د زړه په خون نهالومه

خاونـــده شـــوق د پتنـــګ راکـــړې
چې د وطن په شمع تن وسوزومه (۲۲)

د ۲۱ دسمبر کال ۱۹۳۹ء کښې "د وزیرستان ژړا" په نوم باندې یو څو شعرونه چاپ شوي دي. لیکواله ئې س ب ده. وایي چې:

دا چې وینې ورنه څاڅي دغه زړه پرهر زما دے
په قصور د ملک د عشق ئې خلکه پرېکړو سر زما دے

یتمیان کونډې مې ژاړي داد ګېرنه به څوک ورکړي
پاس ترعرشه پورې خیژي دا د اه اثر زما دے

هائې پولینډ غریب مظلوم دے خلک څکه ئې امداد کړي
ولې حال ته زما ګوره ئے له پولنډ بدتر زما دے

دا سنګین مې د خپل قوم دے چې د زړه په سر مې ښخ شو
چې په سټ ئې زمونږ را ښکه دا د رور خنجر زما دے

د ۱۱ دسمبر کال ۱۹۳۹ء په "پښتون" کښې د س ب ب نظم د "تن په حب د قوم فنا کړه چې ژوندون دې جاويدان شي" د سر خط لاندې چاپ شو. په دې کښې ښاغلې ليکواله پښتنو ته دا خواست کوي چې په قامي جدوجهد کښې سره يو ځائے شي او پخپلو کښې اتفاق پيدا کړي چې دشمن درنه ويرېږي، وايي چې:

د نفاق سېلاب لاهو کړې اخر اوس خو تدبير بويه
اصلاحي کشتئ بناء کړه چې محفوظ قوم له طوفان شي

بې مطلبه شجر مه شې ددې دهر يو بوستان کښې
خوشبوداره ګل پيدا کړه چې د خوږ زړونو درمان شي

چندڼ څومره چې سولېږي هومره هومره خوشبويي کۀ
ځان صندل مثل دوا کړه چې واصف د هر انسان شي

سرګردانه به تر څو ئې په دې خوشي محبت کښې
زړۀ په هغې يار شېدا کړه چې حامي په دوجهان شي

د الله په نعمتونو ناشکري بس نوره مه کړه
ګويا ژبه په ثنا کړه چې راضي درنه سبحان شي

بنده ځان فرهاد مجنون کړه د وطن په محبت کښې
تن په حب د قوم فنا کړه چې ژوندون دې جاويدان شي(۲۱)

هم په دې ګڼه کښې د س ب ب "يو څو مصرعې" هم چاپ شوې، هغه دادي:

خدايه اواز د جرس راکړې
چې قافلې په خوب اودې بېدارومه

له دې داسې ژوندګۍ نه په مېدان کښې مرګ بهتر دے
د غلام هند د نقشې نه مخکښې حال اظهر زما دے

درس د قوم د مينې واخله په تالا باغ چې زۀ ژاړم
سترګې پورته کړه غافله دغه سوز سحر زما دے(۲۳)

د ۱۱ جنورۍ کال ۱۹۴۰ء "پښتون" کښې هم د س ب ب شعرونه دي. داسې ښکاري چې دې ښاغلې ليکوالې چې باچاخان سره کوم لوظ کړے ؤ، د هغې ئې پوره پوره خيال ساتلو او د خپل وس مطابق ئې "پښتون" ته ليکل رالېږل. يوه بله غټه وجه دا هم وه چې س ب ب د زيارت کاکاصېب اوسېدونکې وه او د کاکاخېلو پښتو ادب ته خدمات لکه د نمر څرګند دي. د هغې پلار مولانا ازادګل هم يو اخبار د مردان نه چاپ کولو. درنې علمي کورنۍ سره ئې تعلق لرلو او په قامي جدوجهد کښې ئې خپله پوره پوره برخه اخسته. د جنورۍ کال ۱۹۴۰ء په "پښتون" کښې ئې دا لاندينۍ مصرعې چاپ کړې. د مصرعو سر خط ئې "يو څو مصرعې" ؤ:

کۀ تنګيالي زلمي په شا شو
فخر افغانه! جينکۍ به دې ګټينه

خدايه دې پَردې د خوئيندو وکړي
چې زلمي نه وي جونه هله جنګ ته ځينه

خوئيندې دې سل ځله ترې زار شي
چې رونه پورته د تکبير کړي اوازونه



د خوئيندو دغه امداد بس دے
چې د پردي وطن جامې دې ترکې کړينه

خوره خامتا زما پوشاک شو
په دې اقرار چې به د قوم کړم خدمتونه

وايه چې نور خدمت به څۀ کړي
ښځو ته نشته د بهر اجازتونه

د ترکو ټول ځامن بېدار دي
چې ئې بېدارې مېندې غېږ کښې لويونه

ترک د مذهب پابنده نه دي
مونږ پښتانۀ په دين مذهب کړو غېرتونه

اصلي ايمان حب د وطن دے
ترکو وطن د پاره داؤ کړل خپل سرونه

ستر پرده د خدائے ايمان دے
نا مسلمان دے چې څوک نۀ مني حکمونه

ستر په حکم د قران کړم
دغه اعلان کړم چې به ورک کړم رواجونه(۲۴)

د ۱۱ اکتوبر کال ۱۹۴۰ء په ګڼه کښې د ادارې د طرفه يو مضمون "پښتنې زنانه او د قوم خدمت" شايع شو، ليکي چې:

"رښتيا خبره خو داده چې کوم قوميت چې د يو ملک د ترقۍ سبب کېدے شي، هغه په مونږ نارينۀ کښې هم لانه دے پېدا شوے. مګر بيا هم دومره خو غنيمت دے چې څۀ ناڅه بېداري خو راغلې ده او ډېرو زلمو د قوم خدمت ته ملا تړلې ده. مګر کۀ د مرګ په خوب اودې دي؛ نو هغه زمونږ پښتنې زنانه دي. د نورو قومونو زنانه اسمان ته والوتې او زمونږ زنانه لا خبرې هم نه دي چې دنيا څو ډانګه ده. دا خو يوه منلې شوې خبره ده چې تر څو د يو ملک زنانه راويښې شوې نه وي او د نارينۀ سره سمې اوږه په اوږه د عمل مېدان ته را وتې نه وي؛ نو د هغه ملک سياسي حالت هيچرې ښه کېدے نه شي....

"کۀ د يو ملک نارينه ډېر زيات قومي خدمت وکړي؛ خو کۀ زنانه د هغو سره ملګرې نه وي؛ نو پوهه شه چې دغه قوم هيچرې ترقي نه شي کولے. بلکې زۀ خو به دا ووايم چې کۀ زنانه بېدارې شوې؛ نو نارينه به پخپله بېدار شي او تر څو چې زنانه د عمل مېدان ته نه دي راوتې، د نارينه بېدارې هېڅ معني نه لري. اوس دا خبره د بحث قابل ده چې اخر زمونږ زنانه په څۀ وجه داسې به په مړو حساب دي؛ نو څومره چې ما په دې خبره غور کړے دے. ددې وجه زمونږ يو جاهلانه ذهنيت دے. مونږ دا ګڼلې ده چې زنانه بني ادم نه دي. بلکې دا يو قسم حېوانات دي چې د دوي د ساتلو ځائے صرف د کور پنجره ده. نړۍ او د نړۍ ټول څيزونه صرف د نارينۀ حق دے. د قدرت د لويو لويو منظرونو لکه د دنيا



د سريفلک غرونو، دريابونو، د سر سبزو شينکو چمنونو او د لوړو اوچتو ونو د ځنګلونو د ليدو حق صرف د نارينۀ دے او د انساني مهارت د خوبصورتو صنعتونو لکه د ښارونو د ښائسته ښائسته بازارونو، اوچتو منقشو مکانونو، صافو ستره سړکونو، لوئے لوئے رېلوې اسټيشنونو، سينماګانو، تهېټرونو. د اګرې د تاج محل روضې، د دهلي د بادشاهي جمات او شاهي قلعې، د قطب مينار او د همايون د مقبرې د کتو حقدار صرف نارينه دي.

"زنانۀ ته ددې څيزونو کتل عصمت فروشي ده. عظيمه ګناه ده، بې حيايي او بې ستري ده. نارينه جلسې کولے شي، تقريرونه کولے شي، جلوسونه وېستے شي، مضمونونه ليکلے شي، نظمونه وئيلے شي دانه بلکې جوارې کولے شي، چرسونه بنګونه څکلے شي. مرزې او چرګان جنګولے شي، د برې امام مېلې ته تللے شي، مګر زنانه دي چې د کور نه بهر قدم کېښوے نه شي. په اوچت اواز خبرې کولے نه شي، مضمون شايع کولے نه شي؛ نو اوس کتل پکار دي چې ايا داد مذهب حکم دے؟ دا انصاف دے؟ دا انسانيت دے؟ نو کۀ په دې دريو کښې يوه خبره هم نه وي؛ نو دا ګمراهي به اخر تر څو پورې وي؟

او دا هم تپوس کوي چې:

"کۀ په مالدارو ښځو حج ته تلل فرض دي، تعليم حاصلول فرض دي، صله رحمي پالل فرض دي، د جمعې لمانځه ته تلل روا دي؛ نو د کور نه بهر قدم کېښول، ولې ګناه سوه؟ او دا کوم انصاف دے چې زنانۀ دپاره "کور دے يا ګور" دا يو دردناک داستان دے چې په دې څو پاڼو کښې ختمېدے نه شي، مګر

ددې نه هېڅوک انکار نه شي کولے چې زمونږ د قومي ذلت په سببونو کښې يو غټ سبب دا هم دے.

کاش! چې روشن ضميرو ازاد خيالو پښتنو په دې طرف توجه وکړي او ددې مهلک رسم د اصلاح په طرف ئې څۀ عملي قدم اوچت کړي. زۀ به دا هم ووايم چې دا دې څوک نه وايي چې ګني په پښتنو زنانو کښې هډو يوه هم داسې زنانه نشته چې د ملک سره مينه نه لري. د وطن د ترقۍ ارزو نه لري، د ملک ازادي نه غواړي. ماته معلومې دي زمونږ ډېر خوئيندې شته چې د نارينۀ نه ئې هم د ملک سره زياته مينه ده او د قومي خدمت سودا ئې د عشق درجې ته رسېدلې ده، مګر د هغوي په پښو کښې د يوې غلطې حيا زنځير پروت دے او د بې انصافه نارينۀ د پېغورونو او شرو شور په وجه د عمل مېدان ته د راوتو جرات نه شي کولے". (۲۵)

د ادارې د طرفه دا هم په جار وئيلي شوي دي چې ځينې پښتنې د باچاخان په خواست د عمل مېدان ته را وتې دي او د قامولۍ په مينه کښې لړلي شوي دي؛ خو نورو ته هم د هغوي پېروي پکار ده، مثال ئې د س ب ب ورکوي او ليکي چې:

"تاسو به په "پښتون" کښې د س ب ب صېبې ډېر نظمونه لوستي وي او خاص لاندې ليکلے شوے نظم د "خيال تصوير" لږ په غور سره ولولئ چې ددې شريفې او غېرتمنې پښتنې جينۍ په زړه کښې د قوم د خدمت څۀ بې پناه جذبه ده او دا هم معلومه کړئ چې د دې خيالات څومره اوچت الوت کوي. کاش چې نورو پښتنو زنانۀ ددې ملګرتيا وکړے او ددې قيمتي جذبې ته ئې



قوم ته څۀ فايده ورسېږي". (۲۶)

د س ب ب دا "د خيال تصوير" لکه چې پورته ذکر وشو هم په دې ګڼه کښې ورکړے شوے دے. په کښې ښاغلې ليکواله وايي چې:

تاوان د سر زما د قوم مينه تقصير کړې ربه
په عملي رنګ کښې مې جوړ د خيال تصوير کړې ربه

وينې خوراک مې د صورت نور څۀ کولے نه شم
چې ځي تر عرش پېدا به زړه کښې مې تاثير کړې ربه

د عاشقۍ رنځ مې دننه د زړۀ کور کړو خراب
طلب ئې نه کړم د دوا درد ئې کثير کړې ربه

لکه د شمعې مې د زړه په کور کښې اور بلېږي
چې پروانه شي پرې عالم دامې تحرير کړې ربه

سينه مې چاک چاک شوه فرياد مې له زړه خيژي پدا
لکه رباب مې جانګداز اواز تقرير کړې ربه

دا بې خطر اعلان فطرت زما د ختمې چې دے
داسې مې هر غم کښې قومي محکم ضمير کړې ربه

پوډر سرخي جامې زېور ښائست د ښځو نه دے
صفت زمونږ سادګي خوئي دل پذير کړې ربه

پښتنې خوئيندې مې هم خيالې شه چې شم کامياب
د مقصود باز مې د اميد په دام اسير کړې ربه (۲۷)

د ۱۱ اگست کال ۱۹۴۰ء په "پښتون" کښې د ښاغلي خان صيب شيخ عبدالحميد خان صيب پبلسټي افسر د صوبه سرحد پېښور يو ډېر اوږد مضمون "په دنيا کښې د ښځو اصلي درجه" په سرخط شايع شو. په دې مضمون کښې ليکوال ډېره په خوندوره طريقه ليکلي چې پخوا به د سړو او ښځو يو شان ژوند تېرولو، دواړو به د ژوند په هر مېدان کښې يو شان برخه اخسته. ددې نه څۀ موده پس د بني ادم په ژوند کښې تبديلي پېدا شوه او انسانانو په خپل لاس ځيني کارونه شروع کړل. د کروندې د زمکې په تلاش کښې جنگونه شروع شو. په دې وخت کښې دا خبره څرگنده شوه چې ښځې د نارينو نه کمزورې دي. ولې چې ښځه په قدرتي توگه سره د اولاد پېداکولو او ورکوتي بچي له تي ورکولو په وجه په کال کښې تر څۀ مودې پورې پخپل لاس سره د کارکولو او جنگ کولو طاقت نه لري. په دې شان سره رو رو د ښځو د قدرتي مجبورتيا په وجه څۀ زياته کمزورتيا ښکاره شوه". (۲۸)

ليکوال وايي چې ورو ورو ښځو ته د کور کارونه حواله شو او د کور نه بهر دنياوي کارونه د سړو په اوږو واچولے شو. ډېرې مودې دپاره د خلکو دا خيال ؤ چې گني خدائے تعالي ښځې د تش د کور د کارونو دپاره او سړي د بهر دنياوي کارونو دپاره پېدا کړي دي. هم ددې په سبب ښځه د همېشه دپاره په کور بندېوانه وساتلے شوه او درجه ورته د سړو نه کمه ورکړے شوه.

ليکوال وايي چې "اوس مونږ له فکر کول پکار دي چې په اصلي معنو کښې د انسان د ترقۍ او بهترۍ دپاره ښځو له په ژندگي کښې کومه درجه ورکول پکار ذي او دغې درجې ته مونږ



هغوي څرنگه رسولے شو. په دې کښې هيڅ شک نشته چې د ښځو او د سړو په پېداوښت کښې خداوند تعالي هيڅ فرق نه دے پېدا کړے. دواړو ته ئې يو شان د علمي، دماغي، اخلاقي او جسماني ترقۍ د حاصلولو گنجايش ورکړے دے. په دنيا کښې د لايقو او قابلو ښځو بې شماره مثالونه موجود دي او د تاريخ پاڼې د ښځو د بهادرۍ د کارنامو نه ډکې دي. ډېرې ښځې داسې دي چې د هغوي رايې مشوره او اخلاق د سړو نه په زر چنده زيات دي او ډېر اوچت او پاخه دي. ددې نه صاف معلومېږي چې خدائے تعالي په ښځو هېڅ سختي نه ده کړې او په هغوي کښې ئې د ترقۍ ماده او اهليت هم هغه شان پېدا کړے دے، څرنگه چې په سړو کښې موجود ده؛ نو مونږ له پکار دي چې مونږ د ښځو هغه درجه چې کومه خدائے تعالي ورته ورکړې ده، وپېژنو او دوي هم هغې ترجې ته ورسوو". (۲۹)

ډېره په خوندوره طريقه ليکوال دا ثابتوي چې دواړه د يو بل ضرورت دے. د ښځو نه بغېر هم د سړو گوزاره نه کېږي، ځکه چې "که چرې په دنيا کښې ښځې ورکې شي؛ نو د بني ادم نسل به هيچرې پاتې نه شي. د انساني ژوند دپاره د ښځو هستي ضروري ده. انساني ژوند بې د ښځو هيچرې مکمل نه شي پاتې کېدے. په هر يو کور کښې چې ښځه نه وي نو هغه نامکمل گڼلے کېږي، لکه په کوم کور کښې چې سړے نه وي؛ نو نامکمل گڼلے کېږي. ښځه او سړے دواړه د بني ادم نيم په نيم جزونه دي او د يو ژوند بې د بل نه هيچرې مکمل کېدے نه شي. هر کله چې ښځه د سړي د نصف جز حسابېږي؛ نو پکار دي چې د انسان د تکميل

دپاره سړے او ښځه دواړه مکمل وي او د ښځو د تکميل دپاره هم دومره کوششونه پکار دي، څومره چې د سړو د تکميل دپاره پکار دي او ښځو له هم په ژوند کښې دومره اوچته درجه پکار ده، څومره چې د سړو دپاره ده". او دا چې:

"د ښځو تعليم او تربيت د سړو په شان شروع کړو، د هغوي د پوهې عقل او علم زياتولو ذريعې اختيار کړو او د ښځو او د سړو په تعليم او تربيت او د دنيا پيژندګلو په وسيلو باندې علم راوستو کښې هيڅ فرق رانولو. د هغوي د جسماني طاقت زياتولو سامان پيدا کړو او د بهادرۍ او مردانګۍ سبق ورته ورکړو او هغوي په ژوند کښې دومره اوچتې درجې ته ورسوو چې هره يوه ښځه د خپل پلار، خاوند، ورور يا زوئے سره په ژوند کښې يو شان اوږه په اوږه ولاړه وي".

ليکوال دا هم زياتوي چې هر کله کۀ مونږ خپلو ښځو له دا هر څۀ په ښه شان ورکړو؛ نو بيا به هغه د خپلو نارينو سره اوږه په اوږه دژوند په هره معامله کښې په ښه شان ولاړه وي. پکار خو دادي چې هغوي ته دې بهترين تعليم ورکړلے شي چې هغوي دا د جهالت د تورو تيرو نه راووځي؛ نو بيا به "هغوي زمونږ سره د کور او ملک په ساتنه او حفاظت کښې اوږه په اوږه د اودرېدو قابلې شي. ولې چې بې د ښځو يو کور هيڅرې مکمل کېدے نه شي او چې ښځه ددې درجې وي او په دې صفتونو موصوفه وي؛ نو سړو دپاره د ډېر تقويت او طاقت باعث کېدے شي او د سړي دپاره کور کښې يو لايق مشير وي او د اولاد دپاره په کور کښې يو لايق او فاضل استاد وي او د قوم دپاره به يو نيک خلقه او



بهادر خدمتګار وي، کور او ملک به ورباندې ښائسته ښکاري".(۳۰)

هم په دې ګڼه کښې د س ب ب څۀ شعرونه "يا دا وکړه يا دا" د سر خط لاندې چاپ شو، وايي چې:

په کوم رنګ به حاصل کړم د قومي خدمت کمال
لرمه دغه خيال
ناګاه د زړه د خوا راته دا وشوه ندا
يا دا وکړه يا دا
يا وباسه خاطر نه د الفت خيال د ليلا
عشق کله شي په غلا
يا کړه لکه مجنون جنون د مينې هويدا
يا دا وکړه يا دا
يا وکړه همت ځان اورسوه د دلبر خواله
مدد له ذوالجلاله
يا وکړه توبه ځان کړه سم د کلي د خندا
يا دا وکړه يا دا
يا کښېنه په قلارې کۀ دې خوف کېږي د سر
دا لار ده د خطر
يا وينې د منصور شه کړه د دار په سر صدا
يا دا وکړه يا دا

يا وشلوه زنځيرونه د لاسو پښتو تمام
بدل کړه زور نظام
يا چپ کښېنه د سرنه کړه بهر قومي سودا
يا دا وکړه يا دا
يا مه ګوره تاريخ هغه قصې کړه واړه هيرې
له وخت سره شوې تېرې
يا ځان په قرباني خلکو ته ياد کړه شهدا
يا دا وکړه يا دا
يا کړه دا ناکامي او غلامي د غېر قبوله
سره د درد او نوله
يا جوش د حريت تلې يو ځل کړه را پېدا
يا دا وکړه يا دا
يا سم د محبت نه د وطن وکړه انکار
دا وواېه په جار
يا سرومال کړه دواړه په دې لار د عشق فدا
يا دا وکړه يا دا
يا وکړه بې خطر لکه خليل د حق اعلان
چې اور شي ګلستان



يا کړه په بت خانه کښې د صنم سجدا ادا
يا دا وکړه يا دا
يا وڅکه سره شراب د معرفت شه مستانه
کړه ګرمه ميخانه
يا مه کوه دعوه د اسلامي فرزند شېدا
يا دا وکړه يا دا
يا نور غوندې ښکاره شه د اسمان په کنارو
په پورته منارو
يا سم په خاورو پټ کړه نوم د پلار نيکه دادا
يا دا وکړه يا دا
يا مخکښې قدم کېږده يو منزل کښې دې معراج دے
راتلونکې دې سوراج دے
يا مه کوه سيالي له دنيا ودرېږه جدا
يا دا وکړه يا دا.[۳۱]

ماخذونه:


۱. "پښتون" ۲۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ء ـ ص ص:۱۱-۱۲؛
۲. "پښتون" ۲۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ء ـ ص ص:۱۲-۱۳
۳. "پښتون" ۲۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ء ـ ص :۲۵
۴. "پښتون" ۲۱ دسمبر کال ۱۹۳۸ء ـ ص : ۲۵
۵. "پښتون" ۲۱ جنوري کال ۱۹۳۹ء ـ ص ص:۳۱-۳۲
۶. "پښتون" ۲۱ جنوري کال ۱۹۳۹ء ـ ص ص:۳۲-۳۳
۷ "پښتون" ۲۱ جنوري کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۳۴
۸. "پښتون" ۲۱ جنوري کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۳۵
۹. "پښتون" ۱۱ فروري کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۳۱
۱۰. "پښتون" ۱۱ فروري کال ۱۹۳۹ء ـ ص ص:۳۸-۴۰
۱۱. "پښتون" ۱۱ فروري کال ۱۹۳۹ء ـ ص ص: ۴۰-۴۱
۱۲. "پښتون" ۱۱ فروري کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۴۲
۱۳. "پښتون" ۲۱ مارچ کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۴
۱۴. "پښتون" ۲۱ مارچ کال ۱۹۳۹ء ـ ص ص: ۱۷-۱۸
۱۵. "پښتون" ۱۱ اپریل کال ۱۹۳۹ء ـ ص :۲۱
۱۶. "پښتون" ۱۱ جون کال ۱۹۳۹ء ـ ص :۱۴
۱۷. "پښتون" ۱۱جون کال ۱۹۳۹ء ـ ص :۳۵
۱۸. "پښتون" ۲۱ جولایي کال ۱۹۳۹ء ـ ص ص:۲۹-۳۰
۱۹. "پښتون" ۲۱ جولایي کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۳۴
۲۰. "پښتون" ۱ اکتوبر کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۳۳
۲۱. "پښتون" ۱۱ دسمبر کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۸
۲۲. "پښتون" ۱۱ دسمبر کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۴۰
۲۳. "پښتون" ۲۱ دسمبر کال ۱۹۳۹ء ـ ص : ۱۰





۲۴. "پښتون" ۱۱ جنوري کال ۱۹۴۰ء ـ ص :۳۳
۲۵. "پښتون" ۱۱ اگست کال ۱۹۴۰ء ـ ص ص: ۱۱-۱۳
۲۶. "پښتون" ۱ اگست کال ۱۹۴۰ء ـ ص :۱۳
۲۷. "پښتون" ۱ اگسبت کال ۱۹۴۰ء ـ ص: ۱۴
۲۸. "پښتون" ۱۱ اگست کال ۱۹۴۰ء ـ ص :۱۹
۲۹. "پښتون" ۱۱ اگست کال ۱۹۴۰ء ـ ص ص: ۲۰-۲۱
۳۰. "پښتون" ۱۱ اگست کال ۱۹۴۰ء ـ ص ص:۲۱-۲۵
۳۱. "پښتون" ۱۱ اگست کال ۱۹۴۰ء ـ ص: ۲۶

# د دنیا بدلېدونکي حالات او پښتنې

د ۲۱ اګست کال ۱۹۴۰ په "پښتون" کښې "د یوې بي بي منظوم تقریر" ورکړے شوے دے او د لیکوالې د نوم په ځائے دا څلور تکي لیکلي شوي دي، ځ-ل-ي-ق دا خور وائي چې:

اې زما غافلو خوئیندو مستو رأتو
څهٔ خبر ئې د دنیا له واقعاتو؟

دا سړي چې مونږ د سر ګڼو تاجونه
ئې خبر چې په مونږ څهٔ کوي ظلمونه؟

علم عقل خو زمونږ کړو دوي تباه
هر یو حق ئې زمونږ وغورزو په شا

د میراث نه ئې مونږ پاتې کړو محرومې
په هر ځائے کښې مونږ خوارانې یو مظلومې

لا پښانې د ښارو مو خرڅوینه
تمامي خدمت د کور په مونږ کوینه

په دعوا خو ځان ګڼي مسلمانان
خو زمونږ د پاره نهٔ مني قران



دوي چې هر عمل کوي لري اختیار
په روا په ناروا نهٔ لري کار

مګر مونږ کهٔ چرې ږدو بېجا قدم
په کوتک مو سر وهي په هغې دم

کهٔ هر څو له دوي سره کوو مونږ مینه
خو ضرور به دوي په لتو مونږ وهینه

کهٔ هر څو کوي دوي تول عمر جفا
خو ئې نوم د ښځې ایښے بې وفا"[۱]

وړاندې هم دا ښاغلې لیکواله د سړو ډېر عیبونه ښکاره کوي او په جار وائي چې هغه وخت هم څهٔ وخت ؤ، هغه سړے به ځوان بللے شو د چا د تورزنۍ به چې خبرې کېدې او چا چې به ښهٔ سوچه توره ږېره ساتلې وه. کهٔ چرې به چا په غلطۍ سره هم خپله ږېره وخرېله نو هغه ته به خلکو په ډېر بد نظر کتل او د هیجړاتوب پېغور به ئې ورکولو، خو اوس|خو دې ځوانانو د ځان نه پېغلې جوړې کړې دي، ځکه چې بغېر د یوه لباس نه هغه فېشن کوي چې زنانه ئې ډېرې وروستو پرېښودې. بیا دې خپلو خوئیندو ته خبرداری ورکوي چې ګورئ:

صرف یو فرق پاتې زمونږ او دوي ترمیان دے
یو لباس پاتې له دوي نه په امان دے

کهٔ هغه هم دوي زمونږ نه کړو ترلاسه
بیا په هغه ورځ زمونږ قیصه ده خلاصه

هغه دا کهٔ لوپټې کړې دوي په سر
یا ریشمي ساړۍ ئې کړې ځان له دربر

اوّ زما په خیال خو دا ورځ لرې نهٔ ده
زر به واورۍ زما نه دغه خبرې

. نو بس بیا به دوي ودېږي یو تربله
یو زلمے به وي بلبل او بله بلبله

مونږ ته هیڅ حاجت به نهٔ شي د دوي پاتې
مونږ به پاتې شو هم دغسې میراتې

شاخېلي او دهوبیتوب به زمونږ کار وي
مونږ به کار کړو دوي مشغول به په سنګار وي

زما خوئیندو انتظام دے نن په کار
ګنې بیا به ارمانونه وي بېکار[۲]

"د یوې خور خط" هم د ۲۱ اګست کال ۱۹۴۰ په "پښتون" کښې چاپ شوے دے. دا خور س ب ب ده او مخاطب ئې د "پښتون" چلوونکے دے، لیکي چې د ښځو سره همدردۍ کولو هم څوک راپېدا شو. د ستائینې نه پس ورته داسې مخاطبه ده.

"د یوې مظلومې طبقې سره ستاسو د همدردۍ شکریه په



ډېر اداب سره ادا کووم. یواځې زهٔ نهٔ، بلکې پکار ده چې هره یوه پښتنه خور د خپل حق ګو وررور احسان فراموشي ونهٔ کړي او په ډېر اخلاص سره ئې شکر ګوزاره شي، ولې چې تر اوسه پورې لا په پښتنو کښې چا داسې رښتیا رښتیا وینا نهٔ ده کړې. نهٔ دا د ښځو د غفلت وېه یو سړي په ځان اېښې ده. په ځائے د دې هر سړے د نورو ملکونو د ښځو صفت کوي او وائي چې زمونږ ښځې جاهلانې او نا قابله دي او دا خو په قسم نهٔ وائي چې مونږ دوي سره کوم سلوک کوو؟ خېر هغه ټول حقیقت تاسو پخپله ښکاره کړے دے. په پښتنو کښې به ولې د قام په درد درمندې نهٔ وي. سر سترګې د هر جنس سره شته، ښهٔ او بد هر څوک پېژني. د زمانې نوي رنګ خوامخوا د هر چا خیال بدل کړے دے. دا یواځې زما امیدونه نهٔ دي چې د خاورو سره خاورې کېږي نهٔ! بلکې بېشماره زړونه د ارمانونو ډک پاتې دي او ډېرې جذبې د رسم و رواج د لاس نه پائمالې شوې دي. ولې چې دې پاک محبت په ډېرو محکومو زړونو کښې کور جوړ کړے دے.

"مونږ دا نهٔ وایو چې مونږ دې څوک داسې ازادي کړي لکه څهٔ رنګ چې د پېرنګیانو پارسایانو یهودو او هندوانو ښځې دي چې په موټرو کښې دې ګرځو، سېلونه دې کوو، سینماګانو ته دې ځو، ریډیو او وائرلس دې اورو، د سړو سره اوږه په اوږه ناستې یو. نهٔ! دا بېشکه د بې حیائۍ کار دے. د شریفې مسلمانې دا صفت نهٔ دے، البته مونږ د سړو نه هغه حقونه غواړو، کوم چې شریعت زمونږ دپاره مقرر کړي دي. یعنې قامي خدمت په کوم شان چې د اصحابانو ښځو کړے دے، کومه پرده

چې شرعي مقرر کړې ده او نن پرون په اسلامي ملکونو کښې چلېږي، کوم تعليم چې د هغې د حاصلولو حکم اسلام مونږ ته کوي.(۳)

س ب ب د خپلو ناريتو نه په جار تپوس کوي چې:

"د ښځو د پاره د مضمون يا شعر ليکل د خپل خيال اظهار يا خپلې هم خيالې پيدا کول په کوم کتاب کښې منعه ده؟ په کوم دليل سره د ښځو نوم چاپ کېدل په شرعه ناروا دي؟ ايا مونږ پښتنې د حضرت عائشه صديقه(رض) نه او د خاتون جنت بي بي فاطمه ابۍ نه معتبرې يو؟ په لنډو لفظونو کښې به ضرور هر څوک دا ووائي چې زمونږ دستور دا دے، نو دا دستور څۀ شے دے؟ د رسم او رواج پابندي خو مدام د قامونو د تنزل اسباب ګرځي، کۀ چرې اوس څوک د دې ناجايز پخواني دستور د لرې کولو په طرف په اتفاق سره توجه وکړي نو اميد دے چې ډېر زر به د قام حال بدل شي، څومره بدامنۍ چې په ملک کښې پيدا کېږي نو ټولې هم د دغې رواج د لاس نه دي. کاش! کۀ چرې ازاد خيال ورونو يوه لحظه په دې مسئله غور وکړو او د دې ملک رنځ د لرې کولو د پاره ئې څۀ نسخه تياره کړه. تر څو پورې چې زمونږ سره د سرو اواز يو نۀ شي نو مونږ هيچرې د کاميابۍ اميد نۀ شو کولے، ولې چې غلامانې يو.(۴)

لکه چې ښکاره ده په دې ورځو کښې دويم جهاني جنګ ښۀ په زور شور لګيا ؤ. ډېر قامونه د غلامۍ نه خلاصېدل او ډېر قامونه په غلامۍ ورداخلېدل. په هندوستان کښې هم قامې خلک د پېرنګي سره په ډغره ورغلي وو. په دې دوران کښې د "پښتون" ډېر مضامين سياسي وو. د جنګ متعلق په خبرو هم



زور ؤ. د دې نه علاوه د قامي مشرانو تقريرونه او نورې سرګرمۍ هم پکښې ورکولے کېدلې. نو ظاهراً د مېرمنو د خوا ليکونه کم شوي وو، ولې بيا هم لکه د س ب ب قامي ښځې خپل همت پرېښودو ته بالکل تيارۀ نۀ وه او څۀ نا څۀ کله نظم او کله نثر ئې د "پښتون" په پراخه لمن کښې د ټولو پښتنو د ښېګړې د پاره ور پېرزو کولو.

د ۱۱ اکتوبر کال ۱۹۴۰ په "پښتون" کښې د س ب ب يوه لوبه "مونږ جينکۍ مېدان ته څونه" چاپ شوه چې هغه دا ده:

يا به ازاد شو يا مو داؤ ښه دي سرونه
مونږ جينکۍ مېدان ته څونه

په قربانۍ قامونه خېژي، تمامي عمر دا دستور دے
په عشق کښې سر مال تالا کېږي، تمامي عمر دا دستور دے

د قام په وينو باغ د ملک سپړي ګلونه
مونږ جينکۍ مېدان ته څونه

راتلونکے جنګ د ملک د پاره- پښتنو خوئيندو تيارې کړئ
شي به ښکاره د عروج لاره- پښتنو خوئيندو تيارې کړئ

د زنانۀ په لاس به جوړ شي وران کورونه
مونږ جينکۍ مېدان ته څونه

اوس د وطن مينه سنګار دے، نظام بدل د زمانې شو
شوق د کالي جامې بېکار دے، نظام بدل د زمانې شو

راځئ چې پورې کړو په ټول فېشن اورونه
مونږ جينکۍ مېدان ته ځونه

سترګې د عشق په نشه سرې کړې
دغه ښائست دے د خوبانو

اصلي صفت صدق اخلاص پاکيزه زړونه
مونږ جينکۍ مېدان ته ځونه

تل صادقۍ ته غماز غل وي، د عاشقۍ په هره لار کښې
هجران مدام د وصال مل وي، د عاشقۍ په هره لار کښې

نور به غوږ نۀ ږدو د غماز په لمسونونه
مونږ جينکۍ مېدان ته ځونه

زړۀ کښې هغه احساس پېدا کړه، چې پرې قامونه ترقي کړي
د وطن عشق اخلاص پېدا کړه، په دې قامونه ترقي کړي

په حسد بغض کښې مو تېر کړۀ ډېر کلونه
مونږ جينکۍ مېدان ته ځونه

سر : وطن په ناموس دار کړه، دغه رشتونې زندګي ده
زړۀ د بدل خلکو دلدار کړه، دغه رشتونې زندګي ده

راځئ چه شاته کړو د ژوند خوشي غمونه



مونږ جينکۍ مېدان ته ځونه

کۀ ائينده نسل بېدار شي، د پښتنې مور په جولۍ کښې
د خالد زوے به سالار شي، د پښتنې مور په جولۍ کښې

بيا به په ننګ د وطن ږدي د سر داؤونه
مونږ جينکۍ مېدان ته ځونه

په هيڅ تدبير نه راکيوزي، جوړ ازادي د قام عنقا شوه
د ترقۍ له بام پرېوزي، جوړ ازادي د قام عنقا شوه

کړو را پيدا به د عنقا مارغه دامونه
مونږ جينکۍ مېدان ته ځونه[۵]

هم په دې ګڼه کښې د مولانا عبدالعليم عبير افغاني طوروي صېب يو مضمون د "نامتو ښځې" د سر خط لاندې چاپ شو. مولانا صېب د مضمون په سر کښې ليکي چې" زۀ وينم چې په "پښتون" کښې دباداب د ښځو متعلق مضمونونه چاپ کېږي او بعضې خوئيندې م داسې هم شته چې وقتاً فوقتاً خپل حالت زار بيانوي. مګر څۀ وخت چې زۀ دې ته وګورم چې هغې ته زمونږ ورونه په کوم نظر ګوري؟ نو ډېر افسوس کوم چې په ځائے د دې چې هغوي د خپلو رفيقات حيات په زخمونو باندې د مرهمونو پټۍ کېږدي، په هغې باندې نمک پاشي کوي چې هغه په اور باندې د تېلو اچولو نه کم نۀ وي. هم د دې جذبې ماتحت زۀ دا مضمون ليکم چې زما مشران، ورونه او خوږې خوئيندې پوهه

شي چې کۀ چرې په موجوده زمانه کښې د نوې روښنې زامن (قامي ليډران شاعران او نور د دې قسمه) په خولې باندې د قام او وطن د خدمت کولو لافې وهي. نو زما نه سلف کښې د اسلام غوندې عالمګير مذهب داسې ناموري ښځې هم پيدا کړي دي چې هغوي د دوي نه کم نه بلکې په سل چنده او زر چنده زيات خدمتونه سرته رسولي دي.[۲]

ښاغلے ليکوال پخپل دے مضمون کښې د زهرا اندلسي. (مشهوره طبيبه) شجرة الدر (يوه ترکي ښځه چې په وراثت کښې ئې د مصر باچايي موندلې وه) ام يحيے (يوه لويه عالمه) شادخانم (د محمد سلطان مرزا چې د تيمور د خاندان ؤ، لور وه) زيب النساء بېګم (شاعره وه او د اورنګ زيب مغل باچا لور وه) جانان بېګم (عبدالرحيم خان خانان لور وه) دل ارام چې اصلي نوم ئې دل ارا بېګم ؤ (د جهانګير مغل يوه بي بي وه) او رضيه بېګم (د هندوستان يوه ملکه د سلطان شمس الدين التمش لور وه) ذکر کړے دے. د پورتنيو ذکر شوو مېرمنو ذکر خو ئې کړے دے، ولې د دوي د ژوند حالات وغيره ئې ډېر لږ ورکړي دي او د لوستونکي تنده نۀ ماتوي.

د ۲۱ اکتوبر کال ۱۹۴۰ په "پښتون" کښې د س ب ب يو مضمون "د يوې خور د خپلو خوئيندو سره خبرې" د سر خط لاندې چاپ شو، لکه چې ېره وئيلي شوي دي دوېمه جهاني جګړه ښه په زوروشور سره روانه وه. د دنيا تاريخ بدلېدونکے ؤ، ډېر قامونه د تباهۍ سره مخامخ وو او ځيني قامونه ازادېدل. د خونړي جنګ تباه کارياني په هر خوا ليدلے شوې. لکه د نړۍ د



نورو وګړو غوندې پښتنې ښځې هم د دې نه اثر انداز شولې. س ب ب په دې مضمون کښې هم د دې جنګ تباه کارياني او په پښتنو د هغې اثرات بيانوي. ليکي چې "اګر چې مونږ پښتنې خوئيندې خو د څۀ نۀ خبرېږو او سمه خبره خو دا ده چې ځان د څۀ نه خبروو هم نۀ چې دنيا څو ډانګه ده؟ د خوراک او جامې سره مو کار دے، کۀ په دې کښې څۀ فرق راغلو نو پوښتنه به کوو چې دا ولې؟ د څۀ مودې راسې ښې ښې ريښميني انګريزۍ ټوټې ګرانې شوې چې دا زمونږ دپاره يوه ناقابل برداشت صدمه وه. پوښتنه مو وکړه چې دا سر خوړلے قحط د کومې راغے. چا ووې چې دا جنګ دے، دا نوم زمونږ د هرې يوې ناپوهې خور غوږونو ته ورسېدو. مونږ ته خو د جنګ صرف دا تاؤ تپ رارسي چې نرخونه وختل، مګر کۀ د سترګو نه څۀ وخت دپاره پردې لرې کړو نو وبه وينو چې کۀ چرې هندوستان هم دغه شان وي، لکه چې دا دے نو د جنګ ټول بار به د دې بدنصيبه په اوږو پرېوزي.

"دا رښتيا ده جنګ قامونه پورته کوي او جنګ قامونه پرېباسي. پورته کوي هغه خلک چې چا ورته د کلونو راسې تيارے کړے دے او د اصلاح کور ئې لا پخوا جوړ کړے دے. زمونږ په شان محکومه او نا اتفاقه قام خو په دې نا پاياوه سېلاب د سرو ماله سره لاهو کېږي او د بدقسمته هندوستان قربانۍ ټول عمر د بل دپاره وي...

"خوئيندو او مونږ ته په دې هم ځان پوهول پکار دي چې دا جنګ د څۀ دپاره دے؟ او دا په کروړنو مخلوق ولې تباه کېږي؟ هغه د مظلومانو د حمايت ورځې خو هم اوس تېرې شوې.....[۷]

ښاغلي ليکواله دا هم وائي چې د غلامۍ به څهٔ د ذلت ژوند وي، څکه خو پخواني مشرانو په دې يقين لرلو چې د غلامۍ د ژوند نه د ازادۍ څنکدن غوره دے. هغه دا هم وائي چې:

"کومو خلکو چې لوئې لوئې دعوې کولې، د قام د رهنمائۍ او د وطن د خادمۍ د هغوي ايمانونه هم معلوم شو خو بيا کهٔ چرګ وسوزي و سوزي خو د پېتۍ نه ئې خوند ښهٔ وي. د خلکو په خولهٔ کهٔ کانګريس هر څو بد شي، مګر هغه د خپلې مخلصۍ او رښتونې خدمتګارۍ ثبوت بيا دنيا ته ورکوي او د دروغو ويونکو او په يو پاک تحريک د تهمت لګوونکو په خولهٔ کښې خاورې پربباسي. موجوده واقعات بيا داسې رنګ اخلي چې کانګريس به سول نافرمانۍ ته مجبوره کړي او د صبر په جنګ به د وطن د ازادولو هر ممکن کوشش کوي، کهٔ چرې داسې وشوه نو مونږه خوئيندو ته پکار ده چې د سړو سره سم د قام او د وطن خدمت ته ملا وتړو او د نن نه ديارلس سوه کاله وړومبے چې مسلمانانو ښځو په کومې طريقې د سړو مرسته کړې ده هم هغه کارنامې مونږ بيا خلکو ته رايادې کړو. د سړو د کاميابۍ د پاره به خپل وس تمام کړو.

"د ځاني قربانۍ ضرورت به مونږ ته هله پېش راځي چې خداناخواسته سړي ټول په دغه لاره کښې قربان شي، مګر د خيال د يو کولو او د مالي مرستې ضرورت خو په هر دم او په هر ساعت پيښيږي. مونږ ته پکار ده چې د قام او د وطن نه هيڅ يو څيز عزيز نهٔ کړو چې د سړو قربانۍ لکه د مخکينۍ غوندې بيا سينهٔ ته ګزارې نهٔ شي"(۸).



ښاغلې ليکواله بيا په ښکاره دا وئيل غواړي چې:

"د دولت محبت څهٔ شے دے؟ او د غلامۍ ژوندون څهٔ دے؟ سراسر د ذلت او د لعنت زندګي ده، کهٔ لږ په غور سره مونږ تاريخ وګورو نو معلومه به کړو چې د ازادو سړو او د هغو ښځو چې د ملک او د قام د محبت په لاره کښې ئې قربانۍ کړې دي نو نومونه ئې څومره عزت سره ليکلے شوي دي او د تاريخ پاڼې پرې څهٔ رنګ ښې ښکارې، د هغې نه پس څومره خلک لاړ دي، مګر نهٔ د چا په ياد کښې دي، نهٔ ئې څوک نوم نشان پېژني، بلکې د مرګ سره سم فنا شوي دي" (۹)

د ۱۱ دسمبر کال ۱۹۴۰ "پښتون" کښې د ادارې د طرفنه د راروانې ستيه ګرهے اعلان چاپ شوے وُ. د دې سره خدائي خدمتګارو ته دا وېنا شوې وه چې دوي به د ټولې د اصولو ډېر خيال ساتي. دا ځل به جېل ته هم هغه کسان ځي چې چا ته جماعت اجازت ورکړي خو بيا ئې عامو پښتنو ته دا خواست کړے وُ چې د قام ناخبره خلک بېدار کړي او په هغوي کښې د سهي قاميت د جذبې د بېدارولو کوشش وکړي.

په دې ګڼه کښې د س ب د يوې تاريخي قيصې "په صليبي جنګونو کښې د يوې بي بي بهادري" چاپ شوې ده. وړومبے ټوک په دې ګڼه کښې ورکړے شوے دے. د حضرت ابوعبيده(رض) او د حضرت خالد بن وليد(رض) هغه واقعات بيانوي کومو سره چې دوي د روميانو په وطن کښې ورمخامخ وو(۱۰).

خو لکه چې وړاندې ووئيلے شو. په دې ګڼه کښې ښکاره کړلے شوه چې ډېر زر به بيا يو ځل سول نافرماني شروع کېږي او

کانګریس او د هغوي ملګري به حکومت سره ډغره وهي. هم دې ګنه کښې دا هم لیکلے شوي دي چې د ماسټر عبدالکریم په " ننني دنیا" کښې د حکومت په څۀ خبرو اعتراض کولو د " پښتون" نه حکومت څۀ ضمانت وغوښتلو خو ولې د ادارې د طرفنه ضمانت ولګولو نه انکار وکړل شو، ځکه چې بقول د" باچاخان " مونږ پخپله سیاسي پالیسي کښې څۀ فرق راوستلو ته تیار نۀ یو او حکومت زمونږ سیاسي پالیسي خوښوي نۀ".(۱۱)

نو د دې نه پس تر ډېرې مودې پورې د " پښتون" مخ پسې پښتانۀ رانده شول او بیا د پنځو کالو پس ئې دیدن وکړلو.

لکه چې ووئیلے شو پینځۀ کاله پس " پښتون" بیا راښکاره شو. د ۱۵ اګست کال ۱۹۴۵ په "پښتون" کښې (دا ځل "پښتون" د اووه ورځنۍ په شکل کښې راووتو) د باچاخان مضمون "پښتنو زنانه ؤ ته چاپ شو، لکه د وړاندې غوندې باچاخان دوي ته خواست وکړو چې لیکل کوي او " پښتون" ته ئې د چاپ دپاره رالېږي. باچاخان لیکي " ما د "پښتون" په پخوانو پرچو کښې هم خپلو پښتنو خوئیندو ته لیکلي وو او دا ځل ئې بیا هم لیکل ضروري ګڼم چې د یو قام د ترقۍ دپاره کوشش یواځې د نارینه ؤ فرض نۀ دے بلکې دا فرض په زنانه ؤ او نارینه ؤ یو شان عائد کېږي. مګر د بدقسمتۍ نه زمونږ پښتنې زنانه په دې مېدان کښې هیڅ حصه نۀ اخلي. دا سهي ده چې د دې ذمه داري زیاته په نارینه ؤ ده، ولې چې نارینه خپلو زنانه ؤ ته د قامي خدمت موقعه نۀ ورکوي، مګر څۀ نا څۀ زنانه هم ملامته دي چې کۀ نور څۀ نۀ وي نو قلمي امداد خو دوي کولے شي. لکه د " پښتون" په تېر



شوي دورونو کښې زمونږ یوه دوه درې خوئندې داسې وې چې څۀ اشعار او مضمونونه به ئې رالېږل او د هغې نه به په پښتنو زنانه ؤ کښې ډېره بېداري پېدا کېده نو کۀ دا ځل بیا پښتنې زنانه توجه وکړي او د " پښتون" دپاره څۀ قلمي مدد شروع کړي نو دا به د خپل قام یو لوئے خدمت ګڼلے شي. زۀ به خپلو پښتنو خوئیندو ته دا هم عرض وکړم چې تاسو لږ د دنیا د قامونو د حالاتو نه ځان خبر کړئ چې زنانه د نارینه ؤ سره اوږه په اوږه د قام د ترقۍ کوشش کوي او د هیڅ یو قام ترقي تر هغې نۀ شي کېدے تر څو چې د هغې قام نر ښځې یو شان د ملک د ابادۍ او ترقۍ دپاره کوشش ونۀ کړي نو کوم کار چې مونږ شل کاله پس شروع کوو نو ولې نن په هغې عمل شروع نۀ کړو. د نورو قافله اګر چې زمونږ نه ډېره مخ کښې لاړه خو کۀ نن مونږ راپاڅو او ورپسې د تلو کوشش وکړو نو نور خو به وروستو پاتې نۀ شو او کۀ هم دغسې مونږ اوده یو او زمونږ زنانه غافلې او بې خبره وي نو هیڅ امید نشته چې مونږ به د دنیا د قامونو سره د سیالۍ قابل شو".(۱۲)

د ۲۴ اکتوبر کال ۱۹۴۵ په " پښتون" کښې ځینې نظمونه د زنانه ؤ چاپ شوي دي خو اول پرې باچاخان د خپلو خیالاتو اظهار کړے دے، هغه " د یوې خور نظم" د سرخط لاندې دا وائي:

" زما د خپلو خوئیندو نه دا ګیله ده چې دوي د "پښتون" اخبار په معامله کښې ډېره دلچسپي نۀ اخلي. حالانکې "پښتون" د پخوا نه د دوي حقونو دپاره د پښتنو سره جنګ کړے دے.

يوې خور دا نظم رالېږلے دے چې په هغې کښې د خپلو ورورڼو نه ډېر شکايت کړے دے. حقيقت دا دے چې د دې خور شکايت په ځائے دے. د بدقسمتئ نه مونږ پښتانۀ خپلو لوڼو خوئيندو سره د څناور په شان سلوک کوو او څومره توقعات چې مونږه په زامنو پورې تړو، هغه د دوي نه هيچرې نۀ کوو او حال دا دے چې د بنيادم د ګاډي پايه کۀ نارينه واخلو نو بله پايه ئې يقيناً زنانه کېدے شي او ګاډے هله په کار راتلے شي چې دواړه پايې ئې روغې وي. په يوه پايه هيڅ يو ګاډے چرې منزل ته رسېدلے نۀ دے، بلکې زما خو دا خيال دے چې زنانه د قام نيم تن وجود دے او نن د پښتون نيم وجود بالکل شل دے"[۱۳]. باچاخان دا هم وليکل چې:

"زما د ژوند مقصد دا دے چې زنانو ته دې خپل حقونه پوره پوره ورکړے شي، لېکن د دې خور په خدمت کښې دا عرض دے چې د دې دنيا نه خپله برخه په خپله مړانه اخستے شي. مسلمانانو زنانو هله خپل مکمل حقوق د عرب غوندې سنګدل قام نه واخستل چې د بدر او د أحد په جنګونو کښې څنګ په څنګ د خپلو وروڼو او زامنو سره ودرېدې او د ملک وطن او مذهب خدمت ئې وکړو. نن بيا تاريخ هغه زړۀ پاڼه را اړولې ده. ملک وطن او مذهب لکه څۀ رنګه چې د پښتنو ننګيالو نه د خپلې ځوانئ صدقه غواړي، دغسې د خپلو خوئيندو او لوڼو نه هم دا توقع لري چې په دۀ به غېرت وکړي. د عمل وخت په سر راغلے دے. هر څوک لګيا دي د درمند نه د خپلو اعمالو د نتيجې پنډونه تړي. مونږ لګيا يو د ټول قام خدمت کوو خو



خدائے تعالے هم د هغه چا امداد نۀ کوي څوک چې په خپله د خپل ځان امداد ونۀ کړي. زۀ اميد کوم چې زما خوئيندې به زما دا خبرې په غور سره وګوري او کۀ خپله فائده ورته پکښې ښکاره شوه نو عمل به پرې هم وکړي او د "پښتون" اخبار په ذريعه به مونږ ته خپل خيالات راورسوي"[۱۴].

وړاندې بيا د هغې يوه خور "نظم" ورکړے شوے دے، دا نظم دومره په زړۀ راښکونکې طريقه ليکلے شوے دے او داسې موثره انداز بيان لري چې ټول به ورکول ډېر مناسب وي.

اې پښتونه! ډېر ساده ئې وايه وايه دا په څۀ؟
جهالت کښې مبتلا ئې وايه وايه دا په څۀ؟

مسيحا لار په سما شو امتي ئې په هوا شو
تۀ په زم کۀ باندې پائې وايه وايه دا په څۀ؟

نن چينيان کۀ جاپانيان دي ترقئ په لار روان دي
تۀ په ښکته مونږه بيا ئې وايه وايه دا په څۀ؟

تۀ ادم ئې زۀ حوا يم هم له تا څنې پېدا يم
تۀ لمه مانه بې پرواه ئې وايه وايه دا په څۀ؟

چې د لور په کور پېداشي په تا جوړه کربلا شي
خپل قسمت نه په ژړا ئې وايه وايه دا په څۀ؟

لور او زوئے چې تا زېږلي له يو ځائے دي راغلي
په ده خوښ په دې خفه ئې وايه وايه دا په څۀ؟

زوئے سبق پسې روان کړې په ښهٔ علم ئې روښان کړې
لور ته وايې چې تهٔ خره ئې وايه وايه دا په څهٔ؟

وائې ښځې خو پائيزار دے څکه پښو لاندې پکار دے
تل په جور او په جفا ئې وايه وايه دا په څهٔ؟

مونږ ته وايې ناقصانې عقل دين کښې وروستو پاتې
څان د هېر شو نابينا ئې وايه وايه دا په څهٔ؟

تهٔ مومن زهٔ مومنه يم ښه پخه په پنځ بنا يم
ما ته علم نهٔ وښائې وايه وايه دا په څهٔ؟

چې زامنو د ښادي وي په تا ډېره خوشحالي وي
سر د لونو په سودا ئې وايه وايه دا په څهٔ؟

ستا وادهٔ يا چې کوژده وي هله وي چې ستا رضا وي
مونږه پټې سترګې بيايې وايه وايه دا په څهٔ؟

ټول زامن د افسران کړل وزيران او ممبران کړل
ما له وايې په کور ښائې وايه وايه دا په څهٔ؟

زما کار او بهٔ مېچن دے يا خدمت د خپل څښتن دے
تهٔ په کلب په سينما ئې وايه وايه دا په څهٔ؟

چې د زوئے نهٔ وي ميراث ئې کهٔ د لور نهٔ وي حيات ئې
خپل رسول (ص) ته هېڅ په شا ئې وايه وايه دا په څهٔ؟

تهٔ بنياد د ازادۍ ږدې په مونږ نورې پابندۍ ږدې
په دې چارې کښې خطا ئې وايه وايه دا په څهٔ؟



قام مارغه وشمېره وروره دوه وزرو لره بويه
يو ئې مات په يو ئې بيا ئې وايه وايه دا په څهٔ؟[15]

د يکم نومبر کال ۱۹۴۵ په "پښتون" کښې د يو خور د رزړو چارسدې يو مضمون چاپ شو چې سر خط ئې دے "زما يوه ارزو" ښاغلې ليکواله په دې د ډېرې زياتې خوشحالۍ اظهار کوي چې "پښتون" بيا جاري شو، څکه چې د دې په ذريعه دوي د دنيا د حالاتو نه خبرېږي. د خپلو مشرانو پښتنو نارينهٔ نه ګيله منده ده چې:

"زمونږ غريبانانې پښتنې خوئيندې خو په ژوندوني د مړو په حساب دي. کهٔ چرې د دېوال نه هغه خوا دنيا ورانه شي هم ترې نه مونږ نهٔ خبرېږو. دا د پښتنو په خپلو لونو خوئيندو ډېر لوئے ظلم دے چې اول خو دوي هغوي ته تعليم نهٔ ورکوي او کهٔ چرې يوه نيمه پکښې د توړتکي نه خبره شي نو هغه هم بيا د هغې نه څهٔ فايده نهٔ شي اخستے، څکه چې نهٔ هغه تعليميافته جينکۍ په کورونو کښې اخبار لوستے شي. نهٔ اخبار ته مضمون ورکولے شي او نهٔ څهٔ ملازمت کولے شي. ولې چې پښتانهٔ په دې ټولو خبرو بد ګڼي او دغه وجه ده چې پښتنې خوئيندې د قام هيڅ قسم خدمت نهٔ شي کولے.

"زهٔ خپل پښتون قام ته د ټولو جينکو د طرفه دا سوال کوم چې مونږ تاسو نهٔ کالې، بنارسۍ او د سوچې تيلې پټې نهٔ غواړو خو د تعليم حاصلولو اجازت غواړو. زهٔ د پښتون قام په خدمت کښې دا عرض په ډېر ادب سره کوم چې کهٔ تاسو خپل اولاد لائق

او قابل غوارئ نو جينكو له تعليم وركړئ. د كوم زوئے مور چې بې تعليمه او نالائقه وي نو د هغې اولاد هم نالايق وي، ځكه هوښياران وائي:

"چې سل خويونه ئې نوروي يو به ئې د مور وي"

دا يوه منلې شوې خبره ده چې د اولاد د تربيت دپاره د تعليم يافته پلار دومره ضرورت نهٔ وي، څومره چې د تعليمافته مور. ځكه چې د بچو تربيت او د تعليم دپاره اوله مدرسه الله تعالے د مور غېږه مقرر كړې ده نو چې اوله استاذه ئې تعليميافته او تربيت يافته وي نو الواد ترې نه خويونه ښهٔ زدهٔ كړي." (۱۶)

د ۹ دسمبر كال ۱۹۴۵ په "پښتون" كښې د روشن غني خان مضمون "د ژوند ګاډے" چاپ شو. دې مضمون كښې ليكوالې په ډېره مناسبه طريقه دا ښكاره كړې ده چې ښځې او سړي د ژوند د ګاډي دوه پايې دي. ځنګه چې د يو ګاډي دوو پايو ته ضرورت وي دغسې د ژوند په ګاډي كښې د دوي يو بل ته ضرورت وي. د كاميابۍ منزل مقصود ته د رسېدو دپاره دواړو ته يو شان همت او طاقت پكار دے. كهٔ چرې د ګاډي يوه پايه نقصاني وي نو بيا هغه به ډېر زيات په كړاؤ خپل ځائے ته رسېدے شي. روشن ليكي:

"د دې نه څوک انكار نهٔ شي كولے چې د دنيا په تهذيب جوړولو كښې د ښځو ډېر لاس دے. دا بيله خبره ده چې د سړي او ښځې فرائض جدا جدا دي. بهرحال ښځې د سړو سره مدد ضرور كولے شي. د ښځې اول فرض دا دي چې خپل كور صفا سوتره وساتي. د ښځې د ټولو نه لوئے فرض د بچو پالنه ده يواځې دا نهٔ



چې بچي پېدا كړي بلكې د هغوي د صحت او اخلاقو پالنه وكړي او په روحاني لحاظ سره په مستقبل جوړولو كښې د مور ډېر لوئے لاس دے.

ځنګه چې ما مخكښې هم وئيلي دي د دواړو فطرت او جسم بالكل د يو بل نه مختلف وي. سړے مضبوط وي او د سختو كارونو دپاره جوړ شوے وي. او ښځه ذات بردباره او صبرناكهٔ وي او په جسماني لحاظ سره نازكهٔ وي. په ښځو كښې همدردي او تېزفهمي ضروري صفتونه دي. زهٔ د دې عقيدې نهٔ يم چې سړے د ښځې نه بهتر يا وچت دے. ښځه او سړے د انسانيت په درجه كښې يو شان دي. مګر په برخه كښې يو برابر نهٔ دي. يو د بل مددګار دي او بغېر د يو بل د امداد نه ژوند نهٔ شي تېرولے. خو كهٔ د يو بل په دغه برابرۍ كښې كوز او پاس راشي نو د دواړو په ژوندون به بد اثر پرېوځي.

ښځې له نهٔ دي پكار چې په هر څهٔ د سړو پېښې كوي. ښځه په خپلو كارونو او فرائضو خوږه او درنه ښكاري. ولې دا هم ضروري نهٔ ده چې ښځه دې خالصه د سړي وينځه وي. تر څو چې ښځو كښې خودداري او غرض شناسي نهٔ وي او د انسانيت په درجه كښې خپل صحيح ځائے ونهٔ پېژني انساني نسل ترقي نهٔ شي كولے او خپل منزل ته نهٔ شي رسېدے. اوس ښځو له پكار دي چې په دې مطلبي او خودغرضه زمانه كښې خپلو بچو ته د ايثار، محبت او قربانۍ تعليم وركړي چې په ځائے د جنګ او جدل د مينې محبت او ورورولۍ سبق دنيا ته وښيي." (۱۷)

د وړومبي دسمبر ۱۹۴۵ په "پښتون" كښې د احمدي

باندې د الف جان خټکې شعرونه "د خوشحال خان خټک وصيت" د سرخط لاندې چاپ شول. د ډاکټر محمد اقبال د کتاب نه د خوشحال بابا وصيت ئې نقل کړے دے او بيا ئې په پښتو ترجمه کړے دے. ليکي چې اقبال وائي:

قبيلې خپلونه ورک بويه په قام کښې
چې پرې نوم د پښتانهٔ شي سربلند

زهٔ مئين يم په هغو ښکليو ځوانانو
چې په ستورو باندې اچوي کمند

د مغل نه په هيڅ شان کم کوز نهٔ دے
يوسفزے خټک بنګښ خليل مومند

ما د زړهٔ خبره دا ده ښکاره کړې
د خوشحال وهٔ هغه قبر ډېر پسند

چې پرې نهٔ راوړي هيڅ کله باد د غرونو
د مغل سوارهٔ ګردونه د سمند

د مغل په ځائے انګرېز په تا غالب شو
نن دې وار دے کهٔ عمل کړې په دا پند

د خوشحال په ځائے باچا خان درله راغے
خدائے دې دے لرې خوشحال او اقبال منهٔ



پښتنانهٔ په يوهٔ تار پېيلي غواړي
له کشمير نه تر هرات او سمرقند

الف جان سحر ماښام له خدايه غواړي
کړې کامياب فخر افغان په اخپل ژوند (۱۸)

د اول فروري کال ۱۹۴۲ په "پښتون" کښې د الف جان خټکې، يو خط چاپ شوے دے. د خط نه اول باچا خان پرې خپله رائې ليکلې ده. د دې سرخط "د يوې جينۍ خط" دے. باچا خان ليکي چې مونږ د صوبې په دوره وتلي وو څهٔ وخت چې کوهاټ ته ورسېدو نو راته يو خط سالار اسلم راکړو چې د احمدي بانډې يوې تعليم يافته خور الف جان خټکې باچا خان ته رالېږلے ؤ. باچا خان وائي:

"الف جان د احمدي بانډې يوه لوستلې جينۍ ده. دا د هغې خط دے. د دې خط د لوستو نه معلومېږي چې د دې پښتنې جينۍ په زړهٔ کښې د پښتنو زنانوو د ترقۍ او بهبود دپاره يوه رښتونې جذبه ده. زهٔ ډېر خوشحالېږم چې پښتنې جينکۍ د خپلو خوېندو د ذليل ژوند احساس وکړي او د دې احساس جذبه قام ته ښکاره کړي. کهٔ په زنانه عالم کښې بېداري پېدا شوه نو دا به زما د زړهٔ يوه زړه ارزو پوره شي.

"پښتون" په دې سلسله کښې هر قسم خدمت ته تيار دے او داسې مضامين به په ډېر قدر سره چاپ کوي مګر دومره عرض به وکړم چې پښتنې جينکۍ دې د خپلو نارينوو په طمع کېږي نهٔ. په پښتنو نارينوو کښې د خپلو خوېندو، لوڼو د ترقۍ جذبه تقريباً

د نشت برابر ده. حال دا چې زمونږ اسلامي فرض دي چې زنانو ته علم وښيي. حديث شريف دے "طلب العلم فريضة علي كل مسلم و مسلمة" مګر نارينو علم خو ضروري ګڼلے نۀ دے او کۀ ضروري ئې وګڼي نو هغه هم د خپلو هلکانو دپاره. د جينکو دپاره نۀ. نو په دې وجه لوستونکو جينکو له پکار دي چې د خپلو خوېندو خدمت ته په خپله ملا وتړي او کوشش وکړي چې خپل نارينه د جينکو په تعليم مجبور کړي.

زما لور مهرتاج ماته اوس اوس دا ارزو ظاهره کړې ده چې زۀ د خپلو خوېندو خدمت کول غواړم. ما ورته ووئيل چې زۀ به ډېر زيات خوشحاله شم کۀ تۀ د خپلو پښتنو زنانو څۀ خدمت وکړې. غسې ما د الف جان پلار ته هم وئيلي دي چې تۀ الف جان ته ووايه چې دا کار صرف په مضمونونو نۀ کېږي تر څو چې عملي قدم وچت نۀ کړے. (۱۹)

د الف جان خټکې هغه خط دا دے:

"خورېه فخر افغانه!

مونږ د احمدي باڼډي يو څو جينکۍ په ډېر صدق او اخلاص سره تاسو ته هرکلے وايو او ستاسو ډېره ډېره شکريه ادا کوو چې تاسو په دې سړو سيلو کښې خپل ارام او اسائش پرېښے دے او زمونږ ناپوهه قوم د پوهولو دپاره مو دورې شروع کړې دي او داسې دورې د پېنځلسو شلو کالو نه په دې صوبه کښې تاسو کوئ. کۀ زمونږ په مشرانو څلمو کښې څۀ لږ ډېر اهليت وې نو دا خپل به ستاسو د دورې ضرورت نۀ وې پېښ شوے او خدائي خدمتګاران ممبران به لکه د هندوانو اسمبلۍ ته بلامقابله لاړ



وو مګر مونږ ګورو چې په هر سيټ باندې مقابله ده. خدائے دې زمونږ مشرانو ته هدايت وکړي چې دوي په خپل سود او زيان پوه شي." (۲۰)

الف جانه د خوشحالۍ نه په جامو کښې نۀ ځائېږي چې دا ځل دوي به هم د خپل ووټ حق لکه د خپلو نارينو استعمالولے شي. هغوي کښې هم سياسي شعور راتلونکے ؤ خو ورسره دا وائي چې "خورېه مشره! زمونږ دا ځل دې خبرې سره څکه دلچسپي پېدا شوه چې مونږ هم خپلې نامې د ووټرانو په فهرست کښې وکتلې او مونږ هم په دې خبره پوه شو چې د حکومت په جوړولو کښې زمونږه هم برخه شته. دا حق خو تاسو مونږ له راکړو. مګر د دې حق په استعمال باندې تر اوسه پورې زمونږ څلمي هم نۀ دي پوهه نو مونږ د کوهي چيندخې به څۀ پوهه شو. د دې دپاره د ډېر عقل او فکر ضرورت دے او عقل په علم سره پېدا کېږي او زمونږ خو د علم دا حال دے چې په دې کلي کښې په مشکل سره څلور پېنځۀ جينکۍ پښتون لوستلے شي.

خورېه فخر افغانه! مونږ اورو چې نن ورځې د هندوستان جينکۍ په دې تحريک کښې د څلمو سره سمه حصه اخلي او ستاسو به هم زمونږ نه دا طمع وي مګر دا طمع مو بې ځايه ده څکه چې د هندوستان جينکۍ په تعليم کښې زمونږ نه ډېرې وړاندې دي او پښتون زمونږ د تعليم لا هيڅ انتظام نۀ دے کړے. اول خو په کلو کښې سکولونه نشته او کۀ چرته خال خال وي هم نو زمونږ مشران د جينکو تعليم غېر ضروري بلکې نقصاني بولي. دا وجه ده چې سرکار هم زمونږ د تعليم څۀ تسلي بخش انتظام نۀ کوي. (۲۱)

الف جان د باچا خان نه په اخره کښې دا غوښتنه کړې ده چې "تاسو خپل خدائي خدمتګارانو ته دا ووایئ چې هغوی د جینکو د تعلیم د لازمي کېدو د پاره خپل وس او کوششونه وکړي. ګني نو د قیامت په ورځ به مونږ د خپلو مشرانو غاړو ته لاس واچوو."

د فرورۍ د اوولسم تاریخ په "پښتون" کښې "پښتنې جلې ته خطاب" په نوم د الف جان ختکې شعرونه شائع کړي دي:

راشه راشه د سرحد پښتنې جلې
چې د غم خبرې وکړو یو تر بلې

په ایمان وایه په کوم ډېران اوده وې
د ازل په ورځ چې برخې وېشېدلې

د یورپ ښځې په شیش محل کښې اوسي
ته نازېږې د غوایانو په غوجلې

دا عالم جونه د شنو باغونو سېل کړي
هر سحر ته چلوې خپلې خزلې

متې نغښتې په دېوال تپې ځپیاکې
په غوشیاړو دې لړلي وې ځنګلې

نه دې مونځ نه دې اودس نه دې عمل شته
د قرآن حدیث په ځائے وائې بدلې

لېده دا چې نه د دین نه د دنیا شوې
د موګي په شان د دواړو ووتلې



دا ذلت دې په سبب د جهالت دے
مور او پلار چې ته مکتب ته نه لېږلې

د دوزخ ژوندون خو تا په ځان قبول کړو
خپلې لونه جهنم ته بیائې ولې؟

خدائے دپاره د تعلیم زړه مه ئې وکړه
که په لور د ژوندانه مزه اخلې

ښه کالے د جینکو ښه تربیت دے
نه اورې ده نه کړې دي نه پائلې

طوق بېړۍ او هتکړۍ دې ورله ساز کړل
خدائے خبر په کوم قصور کښې دې نیولې

د قریشو جینکۍ له تا نه ښې وې
په ژوندوني به پلارانو ښخولې

په واړهٔ عمر که ته وې خاورو لاندې
په ځوانۍ کښې به چا ولې خرڅولې

پاک رسول چې د اُحد په سر نعرې کړې
د عربو زولنې ئې وشلولې

هغه زوړ سبق دریاد فخر افغان کړو
شوې اوده په غړېدلو سترګو ولې

غلامي د خدائے لعنت دے په مونږ باندې
پښتنې ئې د سیالۍ نه وویستلې

وروره د پلار نیکهٔ بائللې هندوستان وګټه
تللې عزت د سکهـ هندو او مسلمان وګټه

د پاکستان په خیالي خبرو مهٔ غولېږه
فیرنګې وباسه ربښتونې پاکستان وګټه

د سُوک څپېړې په بدل کښې د وروز څمڅ ماتوې
کهٔ غېرتي ئې څه د خپل ملک شهیدان وګټه

قامونه وینې تویوي د خپل لیډر په خولو
وکړه پښتو ماتې پُښتې د باچا خان وګټه

تهٔ ئې پښتون او پښتانهٔ په پښتو ښهٔ ښکارېږې
تینګه پښتو کړه د زړو پښتنو شان وګټه

د الف جان د زړهٔ ارمان دے مکمل ازادي
وروړ مې شه څه د خپلې خور د زړهٔ ارمان وګټه[۲۳]

هم په دې ګڼه کښې د اقبال پروین یوسفزئي صاحبې مضمون "قرباني" هم چاپ شوے دے. محترمې لیکوالې د ترکو د جنګ یوه قصه بیان کړې ده چې څهٔ رنګې یوې مېرمن د خپل ځوي قرباني ورکړه او د قوم د هر بچي ئې بچ کړل. لیکواله وائي چې "نن ترک ازاد دي او د شهیدو شوو ترکانو روحونه هم ازاد دي. دښمنانو د ترکي د غلام کولو کوشش کړے وُ لېکن د ترکو بهادرانو ورونو سره د هغوي خوېندو هم مدد کړے وُ. خوېندو یواځې د ځان قرباني نهٔ وه ورکړې بلکې ورسره ورسره ئې د خپلو

راشـــه وشـــلوه د غـــاړې زنځيرونـــه
کـــۀ دنيـــا کـــښې د عـــزت برخـــه اخلـــې

کـــۀ پـــاڅې لـــه خوبـــه پاڅـــه او کـــۀ نـــۀ وې
تـــر قيامتـــه بـــه پـــه خـــاورو کـــښې ځملـــې

قـــافلې در ځنـــې د ېـــرې وړانـــدې لاړې
رســـېدل بـــه دې هلـــۀ شـــي چـــې تـــۀ زغلـــې

نېغـــــه لار د شـــــريعت ده روانېـــــږه
د الله پـــه رســـۍ ښـــځې کـــړه منگـــولې

ظـــاهري حـــسن چـــې تـــا لـــه خـــدائے درکـــړے
پـــه عـــالم کـــښې بـــه مونـــدلے نـــۀ وي بلـــې

په ايرو کښې د سرۀ لعل په شان ښکاره وې
خالـــد د اديـــب خـــانم چـــې وليـــدلې
هـــائ افـــسوس چـــې بـــاطني حـــسن دې هـــم وې
نمـــر پـــه شـــان بـــه پـــه عـــالم کـــښې ځلېـــدلې

الف جان چې خپل تصوير ورته ښکاره کړو
پـــښتنې جونـــه ئـــې ځنـــگ وژړولـــې (۲۲)

د اول اپريل کال ۱۹۴۲ پـه 'پـښتون' کـښې هـم د الـف جـان خټکې څو شعرونه 'د خور ارمان وکتـه' د سرخط لانـدې چـاپ شوي دي. وائي:

بچو د محبت قرباني هم ورکړې وه. نن هندوستان د دوو سوو کالو غلام دے. آیا زما خوېندې هم د هندوستان د ازادۍ دپاره قرباني ورکولو ته تیارې دي؟" (۲۴)

د ۱۷ اپرېل ۱۹۴۲ "پښتون" کښې "پښتنو ته یو پېغور" چاپ شوے دے. په دې شعرونو کښې ئې د طارق چې د اسلام یو نوموړے جرنېل ؤ د هغهٔ مثال ئې ورکړے دے چې څنګه خپلو خلقو ته هغهٔ دا نصیحت وکړو چې چونکې مونږ د خدائے په لاره کښې د هغهٔ په حکم جهاد کوو نو د دې دپاره دا ټول جهان زمونږ د خپل کور په مثال دے. هغه په جار وائي:

ازادي په سوال منت موندلے نهٔ شي
چې ښکاره نهٔ کړے د خپلو مټو زور

ستا لیډر فخر افغان دُر یکتا دے
په دنیا کښې موندے نهٔ شي داسې نور

ننګیالے پښتون خو شېر د لویو غرو دے
ازمرے کله خبر وي له خپل زور

الف جان خو نېغه لار درته ښکاره کړه
اوس دې واک دے کهٔ پیاده درومې کهٔ سور (۲۵)

د اقبال پروین یوسفزئي (هوتي مردان) "د نن سبا هندوستان" په نوم یو مضمون هم په دې ګڼه کښې چاپ شوے دے. وائي چې "هر څو کهٔ الله پاک دا فرمائیلي دي چې په ټولو



کښې غوره دین اسلام دے ولې بیا هم مسلمانانو ته دا نهٔ دي پکار چې د نورو مذهبونو خلق چې تر څو پورې د اسلام په لاره کښې دېوال ونهٔ ګرځي د اسلام دپاره مجبوره کړي. له دې وجې نه د مذهب په نوم فسادونه پورته کول او سرېتوب حلالونکي خویونه غوره کول او د شېطانۍ په ناکاره طریقو سره خپله د ضد خبره په خلقو باندې په زور منل د اسلامي او انساني عادتونو خلاف کار دے." لیکواله دا هم وائي چې "نن سبا هندوستان د بې فائدې جنګونو او جګړو د لاسه په ټوله نړۍ کښې بدنام شوے دے" هغه د دې هر څهٔ ذمه وار پېرنګیان ګڼي. لیکي چې "د هندوستان زمکه هغه ده خو د سلګونو کالو راهسې د غلامۍ د ژوند تېرولو په سبب طبیعتونه بدل شول. زړونه او مازغهٔ خراب شول. د ازادۍ جذبات یو دم ورک شول. د دښمنۍ او ډله بازۍ هغه د بد تمیزۍ طوفان راپورته کړے شو چې د سرېتوب په ځائے ځناورتوب ډېرې ولګولې. مسلمان قوم چې الله پاک ورته د معلم اخلاق (د خلقو خویونه سمونکي) لقب ورکړو او دنیا ته ئې راولېږلو نو هغهٔ همت بائلو. لاس ئې په لاس کېښودو بې غمه کښېناستو. د هغهٔ په زړهٔ او په مازغو کښې چې کوم پټ طاقت خدائے پاک امانت کړے ؤ او هغهٔ دغه امانت دغه بار په خپل سر وچت کړے ؤ نو د شېطاني طاقت په مقابله کښې ئې نن همت بائلو او هغه امانت ئې په ډاګه په زمکه را وویشتلو." (۲۶)

د ۲۴ اپرېل ۱۹۴۲ په ګڼه کښې هم د اقبال پروین یو مضمون "د ښځو تعلیم" شائع شو. په دې مضمون کښې ښاغلې لیکوالې په ډېره ښه طریقه د ښځو د تعلیم په اهمیت زور

ورکړے دے او لیکي چې په اسلام کښې خو د نارینه او زنانه دواړو د تعلیم په فرض باندې زور ورکړے شوے دے خو دلته خو حال دا دے چې سړي خو بیا هم څۀ نا څۀ تعلیم یافته دي مګر ښځې ټولې هډو تعلیم پېژني هم نۀ. په نورو صوبو کښې بیا هم څۀ لږه ګزاره خو کوي ولې د پښتنو په سیمه کښې دا هډو د نشت برابر دے." ښاغلې لیکواله دا وائي چې د بچو د تعلیم او تربیت ذمه واري په مور او پلار ده. پکار دا ده چې دوي خپل اولاد ته دیني او دنیاوي دواړه تعلیم په ښۀ شان ورکړي. ځکه چې د سرپرستانو دا فرض دي چې هغوي داسې مدرسې او د تعلیم خایونه جوړ کړي چې په هغې کښې هم د دین او هم د دنیا دواړو حق پوره کېږي. کۀ تش دنیاوي تعلیم ښځو ته زده کړي او په ارام کښېني نو دا د سرپرستانو او ماتحتانو دواړو تباهي ده. د کوم تعلیم زده کولو نه وروستو چې په بني آدم کښې د قربانۍ جذبه او تلوسه پېدا نۀ شي نو هغه تعلیم عبث دے. بل طرف ته کۀ تش په دیني تعلیم زړۀ صبر کړے شي نو د وړومبي صورت نه ښۀ دے ځکه چې نقصان نۀ رسوي خو فائده پکښې د دنیا نشته." [۲۷]

هم په دې ګڼه کښې د الف جان خټکې "د قومي ترقۍ" په نامه څو شعرونه چاپ شوي دي. وائي چې "دا وخت چې نور قومونه د دنیا په پرمختګ روان دي پکار ده چې پښتانۀ هم پکښې ځان له د عزت او درناوي مقام پېدا کړي. هسې نه چې چرته پښتانۀ اودۀ پاتې شي او د ټولو قومونو نه وروستو پاتې شي. وائي چې:

پښتونه پورته شه قامونو کښې خپل قام پورته کړه



بیا په دنیا کښې د پربوتي پښتون نام پورته کړه

ګوره قامونه ټول په بام د ترقۍ وختل
تۀ څۀ ته ګورې ترقۍ په لوري ګام پورته کړه

پربوتي قام له ترقي بویه د برق په رفتار
د هر سحر په مقابل کښې خپل ماښام پورته کړه

بیا په دنیا کښې د قامونو انجمن جوړېږي
دې انجمن کښې د ګمنام پښتانۀ نام پورته کړه

د یو څو کسو ترقي تۀ ترقي مۀ ګڼه
کۀ ترقي غواړې د قام نو خاص و عام پورته کړه

بې له نظامه ترقي د قام ممکنه نۀ ده
قام منظم کړه او معیار د خپل نظام پورته کړه

د جهالت الزام په تا باندې په ځائے لګېږي
د خپل تعلیم انتظام وکړه دا الزام پورته کړه

د خپلې ژبې ترقي چې دې هم هېره نۀ شي
د انګرېزۍ په شان معیار د خپل کلام پورته کړه

د الف جان نصیحت بیا واوره عمل پرې وکړه
پښتونه پورته شه قامونو کښې خپل قام پورته کړه[۲۸]

د هندوستان د تقسیم خبرې په زور او شور سره شروع وې د

دې کشالې د حل د پاره د برطانيې وزير اعظم کليمنټ ايټلي اعلان وکړو چې هغه به د خپل وزارتي ملګرو نه څو کسان هندوستان ته لېږي چې د دې کشالې د حل کېدو د پاره د هغه ځائے د خلقو سره خبرې اترې وکړي.

حوالې:

۱. "پښتون" ۲۱ اګست کال ۱۹۴۰ء ص: ۲۳
۲. "پښتون" ۲۱ اګست کال ۱۹۴۰ء ص: ۲۳-۳۵
۳. "پښتون" ۲۱ اګست کال ۱۹۴۰ء ص: ۳۸-۳۹
۴. "پښتون" ۲۱ اګست کال ۱۹۴۰ء ص ۳۹-۴۰
۵. "پښتون" ۱۱ اکتوبر کال ۱۹۴۰ء ص: ۳۲-۳۳
۶. "پښتون" ۱۱ اکتوبر کال ۱۹۴۰ء صص- ۳۵
۷. "پښتون" ۲۱ اکتوبر کال ۱۹۴۰ء ص- ۳۸-۳۹
۸. "پښتون" ۲۱ اکتوبر کال ۱۹۴۰ء ص- ۴۰-۴۱.
۹ "پښتون" ۲۱ اکتوبر کال ۱۹۴۰ء ص-۴۱
۱۰ "پښتون" ۱۱ دسمبر کال ۱۹۴۰ء ص: ۳۷. ۴۰
۱۱ "پښتون" ۱۱ دسمبر کال ۱۹۴۰ء ص: ۱۸
۱۲ "پښتون" ۱۵ اګست کال ۱۹۴۵ء ص: ۶، ۵
۱۳ "پښتون" ۲۴ اکتوبر کال ۱۹۴۵ء ص ۷
۱۴ "پښتون" ۲۴ اکتوبر کال ۱۹۴۵ء ص: ۷
۱۵ "پښتون" ۲۴ اکتوبر کال ۱۹۴۵ء ص. ۸



۱۲ "پښتون" ۱ نومبر کال ۱۹۴۵ء ص: ۸
۱۷ پښتون ۹ دسمبر کال ۱۹۴۵ص: ۲۱
۱۸ پښتون ۱۷ دسمبر کال ۱۹۴۵ ص: ۱۲
۱۹ پښتون ۱ فروري کال ۱۹۴۶ ص: ۷
۲۰ پښتون ۱ فروري کال ۱۹۴۶ ص: ۷-۸
۲۱ پښتون ۱ فروري کال ۱۹۴۶ ص: ۸
۲۲ پښتون ۱۷ فروري کال ۱۹۴۶ ص: ۲
۲۳ "پښتون" اول اپرېل کال ۱۹۴۶ء ص: ۲
۲۴ "پښتون" اول اپرېل کال ۱۹۴۶ء ص ص: ۲۱-۲۲
۲۵ "پښتون" ۱۷ اپرېل کال ۱۹۴۶ء ص ص: ۱۳
۲۶ "پښتون" ۱۷ اپرېل کال ۱۹۴۶ء ص ص: ۱۸-۱۹
۲۷ "پښتون ۲۴ اپرېل کال ۱۹۴۶ء ص ص: ۱۸-۱۹
۲۸ "پښتون" ۲۴ اپرېل کال ۱۹۴۶ء ص ص: ۲۲

# د هندوستان وېش
# د پښتنو مېرمنو په نظر کښې

لکه چې وړاندې ولیکلے شو، د هندوستان د کشالې د حل دپاره اوس فیرنګیانو هم څۀ ناخه کول غوښتل. په دې لړ کښې دوې د نورو ډېرو خبرو سره سره شمله کښې د هندوستان د سیاسي ډلو یو کانفرنس هم راغوښتے ؤ چې په ۱۲ مې ختم شو. "پښتون" کښې د دې متعلق صرف دومره خبر ورکړے شوے ؤ چې د شملې کانفرنس ختم شو باقاعده اعلان خو به د حکومت له خوا کېږي؛ خو دومره د ګنګوسو نه ښکاره ده چې د مسلم لیګ او کانګریس خپلو کښې څۀ جوړه ونشوه.

د ۱۷ مې کال ۱۹۴۶ء په "پښتون" کښې د مختار قیمت شاه مضمون چې سر لیک ئې "د جینکو د تعلیم ناقص انتظام، محکمه تعلیم ته توجه پکار ده" چاپ شو. په دې مضمون کښې ښاغلې لیکوالې ډېر په دردناکو لفظونو کښې خپل حالت بیان کړے دے، ښاغلې لیکواله لیکي چې:

"نه پوهېږم چې زۀ خپل فریاد په کومو لفظونو کښې ولیکم، هسې خو مونږ ته معلومه ده چې د ټول هندوستان د جینکو د تعلیم انتظام تسلي بخش نه دے، ولې په تېره تېره زمونږ د سرحد پښتنو جینکو سره چې کوم سلوک کېږي داسې به



څوک ډېرو سره ونه کړي. اول خو زمونږ مور او پلار دې ته نه تیارېږي چې په جینکو تعلیم وکړي او کۀ هغوي تیار شي او د کلو په مدرسو کښې څلورم پاس کړي او غواړي چې زما جینۍ مخکښې هم څۀ ولولي؛ نو چې د پېښور ګرل سکول کښې د داخلېدو دپاره راشي؛ نو جواب ورکړے شي چې ځائے نشته. دلته عامه قاعده ده چې د ښار د سکولونو امتحان اول اخستے شي او د کلو د مدرسو روستو؛ نو د داخلې په وخت د ښار جینکۍ موجودې وي، هغوي داخلې شي او چې د کلو جینکۍ راشي؛ نو ځواب ورکړے شي چې ځائے نشته......

"په دې خبره زۀ د محکمو افسران خو ملامته ګڼم، مګر کۀ دا وګڼو چې د هغوي څۀ کار دے، د هغوي خو د خپلو تنخواه ګانو سره غرض دے، په ارام ناست دي، خپلې خپلې تنخواه ګانې اخلي، په هغوي څۀ درانه پراته دي چې د قام د ګټې څۀ کار وکړي، مګر زمونږ هغه مشران چې قام دغه ځائے ته لېږلي دي خو یقیناً ملامته دي، ولې د دوي فرض نه دي چې ځان خبر کړي چې د جینکو د تعلیم په سلسله کښې اخر دومره بې پرواهي ولې کېږي؟

"د سرکاري افسرانو دپاره نوې نوې بنګلې او نوي نوي دفترونه؛ خو ډېر جوړېږي مګر زمونږ د بې زبان مخلوق دپاره دومره انتظام هم حکومت نه شي کولے چې یوه کمره زیاتي جوړه کړي.لا د یوې بلې استاذې انتظام وکړي. زمونږ د حقوقو علمبردار باچاخان موجود نه دے چې ورته په سرو سترګو وژاړو مګر بیا هم امید دے چې هغه به ډېر زر راشي او زمونږ په دې

فریاد به غور وکړي او کهٔ هغه زر راتلونکے نه وي؛ نو د "پښتون" د اداري فرض دي چې زمونږ دا ژړا د خط په صورت کښې هغوي ته شملې ته ولېږي.

"مونږ د خپل مشر نه توقع لرو چې هغوي به زمونږ په دې تکلیف غور وکړي او څومره چې د هغوي نه کېدے شي د تعلیم محکمې وزیر صاحب او نورو افسرانو ته به ددې متعلق مناسب مشوره ورکړي او کهٔ داسې ونه شوه؛ نو مونږ به پوهه شو چې زمونږ د زنانه عالم غمخور هیڅوک نشته. په مونږ دې خدائے خپل فضل وکړي"(۱)

د "پښتون" د اداري د طرفنه هم ددې لیک پوره پوره مرسته شوې ده او د خپلې رایې اظهار ئې پرې داسې کړے دے:

"اوس خو تقریباً تمام پوهه خلک په دې متفق دي چې ځنګه هلکانو ته تعلیم ورکول ضروري دي، دغسې جینکۍ هم د تعلیم په زېور ښائسته کول پکار دي، مګر په دې لار کښې زاړه مشکلات چې څهٔ وو، هغه خو اوس هم شته دي چې هغه د عامو پښتنو ناپوهي ده، مګر یو لوئے مشکل بل دے چې هغه د حکومت د طرف نه ناقص انتظام دے. په دې سلسله کښې مونږ ته د یوې پښتنې طالب علمې جینۍ یو دردناک لیک راغلے دے چې هغې د خپلو تکلیفونو ذکر کړے دے. مونږ د تعلیم د محکمې په توجه کښې دا تکلیف راوستل غواړو او امید لرو چې ډېر زر به ددې تکلیف د رفع کېدو دپاره مناسب انتظام وکړے شي. ګنې نو مونږ به په دې نتیجه اخستو مجبور شو چې د صوبه سرحد د حکومت واګې په داسې لاسو کښې دي چې هغه نه



غواړي چې پښتنانهٔ یو قدم مخکښې واخلي" (۲)

هم په دې ګڼهٔ کښې "د یوې قومي شاعرې او مسلم لیګي شاعر سوال ځواب" د سر لیک لاندې څو شعرونه چاپ شوي دي، د اداري د طرفنه پرې دا څو ټکي لیکلي شوي دي چې دا د ۱۷ اپریل کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې د الف خان خټکې "پښتنو ته پېغور" په ځواب کښې د دهلي نه چا "خټک" را استولے دے. ددې په ځواب کښې بیا الف جان هم خپل شعرونه د خپور کېدو دپاره را استولي دي، د هغه خټک نوم خو "پښتون" کښې "قاضي ع-ح- خټک" ورکړے شوے دے؛ خو داسې ښکاري چې دا قاضي عبدالحکیم خټک د جلوزو دے، ځکه چې هغه شاعر هم ؤ او د مسلم لیګ یو فعال غړے هم ؤ. قاضي خټک د خپل شعرونو چې سر لیک ئې "الف جان ته ځواب" دے وایي چې شاعرې د الف جان هم ښه ده او د طارق بن زیاد والا قیصه ئې هم رښتوني ده؛ خو ددې په لوستو زما په لور د غصې نه اور بل شو.

ازادي به پښتون اخلي کهٔ خدائے کاندي
پښتانه به ئې قایله شي په زور

خو افسوس دے په خطا لار ئې روانه
سبب دا دے چې ته ناسته ئې په کور

ستا لیډر" خو پښتانهٔ په هندو خرڅ کړل
ته لا دے ګڼې د قام او ملک غمخور

---

فخر افغان

د پښتون توره هر چاته ده معلومه
ستا زمرے ترې جوړوي اوس حلال خور

اهنسا کۀ عقیده د پښتنو شي
مخنث به بیا بلبل شي په هر لور

د پښتون د پاره سپینه توره ښایي
پاکستان به جوړوي د دې په زور

زه خټک خو شاعر نه یم الف جانې
ستا خبرو مې په تن کښې بل کړو اور

چې خټکه! مسلمانه! کانګرسي شي
خدایه واخلې ته زمونږه داسې خور

الف جان ورته "جواب الجواب" داسې ورکړے دے

محترم قاضي صاحبه خط دې راغے
خدائے دې تا لري ژوندے او زما خور

تعجب دے چې دا ستا په شانتې سَر
تعصب کړې په رڼا ورځې سبکور

[illegible] ننګیالے چې سرتور سرۀ



ښار په ښار کلي په کلي کور په کور

دا جذبه د ازادۍ چا پیدا کړې؟
ده کۀ تا؟ کۀ دې تا سر سموئیل هور؟

زۀ کۀ ناسته یم په کور خو زنانه یم
ولې نه کړې ته نظر د جېل په لور

ته د جېل د مصیبت نه لرې تښتې
بیا به څنګه کړې ښکاره د توري زور

ښاغلي لیکوال ورته بیا د رسول الله (ص) مکي ژوند وریادوي چې ګوره هغه هم څومره سختې د مکي ژوند په دوران کښې تېرې کړې وې؛ خو نه ئې د هغې بدل واخستو او نه ئې څوک د لاسه ازار شول. دا نور څۀ نه بلکې اهنسا باندې عمل و، وایي.

پښتانۀ خرڅېدے نه شي نه به خرڅ شي!
په اوبو کښې بلېدلے نه شي اور!

مونږ واله د هندو بار نه نه وېرېږو
کۀ وېرېږې خو د تا په شان کمزور

حلال خور پېغور دې مونږ ته چې را وکړو
ما په سر سترګو منلے ستا پېغور

يـې زلمـې او كـړې ځـورول د ښـځو شـانتې
وايـې ۰ واخلـه خـدائې زمـونږه داسـې خـور ۰

الـف جـان وايـي امـين مـا دې خـدائې واخلـي
ښـه ددې غلامـستان نـه ماتـه ګـور (۳)

هم په دې ګنه كښې يو ليك د " پنځويشت روپۍ انعام " د سرليک لاندې خپور شوے دے، دا خط قيمت شاه را استولے دے او د باچاخان په خدمت كښې دے، په پښتنو زنانو كښې د پردې په ضد دے، ليكي چې پكار ده چې پښتنانۀ هم د نورو ژوندو قامونو په شان خپل زاړه رسمونه او رواجونه بدل كړي او د نوي زمانې سره تګ شروع كړي، ځكه چې دې سره د قام ترقي تړلې شوې ده- ليكي چې:

" دې كښې هيڅ شک نشته چې د قام ټوله ترقي د ازادۍ سره وابسته ده؛ خو دا هم ضروري ده چې قام دې خپل هر قدم چې د سياسي ترقۍ دپاره وړاندې ږدي؛نو ورسره دې خپل رسم و رواج، د اوسېدو طريقې هم بدلوي. د اسلام نه اول جينكۍ د پيدا كېدو سره ژوندۍ په قبر كښې ښخولے شوې: خو بيا داسې وخت هم راغے چې په هر جنګ كښې به زنانو يو اهمه حصه اخستله. د نړۍ دې عظيم جنګ كښې د هر ملک زنانو خپل قام او د ملک دپاره داسې قربانۍ كړېدې چې هغه به د دنيا په تاريخ كښې ياد ېږي. قومي تنزل سره په قوم كښې داسې رسم و رواجونه پيدا شي چې د هغوي نه د عمل جذبه فنا شي او هغوي خپل ټول



زور په بې هوده رسم و رواج او بې حاجته پابندو باندې صرف كړي ۰

" موجوده پرده نه اسلامي ده او نه د پښتنو ده او ثبوت ئې دا دے چې د اسلام د ابتدا نه تر اوسه هيچرته دا قسم پرده نه وه شوې او په پښتنو كښې نن هم نشته. ددې پردې ختمول نن يو ډېره ضروري خبره ده او د قام زنانو ته د عمل په ميدان كښې د سړو سره برابره حصه اخستل پكار دي. زۀ منم چې زمونږ به ډېر مخالفت وشي؛ خو دا عرض كوم چې د هر يو مصلح خلاف هميشه دا قسم خبرې شوې دي. نن د تركو په ملک، عراق، ايران، افغانستان، شام، فلسطين، يمن، حجاز، ملايا، چين او روس كښې مسلمانان په دې خبره پوهه شوي دي او هغوي په هر كار كښې خپلو زنانو ته حصه وركړې ده. نتيجه دا ده چې د هغوي زلمي په ميدان كښې تګ ته تيار دي او نور كارونه ئې زنانه كوي ۰ (۴)

ليكوال دا اعلان وكړو چې چا د موجوده پردې خلاف په دلايلو سره ښه مضمون وليكلو : نو هغه ته به پينځويشت روپۍ انعام وركړي.

د ۲۴ مې كال ۱۹۴۲ء په ګنه كښې د وزارتي ډيلي ګېشن هغه تجويزونه هم وركړي شوي دي، د كوم په سبب چې هغوي د هندوستان د كشالې حل غوښتلو.

د محترمې اقبال پروين يوسف زۍ يو مضمون "ازادي" هم پكښې وركړے شوے دے. وايي چې دا څنګه انسانان دي چې خان ته ازادي غوره ګڼي او نور انسانان ددې حق نه محرومول

غواړي. ددې دپاره خو چې ترکومې پورې چې په تاسو کښې د پوهېدلو جذبه نه وي پاتې او نه د يوه بل سره د مرستې کولو ماده، تر څو پورې چې د بل په محکوم کولو کښې او ځان حاکم ګڼلو کښې ستاسو زړونو ته خوشحالي رسي، دخپلو خواهشاتو پوره کولو دپاره د مظلومانو او بې اسرو ارزوګانې په وينو کښې توغړول باک نه ګڼئ او د هغوي د اميدونو په کچه غوټيو سنډلو کښې هېڅ وېره ترهه نه کوئ؟ نو تاسو د غلامانو نه هم ډېر بدتر يئ او د محکومو قومونو نه زيات ورتېر. تاسو هډو د ازادۍ حقدار نه يئ، بلکې تاسو ته دومره حق هم نشته چې د ازادۍ پاک لفظ د خپل نوم سره ګنده کړئ، ددې لفظ په پاکۍ يو ناکاره داغ ولګوئ او دا قيمتي څيز دومره سپک او ارزان کړئ. (۵)

د اول جون کال ۱۹۴۷ء په "پښتون" کښې د الف جان ختکې "تعليم بالغان" نومې نظم چاپ شو، لکه چې سر ليک ئې د بالغانو په تعليم دے، هم داسې ئې په شعرونو کښې زور د بالغانو په تعليم ورکړے دے او دا هم وايي چې علم په هر چا، په هر وخت فرض دے: نو که زوړ هم ئې نو بيا هم زدد کول پکار دي، ځکه چې په دې کښې هيڅ شرم نشته. ليکي چې:

وينښ شه او وينښ کړه، مقوله واوره عمل پرې وکړه
مطلب مې دا دے چې هم لوله هم نادان لولوه

علم اکسير دے تورو خاورو نه سره زر جوړوي
که د دولت تمه لرې خپل عزيزان لولوه



دا خو دې ډار کله د زوئے کله د پلار دے وروره!
ته ئې عالم کړې اوس بې علمه مشران لولوه

جاهل ووتېر به د خپل ووټ په قدر څه پوهېږي
که د ووټ قدر زياتوې نو ووټران لولوه

فخر افغان تا ته مرکز کښې مدرسه جوړوي
ژندګي وقف کړه خدائي خدمتګاران لولوه

ستا سرېتوب خلک د علم په ميزان کښې تلي
خپل درانه وخت دپاره رونه عزيزان لولوه

نن د تهذيب او تمدن معيار تعليم بالغ شي
که د تهذيب دعوې لرې هر يو افغان لولوه

څه له حجره کښې خوشې ناست ئې عبث وخت تېروې
لاړ شه په کور تور سرې ته د خاندان لولوه

راشه روسيانو نه سبق واخله عمل پرې وکړه
که د خپل قام حکومت غواړې بالغان لولوه

په شلو کالو کښې روسيان د څه نه څه جوړ شوي
که زر تر زر ازادي غواړې هر انسان لولوه

په امريکه کښې هر فرد دا نن اخبارونه لولي
لر شرم وکړه د خپل کلي ملکان لولوه

علم معراج د ترقۍ دے ځان خبر کړه وروره
کۀ په دې بام رسېدل غواړې خپل دوستان لوله[۲]

د جون په ګڼه کښې "د ښځو تعليم" د سر ليک لاندې د محمد نادر خان بزمي چې د توپۍ اوسېدونکے دے مضمون چاپ شوے دے. په دې اوږد مضمون کښې ليکوال ځينې دلايل ورکوي چې د ښځو تعليم خو ضروري دے. ولې دومره هم زيات تعليم ورته نه دي ورکول پکار چې د دوي نه د نرۍ لاره خطا کړي. ليکي چې د ښځو کار صرف د بچو پېدا کول نه دي. بلکې پکار ده چې دوي ته د اعلي قسم تربيت هم ورکړي. وايي چې

"د ښځو د تعليم نصاب دې داسې وي چې د هغې نه د خدائے نه وېره، د مخلوق د خدمت جذبه پېدا شي د لويو ادب او د خاوند فرمانبرداري پيدا کوي د بچو پالنه. سليقه او صفايي پيداشي. په موجوده زمانه کښې چې کومې خوئېندې د عمل مېدان کښې د مردانو سره اوږه په اوږه تلل غواړي. هغه د خپلو فرايضو ادا کولو نه بالکل منکرې او کرکجنې شي د دوي شمار د ښځو په فهرست کښې نه وي بلکې دوي د يو درېم جنس بنياد کېږدي چې هغه د ښځې او د سړي تر دا منځه منځه کېدے شي"

ښاغلے ليکوال د يورپ مثال ورکوي او ليکي چې

"په يورپ کښې جنګ وشو. ښځو د نرينو بعضې کارونه وکړل. ددې نه د هغوي په دماغو کښې دا غلط خيال پيدا شو چې هغوي په هر کار کښې د نارينۀ مقابله کولے شي بل نارينۀ د هغوي د حد نه سېوا صفت وکړو. نو دا هم ورته يوه غلط فهمي وشوه. اوس په يورپ کښې يو نوے تحريک شروع شوے دے چې ښځه دې د کور شمع شي. د بجلۍ هغه بلب دې نه شي چې سړکونه او کلبونه پرې روښانه وي"[۷]



د ۱۷ جون کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې د ناظم سرفراز خان صيب يو مضمون "د جينکو تعليم" د سرليک لاندې چاپ شوے دے. سرفراز خان ډېره په مدلله طريقه د تعليم په اهميت زور اچوي او د اسلامي تاريخ د مثالونو نه او د رسول الله (ص) د احاديثو په رڼا کښې دا ثابتوي چې په زنانۀ او سړو دواړه تعليم کول يو شان فرض دے. وايي چې په ګڼ شمېر کښې پښتنو د هغې خلکو خبره ومنله چا چې به په قسم قسم طريقو د تعليم مخالفت کولو او د اسلام قانون ئې شاته وغورځولو؛ نو ځکه خو د دوي صوبې څۀ حشر شو. وايي چې لا تر اوسه د صوبې د انتظام د چلولو دپاره په دې شلمې پېړۍ کښې هم ددې صوبې اوسېدونکي د نورو صوبو د خلکو محتاجه دي. دا تلخه او ترخه تجربه زمونږ ياده ده. اوس هر کله چې پښتنو د مردانه تعليم خامي تقريباً پوره کولو ته قابو کړېده؛ نو قدرتي دلته په دې وخت کښې د دوي دوېم دور شروع کېږي چې هغه د زنانۀ تعليم دے. ددې امر نه څوک انکار کولے شي چې سړے او ښځه د ټولنې د ژوند د ګاډي دوه پايې دي، کۀ دا پايې په هر صفت او په هره معنې کښې برابر او يو شان نه وي او کۀ په دې پايو کښې لويه وړه وي؛ نو بيا دا ګاډے نېغ او سم رغړېدے چرته شي، بلکې ضرور به د سمې لارې نه يو طرف ته کږېږي، قومي ترقي چې د پښتون نصب العين دے، تر دې به پاتې شي.

"څو کاله مخکښې او لا اوس هم پښتون قوم د سړو په تعليم کښې د ټولو همسايه ګاونډيانو قومونو نه وروستو ؤ او دے. دغه شان پښتني خوئيندې د نورو قومونو د زنانؤ نه وروستو دي، بلکې د نيشت په درجه کښې دي. اوس چې پښتنو د خدائي خدمتګار په وجه دا کمے محسوس کړو او څۀ نه څۀ د عملي جامې د راغوستلو کوشش شروع کړے دے چې بغېر ددې نه پښتون خپل منزل مقصود ته نه شي رسېدے. د هغه زوړ عادت په شان په ستېجونو باندې د جينکو د تعليم او د کتابت مخالفت کوي، کۀ دا ځل په دې موقعه پښتون قوم تېروتلو او ددې خلکو ئې ومنل؛ نو ډېر زيات به وروستو پاتې شي"[8] او "پښتنو ته پکار دي چې سترګې وغړوي او په زامنو لوڼو يو شان تعليم وکړي. اخر دا لوڼه هم د دوي اولاد دے. يواځې زامن ئې نه دي. د لوڼو پرې هم لکه د زامنو حق دے"[9].

د ۲۴ جون کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې د الف جان خټکې شعرونه د "د پښتون ليډر څوک پکار دے" د سرليک لاندې چاپ شول. وايي چې:

کۀ مرکزئې پاکستان کۀ هندوستان وي
خو ليډر دې د سرحد فخر افغان وي

چې د غېرو ليډري شي په سرحد کښې
ناپسنده به د هر پښتون په ځان وي

ستا ليډر کلۀ عيسی کله موسی شي
دې نه زيات به د پښتون څۀ کسرشان وي



پنجابے هندوستانے دې چې ليډر وي
ياد لره چې سراسر به د تا زيان وي

د پښتون جدا تهذيب بېل تمدن دے
هم هغه به پرې پوهېږي چې افغان وي

کوم ائين چې د اغيار له لاسه جوړ شي
د پښتون به يقيناً په کښې تاوان وي

په افغان به بې افغان څوک امير مه شه
د کشمير کۀ د پنجاب کۀ د ايران وي[10]

د اول جولايي کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې دا اعلان خپور شوے دے چې د پردې متعلق چې کوم اعلان قيمت شاه خان کړے ؤ چې څوک ښه مضمون يا نظم وليکي هغه ته به پنځويشت روپۍ انعام ورکولے کېږي، هغه انعام د الف جان خټکې د احمدي باندې دے، لاندينې نظم وګټلو. د نظم نه اول پرې باچاخان ددې اعلان سره خپله رايې هم ښکاره کړې ده، هغه ووئيل:

"د پردې متعلق زۀ دومره قدر وئيل مناسب ګڼم چې کومه پرده د مسلمان دپاره شريعت اسلام مقرره کړې ده، هغه تمامو مسلمانانو دپاره ډېره ضروري ده او تمام مسلمانان دې د هغې پابند اوسي. مګر کومه پرده چې زمونږ په ملک کښې نن رائجه ده، دا اسلامي پرده هر ګز نه ده. داسې پرده د قوم د ترقۍ په لار کښې يو لويے بنديز دے او په زنانؤ باندې يو لوئے ظلم دے. د دې نتيجه دا ده چې عامې پښتنې زنانه جاهله، بې هنره او بې

علمه پاتې شوې. باچاخان په دې موقعه دا هم ووئيل چې:

" چونکې زنانه جاهلې دي؛ نو په دې وجه کوم اولاد چې د داسې جاهلو مياندو په غېږ کښې پرورش مومي، هغه يقيناً کمزورے، بزدل اورنځور وي. په دې وجه د تمام قوم جسماني او اخلاقي حالت خراب دے. عجيبه خبره دا ده چې مسلمانان چې څومره غريبان دي، هغوي د پردې دومره پابندي نه کوي او څوک چې مالدار دي او ځان لوړ اوچت گڼي، هغوي د پردې سخت پابند دي. حال دا چې د اسلام حکم د امير غريب دپاره يو شان دے. خدائے دې نه کړي زهٔ هغه بې پردگي نه خوښوم، کوم چې په يورپ کښې نن ورځ رايجه ده. دغه بې ستري زما په خيال پوره بې حيايي ده، مگر هغه ناجايزه پرده چې د قام د تباهۍ باعث کېږي، هغه ختمول ضروري گڼم"(۱۱)

د دې نه وروستو ئې بيا هغه انعامي نظم ورکړےدے- الف جان خټکه پکښې په جار وايي چې:

دا مې مطلب نه دے چې ظلم د خپل پلار وښايم
زړونه وريته د خپلو خوئيندو په انکار وښايم
زړه مې دا غواړي چې ړانده سماج ته لار وښايم
د رواجي پردې نقصونه تار په تار وښايم

خدايه د ژبې او د زړه رالـه طاقـت را کـړې
کـهٔ پـه غلطـه لاره ځـم تـه هـدايت راکـړې(۱۲)

بيا ښاغلې ليکواله ډېره په خوندوره طريقه پښتنو نه تپوس

کوي چې دا په ډاډړ او د هرم پور په سینې توریم کښې چې زنانه د سرو نه زیاتې پرتې دي؛ نو دا د چا په وجه دي، بیا لیکي چې:

داسې پرده د زنانه زنانه پس زیاتوي
ضعف د بدن زیاته وي وېره د دښمن زیاتوي
ښتا او زما په شان بیمار لونه زامن زیاته وي
خوشې تعداد د تیار خورو په وطن زیاتوي

تن د بېکارو خلکو ځائے په مخ د مزکې نشته
دې بجلې گهر ته ضرورت د اور بلکې نشته

یاد لره ستا یو وزر مات دے الوتلے نه شې
پښه دې نه گوډه ترقۍ په بام ختلے نه شې
قافلې لاړې ورپسې ته رسېدلے نه شې
شرم اخستے ئې په ځائے پاتې کېدلے نه شې

په سمه لاره کښې ولاړ حېران پښیمان ولې ئې؟
ستا خپل عمل دے درته وړاندې اوس گریان ولې ئې؟[۱۳]

ځان دې ازاد نۀ د حصار کړمه په کور کښې ولې؟
هر پشکال کښې سوزوې مې په سوز اور کښې ولې؟
مړه خو لا نۀ يم تا ژوندۍ ښخه کړم گور کښې ولې؟

زه چې ستا ظلم یادوم ما ته ژړا راشي
د جهل نقشه راته په سترگو کښې صفا راشي[۱۴]

ښځې هم زړونه لري زړو کښې خواهشات لري
سر کښې مازغه لري مازغو کښې احساسات لري
کاڼي خو نه دي هم دا ستا په شان جذبات لري
ښه خيالات لري بلکې له تا نه زيات لري

دا بې ګناه مرغۍ دې بند کړې په پنجرې کښې ولې؟
وايه کړې ښځې دې ژوندۍ په هديرې کښې ولې؟

يو دې تعليم نه کړې محرومې د ړندو په مثال
بل دې بندې کړې په کورونو کښې د غلو په مثال
ډېر په ذلت ورته نظر کوې د سپو په مثال
په نه خبره ئې وهې د پردو خرو په مثال

دا کوم انصاف دے که په زړه کښې ورته خيال وکړې
ته به په خپله د سنګين جرم اقبال وکړې

په دې خبرو دې غازي امان الله کړو کافر
بيا دې ترکي کښې مصطفی کمال پاشا کړو کافر
اوس د سرحد د پښتنو پوزه باچاخان کړو کافر
هر يو فرزند دې د اسلام جدا جدا کړو کافر

ځان له جنت خالي کوې حورې غلمان غواړې
تمع مې نه شي چې ته خېر د مسلمان غواړې(۱۵)



هم په دې کته کښې د اقبال پروين يوسفزۍ مضمون "د کانګريس اهميت" هم چاپ شو. ښاغلې ليکوالې دا وينا کړې ده چې د ازادۍ په جنګ کښې چې درسره څوک د لارې مل شي؛ نو هغه هم ستا خوا خوږے او همدرد کېدے شي. بيا ليکوالې دا ثابته کړې ده چې په اسلام کښې د غاصب په ضد را پورته کېدلو ته سم جهاد وئيلے شوے دے او ډېر زيات اهميت ورته ورکړلے شوے دے. اوس په هندوستان کښې فيرنګے غاصب دے؛ نو پکار ده چې دده خلاف د علمائې حق را پورته شي او د جهاد اعلان دې وکړي. ښاغلې ليکواله د کانګريس ستائينه هم کوي او وايي چې دا دروغ دي چې دا صرف د هندوانو سياسي ډله ده او هندوان په کښې زيات دي؛ نو دده غټه وجه دا ده چې په ټول هندوستان کښې د دوي شمېر زيات دے او دا چې:

"د فيرنګيانو نېک خواهان او د هغوي په غلامۍ رضامند مسلمانان، خان بهادران، سران، نوابان، جاګيرداران او پنشن خواره کانګريس د ناپوهه غريبو مسلمانانو په نظر کښې په قسماقسم دروغو تهمتونو سره بدناموي او ساده مسلمانان دهو کۀ کوي"(۱۶)

ليکواله دا هم وايي چې که چرې کانګريس نه څۀ غلط کار وهم شي؛ نو د هغوي سره جميعت العلماء هند چې د مسلمانانو بل مذهبي جماعت دے، هغوي ورسره وي؛ نو هيڅ کله ئې غلط کار کولو ته نه پرېږدي. بيا وايي چې کوم خلک د کانګريس او د هغوي د ملګرو خلاف هيڅ بې هيڅه پروپيګنډا کوي؛ نو دا خو داسې ده لکه چې د ازادۍ په لاره کښې د غنو شپولو نه څوک

کېږدي- بیا وایي چې:

د انګرېزانو په لمسون ګرځي لیګیان درپسې
زاړه تودیــــان درپـــــسې

د ازادۍ لار کښې د غنوړدي شپولونه ګورې
وینې شـه پـښتونه ګـورې

یاد کړې پخوا وو شهید ګنج اوس پاکستان راغے
نـــوے طوفـــان راغــــے

د پاکستان په دهو کۀ اخلي ستا ووټونه ګورې
وینې شه پښتونه ګورې (۱۷)

د ۱۷ اګست کال ۱۹۴۶ء په "پښتون" کښې د یوې خور صاحبې د رزړ مضمون "د ښځو تعلیم او د هغې فایدې" چاپ شو. په ډېره ښه مدلله طریقه دا ثابتوي چې د ښځو تعلیم پښتنو ته سودمند دے. لیکي چې "تر کومې پورې چې زۀ خیال کوم نو هر طرف ته او په هر ملک کښې کۀ مسمانان دي او کۀ غیر مسلمانان دي، ښځو له تعلیم ورکول ضروري ګڼي. لیکن زمونږه پښتانۀ ددې نه هم څۀ عبرت نه اخلي او هغسې په خپل زور جهل ټینګ دي. زمایه خیال دا زمونږ پښتانۀ رونه ډېره سخته غلطي. بلکې یوه ګناه کوي چې مونږ د داسې ضروري څیز د حاصلولو نه منع کوي. دا زمونږ یو فطري حق دے او څوک چې د چا حق تلفي کوي نو هغه په نزد د خدائے(ج) ګناهګار او مجرم دے. ولې چې



مونږ څغې وهو چې مونږ له تعلیم راکړئ او زمونږ نارینه مونږ ته تعلیم نه راکوي. هر یو انسان دا خوښوي چې زۀ لایق شوے او په اولس کښې د ناستې پاستې قابل شوے، ولې چې بې تعلیمه انسان نن ورځ نشي چلېدے، بې تعلیمه انسان نه خپل ژوند ښه کولے شي او نه د ملک او د قام خدمت په ښه طریقه سرته رسولے شي. لیکن زمونږ بدقسمته پښتنې جینکۍ دي چې د شاروي په مثال هر وخت په موړې ترلې ولاړې وي. "سرخو خولے نۀ شي" او بیا وایي چې تعلیمافته ښځه په کور کښې په مثل د رڼا ده او بې تعلیمه ښځه په مثل د تورې تیارې ده. لیکي چې "د جاهلو ښځو اولاد همېشه ګنده او خیرن وي، ګرېوان یې سپړدے وي، جاهلې ښځې د اولاد پالل پرهېز هیڅ خیال نه ساتي او نه پرې پوهېږي او په بیمارۍ کښې به ورله هغه څیزونه ورکوي چې اولاد ته به یې نقصان رسوي. لیکن دا ګناه د چا ده؟ په دې کښې د ښځو خوارانو څۀ غلطي ده، غلطي د هغه چا ده چې څوک یې د تعلیم نه منع کوي او دا هر چا ته معلومه ده چې د اولاد دپاره اوله مدرسه د مور غېږه ده او د بچي زیاته حصه د ابتدایي عمر مور سره وي نو چې مور یې جاهله وي نو په معصوم د جاهلیت اثر پرېوزي او چې مور یې تعلیمافته وي نو په ماشوم د مور د تعلیم اثر پرېوزي" (۱۸)

ښاغلې لیکوالـه دا هم وئیل غواړي چې د کومو ملکونو ښځې چې تعلیم یافته وي نو د خپلو نارینۀ سره د ژوند په هر کار کښې ملاتړې وي او د هغوي د ژوندون درانه بارونه د هغوي سره په شریکه اوچتولو ته هم تیارې وي. په پایه کښې پښتنو ته

سوال او زاری کوي چې خپلو زنانو ته تعلیم ورکړئ، هله به دوي د ژوند په خوند پوهې شي.

د ۲۴ اګست کال ۱۹۴۷ء په "پښتون" کښې د باچاخان د طرف نه چاپ شوے "د بیوې محمدزی خور نظم او لیک" د سرلیک لاندې خپور شو. د لیک په شروع کښې باچاخان پرې خپله رایې داسې ښکاره کړې ده:

د "پښتون" لوستونکیو ته معلوم ده چې په "پښتون" کښې د یوې خور الف جانې د احمدي باندې عبرتناک او زرین خیالات د نظمونو په شکل کښې چاپ کیږي، د هغې دې جرات خپل اثر وکړو. د نورو پښتنو خوئیندو هم د خپل قوم د ملک د اصلاح ترقی سره مینه پیدا شوه او خدمت ته یې ملا وتړله. چنانچې د محمدزو یوې پښتنې خور اوس یو نظم د اشاعت دپاره "پښتون" ته رالیږلے دے.

"زما خپله عقیده خو دا ده چې هر هغه قوم ترقي کړې ده او کولے شي چې د هغه د سړو په شان سم په زنانو کښې بېداري او د ملک د خدمت جذبه پیدا شي، ولې چې د بچو د ابتدایي تربیت انتظام د هغوي په لاس کښې دے. کۀ مور یې قابله او پوهه وي د اولاد تربیت به یې ښه وي. امید دے چې نورې پښتنې خوئیندې به هم ځان کښې د ازادۍ د جذبې د پیدا کولو کوشش وکړي او د خپل ژوندون ثبوت ورکړي.

"زۀ افسوس کوم چې زما بعضې رونړه د پښتنو خوئیندو څۀ مضمون یا خیالات چې په "پښتون" کښې ویني نو دیده دانسته هغه قوم ته په یو ډېر غلط رنګ کښې مخکښې کوي او د قوم په



زړونو کښې غلط فهمي پیدا کوي. د یورپ د ښځو او د هغوي د ازادۍ مثال ورکوي، حالانکې یورپ یورپ دے او ایشیا ایشیا ده. د یورپ تهذیب و تمدن رسم و رواج جدا دے او د ایشیا ځان له خپل بېل تهذیب تمدن رسم و رواج دے.

مونږ دا غواړو چې زمونږه زنانه دې په خپل تهذیب او تمدن کښې چې اسلام ورله مقرر کړے دے، ترقي وکړي. دغسې رونړو ته دومره هم نه ده معلومه چې سړے او ښځه د نړۍ د ابادۍ دوه قدرتي ملګري او دژوند د ګاډي دوه پایې دي. یواځې د سړو په بېدارۍ قوم ترقي کولے نه شي، تر څو چې هغوي سره زنانه اوږه په اوږه لاړې نه شي. بله خبره دا ده چې د یورپ او د ایشیا په ښځو کښې هم ډېر فرق دے" (۱۹)

دغې لیکوالې چې خپل نوم ث محمد عمر خان د مناف خان کلي لیکي، یو وړوکے غوندې لیک د خپل نظم نه وړاندې ورکړے دے. لیک کښې یې هم دا وئیلي دي چې دوي د خپلې خور الف جانې ختکې په پل پل ایښودے دے او دا څو شعرونه یې "پښتون" ته د چاپ دپاره راستولي دي، شعرونه دا دي:

## زما دعا

د غلامۍ څخنې ازاد مسلمانان کړې ربه!
د غلامۍ په ژوند زمونږ رونړه پښیمان کړې ربه!

په غلامۍ د خپل امت باندې حضرت (ص) خفه دے
خوشحاله زړه د محمد اخر زمان کړې ربه!

د غلامۍ طوقونه وشـولوې د غـارې نـه تـه
ښه يې مخ روښي په هر ځائے په هر مېدان کړې ربه

لکه چې څنګه وو سيالۍ کښې د سيالانو نه بر
بيا يې په لاره د سيالۍ باندې روان کړې ربه!

په مخ د هغې خپل حبيب سردار نامدار مدني
وزګ له دنيا نه د اسلام کل دښمنان کړې ربه!

نېک احمد له عادلان حاکمان غواړو له تا
لرې زمونږه دا سنګدله حاکمان کړې ربه!

ورکړې جذبه د ازادۍ په سينه هر پښتون له
ښکاره يې نوم د ځوانمردۍ په ټول جهان کړې ربه!

چې وقف کړے يې ژوندون دے خالص ستا په رضا
ازاد خپل قوم سره هغه "فخر افغان" کړې ربه!(۲۰)

د ۹ ستمبر په "پښتون" کښې د الف جان خټکې شعرونه د "امن د عالم" د سر ليک لاندې خپور شول، ډېره په خوندوره طريقه وايي چې:

هـز يـو لګيـا دے پټـه پټـه ايـتم بـم جـوړوي
څوک دا وئيلے شي؟ چې دوي امن د عالم جوړوي



نن په پېرس کښې کانفرنس کيږي د سولې په نوم
خدائے ښه خبر دے چې د چا سر ته به غم جوړوي

لا د تېر شوي جنګ زخمونه انګور شوي نه دي
درلـه د مـار او لـړم زهـرو نـه ملهـم جـوړوي

دوي چې لس کروړه په اټلې تاوان د جنګ اېښے دے
د خوارانو خونې رنګوي څان له رقم جوړوي

دا ځـل ډغـره بـه د روس او امريکـې وي سـره
بحر ظلمات کښې پرې پوهېږم چې تور تم جوړوي

زمونږ نايک به دا ځل ناست اوسي د خبر په غونډۍ
دا دده کار دے چې د بل په کور ماتم جوړوي

د پرنګيـانو معمـاران سـتړي سـتومانه دي ډېـر
ځـان لـه ارم جـوړوي مـونږ لـه جهـنم جـوړوي

د الف جان خوئيندې جونګړو کښې څوک نه پرېږدي
مارګريټ روز د پاره قصر بکنګهم جوړوي(۲۱)

د ۱۷ ستمبر کال ۱۹۴۶ء په "پښتون" کښې د الف جان خټکې نظم" د ليګيانو تقريرونو ثمر راوړو" خپور شو. په دې شعرونو کښې ښاغلې ليګوالې د ليګ په وېنا د "راست اقدام" په

سلسله کښې چې د کلکتې کومه خونريزي شوې ده، د هغې يې غندنه کړې ده او د قايد اعظم نه دا تپوس کوي چې تا خو به وئيل چې زۀ د مسلمان وينه ډېره قدرمنه ګڼم نو دا ولې اوس د نفع په ځائے په نقصان خوشحاله يې، ځکه چې د هندو اکثريتي ځايونو کښې بيا د هغوي لاس نيوے څوک نشي کولے. دا هم وايي چې داسې ښکاري چې دا ليګيان د انګرېز په غلامۍ خوشحاله دي، ځکه خو د کانګريس سره د روغې جوړې خبرې اترو ته نه کښيني (۲۲)

د ۲۴ ستمبر په ګڼه کښې د الف جانې بل نظم "د پښتنې مصطفي کمال پاشا" په نوم خپور شوے دے- الف جان په جا وايي چې:

څۀ چې ترکي له مصطفي کمال په ځان کړيدي
مونږ له هغې نه يو په دوه فخر افغان کړيدي

مرد بيمار له کۀ هغه نوے ژوندون ګټلے
مړي ژوندي ده د عيسي مسيح په شان کړيدي

نو ګرفتار کۀ هغه خلاص کړو د صياد له لاسه
ده هم ازاد د سلو کالو غلامان کړيدي

وراندې له دې نه د غفلت په خواب اوده ؤ پښتون
ده پښتانۀ د ترقۍ په لار روان کړيدي



په پښتنو کښې دا خودي او خودداري چرته وه؟
ډېر په همت يې پښتانۀ پوره په ځان کړيدي

کم او ستر واړه ښځې نر يې له خپل ځان کړه خبر
ده خبردار زاړه او ځوان په سود و زيان کړيدي

ګاندهي جي ته هم غلط نه شې د کانګريس په ګټه
دا چې څۀ کړيدي فقط نوم د افغان کړيدي

نن د افغان د تورې تنګ دے په ملکونو باندې
ده واشنګټن او لندن دواړه په لړزان کړيدي

ننګيالے ګل دے هر بلبل به يې ثنا کوي تل
ځکه يې دومره صفتونه الف جان کړيدي (۲۳)

د ۹ اکتوبر کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې د الف جان خټکې نظم "پرنګي بيا وغلول" چاپ شو. ښاغلې ليکواله ډېره فکرمنده ده چې د کيبنټ مشن غړي راغلل او د هندوستان ټول سياسي مشران او ګوندونه يې پخپلو وعدو باندې وغلول، ځکه چې څۀ ته د هندوستانيانو تمه وه، هغه ورته هيڅ هم په لاس کښې ورنه کړل او خالي لوظونه او د راتلونکي وخت په باره کښې يې ورسره ښې ښې خبرې وکړې خو هيڅ مطلبي څيز يې ورته په لاس کښې ور نه کړو- وايي:

کېکونه توس پېسټري يې ولايت د پاره کېښود
عريب هندوستانيان يې په دليا وغلول

روسي کاکا خبره مې په زړه ولګېدلبه
وې پټ يې په ترو کښې په سنکهيا وغلول

د خلکو تېريستل دے دوړوکي کرشمه ده
زما او ستا په شان يې سل اويا وغلول(۲۴)

د ۲۴ نومبر کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې د الف جان خټکې "پښتون ته وايم" چې د انعامي مقابلې دويم نظم دې چاپ شوے دے. دې اوږد نظم دے خو داسې ابغې نېغې خبرې ئې پښتنو ته کړې دي چې نن هم د حقيقت نه چې ځوک مخ نشي اړولے. غالبا چې دا همت او جرات چې الف جان ئې په بيا بيا مظاهره کوي دا ورته هم خدايي خدمتګارۍ وربښودلے دے، ګنې نو په پښتنې معاشره کښې يوه زنانه دومره وس نه لري چې داسې ربښتيا ريستيا خبرې بغېر له څۀ وېرې خپلو پښتنو مشرانو ته وکړي، لکه چې څنګه د نظم سر ليک دے، پښتنو ته داسې وائي:

خپلې لور سره چې ستا سلوک رایاد کړم
د فرېښو په دغه باندې زړه شاد کړم
اوربدونکے مې څوک نشته کۀ فرياد کړم
په قيامت به شکايت ستا د بيداد کړم

نادان هندوستانیان پرنګي بینا وغلول
ما تۀوقه ده ګټلې ده رښتیا وغلول

دري کسه مداریان له ولایت نه وو راغلي
هندو، سیکه، مسلمان یې د انډیا وغلول

خلاف یې د مذهب په نوم پیدا کړو هندوستان کښې
نن دیرو حرم دواړه کلیسا وغلول

دا دوه به سره خپل وے کۀ درېم په مېنځ کښې نه وے
په پټو مشورو کښې یې بیا بیا وغلول

یورپ او امریکې سترګو ته یې واچولې خاورې
کم عقل ساده خپل یې د ایشیا وغلول

راعي او رعایا کښې یې نفرت سره پېدا کړو
راجګان یې د کشمیر او پټوډیا وغلول

د کور دننه ځائے یې یو فریق ته هم ورنه کړو
کانګریس او مسلم لیګ یې په بیدیا وغلول

سکرک د هندوښتان یې ورته درې ځلور ټوکړې کړو
بې صبره ماشومان پرې زړې نیا وغلول

په محشر چې شي د انصاف تله شي لکه
ستا ګرېوان ته به لاس واچوم بېشکه

چرته لور چې شي پېدا د چا په کور
نو د نور په تور تندي ئې بل شي اور
او د خپلو د پردو شي د پېغور
ملامت وربانـدي کېږي لور د لور

مور ئې وائي تور منګور مې وے زېږلے
خو چې نوم مې د لور نه وے اورېدلے

کۀ دوه درې لونه په مخ ورله خدائے ورکړي
خوږ ښبتن له خوږې ښځې لاس په سر کړي
ځان له ښه نوے واده بل برابر کړي
توري خاورې د هغې خوارې په سر کړي

تمامي عمر وي ناسته معلقه
افریدۍ کۀ یوسفزۍ وي کۀ خټکه

او

د میراث په مسئله دې عمل نشته
ستا د لور برخه په سلو کښې سل نشته



مور او خور ته دې په مینه کتل نشته
الغرض د چا په زړه دې وتل نشته

زۀ به ستا دا شجاعت سخاوت څۀ کړم
چې زما پکښې څۀ نه وي دولت څۀ کړم؟

خوئیندو لوڼو په تعلیم دې پرواه نشته
او په زوئے دې د کور وویستله خښته
هیڅ له خدائے او له رسول دې وېره نشته
په قیامت به څۀ ځواب کوې نېک بخته

زوئے دې جوړ کړو انسپکټر ته ډائریکټر شوې
خور او لور دې هم هغه خاورې په سر شوې

خاکروبي او اب کشي د دوي هنر دے
ته به وایې چې ئې پلار نې کۀ مهتر دے
په اوچوے کښې مېچن ئې هم په سر دے
د قېدیانو نه ئې عمر ډېر بتر دے

پښتنه به له دې ژونده نه شي خلاصه
او کۀ خلاصه شي نو تورمرګي دې پاسه

ستا په کور کښې چې شي پېغله لور او خور
سودا ګر ورله را درومي لور د لور

څوک درې زړه دړکوي او څوک ځلور
چا په سر باندې راوړې وي ډک شکور

د نیلام بولۍ چې چا وکړه اوچته
بیا د خره او د اس نه لګوئ پته

د شپېتو کالو بوډا نه چې زړه ښه کړي
نوې پېغله لور دې هغه سره واده کړي
له هغې خوارې نه هیڅ تپوس ونه کړي
په قیامت به دې ظلم څواب څه کړي

وایه دغه دې تا دین دې تا اسلام دے؟
که دغه وي ستا اسلام ته مې سلام دے

لږ په کور کښې خپل سلوک ته نظر وکه
له غرور له تکبر له کینې ډکه
ته په کټ ښځه دې ناسته وي په زمکه
وي د خپل او د پردي په مخکښې سپکه

ګو چې خاورې ده او خاورو له پیدا ده
مګر ستا د محبت تقاضا دا ده؟

ستا په کور کښې چې دوه درې کټوڼه پخېږي
ټولې ستا او ستا زامنو پکار ېږي



ستا زامن چې دسترخوان باندې ټولېږي
خواره لور دې ورته لرې نه پسخېږي

عاقبت ورله انګولې نه شي پاتې
مرچ او پیاز دپاره هم ټکوي لاتې!

بیا چې تا سره زامن نازو نخرې کړي
خوارې لوڼه دې له غربوه سترګې سرې کړي
تورې زلفې په سپین مخ خورې ورې کړي
دواړه سترګې ئې له اوښکو فوارې کړي

وائي دواړه له یو ځایه یو راغلي
ورور مې سور په اوړه ګرځي او زۀ پلي

او بیا دا هم په ګوته کوي چې:

خپلې ښځې سره ستا مدام کهټ پټ وي
یو کوتک ددې په سر بل ئې په څټ وي
ګویا دا هم یو سنډا ستا د ارهټ وي
چې کوتک ورباندې نه وي نو دے لټ وي
په دنیا کښې په زور کلي کړي چا دي
ټولې ښځې د خوړې دې دا زښتیا دي

ښځه څۀ دے؟ واړه مینه محبت دے
اطاعت د خپل څښتن ددې فطرت دے

مستحقه ستا د رحم د رافت دے
دوهلو ټکولو څۀ حاجت دے

کۀ دې تا مينه ددې سره پېدا شي
يقين وکړه دا به تولـه ټالـه ستا شي

ياد لره ښځه تسکين دې تا د زړه ده!
او سورِوالے ستا د سترګو د ليمه ده!
ته لباس د دې او دے دې تا پـه څۀ ده؟
کۀ ستا مينه خاص ددې دپاره نه ده؟

د دې فرض د خدائے منشا پوره کول دي
د ويجاړې دنيا وړاندې چلول دي(۲۵)

د ۱۷ دسمبر کال ۱۹۴۲ء په "پښتون" کښې د اهليه صاحبه محمد يونس خان مضمون "زمونږ د خپلو زنانۀ سره سلوک" چاپ شوے دے. ليکوالې د الف جان په شان نېغې خبرې کولو کوشش کړے دے: اول ئې د اسلامي تاريخ څنې واقعات ورکړي دي او بيا ئې دا ثابته کړې ده چې په اسلامي معاشره کښې ښځو او نارينۀ يو رنګ ترقي کړې ده، ځکه چې د دواړو حقوق يو رنګ موجود وو، ځکه چې:

"د زنانۀ ترقي د قام اصلي ترقي ده، هر هغه قام کوم چې د دې خبرې خيال نه ساتي نو د هغې ترقي ناممکنه ده- د قام د ترقي دپاره ضروري ده چې رومبے دې د زنانۀ د ترقۍ او د تعليم دپاره



سکيمونه جوړ کړي، هغوي دې دځناورو دې پست ټولي نه اوچتې کړلے شي او د انسانيت په صف کښې د ودرولے شي، هغوي سره د يو انسان په شان سلوک کولے شي، ولې چې دا خو منلې شوې خبره ده چې د قام ترقي د ښځې په لمن کښې ده.

"افسوس دے چې نن ورځې پښتانۀ خپلو زنانۀ سره څنګه سلوک کوي؟ هم دغه شان په زمانه جاهليت کښې عربو خپلو زنانۀ سره کولو. پښتانۀ د خپلو نارينۀ په نسبت د زنانۀ بالکل پرواه نه کوي. ددې بې زبانه مخلوق د وړوکوالي نه واخله تر پېغلتوب پورې زمانه په کور کښې چې څنګه تيرېږي، هغه ډېره قابل افسوس ده. ددې کار به د خپل کور د خدمت نه علاوه نور څۀ نه وي، ددې د تعليم او تربيت هيڅ خيال نه ساتي. ددې هستي خو هډو څۀ هستي نه شي ګڼلے چې څۀ وخت د واده معامله ئې مخکښې راشي نو لکه د وينځو ئې بل ته حواله کړي او اکثر خو ئې لکه د څارۀ په شان خرڅوي.دا ظلم نه دے نو نور څۀ دي؟ دا جاهليت نه دے نو کوم تهذيب دے؟ دا حيوانيت نه دے نو کوم انسانيت دے؟

.... څۀ وخت چې د پښتنې زنانه خپل کور اور شي نو د نارواسلوک پرې يو بل دور شروع شي. ددې حېثيت د ګډې نه زيات نه وي. ددې د صحت خفګان، درد اوتکليف بالکل پروا نه کېږي. ښځه د خاوند رفيقه حيات ده، د هغوي خوشحالي خفګان، درد او تکليف يو دے. ولې پښتون سړے په عامه توګه خپلې ښځې سره داسې غېر منصفانه او ناروا سلوک کوي چې يو رفيقه حيات سره داسې سلوک کول د هغه سخته بې وقوفي او

ظلم نه دے نو نور څۀ دي؟ دے خپله رفيقه حيات هم يو غوا مېښه يا يو مشين ګڼي.

"چې څنګه په ښځې باندې د خاوند وفاداري او تابعداري ضروري ده، هوبهو دغه شان د ښځې هم په خاوند حق دے، ولې افسوس دے چې پښتانۀ ددې هيڅ پرواه نه کوي. دے په خپله بې تپوسه بې مشورې باهر هر قسم عېشونه کوي. پخپل اختيار باندې په هر يو کار کوي، ولې د ښځې به معامله کښې به داسې سخت وي چې بعضې ضروري او فايده مند کارونو ته به ئې هم نه پرېږدي. هغه به لکه د وينځو خدمت کوي، هغه چې څۀ کار کوي نو دده نه به اجازت اخلي. ولې دے دومره هم نه کوي چې په څۀ کار يا اقدام کښې ترېنه يو معمولي غوندې مشوره اخلي، بلکې د يو خودمختاره او ظالم ډکټېټر په شان پرې حکومت کوي." ۲۶)

د اول مارچ کال ۱۹۴۷ء په "پښتون" کښې د الف جان خټکې مضمون "پښتنو خوئيندو ته" چاپ شو. وائي چې زمونږ د خوئيندو هم يو انجمن پکار دے چې جوړ شي او په ښه طريقه د وطن خدمت وکړو، بيا هغه دا هم تجويز راوړاندې کوي چې ددې انجمن مشري مونږ ته پکار ده چې مهرتاج بي بي د باچاخان لور ته ور حواله کړو. څکه چې په هغې باندې به پښتنې زنانه يو ځائے شي، څکه چې

د کور جوړول يو اخې فرض په نارينو نه دي
زمونږه کار دے خپل وطن رسک چمن جوړول

دا جهالت د خدائے لعنت دے زنانو باندې
مونږ له پکار دے تدبير د علم و فن جوړول



ذر سوماتو خنډو خار ترې نه ويستل دي پکار
په ښو اعمالو سره ملک باغ د عدن جوړول

د غم ښادۍ فضول خرڅونه پرېښودل دي پکار
په دې عمل سره ځانونه دولت من جوړول

نوي فېشن هندوستانيانو باندې لوبې وکړې
مونږ له پکار نه دي د دوي په شان فېشن جوړول
مونږ ته اسلام ساده لباس ساده ژوندون بخښلے
ګويا د خپل وطن خامتا زېب د بدن جوړول

هرې يو خور لره پکار دي د څرخې زده کول
خپلو پېښو نه هم جامې او هم کفن جوړول

خوئندو زامن پيدا کول مقام د فخر نه دے
فخر دے ستاسو باچاخان په شان زامن جوړول.

واړه زاګه خو لوندې خاورې دي اثر قبلوي
کار دے زمونږ ترې رهنما او يا رهزن جوړول

خپلو ځانونو ته په سپک نظر چې ونه ګورئ
ستاسو په لاس کښې دے قسمت د خپل وطن جوړول

الف جان خان د خپلو خوئيندو د پښو خاورې ګڼي
مونږ له پکار نه دي ځانونه کبجن جوړول (۲۷)

د اول جون کال ۱۹۴۷ء په "پښتون" کښې د عبدالولي خان ليکلے مضمون "مېرمن نازو" چاپ شوے دے، د مضمون په شروع

کښې ئې دا لیکلي دي چې دا مضمون د تقریر په شکل کښې د پېښور ریډیو نه خور شوے دے او "پښتون" ئې د ال انډیا ریډیو پېښور په شکریه چاپ کوي.ولي خان لیکي:

"کۀ د لږ ساعت دپاره د دې نړۍ الغاؤ تلغاؤ شور و غوغا، منډو ترړو او نا اوزګارتیا نه ځان را کاږۀ او د پښتون قام د زوړ ژوند هغه قافله را په وړاندې کړۀ چې د سوونو زرګونو کلونو نه را روانه ده نو په کښې به داسې ډېر بنیادم ووینۀ چې هغه د نورو د اوړو دپاسه ښکاري. په دې کښې هغه درانه درانه قومي مشران ښکاري چا چې په پښتنو کښې د درنو قومونو سرداري کړې ده. هغه نېکان او پاکان ښکاري چا چې پښتنو ته د ژوند نېغه او سمه لار ښودلې ده. هغه شاعران ښکاري چا چې په پسته ژبه خوږې سندرې وئیلې دي، هغه لوړ او اوچت بادشاهان ښکاري چا چې یوازې په پښتنو نه بلکې په خپلو خواؤ شا وطنونو بادشاهي کړې دي، مګر کۀ لږ زیات په غوز ورته وکتلے شي نو په دې قافله کښې د نارینۀ سره ځنګ په ځنګ داسې ډېرې پښتنې مېرمنې هم ښکاري چا چې د خپلو زامنو، رونړو او پلارانو سره د پښتون په دې کورنۍ جوړولو کښې ډېرې لوئې ملاترې کړې دي او دا خبره ئې په هر چا منلې ده چې پښتنې مېرمنې په هیڅ صورت هم د خپلو نارینۀ نه کمې نه دي.

تر دې حده پورې چې زۀ په دعوې سره وئیلے شم چې د نړۍ په بل یو قوم کښې هم دومره شاعرانې ښځې نشته او دا هم وایم چې کۀ چرې موقعه ورکړے شوې وے نو د پښتنو ښځو شاعرانو شمېر به نوز هم زیات وۀ"[۲۸۰]



ښاغلے لیکوال په دې لړ کښې د ځینې پښتنو لیکوالو ذکر کوي چې په دې کښې د میرویس مور نازو هم د هوتکو د کورنۍ زینبه، د لوئے خوشحال بابا لور بي بي حلیمه خټکه شاملې دي. لیکوال دا هم وائي چې څومره د شرم خبره ده چې نن ورځې پښتانۀ د خپلې ادبي پانګې نه نۀ دي خبر او د خارجي ژبو ډېر ادیبان او شاعران پېژني. دا خو د ځنې اروپائي عالمانو په پښتنو باندې ډېر غټ احسان دے چې دا ورکې خزانې چې پکښې د ډېرو شاعرانو کلامونه او د ژوند حالات شامل دي، ئې پښتنو ته ورکړل. په دې لړ کښې ښاغلے لیکوال د استاذ عبدالحي حبیبي، عبدالروف بېنوا او جیمز ډار مستېټر (فرانسي لیکوال/عالم) ډېره ستائینه کوي، چا چې په ډېرو کړاوونو د پښتنو دا ورکه پښتو خزانه بیا موندله او نړۍ ته ئې په ښۀ انداز کښې وړاندې کړه، ګني تر اوسه پورې چا پښتنو ژبه د اخون درویزه بابا نه په مخکښې نه پېژندله، هر چا به په خوله خو دا وئیل چې پښتو ډېره زړه ژبه ده، ولې لیکلے ثبوت ئې چا نه دے وړاندې کړے. عبدالروف بېنوا په خپل کتاب "پښتنې مېرمنې" کښې د ډېرو داسې پښتنو زنانۀ ذکر کړے دے" چا چې د پښتون د دې لوئے کورنۍ په ودانولو کښې برخه اخستې ده او هر یو مصیبت چې په دې قوم راغلے دے نو هغوي د خپلو خاوندانو او زامنو سره په ټینګه ملا د مقابلې میدان ته وتلې دي، کۀ تورې ته ضرورت پېښ شوے دے نو د هغې په راپورته کولو کښې ئې هم صرفه نه ده کړې. داسې ډېرې پښتنې پېغلې به د خپلو رونړو سره د جنګ میدان ته تللې او په غېرتي چغو او نعرو به ئې د هغوي

متې او قدمونه ټينګول".[۲۹]

ولي خان د خپې پښتنو زنانؤ حال ليکي چې پکښې ريدي خان او د هغه مئينه توريکۍ شامله ده. د توريکۍ کوژدن د ريدي خان سره شوې وه او واده ته ئې انتظار ؤ چې په وطن جنګ ونښتو، ريدي خان خپلې مئينې ته د رخصت د پاره لاړو ولې توريکۍ ورته په جار ووئيل چې:

په سپين ميدان کښې درسره يم
زۀ پښتنه د تورو نه تښتم مئينه

توريکۍ د ريدي خان سره سمه د جنګ ميدان ته څي. هلته د ريدي خان په ميړانه دا وائي:

د دې تېرې تورې دې ځار شم
د غليم وينې بهيوه ګرانه مئينه

دريدي خان په وينه لړلې توره چې وينې نو ورته وائي:

په وينو رنګ توره دې راوړه
راشه په سرو شونډو به ئې زۀ درپاکه کړمه

ريدي خان د غليم په مقابله کښې غورځنګونه وهي خو اخر د جنګ په ميدان کښې پرېوځي او شهيد شي- توريکۍ په دې موقعه وائي:

جانان مې سر په وطن کېښود
په تار د زلفو به کفن ورته ګنډمه



دا هم د خپل جاناز سره د جنګ په ميدان کښې سر کېږدي او شهيده شي

ښاغلې ليکوال د قندهار په خوا کښې د غلجيانو د کورنۍ د مشر سلطان بلخي توخي لور نازو (چې تقريباً درې نيم سوه کاله مخکښې تېره شوې ده) ذکر کوي چې څو ځله ورته پلار د قلعه حفاظت ذمه واري په غاړه کړې وه او دې تورزنې پېغلې ډېر په ښې طريقې سره پوره کړې وه. وائي چې نازو په مېلمستيا کښې نارينه شاته کړي وو. په ډلو ډلو مسافر به راتلل، قافلې به راتلې او د دوي په قلا کښې د هر چا د پاره د خوراک انتظام په ښه طريقه به هر وخت موجود ؤ. د ښې خوانۍ دلاسه ئې نوم په خواؤ شاؤ سيمو کښې خور شو او د هوتکو د کورنۍ يو بل سردار خالم خان دا په نکاح کړه.

وئيلې کېږي چې د ورومبي زوئے د زېږون په وخت نازو بيټ نيکه په خوب کښې وليدو چا چې ورته دا څوټکي د نصيحت په توګه ووئيل چې "د دې زوئے ډېره پالنه وکړه، دے چې لوئے شي نو لوئے کارونه به کوي" نازو هسې هم ډېره پاکه او ديندار ښځه وه نو د دې زوئے او د نورو زامنو پالنه ئې ډېره په ښه طريقه وکړه. هم د نازو ښه اندازسره د بچو پالنه او ښه تربيت اثر ؤ چې ميرويس دانه دانه پښتانۀ په يو مرکز راغونډ کړل او پښتانۀ ئې د پردې غلامۍ نه خلاص کړل داسې د دې ميرمنې دا احسان يقيناً چې د هېرېدو نه دے چې پښتنو ته ئې داسې يو قامي مشر ورکړو چا چې تس نس پښتانۀ په يوه مرکز را غونډ کړل، هغوي ته ئې د يو والي سبق ورپه ياد کړو او د پردو د غلامۍ نه ئې خلاص

کړل.(۳۰)

دې دوران کښې د هندوستان په سیاست کښې ډېرې اهمې پېښې روانې وې. په دریم جون کال ۱۹۴۷ء د هندوستان نوي وائسرائے لارډ ماؤنټ بیټن خپله د هندوستان د کشالې دحل دپاره د هندوستان د وېش منصوبه وړاندې کړه چې د هندوستان دواړو لویو سیاسي ډلو انډین نېشنل کانګریس او ال انډیا مسلم لیګ ومنله. په دې کښې دنورو ډېرو خبرو سره سره د پښتنو په صوبه کښې د ریفرنډم (استصواب رائې) هم ذکر شوے ؤ. خدائي خدمتګار او د هغوي مشران په دې حق حېران پاتې شول، ځکه چې تر اوسه خو د کانګریس مشرانو هغوي ته په بیا بیا دا وئیل چې په هیڅ صورت به مونږ د هند وېش نه منو. د دریم جون پلان په منلو د هغوي دا خبره هم دروغ شوه، بلکې په هغې کښې ئې د ریفرنډم منل د صوبې ملګرو سره انتهائي زیاتے ؤ. د فکر خبره خو دا ده چې دې هر څۀ کښې باچاخان او د هغه ملګري چا هډو په خیال کښې نه راوستل او نه د هغوي د مستقبل په هکله فېصلو کښې ځان سره شاملول. باچاخان د ملګرو سره سلا وکړه او په جار ئې ووئیل چې مونږ خو د هندوستان د ازادۍ په جنګ کښې د تېرو شلو کالو راسې د کانګریس سره څنګ په څنګ جنګېږو، د پښتنو قربانۍ د هندوستان د نورو صوبو د خلکو نه په هیڅ صورت کمې نه دي نو چې د نورو صوبو اسمبلو ته دا حق ورکولے کېږي چې د دوي نمائندګان دې دا فېصله وکړي چې د هندوستان سره پاتې کېږي او کۀ نۀ د پاکستان سره شاملېږي نو بیا پښتنو ته دې ولې دا حق ور نۀ کړے شي. مونږ نۀ



دې پاکستان سره شاملېږو او نۀ هندوستان سره اوسېدل غواړو، مونږ ته دې حق راکړے شي چې خپله ورورولي دې ځان ته خپله جوړه کړو، دوي د حکومت نه دا غوښتنه وکړه چې د دوي صوبه دې ځان له پرېښودلے شي چې دوي ته پکښې د پښتنو دپاره د پښتنو په نوم خپل واک او اختیار ورکړے شي خو نۀ فیرنګے دې ته تیار ؤ او نۀ د کانګریس مشرانو د پښتنو دپاره د هندوستان د وېش فېصله کښې څۀ تاخیر منلو. په جولائي کال ۱۹۴۷ء کښې ریفرنډم وشو، خدائي خدمتګارو ترې نه بائیکاټ وکړو او نتیجه ئې د پاکستان په ګټه وخته. پښتونخوا په پاکستان کښې شامله شوه.

ماخذونه:


۱. پښتون ۱۷ مې کال ۱۹۴۲ء ص ص: ۱۱-۱۲
۲. پښتون ۱۷ مې کال ۱۹۴۲ء ص: ۱۱
۳. پښتون ۱۷ مې کال ۱۹۴۲ء ص ص: ۱۳-۱۴
۴. پښتون ۱۷ مې کال ۱۹۴۲ء ص: ۱۵
۵. پښتون ۲۴ مې کال ۱۹۴۲ء ص: ۱۷
۶. پښتون ۱ جون کال ۱۹۴۲ء ص: ۲
۷. پښتون ۱ جون کال ۱۹۴۲ء ص ص: ۱۸-۲۱.
۸. پښتون ۱۷ جون کال ۱۹۴۲ء ص ص: ۲۱-۲۲
۹. پښتون ۱۷ جون کال ۱۹۴۲ء ص: ۲۰
۱۰. پښتون ۲۴ جون کال ۱۹۴۲ء ص: ۲۳
۱۱. پښتون ۱ جولایي کال ۱۹۴۲ء ص: ۱۱

۱۲. "پښتون" ۱ جولايي کال ۱۹۴۶ء ص:۱۲
۱۳. "پښتون" ۱ جولايي کال ۱۹۴۶ء ص ص:۱۲-۱۳
۱۴. "پښتون" ۱ جولايي کال ۱۹۴۶ء ص:۱۳
۱۵. "پښتون" ۱ جولايي کال ۱۹۴۶ء ص: ۱۳
۱۶. "پښتون" ۱ جولايي کال ۱۹۴۶ء ص ص:۱۹-۲۰
۱۷. "پښتون" ۱ جولايي کال ۱۹۴۶ء ص: ۲۰
۱۸. "پښتون" ۱۷ اګست کال ۱۹۴۶ء ص ص:۱۲-۱۸
۱۹. "پښتون" ۲۴ اګست کال ۱۹۴۶ء ص:۷
۲۰. "پښتون" ۲۴ اګست کال ۱۹۴۶ء ص: ۸
۲۱. "پښتون" ۹ ستمبر کال ۱۹۴۶ء ص: ۲۳
۲۲. "پښتون" ۱۷ ستمبر کال ۱۹۴۶ء ص:۹
۲۳. "پښتون" ۲۴ ستمبر کال ۱۹۴۶ء ص:۲
۲۴. "پښتون" ۹ اکتوبر کال ۱۹۴۶ء ص:۱۲
۲۵. پښتون" ۲۴ نومبر کال ۱۹۴۶ء ص ص:۱۲-۱۹
۲۶. "پښتون" ۱۷ دسمبر کال ۱۹۴۶ء ص ص:۱۹-۲۰
۲۷. "پښتون" ۱ مارچ کال ۱۹۴۷ء ص ص:۲۱-۲۲
۲۸. "پښتون" ۱ جون کال ۱۹۴۷ء ص: ۹
۲۹. "پښتون" ۱ جون کال ۱۹۴۷ء ص:۱۱
"پښتون" ۱ جو ن کال ۱۹۴۷ء ص:۱۱